فتاوی رحیمیه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری
خطیب بړی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل
حضرت مولانا غلام ربی

مکتبه فاروقیه
محله جنګی پشاور
Mob: 0300-9007550

فتاوی رحیمیه

(اووم جلد)

کتاب الجنائز، کتاب الزکواة، کتاب الصوم، کتاب الصدقة الفطر،

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری رحمة الله علیه
خطیب بړی جامع مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه :
حضرت مولانا محمد خلیل

مکتبه فاروقیه محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

د کتـــاب پېژندنه :

د کتاب نوم : فتاوی رحیمیه

جـلد : اووم

ترجمه : مولانا محمد خلیل

کمپوزر : بشارت الله

ناشر : مکتبه فاروقیه

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

فهرست

کتاب الجنائز

د مړي په څنګ کی د حائضی او کافر ودریدل :

(۱ سوال) که چیرته د مړي خپلوان خپل مړی وطن ته راوړي نو ایا د مړي په څنګ کی حائضه ښځه یا کافر ودریدای شي ؟ بینوا توجروا .

خواب : غوره او بهتره خبره دا ده چی حائضه ښځه ورته نزدی نشي او کافر هم د هغه څنګ ته رانشي . د کافر موجودګي د رحمت د نزول په وړاندی مانع دی .

په درمختار کی دي : "ویحضر عنده الطیب ویخرج من عنده الحائض والنفساء والجنب" (درمختار ج ۱ ص ۷۹۸ باب صلواة الجنائز) په مراقی الفلاح کی دي : "(واختلفوا فی اخراج الحائض والنفساء والجنب من عنده) وجه الاخراج امتناع حضور الملائکة" .

په طحطاوي کی دي : "(وجه الاخراج) اخراجهم علی سبیل الا ولیه اذا کان حضورهم غنی .... ووجه عدم الاخراج انه قد لا یمکن الاخراج للشفقة او للاحتیاج الیهن ونص بعضهم علی اخراج الکافر ایضاً وهو حسن" (مراقی الفلاح و طحطاوی ص ۳۰۸ باب احکام الجنائز) .

په بهشتي زیور کی دي : چی کله کوم مسلمان مړ شي د هغه په خوا کی دی د لوبان یا د بل څه خوشبوی ولګول شي ، کومی ښځی چی حائضه دي یا نفاسه او جنبي دي هغوی دی د مړي په څنګ کی نه ودریږي (بهشتي زیور ص ٦۱ حصه دوم) .

مسئله : کومی ښځی چی حائضه یا نفاسه وي هغوی دی مړي ته غسل نه ورکوي ځکه چی دا مکروه او منع دي (بهشتي زیور ص ٦۱ حصه دوم) .

په فتاوی محمودیه کی دي : (۱) د سوال لنډیز او خلاصه : د مسلمان مړي مخ کافر ته ښودل څنګه دي ؟ که هغوی د دی کار غوښتنه وکړي او د نه ښودلو په صورت کی غال مغال کوي نو په دی صورت کی د مخ ښودل جائز دي او که ناجائز ؟ (۲) په کوم ورځ چی مړی شوی وي نو د مړي کور ته هندوانی ښځی راځي اود مړي څنګ ته کیني او تعزیت کوي ایا دغو ښځو ته د مړي کور ته د راتلو اجازه ورکول پکار دی ؟ او که نه ؟

ځواب حامداً ومصلیاً ومسلما ! (۱) جائز دي لیکن د زیات شر او لانجې احتمال نـه وي نو انکار دی وکړی شي ځکه چې همدا غوره دي (۲) هندوانی سخی دی له هغه ځـای نه جلا کیښنولی شي ، کذا فی الطحطاوی علی مراقی الفلاح ځکه چې په دی وخت رحمت نازلیږي او غیر مسلمو باندی لعنت وریږي . فقط .

(فتاوی محمودیه ص ۲۳۳ ۲۳۴) والله اعلم بالصواب

صلواة الجنائز

د جنازی کټ الټه ایښودل شوی دی :

(۲ سوال) سهواً د جنازی کټ الټه ایښودل شوی دی یعنی کوم طرف ته چـې د مـړي سر پکار دی هغه طرف ته د مړي پښی شوی دي ، اوس د جنازی لمونځ له ادا کولو نـه وروسته معلوم شو چې د مړي د جنازی کټ الټه ایښودل شوی دی ایا پـه دی صـورت کی د جنازی لمونځ شوی دی او که بیا ولوستل شي ؟

ځواب : قصداً د جنازی کټ الټه ایښودل مکروه دي ، کـه سـهواً داسـې شـوی وي نـو هیڅ حرج پکی نشته او د دوباره کولو ضرورت نشته .

(درمختار طحطاوی ج ۱ ص ۵۹۳ باب صلواة الجنائز) "وصحت لـو وضـعوا الراس موضع الرجلین واساؤا ان تعمدو" فقط والله اعلم بالصواب .

جنازه په ناپاک ځای کی ایښودل :

(۳ سوال) زمونږ په علاقه کی مسجد ته نژدی یوځـای مخصـوص شـوی دی د جنـازی لمونځ همغلتـه ادا کیـږي ، د احـاطی دروازه د خـلاص پـاتی کیـدو پـه وجـه میښـو او ځناورانو هلته متیازی کړی وی ، کله چې د جنازی کټ اوچت کړی شو نو معلـوم شـو چې دغه ځای په متیازو ګنده دی ،ایا د جنازی لمـونځ یې صـحیح دی او کـه دوبـاره کول یې ضروري دي ؟

خواب : کله چې مړی او جنازه پاک وي نو په کوم ځای کې چې د مړي جنازه ایښودل شوی وي که هغه ناپاک هم وي نو څه ضرر پکې نشته ، د جنازې لمونځ یې شوی دی او د بیا اړولو ضرورت نشته[1] . فقط والله اعلم بالصواب

د ماشوم د پیدا کیدو په وخت کې د مور او د هغه د ماشوم د جنازې لمونځ طریقه

(۴ سوال) د ماشوم د پیدا کیدو په وخت کې مور او ماشوم یې دواړه مړه شول اوس د هغوی د جنازې لمونځ به څنګه ادا کیږي ؟ یوځای او که جلا جلا ؟

خواب : اولی او غوره دا ده چې د دواړو د جنازې لمونځ جلا جلا ادا کړې شي خو که د دواړو یوځای ادا کوي نو لومړی ذی د امام په وړاندی د ماشوم جنازه او هغه پسې دی د هغه د مور جنازه کیښودلی شي ، د دواړو لپاره یوځای د جنازې لمونځ په صورت کې دی لومړی د بالغ دعا او بیا دی د نابالغ دعا ولوستل شي .

"بقی ما اذا کان فیهم مکلفون وصغار والظاهر انه یأتی بدعاء الصغار بعد دعاء المکلفین کما مر" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۴۵ باب احکام الجنائز

فقط والله اعلم .

که امام سهواً له دریم تکبیر نه وروسته سلام وګرځوي نو بیا دی څه وکړي ؟

(۵ سوال) که چیرته امام سهواً له دریم تکبیر نه وروسته یو طرف ته سلام وګرځوي او بیا یې په یاد شي او یا هم له شاته نه مقتدي ورته فتح ورکړي نو په دی صورت کې امام څه وکړي ؟

خواب : که سهواً یې سلام ګرځولی وي نو اوس دی څلورم تکبیر ووایي او سلام دی وګرځوي لمونځ یې صحیح کیږي ، "ولوسلم الامام بعد الثالثة ناسیاً کبر رابعاً ویسلم" (مراقی الفلاح ص ۱۱۵ باب احکام الجنائز) فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1]_ وطهارة مکان المیت لیست بشرط هکذا فی المضمرات . فتاوی عالمگیری فی الجنائز الفصل الخامس فی الصلواة علی المیت .

ایا په څپلو او بوټانو کی د جنازی لمونځ روا دی او که نه ؟

(٦ سوال) که چیرته یو سړی د جنازی په لمونځ کی څپلی له پښو نه ونه باسي یا هم په څپلو باندی ودریږي او د جنازی لمونځ ادا کړي ایا د هغه دا کار جائز او د جنازی لمونځ یی کیږي ؟

ځواب : که څپلی پاک وي نو بیا په داسی کولو کی څه حرج نشته لمونځ یی کیږي خو که ناپاک وي نو بیا نه کیږي .

"ولو افترش نعليه وقام عليهما جازت وبهذا يعلم ما يفعل فى زماننا من القيام على النعلين فى صلواة الجنائز لاكن لابد من طهارة النعلين" (بحر الرائق ج ٢ ص ١٧٩ كتاب الجنائز تحت قوله وشرط اسلام الميت وطهارته) فقط والله اعلم بالصواب .

ایا د جنازی د لمونځ لپاره نفلي لمونځ ماتولی شو او که نه ؟

(٧ سوال) که چیرته یو سړی په نفلي لمونځ ولاړ وي او د جنازی لمونځ شروع شي نو د جنازی په لمونځ کی د شرکت لپاره خپل نفلي لمونځ ماتولی شي او که نه ؟

ځواب : که چیرته دا ویره موجوده وي چی که چیرته نفل لمونځ مات نه کړم نو د جنازی لمونځ رانه ځي نو خپل نفلي لمونځ ماتولی شي ، خو بیا به ضرور خپل هغه نفلي لمونځ دوباره قضائي راوړي ، "او كان فى النفل فجيئ بجنازة وخاف فوتها قطعه لا مكان قضائه" (درمختار مع شامی ج ١ ص ٦٦٦ باب ادراك الفريضة) فقط والله اعلم بالصواب .

په قبر باندی د جنازی لمونځ :

(٨ سوال) زمونږ په کلي کی د یو سړي په کور کی ماشوم پیدا شو ، دوه ورځې وروسته هغه ماشوم مړ شو ، هغه هیڅوک خبر نه کړ ، غسل یی ورته ورکړه او په قبر کی یی دفن کړ ، د جنازی لمونځ یی ورباندی ونکړ ، لدینه وروسته د کلي خلکو ته د دی معلومات وشو نو هغوی د دغه ماشوم قبر باندی د جنازی لمونځ ولوست ، ایا دا لمونځ صحیح دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : پکار دا وُچی په دی مسئله کی له کوم مستند مفتي نه پوښتنه کړی وای .

مسئله دا ده چی تر څو پوری د مړي جسد نه وي چاودیدلی نو د جنازی لمونځ وربانډی کولی شي او کله چی غالب گمان یی راشي چی د مړي جسد به چاودلی وي نو بیا دی د جنازی لمونځ نه کوي لاکن دی لپاره کوم خاص وخت نه دی مقرر شوی ، د دی مدار د مړي جسد یعنی غټ والي او وچ والي پوری دی ، همدغه راز موسم یعنی یخني او گرمي او د زمکی خاصیت او تاثیر باندی هم دی ، په خینو ځایونو کی دری ورځی په خینو ځایونو کی تر لسو ورځو پوری او په خینو ځایونو کی تر یوی میاشت پوری د مړي جسد نه خرابیږي که په دریو ورځو کی دننه د جنازی لمونځ وکړی شي نو بیا د ډیر تحقیق ضرورت نشته ، خو که له دریو ورځو نه زیات وخت تیر شوی وي نو کوم خلک چی د زمکی د خاصیت ماهرین دي له همغوی نه دی معلومات تر لاسه کړي او د هغوی د لارښوونی په مطابق دی عمل وکړی شي په درمختار کی دي :

"(وان دفن) واهیل علیه التراب (بغیر صلواة) او بها بلا غسل او ممن لا ولایة لـه (صلی علی قبره) استحساناً (ما لم یغلب علی الظن تفسخه) من غیر تقدیر هو الاصح" (درمختار) په شامي کی دي : "(قوله الاصح) لانه یختلف باختلاف الاوقات حراً وبرداً والمیت سمناً وهزالاً والامکنة بحر وقیل یقدر بثلاثة ایام وقیل عشرة وقیل شهر عن الحموی" (درمختار وشامی ج ۱ ص ۸۲۷ باب صلواة الجنائز قبل مطلب فی کراهة صلواة الجنائز فی المسجد) (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۸۲ کتاب الجنائز تحت قوله فان دفن بلا صلواة الخ) فقط والله اعلم بالصواب .

په قبرستان کی د جنازی لمونځ لوستل څنګه دي ؟

(۹ سوال) دلته د افریقا په قبرستان کی د جنازی لمونځ د ادا کولو په اړه د علماو تر منځ اختلافات دي ، یوه ډله علماء وائي چی ناجائز دي ، بله ډله وائي چی بلا تکلف جائز دي ، برابره خبره ده چی وړاندی قبرونه وي یا نه ، په دغو دواړو ډلو کی کوم یوه ډله په حقه ده ؟ ایا د جنازی لمونځ دی په قبرستان کی ولوستل شي او که نه؟ په تفصیل سره ځواب راکړئ .

ځواب : که چیرته په قبرستان کی خالي ځای وي او وړاندی ترینه قبرونه نه وي یا وي خو دومره لری وي چی د لمونځ کونکي نظر په هغو قبرونو باندی نه لګیږي ، یا په منځ

کی څه شی حائل او پرده وي نو د جنازی لمونځ بلا کراهت جائز دی او که داسی نه وي نو بیا مکروه دی ، د حدیث معتبر کتاب په جامع الصغیر کی دي "نهی ان یصلی علی الجنائز بین القبور" ترجمه : د قبرونو په منځ کی د جنازی لمونځ لوستل ممنوع دي (ج ۲ ص ۱۸۱) او د فقهی معتبر کتاب البدائع الصنائع کی دي "قال ابوحنیفة ولا ینبغی ان یصلی علی میت بین القبور" (ج ۱ ص ۳۱۵ باب صلواة الجنائز فصل فی الدفن) ترجمه : امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي چی د قبرونو په منځ کی دی د جنازی لمونځ ادا نه کړی شي .
حضرت علی او حضرت عباس رضی الله عنهما به په قبرستان کی د جنازی لمونځ لوستل مکروه گنله (بحر الرائق ج ۱ ص ۱۹۵[1]) فقط والله اعلم بالصواب .

ایا د خودکشي کوونکی سړی جنازی لمونځ دی ولوستل شي او که نه ؟

سوال : دخودکشي کوونکي شخص جنازه لمونځ دی ولوستل شي او که نه ؟ دکتابونو په حواله ځواب ولیکئ .
ځواب: بی له شکه چی خودکشي کول لویه گناه ده مگر شریعت دهغه جنازې لمونځ د ولوستلو اجازه ورکړی ده ، که چیرته ځیني مذهبي مقتدا زجراً دخلکو دعبرت لپاره شرکت ونکړي نو دذی گنجائش شته، مگر په عوامو ضروري ده چی دهغه جنازې لمونځ اداکړي اودجنازی لمونځ نه بغیر دی نه خښوي . په حدیث کی دي چی دمسلمان جنازې لمونځ پرتاسو لازم دی که هغه نیک وي یابد . او کما قال علیه الصلواة والسلام .
په درمختار کي دي : من قتل نفسه لو عمداً یغسل ویصلی به یفتی .

[1] باب صلواة الجنائز تحت قوله ولا یخصص وفی البدائع قال ابو حنیفة رحمه الله ولا ینبغی ان یصلی علی المیت بین القبور وکان علی وابن عباس رضی الله عنهما یکرهان ذلك فان صلوا اجزاهم الخ .

ترجمه کوم سړی چې خپل خان قصداً ووژني نو هغه ته دی غسل ورکړي شي او دهغه دجنازې لمونځ دی هم اداکړي . اوپه همدی باندی فتوه ده (شامي ج ۱ ص ۸۱۵ باب صلواة الجنائز) والله اعلم .

دمسجد په صحن کی دجنازې لمونځ لوستل څنګه دي ؟

(۱۱سوال) غیر مقلد مولوی عبدالجلیل صاحب سامرودي دیو اشتهار لاندی په ګجراتي ژبه کی لیکلي دي چی : دحنفي مذهب په مطابق دی جنازې لمونځ په مسجد کی ولوستل شي هغه په دی باره کې تفصیل او تشریح هم لیکلي دي چې دلسمی هجري عالم ملا علي قاري رحمه الله په حواله لیکلي دي چی په مسلم کی حدیث شریف دی چی حضرت عائشه په والله ویلو سره فرمايي : چی نبي کریم صلی‌الله علیه وسلم دبیضاددوارو زامنو جنازې لمونځ دمسجد په صحن کی لوستلې و ، هغه داهم لیکي : دحضرت ابو بکر صدیق رضی‌الله عنه او دحضرت عمر رضی‌الله عنه جنازی لمونځ هم په مسجد کی لوستلې و .

هغه لیکي : له زیات نه زیات تنزیهي کراهت ورته ویلې شی .

همدغه راز لیکي : اوس هم په مکه او مدینه کی په مسجدونو کی دننه دجنازې لمونځ دلوستلو عمل جاري دی .

هغه لیکي : په هدایه کی چی دابو هریره رضی‌الله عنه کوم حدیث دی چی من صلی علی جنازة فی المسجد فلا اجرله وفی روایة فلا شیئ له .

ترجمه : کوم سړی چی په مسجد کی دجنازی لمونځ لولي دهغه لپاره هیڅ اجر نشته ، اوپه یو روایت کی دي چی هغه لپاره هیڅ حاصل نشته) په دی کی دفلا اجرله لفظ دحدیث په کتابو کی نشته . او دقطب الدین حنفي په حواله سره بلاکراهت په مسجد کی دجنازې لمونځ لوستل صحیح دی .

ددغه اشتهار په لوستلو سرد ډیر خلک په تشویش کی اخته دي ،لهذا په دی اړه دحنفي مذهب صحیح مسلک څه شی دی هغه له دلائلو سره یو ځای دکتابونو په حوالهٔ ولیکئ

بینوا توجروا

خواب صحیح مسلک . ظاهر مذهب ، ظاهر روایت او مفتی به قول دادی چی بلا عذر اوبلا وجه دجنازی لمونځ په مسجد کی دننه لوستل مکروه او ممنوع د ی.

۱ـ دمحمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی من صلی علی جنازة فی المسجد فلاشیی له یعنی کوم سړی چی په مسجد کی دجنازې لمونځ لولي دهغه لپاره هیڅ خیر نشته یعني هیڅ ورته نه حاصلیږي (ابو داود شریف ج ۲ ص۹۸ کتاب الجنائز باب الصلواة علی الجنازة فی المسجد) دغه حدیث معتبر او قابل حجت دی. ددی برعکس چی څه ویل کیږي هغه غلط دی. زاد المعاد ج۱ص ۱۳۴ ایضا په ابو داود کی فلا اجر له او فلا شیئ له دواړه نسخی دي. دمحدث خطیب تحقیق دادی چی په محفوظ روایت کی فلا شیئ له دی او دحافظ بن عبدالبر تحقیق هم همدادی. عیني شرح هدایه ص ۱۱۵۹ ج۱. ۲باب الجنائز فصل فی الصلواة علی الجنائز بالمصلی والمسجد.

۲ـ ددویمي هجري پیړی فقیه محدث مجتهد فی المذهب حضرت امام محمد المتوفی ۱۸۹ ﻫ حضرت امام ابو یوسف او حضرت امام ابو حنیفه په روایت سره مسئله بیانوي.
تکره الصلوة علی الجناز فی المسجد یعني په مسجد کی دجنازې لمونځ مکروه دی.
(الجامع الصغیر باب الکراهیة ص۱۵۳).

۳ـ ددریمې هجري پیړی محدث فقیه حضرت امام طحاوي مړ ۳۲۱ ﻫ کال فرمایي:
وکراهتها قول الی حنفیة ومحمد وهو قول ابی یوسف.
ترجمه: په مسجد کی دجنازې لمونځ دمکروه کیدو قول دامام ابوحنیفه او امام محمد دی. او دامام ابو یوسف قول هم همداد ی. شرح معانی الاثار ج ۱ص۲۸۵ باب الصلواة علی الجنازة هل ینبغی ان تکون فی المساهد او لا.

۴ـ دڅلورمې او پنځمې هجري پیړی فقیه امام ابو الحسن قدوري رحمه الله المتفی ۴۲۸ ﻫ فرمایي:
ولا یصلی علی میت فی مسجد جماعة. ترجمه: په مسجد کی دی دجنازې لمونځ ونه لوستل شي (قدوري ص ۳۵ باب الجنائز)

۵ـ دپنځمې هجري پیړی فقیه مجتهد فی المسائل امام سرخس المتوفی ۴۹۰ هجري فرمایي: زتکره الصلواة علی الجنازة فی المسجد عندنا. ترجمه: زمونږ په مذهب کی

دجنازې لمونځ په مسجد کې مکروه دی ، مبسوط ج۲ص۶۸ باب الصلواة على الجنازة.

دشپږمې هجري پيړۍ فقيه امام طاهر بخاري رحمه الله المتوفی ۵۴۲ ه فرمايي:

صلواة الجنارة فی المسجد الذی يقام فيه الجماعة مکروهة .

ترجمه : په کوم مسجد کې چې په جمعې سره لمونځ کيږي هلته دجنازې لمونځ لوستل مکروه دی .

(خلاصلة الفتاوی ج۱ص۲۲۲ باب الصلواة على الجنازة)

۷ـ داوومی هجري پيړۍ فقيه ابو البرکات نسعي رحمه الله المتوفی ۷۱۰ هجري فرمايي: ولا فی المسجد . ترجمه : او په مسجد کې دی دجنازې لمونځ ونه لوستل شي . (کنز الدقائق ص۲۵ کتاب الجنائز)

۸ـ داتمی هجري پيړۍ فقيه صدر الشريعه المتوفی ۷۴۷ هجر فرمايي :

وکرهت فی مسجد جماعة. يعنی په مسجد کې دجنازې لمونځ مکروه دی . (مختصر الوقايه ص۲۳).

۹ـ دنهمې هجري پيړۍ فقيه حافظ الدين شهاب کردري رحمه الله المتوفی ۸۲۷ هجري فرمايي : يکره صلواة الجنازة فی مسجد الجماعة . په مجسد کې دجنازې لمونځ مکروه دی .(فتاوی بزازيه ج۱ص۳۲).

۱۰ـ دلسمې هجري پيړۍ فقيه ابن نجيم مصري المتوفی ۹۷۰ هجري فرمايي:

منع ادال الميت فيه . په مسجد کې دمړي دننه کول ممنوع دی . (الابشاه والنظائرص۱۵۵).

۱۱ـ ديولسمې هجري صدی فقيه محدث ملا علي قاري رحمه الله المتوفی ۱۰۱۴ ه چې دهغه حواله په سوال کې ورکول شويده فرمايي : وکرهت الصلواة على الجنازة عندنا وعند مالك فی مسجد غير معد لصلواة الجنازة . زمونږ او دامام مالک په نزد په داسې مسجد کې دجنازې لمونځ لوستل دجنازې لمونځ لپاره نه وي جوړ شوی مکروه دی . (شرح نقايه ملا علي قار ج۱ص۱۳۶ باب الجنائز).

بیا دحضرت عائشه رضی‌الله عنها دروایت په خواب کی فرمایي دبیضاء دزامنو جنازې لمونځ دځو وجوهاتو په وجه مسجد کی لوستل شوی دی نو ځکه لدینه عام حکم نه ثابتیږي لدینه وروسته دحضرت ابو بکر صدیق او دحضرت عمر رضی‌الله عنه دجنازې لمونځونو دلوستلو ځواب ورکوي چی دغه دواړه حضرات یې دمحمدصلی‌الله علیه وسلم په حجره کی خاوروته سپارل نوځکه مسجد ته دننه دجنازې وړلونه پرته بله چاره نه وه‌لهذا داواقعه هم دعذر په وجه مخې ته راغلې وه . وروسته له دغې نهې نه دمسجد حرام مستثنی ګرځولو سره لیکي : مسجد حرام ، دپنځه وخته لمونځونو، اخترونه ، جمعه ، کسوف ، خسوف ، جنازه ، استسقا او ټولو کارونو لپاره جوړ شوی دی.شرح نقایه ج۱ص ۱۳٦ باب الجنائز فصل صلواة الجنازة.

غرض داچی له دیارلس سوه کلونو راهیسي علماء ، فقهاء، محدثین او امامان دجنازې لمونځ په مسجد کی مکروه ثابت کړی دی . ددغه مسلک نور تائید له لاندینو کتابونو ځخه ترلاسه کیږي .

۱ـ فتاوی قاضي خان ج۱ص۳۲.

۲ـ فتاوی سراجیه ص۲۳.

۳ـ فتاوی عالمګیري ج۱ص۱٦٥) (فتاوی برهنه ج۱ص۱٦٥) (شرح وقایه ج۱ص۱٦۱) (هدایه ۱ص۲٥٥) (درمختار شامي ج۱ص۸۲۸) (طحطاوي ج۱ص۲۰٦) (بحر الرائق ج۲ص۱۸۷) (منحة الخالق ج۲ص۱۸۷) (مجمع الانهر ج۱ص۱۸٤) (رسائل الارکان ص۱۸٥) (نفع المفتی ص۱٤۳) (کبیري ص٥٤٥) (صغیري . ص۲۹۱) (نور الایضاح ص۱۳۸) (مراقي الفلاحص۱۱۷)(زجاجة المصابیح ج۱ص٤٦۲) (شرح سفر السعادة ص۲٥٦)(فتح الملهم ج۲ص٤۹٥)(عیني شرح کنزج۱ص٦۷) (تبیین الحقائق ج۱ص۲٤۳)(مستحلص الحقائق ص۲۷٤)(مالا بدمنه ص۸۳) .

دکراهیت دوه سببونه دي :

لومړی دمجسد بی ځایه استعمال ځکه چی مسجد فرائضو او دهغه توابعاتو لپاره جوړولې شي نه دجنازې لپاره، دمحمدصلی‌الله علیه وسلم له زمانې نه دجنازې لپاره

حداخابونه دي وګورئ بخاري شريف ج۱ص۱۷۷ باب الصلوات على الجنائز بالمصلى والمسجد .مسلم ج۱ص ۳۰۹، عن ابن عمر ان اليهود جاءوا الى النبي صلى الله عليه وسلم برجل منهم وامرأة زينا فامر بهما فرجما قريبا من موضع الجنائز عند المسجد(اخرجه البخاري)

ابن حبيب فرمايي : په مدينه کی دجنازې لمونځ لپاره ځای مسجد شريف ته نژدی دی دمشرق په طرف و .(فتح الباري ج۳ص۱۶۰ ايضاً) وحكى ابن بطال عن ابن حبيب ان مصلى الجنائز بالمدينة كان لاصقاً بمسجد النبى صلى الله عليه وسلم من ناحية جة المشرق انتهى.

اوپه موطا امام مالک کی دي : وموضع الجنازةبالمدينة خارج من المسجد وهو الموضع الذى كان النبى صلى الله عليه وسلم يصلى على الجنازة فيه).

يعنى په مدينه منوره کی دجنازې لمونځ دلوستلو ځای له مجسد نه باهر دی . داهغه ځای و چېرته چی نبي كريم صلى الله عليه وسلم به دجنازې لمونځونه کول . (موطا امام محمد صلی ۱۳۱ باب الصلواة على الجنازة فى المسجد).

دحضرت ملا علي قاري مرقات شرح مشكوات کی دي : كان للجنازة موضع معروف خارج المسجد. ترجمه : دمحمدصلى الله عليه وسلم په مبارکه زمانه کی دجنازې لمونځونولپاره له مسجد نه بيرون يو ځای و چی ټولو خلکو ته معلوم و (ج۲ص۳۵۷ . باب المشى بالجنازة والصلواة عليها.)

په مشكوات شريف کی دي چی اصحابو کرامو ويلي دي چی مونږ دنبوي مسجد نه ستقل ميدان کی چی دجنازې لمونځونه به پکښې کيده ناست وو او محمدصلى لله عليه وسلم هم له مونږ سره و ، ددغه حديث په شرح کی ملا علي قاري ليکي : فيه دليل على انهم لم يكونوا يصلون على الجنائز داخل المسجد الشريف .

ترجمه : په دی کی په دی خبره باندی دلیل دی چی محمدصلی الله علیه وسلم او **اصحابو کرامو به دجنازې لمونځ په مسجد کی نه لوستل** . (مرقاة شرح مشکواة ج۳ص ٤ ۲ ۳ ایضاً).

په فتاوی قاصي خان کی دي : دسلف صالحینو عادت داو چی دجنازې لمونځ دلمونځونو لپاره به یې جداځایونه جوړول ، که چیرته په مسجد کی دجنازې لمونځ مکروه او ممنوع نه وای نو بیا له مسجد نه علاوه بل ځای یې ولې جوړاو

دغیر مقلدینو مسلم دحدیثو حافظ ابن قیم حنبلي فرمایي : فکانوا یجهزون میتهم ویحملونه الیه صلی‌الله علیه وسلم علی سریره فیصلی علیه خارج المسجد.

ترجمه : داصحابو کرامو همیشه معمول او دستور داو چی په محسد کی به یې دجنازې لمونځ کاو . (زاد المعاد ج۱ص۱۴۳) **هغه وړاندې لیکي : محمد صلی الله علیه وسلم ته کله اتفاقاً دا هم مخی ته راغلي چی د جنازی لمونځ یی په مسجد کی ادا کړی دی لکه سهل بن بیضاء او د هغه د ورور د جنازی لمونځونه ، مګر دا یی دستور او سنت نه وْ .**

په آخره کی فیصله کوي او لیکي : "والصواب ما ذکرناه اولاً ان سنته وهدیة الصلواة علی الجنازة خارج المسجد الا لعذر" .

ترجمه : صحیح دا دي چی مونږ مخکی بیان کړ چی بی له شکه د محمد صلی الله علیه وسلم سنت او طریقه دا ده چی له مسجد نه باهر به یی د جنازی لمونځ کاوْ . خو د کوم عذر په وجه په مسجد کی هم د جنازی لمونځونه یی کړیدي (زاد المعاد جلد ۱ ص ۱۴۴) .

د ابن همام هم همدغه رایه ده چی دا خبره قطعي ده چی د محمد صلی الله علیه وسلم مستمره سنت او طریقه دا وه چی په مسجد کی به مړي نه دننه کول (فتح القدیر ج ۲ ص ۹۲ فصلٌ فی الصلواة علی المیت)

په دی باره کی د محمد صلی الله علیه وسلم سنت تر دی پوری و چی د نجاشي د وفات خبر یی په مسجد کی ورکړ مګر غائبانه جنازه یی هلته ونه لوست . بلکی اصحاب کرام رضی الله عنهم یی له ځانه سره ملګري کړل جنازه ګاه ته تشریف یووړ او همغلته

یی لمونځ ادا کړ (بخاری شریف ج ۱ ص ۱۷۷ باب الصلواة علی الجنائز بالمصلی والمسجد) مسلم شریف ج ۱ ص ۳۰۹ .
په داسی حال کی چی د نجاشي جسد هلته موجود نه وُ مګر بیا هم په مسجد کـی یی د جنازی لمونځ ونه لوست ځکه چی دا د مسجد د غلط استعمال مرادف دی .
فتح الباري شرح البخاری کـی دي : "دل حدیث ابن عمر رضی الله عنه هذا علـی انه کان للجنائز مکان بعد للصلواة علیها" .
د ابن عمر رضی الله عنه حدیث په دی خبره دلالت کوي چی د جنازی د لمونځ لپـاره یو جلا ځای تیار کړی شوی وُ ، لدینه معلوم شو چی په مسجد نبوي کی د محمـد صـلی الله علیه وسلم د جنازی لمونځ لوستل د کوم عذر په وجه د جواز د بیـان لپـاره وُ ، والله اعلم (ج ۳ ص ۱٦۰) .
علامه ابن الحاج فرمایي : "انهم کانوا لا یصلون علی میت فی المسجد" .
اصحابو کرامو رضی الله عنهم او سالحو سلفو به په مسجد کی د جنازی لمونځ نه لوسـت (کتاب المدخل ج ۲ ص ۸۱) .
د حضرت عائشه رضی الله عنها روایت چی بره تیر شو هغه هم د دی موید دی .
(۱) د حضرت سعد رضی الله عنه جنازه پـه مسجد کـی د لوسـتلو پـه متعلـق د حضـرت عائشی رضی الله عنها غوښتنه په دی خبره مشیر دی چی په مسجد کی د جنازی لمـونځ د لوستلو دستور نه وُ ، که نه د غوښتنی او درخواست کولو څه ضرورت وُ ؟
(۲) د اصحابو کرامو رضی الله عنهم له انکار نه ثابتیږي چـی پـه مسجد کـی د جنـازی لمونځ لوستل د محمد صلی الله علیه وسلم د سنت مستمره خلاف کول د عذر په وجـه وُ ، هغه کوم عذر وُ ؟ د دی ځواب محدث قطب الدین دهلوي رحمه الله المتـوفي ۱۲۸۹ هجري داسی ورکوي : په یو روایت کی صریح راغلي دي چی حضرت محمـد صـلی الله علیه وسلم معتکف وُ نو ځکه یی په مسـجد کـی ولوسـت (مظـاهر حـق ج ۲ ص ۴۹ باب المشی بالجنازة والصلواة علیها) .

(۳) په دی ځای کی د اصحابو دا ویل چی ما کانت الجنائز یدخل بها المسجد .
ترجمه : د محمد صلی الله علیه وسلم په زمانه کی بـه مسجدونو تـه جنـازی نـه راوړل کیـدل (مسلم شریف ج ۱ ص ۳۱۳ کتاب الجنائز عن عبد الله بن زبیر رضی الله

عنه يحدث عن عائشة رضي الله عنها الخ) دا په مسجد کی د جنازی لمونځ لوستل له سنت نه مخالف کیدو باندی واضح دلیل دی.

(۴) په مسجد کی یواځی د بیضاء د زوی جنازی لمونځ لوستل دا ثابتوي چی جنازی به له مسجد نه بیرون لوستل کیدل کاو دغه دوه جنازی د کوم عذر په وجه په مسجد کی لوستل شوی دي ، حضرت عائشی رضی الله عنها ته به د عذر علم نه وُ ، یا به د هغی رضی الله عنها اجتهاد وُ چی په مسجد کی د جنازی لمونځ جائز گنبي ، والله اعلم ، مطلب دا چی مذکوره حدیث د احنافو له مسلک نه خلاف نه دی بلکی تائید کی دی ، د عذر په وجه حنفي علماء هم په مسجد کی د جنازی لمونځ لوستل بلاکراهت جائز گنبي.

(۲) د کراهت دویم سبب د مسجد د گنده کیدو ویره او احتمال هم دی ، د مسجد پاکول واجب دي ، نو ځکه له هر هغه څیز نه ساتل ضروري دي چی دهغه په وجه د مسجد بی حرمتي کیږي او یا هم د بی حرمته کیدو احتمال وي.

په حدیث شریف کی دي : "عن ابن عمر رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال خصال لا ینبغی فی المساجد" یعنی که د چا په لاس خامه غوښه وي نو هغه دی له مسجد نه نه تیریږي.

محمد صلی الله علیه وسلم خپل امت ته وصیت کړی دی چی : "جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم" (ابن ماجه ص ۵۵ ایضاً) خپل ماشومان او لیونیان مسجد ته مه پریږدئ.

د اتمی پیړی علامه ضیاء الدین ستاوي رحمه الله په نصاب الاحتساب کی دغه مذکوره حدیث په استدلال لیکلی دی : "لانه لا یؤمن منهم النجاسة وهو المعنی الموجود فی المیت" (باب ۱۵ ص ۳۱) دا ځکه چی د ماشومانو او لیونیانو د نجاست په متعلق اطمنان نشو کولی ، د دی خطره وي چی هسی نه کوم یو گندگي خواره کړي ، دغه علت دجنازی په مړي کی هم موجود دی.

په صلواة مسعودي کی دی : ونیز تنزیه مسجد واجب است و مرده اراند کی آلائش خالی نه باشد. (ج ۲ ص ۲۱۵) په مسجد کی د جنازی لمونځ د لوستلو د ممانعت وجه دا هم دی چی د مسجد پاک او ستره ساتل واجب دي او مړي لږ یا ډیر آلائش نه خالي

نه وي ، نو څکه د مسجد نبوي پشان لوی فضیلت والا ځای پریښودل شوی و او د جنازی لمونځ لپاره ځانله ځای مقرر کړی شوی ؤ ، که فی الحال هلته د محمد صلی الله علیه وسلم له سنت او طریق نه مخالفت کیږي نو هغه شرعاً حجت او دلیل نه دی .

ملا علی قاري رحمه الله ، ابن همام رحمه الله او علامه عیني رحمه الله فرمایي : "قلت هذا انما کان فی زمن النبی صلی الله علیه وسلم والخلفاء الراشدین الی انقضاء القرون الثلاثة الخ" .

ترجمه : زه وایم چې د مدینې خلکو له بدعاتو نه سلامت پاتې کیدل او د هغوی د عمل حجت او دلیل کیدل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د راشده خلفاؤ تر زمانی او دریمی پیړۍ پورې ؤ ، مګر له دریو پیړو څخه وروسته حالات ډیر بدل شول او بدعتونه ډیر زیات شول خصوصاً زمونږ په زمانه کې (عینی) مجموعة الفتاوی .

او حضرت ملا علی قاري رحمه الله المتوفي ۱۰۱۴ هجري د خپلې زمانې حالات بیانوي چې د حرمینو شریفینو موجوده اوسیدونکي په بدعاتو او بدیو کې نښتي دي (مرقاة شرح مشکواة ج ۳ ص ۳۷۱) .

د حرمینو بدعات په نوم ملا علی قاري رحمه الله یوه رساله لیکلې ده ، که چیرته کوم حنفي عالم حنفي مسلک ، ظاهر روایت او مفتی به قول په خلاف فتوه ورکړی نو په دی سره په دی مذهب باندی څه اثر نه پرې اوځي .

په مسجد کې د جنازې لمونځ د ادا کولو دوه وجوهات ا و سببونه بیان شوی دي د لومړي سبب په لحاظ سره تنزیهي مکروه دي او د بل سبب په لحاظ سره تحریمي مکروه دي ، فقط والله اعلم بالصواب .

څوک د جنازی لمونځ د ادا کولو زیات مستحق دی ؟

(۱۲ سوال) د جنازی لمونځ د امامت لپاره زیات څوک حقدار دی ؟ د محلی امام او که د مړي ولي ؟ په شرح وقایه کې احق بالامامت پاچا ، بیا قاضي ، بیا د محلی امام او بیا د مړي اولیاء دي .لهذا تاسی په تفصیل سره ووایاست چې د جنازی امامت لپاره څوک زیات حقدار دی امام او که د مړي اولیاء ؟

ځواب : د محلی امام په هغه وخت کې زیات حقدار دی چې د مړي په اولیاء کې له هغه څوک غوره او افضل نه وي که چیرته د مړي په اولیاء کې داسې څوک چې د ولایت حق

حاصل دی ، له دغه امام نه افضل وي نو هسعه زيات حقدار دی يا هغه څوک چي چاته اجازه ورکړي،

"وفي شرح المجمع للمصنف انما يستحب تقديم اما مسجد حيه على الولي اذا كان افضل من الاولى ذكره في الفتاوى اه وهو قيد حسن وكذا في المجتبى وفي جوامع الفقه امام المسجد الجامع اولى من امام الحي اه" (بحر الرائق ج ۲ ص ۱۸۰ الصلواة على الجنازة تحت قوله ثم امام الحي) (قوله . ثم امام الحي) المراد به امام المسجد محلته لكن بشرط ان يكون افضل من الولي والا فالولي منه (طحطاوی على مراقی الفلاح ص ۳٤۳) وتقديم امام الحي مندوب فقط بشرط ان يكون افضل من الولي والافالولي اولى (درمختار مع شامی ج ۱ ص ۸۲۳ باب صلواة الجنائز مطلب في بيان من احق بالصلوة على الميت) .

د شرح وقايه د كتاب مسئله صحيح ده كله چي د امام انتخاب د تولی محلی او د مسجد په خلکو کی زيات اعلم او افضل كيدو شرعي اصولو مطابق نه دی ، او كه د امام انتخاب د قوميت ، عصبيت او په تنخوا کی د سستی په اصولو سره شوی وي نو د مړي له اولياء نه چی هر څوک افضل وي همغه د جنازی د لمونځ د امامت لپاره زيات حقدار دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

امام د جنازی په لمونځ کی له دری تکبيرونو نه وروسته سلام وګرځاو

(۱۳ سوال) د جنازی په لمونځ کی امام له دريو تکبيرونو نه وروسته سلام وګرځاو كله چي ورته فتح ورکړی شوه نو څلورم تکبير په ويلو سره لمونځ پوره کړ ، ايا دا لمونځ صحيح شوی دی او که له سره دی وګرځوي . څکه چي سلام يی عمداً ګرځولی وه يعنی د لمونځ د ختمولو په قصد سره يی سلام ګرځولی و او مسئله دا ده چي قصداً سلام ګرځولو سره لمونځ باطليږي ، بينوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کی لمونځ صحيح دی ، د بيا ګرځولو ضرورت نشته دری تکبيرونه يی څلور تکبيرونه ګڼلي او سلام يی ګرځولی دی . دا د سهوی صورت دی او

که دا خیال یی کړی وي چی د جنازی لمونځ دری تکبیره دی او بیا یی سلام گرځولی وي نو دا قصداً دی او لمونځ فاسدیږي .

"سلم المصلی الظهر مثلاً علی راس الرکعتین توهما اتمها اربعاً وسجد للسهو لان السلام ساهیا لا یبطل لانه دعاء من وجه بخلاف ما لم سلم علی ظن انه فرض الظهر رکعتان بان ظن انه مسافر او انها الجمعة او کان قریب عهد بالاسلام فظن ان فرض الظهر رکعتان او کان فی صلواة العشاء فظن انها التراویح فسلم او سلم ذاکرا ان علیه رکنا حیث تبطل لانه سلام عهد" .

یعنی که د ماسپښین لمونځ کونکي سرې په دی خیال چی څلور رکعته لمونځ پوره کړی دی په دوه رکعتونو کی سلام وگرځاو نو هغه دی له یادیدو نه وروسته څلور رکعته پوره کړي ځکه چی سهوا سلام گرځول لمونځ نه باطلوي ځکه چی سلام من وجهٍ پخپله دعا ده د قصداً سلام گرځولو مثال دا دی چی ماسپښین لمونځ دوه رکعته وگڼي او سلام وگرځوي په دی خیال سره چی زه مسافر یم ، یا یی د جمعې لمونځ یی وگڼله او سلام یی وگرځاو قصدي سلام شو ، یا نوی مسلمان شوی و او پدی خیال یی سلام وگرځاو چی د ماسپښین لمونځ دوه رکعته دی نو دا قصدي سلام شو ، همدغه راز د ماسختن لمونځ ادا کونکی په دی خیال سره سلام وگرځاو چی د تراویح په دوو رکعته لمونځ کی سلام گرځوم نو دا سلام هم قصدي دی او په دغو صورتونو کی لمونځ باطلیږي (درمختار مع الشامي ج ۱ ص ۷۰۴ _ ۷۰۵ باب سجود السهو) .

نوټ : که چا ته شبه وي چی د کوم لمونځ گذار په ذمه سجده سهوه وي او هغه د خپل لمونځ په ختمولو په قصد سلام گرځوي نو د دی باوجود د هغه لمونځ نه باطلیږي او دی لپاره دا حکم دی چی سجده سهوه وکړي او لمونځ پوره کړي ، حال دا چی پکار دا دي چی لمونځ باطل شي ځکه چی هغه د لمونځ د ختمولو په قصد سره سلام گرځولی و ، نو د دی ځواب دا دی چی د مشروع څیز متغیر کولو نیت باطل وي ، مشروع دا و چی په سجده سهوه کولو سره لمونځ ختم کړی وای نو ځکه په منځ کی د لمونځ د قطع کولو نیت لغوه کیږي او لمونځ وروباندی نه باطلیږي .

په درمختار کی دي : "ويسجد للسهو ولو مع سلام ناويا للقطع لان نية تغير المشروع لغو" (ج ۱ ص ٧٠٤ باب سجود السهو) فقط والله اعلم بالصواب .
السيد عبد الرحيم لاجپوری غفر له .

که یوه ښځه د سیلاب په اوبو کی نیول شوی وي د هغه کفن او د جنازي لمونځ څه حکم دی ؟

(۱۴ سوال) که په سیلاب کی کومه ښځه ونیول شي او په بدن کی یی جامی نه وي او دا معلوم نشي چی مسلمانه ده او که کافره نو د هغی د کفن او دفن څه حکم دی ؟ د جنازي لمونځ دی وربانـدی ولوستل شي او که نه ؟ بینوا توجروا .
ځواب : په مذکوره صورت کی چی کله د مسلمان کیدو کومه نښه نه وي موجود نو د مسنونی طریقی له رعایت کولو نه پرته دی هغی ته غسل ورکړی شي او په یو ځای ک دی دفن کړی شي ، او که په کومی قرینی سره زړه ګواهي ورکوي چی دا به مسلمانه وي نو د جنازی لمونځ دی وربانـدی ولوستل شي او د مسلمانانو په قبرستان کی دی دفنه کړی شي .

په درمختار کی دي : "(فروع) لو لم يدر ا مسلم ام كافر ولا علامة فان فی دارنا غسل وصلى عليه والا لا (قوله فان فی دارنا الخ) افاد بذكر التفصيل فی المكان بعد انتفاء العلامة ان العلامة مقدمة وعند فقدها يعتبر المكان ، فی الصحيح لانه يحصل به غلبة الظن كما فی النهر عن البدائع وفيها ان علامة المسلمين اربعة الختان والخضاب ولبس السواد وحلق العانة اه قلت فی زماننا لبس السواد لم يبق علامة" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ٨٠٧ باب صلواة الجنائز قبيل مطلب فی الكفن) فقط والله اعلم بالصواب .

غبرګ پیدا شویو ماشومانو د جنازی لمونځ :

(۱۵ سوال) یوی ښځی دوه ماشومان یوځای غبرګ وزیږول او بیا دواړه ماشومان یوځلی مړه شول نو اوس د هغوی دواړو د جنازی لمونځ یوځای لوستل پکار دي او که د هر یو جلا جلا ؟

خواب : په مسئوله صورت کی د دواړو جنازی لمونځ جلا جلا لوستل بهتر دي ، یو ځای هم لوستلی شي لیکن نیت دی د دواړو وکړی شي په درمختار کی دي :

"واذا اجتمعت الجنائز فافراد الصلواة علی کل واحدة اولی من الجمع وتقدیم الافضل وان جمع جائز الخ" (درمختار ج ۱ ص ۸۲۱ ، ۸۲۲ ایضاً قیل مطلب فی بیان من هو احق بالامامة) فقط والله اعلم بالصواب .

د جنازی لمونځ دی د چا په فصل او یا عمومي لاره کی ونه لولي

(۱٦ سوال) د جنازی لمونځونو لپاره کوم ځای نه دی بیل شوی ، قبرستان ته نږدی عید ګاه دی چی هلته د جنازی لمونځونه هم کیږي ، ځینی خلک وائي چی په عید ګاه کی د جنازی لمونځ مکروه دی ، نو اوس چیرته په سړک یا پټی کی د جنازی لمونځونه کوو ایا په دی کی څه حرج خو نشته ؟

ځواب : په عید ګاه کی د جنازی لمونځ مکروه نه دی ، ځکه چی عید ګاه په ټولو احکامو کی د مسجد په شان نه دی مګر له اختلاف نه د بچ کیدو په خاطر یوه جلا ځای ورته مقررول بهتر دي ، "لاتکره فی المسجد اعدلها وکذا فی مدرسة ومصلی عید لانه لیس لها حکم المسجد اعدلها وکذا فی مدرسة ومصلی عیدٍ لانه لیس لها حکم المسجد فی الاصح" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳٤۷ ج ۱ باب احکام الجنائز فصل السلطان احق بصلاته) .

په سړکونو او د خلکو په فصلونو کی د جنازی لمونځ لوستل مکروه دي ، "ویکره صلواة الجنائز فی الشارع واراضی الناس" (مراقی الفلاح ص ۱۱۷ باب احکام الجنائز) فقط والله اعلم بالصواب .

که د جنازی په لمونځ کی دری تکبیره ووائي نو د دی څه حکم دی ؟

(۱۷ سوال) امام صاحب د جنازی په لمونځ کی د دریو تکبیرونو نه وروسته سلام وګرځاو ایا دا لمونځ صحیح دی او که دوباره ولولي ؟

ځواب : په دی صورت کی د جنازی لمونځ صحیح نه دی بیا دی وګرځول شي خو لـه دریو تکبیرونو نه وروسته سهوا سلام وګرځوي او بیا د خپلـی غلطـی احسـاس وکـړي او فوراً څلورم تکبیر ووائي او په دی اثنا کی د لمونځ منافي کوم کار مثلاً خبری ونکړي یـا له قبلی نه سینه وانه ړوي نو لمونځ یی صحیح دی ، د جنازی په لمـونځ کـی د سـجده سهو ضرورت نشـته ، "ولو سلم الامام بعد الثالثة ناسیاً کبر الرابعة ویسلم" مراقـی الفلاح ص ۱۱۵ طحطاوی علی مراقی الفـلاح ص ۳۴۲ ایضـاً والله اعلـم بالصواب .

(۱۸ سوال) بو سړي د جنازی لمـونځ داسـی ولوسـت چـی لومړی یی سـوره فاتحـه ونوست له هغه نه وروسته د والعصر سوه یی ولوست ، لدینه پس یی درود شریف او لدینه بعد د مړي لپاره دعا په اوچت آواز سره ولوست ، ایا په دی صورت کی د جنازی لمونځ صحیح دی او که نه ؟ په ځواب کی د حـدیث حوالـه ضـروري ده ، همدغـه راز حنفـي مذهب او وهابي مذهب تر منځ فـرق واضـح کـول هـم ضـروري دي ، د دریـو څلـورو علماوٴ تصدیق هم ضروري دی ، زمونږ په علاقه کـی ډیـر لـوی بـی اتفـاقي روان دی ، څومره چی ژر کیدای شي ځواب راکړئ ، مهربـانی بـه مـو وي ، احقـر عبـد الـرحیم ، کهګول ضلع پټنه صوبه بهار .

ځواب : په مسئوله صورت کی لمونځ شوی دی ، لیکن کـه چیرتـه سـوره فاتحـه او نـور سورت د قرئت په توګه لوستلی وي لکه چی دغیر مقلدینو عادت دی نو دا مکـروه دی ، "وعندنا تجوز بنية الدعاء وتكره بنية القرأة بعدم ثبوتها فيها عنه عليـــه الســــلام" (درمختار مع الشامی ص ۸۱۷ ج ۱ باب الصلواة الجنائز مطلب فی صلاة الجنازة) او د جنازی په لمونځ کی چی څه ویلی شي هغه سـراً مسـنون دي ، "وامـــا الـــدعاء والثناء والصلواة فالمسنون فيه سراً كذا في البدائع (عمدة الرعاية علـــى شـــرح الوقاية ص ۲۵۳ ج ۱ باب الجنائز فصل صلواة الجنازة وبعض الفروع والفوائد)

د حنفي مذهب د مړي امام دی هرګز وهابي ملا جوړ نکړی شي ، د جنـازی د لمـونځ مقصد دعا ده ، حمد ، ثنا او درود شریف د دعا له ادابو څخه دي ، نـو ځکـه د لومـړي

تکبیر نه وروسته ثنا او له دریم تکبیر نه وروسته درود شریف او له دریم تکبیر نه وروسته د خپل خان مړي او ټولو مومنانو لپاره دعا کولی شي ، او له څلورم تکبیر نه وروسته سلام ګرځول دي .

"يحمد الله بعد الاولى ويصلي على النبي عليه الصلوة والسلام بعد الثانية ويدعوا لنفسه وللميت وللمؤمنين بعد الثالثة ويسلم بعد الرابعة" (الاختيار ص ۹۵ ج ۱۱ باب الجنائز) ..

د جنازې لمونځ په حقیقت کې لمونځ نه دی نو ځکه پدی کې د نورو لمونځونو پشان قرائت نشته لکه چې موطا امام مالک کې دي :

"عن سعيد بن ابي سعيد المقبري عن ابيه انه سأل ابا هريرة رضى الله عنه كيف تصلي على الجنازة فقال ابوهريرة رضى الله عنه انا لعمر الله اخبرك اتبعها من اهلها فاذا وضعت كبرت وحمدت الله وصليت على نبيه صلى الله عليه وسلم ثم اقول اللهم عبدك وابن عبدك وابن امتك كان يشهد ان لا اله الا انت وان محمداً عبدك ورسولك وانت اعلم به الخ" (مؤطا امام مالك باب كيف تصلي على الجنازة) .

ابو سعید مقبري له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې ته د جنازې لمونځ څنګه لولې حضرت ابوهریره رضی الله عنه وفرمایل : قسم دی د الله په بقاء تا ته صحیح صحیح وایم کله چې له کور نه د جنازې له لمونځ سره روانیږم او بیا کله چې د لمونځ لپاره جنازه کېښودلی شي نو زه الله اکبر وایم او بیا د الله تعریف او ثنا وایم مثلاً "سبحانك اللهم وبحمدك" لوله ، لدینه وروسته په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندی درود وایم ، بیا وروسته دا دعا وایم چې ترجمه یې دا ده : ای الله ستا بنده او ستا د بنده زوی او ستا د مومنې بنده زوی د دی خبر ګواهي ورکاو چې له تا نه علاوه بل معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم ستا بنده او رسول دی او ته د هغه له حالت نه ښه خبر یې الخ (ص ۷۹) په دی روایت کی د قرائت هیڅ ذکر نشته "وفيه عن النافع ان عبد الله بن عمر كان لا يقرأ في الصلوة على الجنازة" (ص ۷۹) یعنی موطا امام مالک کی د نافع په بل حدیث کی دي چې حضرت عبد الله بن عمر

رضی الله عنه به د جنازی په لمونځ کی قرائت نه ویل ، دلته د فقه مالکي بنیادي کتاب "المدونة الکبری" عبارت هو به هو نقلولی شي چي په هغه کی یی د امام مالک صاحب قول یی نقل کړی دی چي هغه د جنازي لمونځ ته دعا ویلي دي او نه یواځي دا یی ویلي چي زه قرائت نه کوم بلکی د اصحابو کرامو رضی الله عنهم نومونه یی هم بیان کړی دي چي دغو اصحابو کرامو رضی الله عنهم به د جنازی لمونځ ته دعا ویل او قرائت به پکی نه ویل بیا هغه رحمه الله د خپل ښار مدینه معمول هم ویلي دي .

"قلت لابن القاسم ای شيئ یقال علی المیت فی قوله مالك قال الدعاء للمیت قلت فهل یقرء علی الجنازة فی قول مالك قال لا قال ابن وهب عن رجال من اهل العلم عن عمر بن الخطاب وعلی بن ابی طالب و عبد الله بن عمر وفضالة بن عبید وابی هریرة وجابر بن عبد الله وواثلة بن الاسقع والقاسم بن محمد وسالم بن عبد الله وابن المسیب وربیعة وعطا بن ابی رباح ویحیی بن سعید انهم لم یکونوا یقرؤن فی الصلواة علی المیت قال ابن وهب وقال مالك لیس ذلك بمعمول به فی بلدنا انما هو الدعاء ادرکت اهل بلدنا علی ذلك لاخ" (ص ۱۵۸ ، ۱۵۹ ج ۱ باب الجنائز) .

نو ځکه د جنازی لمونځ حقیقتاً لمونځ ګڼل ، او حدیث "لاصلواة الا بفاتحة الکتاب" څخه استدلال کول صحیح نه دي ، که چیرته د جنازی لمونځ حقیقتاً لمونځ وای نو مړي به وړاندي نه ایښودل کیده خو دا ځکه ضروري دي چي دعا لپاره سپارښت او د مغفرت دعا وړته کیږي ، لدینه علاوه په څلورو تکبیرونو کی له هر تکبیر نه وروسته سوره فاتحه لوستل کیږي ځکه چي هر یو رکعت د یو رکعت قائم مقام دی .

"وقولهم ان التکبیرات الاربع قائم مقام اربع رکعاتٍ" (شامی ص ۸۱۳ ج ۱ باب صلواة الجنائز مطلب فی الصلواة الجنائز) .

او په ...... کی به رکوع ، سجده او تشهد و ، د غلطی په وجه به سجده سهوه وه لیکن د جنازی په لمونځ کی له هغوی نه یو کار هم نه کیږي ، دا صحیح دي چي په ځینو روایتونو کی د سوره فاتحه د لوستلو یادونه شویده مګر هغه د ثنا او دعا پر ځای دی ، د

قرائت په توګه د لوستلو لپاره هيڅ صراحت نشته ، "وفى شرح الهمام قـــالوا الا يقــرأ الفاتحة الا ان يقرأ بنية الثناء ولم يثبت القرأة عن رسول الله صلى الله عليه وســـلم وفى موطا الامام مالك عن نافع ان ابن عمر كان لايقرأها فى الصلواة على الجنازة الخ" (مرقاة المفاتيح ص ٤٧ ج ٤ باب المشى بالجنازة والصلواة عليها) .

"ولنا قول ابن مسعود رضى الله عنه ولم يوقت النبى صلى الله عليه وسلم شيئاً من القرآن فى الصلواة على الجنازة رواه الامام مالك (اى) واجاب الحنيفة بانه لم يكن قرأة الفاتحة لاجل انها قرأة بل على نية الثناء والدعاء جمعاً بين الادلة وقرأة الفاتحة بهذ الجهة جائزة عندنا فتامل (رسائل الاركان ص ١٥٦ فصل فى حكم الجنـــازة) القرأة يخرج عن القرآنية بقصد الثناء فلو قرأ الجنب الفاتحة بقصد الثناء لم يحرم ولو قصد بها الثناء فى الجنازة لم يكره الا اذا قرأ المصلى قاصد الثناء فانها تجزية (الاشباه والنظائر ص ١٩٩ ، ٢٠٠) قوله ولو قصد به الثناء فى صلواة الجنازة لم يكـــره اقول يفهم منه لو قصد القرآنيته يكره قال فى المحيط والتجسنيس لو قرأ الفاتحـــة يعنى فى صلواة الجنازة بنية الدعاء فلا بأس به وان قرأها به وان قرأها بنية القرأة لا تجوز لانها محل الدعاء دون القرأة انتهى" (حموى شـــرح اشـــباه ص ٢٠٠ الفن الثانى) .

حاصل دا چې د جنازې په لمونځ کې قرائت نشته ، که چيرته په لومړي تکبير کې سوره فاتحه د ثنا په نيت ولوستل شي نو دا جائز دي ، ليکن څرنګه چې د نيت پـه دې فرق عوام نه پوهيږي نو هغوی د فاتحې سوره د قرائت په توګه لـولي او د کراهـت مرتکـب کيږي نو ځکه احناف د جنازې په لمونځ کې عوامو ته د سوره فـاتحې د لوسـتلو اجـازه نه ورکوي ، فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته د مړي جسد پړسیدلی وي نو د هغه جنازی لمونځ دی ولوستل شي او که نه ؟

(۱۹ سوال) که مړی پړسیدلی او چاودیدلی وي آیا د دی جنازی لمونځ کول صحیح دي او که نه ؟

ځواب : داسی جسد چی پړسیدلی او چاودلی وي هغه د جنازی د لمونځ قابل نه دی، په بحر الرائق کی دي : "لا یصلی علیه بعد التفسخ لان الصلواة شرعت علی بدن المیت فاذا تفسخ لم یبق بدنه قائماً" .

ترجمه : د هغه مړي جسد چی پړسیدلی او چاودلی وي هغه د دی قابل نه دی چی د جنازی لمونځ ورباندی وکړی شي ځکه چی د جنازی لمونځ د روغ بدن لپاره مشروع دی نه د فاسد بدن لپاره (ص ۱۸۲ ج ۲ کتاب الجنائز فصل السلطان احق بصلاته)

فقط والله اعلم بالصواب .

د جنازی په لمونځ کی له څلورم تکبیر نه وروسته لاسونه وتړي او که خوشي پریږدي ؟

(۲۰ سوال) د جنازی لمونځ له څلورم تکبیر نه وروسته د سلام اړولو په وخت امام او قوم لاسونه وتړي او که خلاص پریږدي ؟ زمونږ امام صاحب له سلام نه وړاندی دواړه لاسونه خوشي پریږدي ، په دی باره کی شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : دواړه صورتونه جائز دي . امام طاهر ابن احمد البخاري سرخسي په خلاصة الفتاوی کی لیکي : "ولایعقد بعد التکبیر الرابع لانه لا یبقی ذکر مسنون حتی یعقد فالصحیح انه یحل الیدین ثم یسلم تسلیمتین هکذا فی الذخیرة" .

یعنی د جنازی په لمونځ کی له څلورم تکبیر نه وروسته دی لاسونه بند نه ساتي بلکی خلاصی دی پریږدي او دواړه سلامونه دی وګرځوي (ص ۲۲۵ ج۱ الفصل الخامس والعشرین فی الجنائز) .

حضرت مولانا عبد الحی لکهنوي په " سعایه " کی لیکي :

"ومن ههنا يخرج الجواب عما سألت من انه هل يضع مصلى الجنازة بعد التكبير الاخير من تكبير اته ثم يسلم ام يرسل ثم يسلم وهو انه ليس بعد التكبير الاخير ذكر مسنون فيسن فيه الارسال" .

یعنی له آخري تکبیر نه وروسته کوم مسنون ذکر نشته لهذا د لاسونو خوشې کول مسنون دي (ص ۱۵۹ ج ۲ مطبوعة مصطفائی ، مطلب فی ان وضع اليمين على الشمال فی القيام هل هو من من خصائل الصلواة ام لا)

لیکن حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمان عثماني دیوبندي دامت برکاتهم مفتي اعظم دار العلوم دیوبند د لاسو تړلو خبره کوي او همدغه معمول بها دی .

دا خبره دي واضح وي چې د جنازې د لمونځ له هر تکبیر نه وروسته ذکر سنت دی ، له اول تکبیر نه بعد ثنا له دویم تکبیر نه وروسته درود شریف له دریم تکبیر نه وروسته دعاء او له څلورم تکبیر نه بعد سلام ګرځول دي ، له هغو نه هر یو ذکر سنت دی (دالي قول) او ذکر عام دی چې سلام ته هم شامل دی او فقهاء د جنازې په عمومي تکبیراتو کې د لاسونو تړلو ته مسنون ویل کافي دلیل دي ، له تصریح نه بغیر د خلاف نه خلاف کول صحیح نه معلومیږي (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ص ۳۱۴ ج ۵) .

په قبرستان کې د جنازې لمونځ کول څنګه دي ؟

(۲۱ سوال) په قبرستان کې د جنازې لمونځ کول څنګه دي ؟

ځواب : له عذر نه بغیر په قبرستان کې د جنازې لمونځ کول مکروه دي خو که مجبوریت وي نو بیا مکروه نه دي . "وفى البدائع وغيرها قال ابو حنيفة رحمه الله لا ينبغي ان يصلى على ميت بين القبور وكان على وابن عباس يكرهان ذلك وان صلوا اجزاهم لما روى انهم صلوا على عائشة وام سلمة بين مقام البقيع والامام ابوهريرة وفيهم ابن عمر رضى الله عنهم ثم محل الكراهة اذا لم يكن عذر فان كان فلا كراهة اتفاقا الخ" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳٤۷ فصل السلطان احق بصلاته) فقط والله اعلم بالصواب .

په مسجد کې د جنازې لمونځ :

(۲۲ سوال) په مسجد کی د جنازی لمونځ تحريمي مکروه دی او که تنزیهي ؟ بینوا توجروا.

ځواب : د ځینو په نزد تنزيهي مکروه دی او د ځينو په نزد تحریمي مکروه دی ، د تحریم دلیل دا دی : "ويكره صلواة الجنازة فی المسجد قال العبد اصلحه الله تعالى وبعض الناس اعتادوا ان واحداً لو مات فی الليل ولايتهيأ لهم الاخراج الى المقبرة يضعونه فى المسجد وانه مكروه ذكر فى شرح الكرخي قال عليه السلام جنبوا مساجدكم صبيانكم لانه لا يؤمن منهم النجاسة وهذا المعنى موجود فى الميت" (نصاب الاحتساب قلمی ص ۳۳ باب نمبر ۱۵) فقط والله اعلم بالصواب .

ايا د مړي په نيم جسد باندې د جنازې لمونځ صحيح دی او که نه ؟

(۲۳ سوال) که چیرته د مړي بدن نيم يا لدینه کم او زيات وي نو د هغه لپاره د غسل ، کفن او لمونځ په متعلق د شريعت څه حکم دی ؟ بينوا توجروا .

ځواب : که چېرته دمړي بدن نيم وي او ورسره سر يې هم موجود وي نو هغه دپوره جسم حکم لري ، دمسنون په طريقه دی دهغه تجهيز ، تکفين او تدفين وکړی شي دجنازې لمونځ دی ورته هم اداکړی شي ، که چېرته نيم جسم يې له سر نه بغير وي نو داسې مړي لپاره نه دمسنون په طريقه غسل دی او نه تکفين ، تدفين او دجنازې لمونځ هغه ی ولمبول شي او بيا دی په يوه کپړه (ټوټه) کی راتاو کړی شي اوپه يوه کنده کی دی واچول شي او ورباندی دی خاوره واچول شي که نيم جسم نه کم وي نو دهغه حکم هم همدادی ، په شامي کې دي : (كالعضو من الميت اى لو وجد طرف من اطراف انسان او نصفه مشقوقاً طولاً او عرضاً يلف فى خرقة الا اذاكان معه الرأس فيكفن كمافى البدائع اه) (شامي ج ۱ ص ۸۰۹ باب صلوة الجنازة مطلب فى الكفن) فقط والله واعلم بالصواب).

دمخنث (ایجړا) لپاره دجنازې لمونځ

۲۴_ سوال : ایا دایجړا لپاره جنازې لمونځ لوستل کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا.
ځواب: که چیرته ایجړا مسلمان وي نو دجنازې لمونځ لوستل یې ضروري دي هغه باید دمسلمانانو په هدیره کی دفن کړی شي ، تجهیز ، تکفین اودجنازې لمونځ د هغه اسلامي حق دی اګر که عملاً فاسق هم وي په حدیث شریف کی دي صلو علی بروفاجر هدایه[1] والله اعلم بالصواب.

که دزیږیدو په وخت کی دژوند اثار معلوم وي نو دهغه څه حکم دی ؟

۲۵_ سوال: دماشوم دپیداکیدو په وخت کی دژوند اثار معلومیدل . لیکن کله چی پیداشو نو دژوند اثار پکې نه وو ، ایا پرهغه نوم کیښودلې شي ؟ دجنازې لمونځ یې ولوستل شي او که نه ؟ که ماشوم مړ پیداشي دهغه څه حکم دی ؟ بینوا توجروا.
ځواب: که چیرته دماشوم دبدن زیاتره حصه بیرون وتلو پورې دژوند آثار ښکاره وي یعنې که دسرطرف نه پیداشي نو ترسینې پورې ، اوکه دپښو له طرف نه پیداشي نو ترنامه پورې ووځي او دژوند اثار پکې ښکاره شي نو ماشوم ژوندی تصور کولای شي اوپه مسنونه طریقه دهغه تجهیز او تکفین پکار دی او دجنازې لمونځ له لوستلو نه وروسته دی دفن کړی شي. او که داکثرې حصې له وتلو نه مخکې مړشي نو هغه مړ حسابلوې شي ، هغه دی وویننځل شي اوپه یوه پاکه کپړه (ټوټه) کی له تاوولو نه وروسته دی دجنازې لمونځ نه بغیر دفن کړی شي ، اوپه دواړو صورتونو کې دی وربانَدی نوم کیښودلې شي . په درمختار کی دي :

ومن ولد فمات یغسل ویصلی علیه ویرث ویورث ویسمی ان استهل بالبناء للفاعل ای وجد منه مایدل علی حیاته بعد خروج اکثره . الی قوله (والا) یستهل

---

[1] باب الامامة ویصلی علی کل مسلم مات بعد . لولا دة صغیرا کان او کبیرا ذکرا کان او انثی حر کان او عبداً . فتاوی عالمگیري ف الصلواة عی المیت ج۱ص۱۶۲.

(غسل وسمی) عن دالثانی و هو الا صح ویفتی به .... وادرج فی خرقة ودفن ولم یصلی علیه اه (درمختار مع الشامي ج۱ ص۸۲۹ ، ص۸۳۰ باب صلوة الجنائز مطلب فی صلاة الجنازة) فقط والله اعلم بالصواب.

که دجنازې لمونځ لپاره څوک پیدانشي نو؟

۲٦ـ سوال : په ځینو کلو کی دجنازې لمونځ دامامت لپاره څوک نه پیداکیږي، دډیر انتظار باوجود څوک نه پیداکیږي ، دمړي دخرابیدو له ویرې نه مجبوراً دجنازې لمونځ نه پرته خاورو ته سپارل کیږي ، ددی په متعلق څه حکم دی ؟ بینوا توجروا.

ځواب: دجنازی لمونځ کفایې فرض دی ، دځو تنو په لوستلو سره ټول بری الذمه کیږي او که یو کس هم ونه لولي نو ټول دفرض ترکوونکی شمارل کیږي او مړي ته لوی تاوان دی .[1]

لهذا دجنازې لمونځ زده کول او لوستل ضروري دی که چېرته هیڅوک دجنازې لمونځ لپاره پیدانشي نو یو سړی یابنځه دی اودس وکړي او جنازې ته مخامخ دی ودریږي اودالله اکبر په ویلو سره دی لاسونه وتړي ، بیادی نورتکبیرونه ووایي (ټول څلور تکبیرونه دی ووایي) نوپه دی صورت کی دجنازې لمونځ یې کیږي اوله ګناه څخه خلاصیږي . فقط ولهل اعلم بالصواب.

که چېرته څو جنازې کټو نه جمع شي نو لمونځ دی څنګه ولوستل شي ؟

۲۷ـ سوال : زمونږ کلي ته نژدی بلی مورا په ښار کې یوه ښځه ، درې ماشومان او ماشومانې په حق ورسیدل ،. ددغوشپږواړو لپاره صرف یوه جنازې لمونځ ولوستل شوه

---

[1] ـ التـلواة علی الجنازة فرض کفایة اذا قام به البعض واحداً کان او جماعة ذکرا کان او انثی سقط عن الباقین واذا ترك الکل اثموا هکذا فی التتار خانیة فتاوی عالمگیري فی الصلاة علی المیت جص۱٦۲ ومن لایحسن الدعآء یقول اللهم اغفر للمؤمنین والمؤمنات کذا فی المجتبی بحر الرائق کتاب الجنائز تحت قوله وهی اربع تکبیرات الخ .

او جنازې په الټه کربنه کې په ترتیب سره ایښودل شوي وو . ایا په یوه لمونځ سره دټولو جنازې لمونځ کیږي ؟ ماشومان او ماشومانې نابالغ وو ، خو ټولو لپاره دجنازې یو لمونځ ولوستل شو. که چیرته همدا یو لمونځ ورته کافي وي نو په داسې حالت کې دجنازې لمونځ څه قسم ولولي او جنازې کتونه څنګه کیښودل شي ؟ مهرباني وکړئ مفصل ځواب راکړئ ، بینوا توجروا بالدلیل توجروا عند الکریم .

ځواب حامداً ومصلیاً داچې دټولو لپاره دجنازې یو لمونځ لوستل شوی دی نو په دی کې هیڅ حرج نشته دټولو لپاره اداشویدی ، دجنازې دلمونځ دعا:

اللهم اغفرلحینا ومتیناء شاهدنا الخ . کی سړی وي او که ښځې ،لوی او واړه ټول شامل دي . البته په داسې صورت کې بهتر داو چې دهر جنازې لمونځ جلا جلا لوستل شوي وای او کوم مړی چې افضل و دهغه جنازې لمونځ مخکې شوی وای ، بیا له هغه نه دکم افضل والا.

کله چې دټولو لپاره دجنازې یوه لمونځ لوستل کیږي نو ضروري ده چې دټولو لپاره نیت وکړی شي ، که جنازې مختلفې وي یعنې څه سړي څه ښځې او څه ماشومان وي نو دجنازو دایښودلو درې صورتونه دي :

لومړی صورت : دټولو جنازې کټونو لپاره دی شمالاً او جنوباً قطا رجوړ کړی شي لو مړی دی دسړي کټ کیږدي بیا دهغه پښو طرف ته نابالغ هلک ، بیا ورپسې دښځې او بیا دنابالغې ماشومې جنازه او امام دی‌له ټولو نه افضل [1] ته مخامخ ودریږي.

ددی صورت په لاندی ډول دی.

(د سړي جنازه) بیا (دنابالغ هلک) بیا (دښځې جنازه) بیا (دنابالغې جلۍ)

دامام ځای :

دویم صورت : ټول کټونه دی دامام په وړاندې په پرله پسې توګه داسې کیښودل شي چې امام دټولو جنازې کټونو ته مخامخ وي ، لومړی دسړي جنازه بیا ورپسې دښځې هغې پسې دنابالغ هلک اوهغه پسې دنابالغې جلۍ. مثلاً.

۴_ (دنابالغې جلۍ کټ)

۳_ (دښځې کټ)

---

[1] ـ یعنې له ټولو نه وړومبې جنازې ته نژدی به ودریږي ځکه چې په دغو جنازو کې همدا بهتر دی اودافضلیت په وجه هغه مخکې ایښودل شوی ده

۲ـ (دنابالغ ماشوم کټ)
۱ـ (دسړي دجنازې کټ)
دامام ځای
درېيم صورت
داهم جائز دی چی دلومړې جنازې نه وروسته دویمه جنازه لږ غوندی لاندی کړی شي او داسې دې کېښودلې شي چی ددویم مړي سر دلومړي مړي اوګـو تـه نـژدی وي اوددریم مړي سر ددویم مړي اوګوته نژدی وي اود څلورم مړي سر ددریم مړي اوګو تـه نژدی وي.
مثلاً داسې.

(۴) (دنابالغې جلی جنازه)
(۳) (دښځې جنازه)
(۲) (دنابالغ ماشوم جنازه)
(۱) (دسړي جنازه)

دامام ځای

دټولو جنازو لپاره دعاء: اللهم اغفرلحینا ومتینا الخ . کافي دی که دنابالغ جنازې لپاره دادعا هم شامله کړي نو غوره ده په درمختار کی دي : واذا اجتمعت الجنائز فـافراد الصلواة على كل واحدة اولى من الجمع وتقديم الا فضل افضل. وان جمع جـازثم ان شاء جعل جنائز صفاً واحداً (اى كما يصفون عند الصلوة . بدائع اى بـان يكون رأس كل عند رجل الآخر فيكون الصف على عرض القبلة . شامي) وقام (الامام) عند افضلهم وان شاء جعلها صفاً مايلى القبلة واحداً خلف واحد بحيث يكون صدر كل جنازة مما يلى الا هام ليقوم بحذاء صدر الكـل (وروى فى غـير رواية الاصول ان الثانى اولى لان السنة هى قيام الامام بحذاء الميت وهو يحصل فى الثانى دون الاول اه (شامي) وان جعلها درجاً فحسن لحصول المقصود(درجـاً الى

شبه الدرج بأن يكون رأس الثاني عند منكب الاول بدائع . شامی) وراعى الترتيب المعهود خلفه ، حالة الحياة فيقرب منه الافضل . فالا فضل الرجل ممايليه فالصبي فالخنثى فالبالغة فالمراهقه (درمختار مع الشامی مطلب فی صلاة الجنازة ج۱ص۸۲۱، ۸۲۲) وهکذا فی (نور الايضاح ص۱۲۷ (مراقي الفلاح ص۱۱) (طحطاوي على مراقي الفلاح . ص۳٤٥).

نوټ: که چېرته په مختلفو او ګڼو جنازو کې دخنثی (ایجړا) جنازه هم وي نو دهغه جنازه دی دښځې له جنازې نه مخکې کیږدي فقط والله اعلم بالصلواب.

دمسجد په صحن کی دجنازې کټ ایښودل

۲۸ـ سوال : مونږ دمسجد په یو طرف کی دجنازې لمونځ لپاره یو ځای جوړ کړی دی ، دجنازې لمونځ همدلته کیږي ، مګر کله چې جنازه دفرض لمونځ په وخت کی راشي نو دغه دمسجد په صحن کی دفرض لمونځ داداکولو تروخته پورې ږدو ایا په دی کی څه حرج شته او که نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب: بلا عذر او له مجبوری نه پرته دجنازې کټ دمسجد په صحن کی دننه کول مکروه دی ځکه چې دمسجد دګنده کیدو اندیښنه ده ، په شامي کي دي : (کما تکره الصلاة عليها فی المسجد يكره ادخالها فيه شامي ج۱ص۸۲۷ مطلب فی کراهة صلاة الجنازة فی المسجد) فقط والله اعلم بالصواب.

دجنازې لمونځ په ناسته ولوستل شي نو ددی څه حکم دی ؟

۲۹ـ سوال : دمړي ولي ډیر نیک متقي او دشریعت پابند دی ، لیکن هغه ناروغ او کمزوری دی که هغه ددغه مجبوریت له کبله په ناسته دجنازې لمونځ ولولي نو ددی څه حکم دی ؟ بینوا توجروا.

ځواب په مسئوله صورت کی دهغه لمونځ کیږي په فتاوی عالمکیري کی دي:
"اذا صلی المریض علی جنازة قاعدا وهو ولیها والقوم خلفه قیام جاز" (عالمگیری ج ۱ ص ۱۰۵ الفصل الخامس فی الصلواة علی المیت)فقط والله اعلم بالصواب.
نوټ: دا حکم یواځی ولي لپاره خاص نه دی بلکی د ټولو معذورو لپاره هم همدا حکم دی، فقط والله اعلم بالصواب. ۱۹ جمادی الاول ص ۱۴۰۲

له څلورو نه زیات تکبیر ویونکو پسی د جنازی لمونځ کول:

(۳۰ سوال) که د حنفي مذهب واله سړی داسی امام پسی لمونځ وکړي چی څلورو نه زیات تکبیرونه وائي نو دا څه وکړي؟ د ده اقتداء وکړي که نه؟ بینوا توجروا.
ځواب: اقتداء جائزه ده او حنفي مقتدي دی صرف څلور تکبیرونو نه پس خاموش ولاړ وي، د څلورو نه زیات تکبیرونو کی دی د هغه اتباع نه کوي، چی کله سلام وګرځوي نو دا دی هم ورسره سلام وګرځوي. "ولو کبر امامه خمساً لم یتبع لانه منسوخ فیمکث المؤتم حتی یسلم معه اذا سلم به یفتی" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۸۱۷ . ۸۱۹ مطلب فی صلواة الجنازة) فقط والله اعلم بالصواب.

دجنازی په لمونځ کی اللهم اغفر لحینا الخ سره بله دعا لوستل

(۳۱ سوال) د بالغ مړي د جنازی په لمونځ کی: "اللهم اغفر لحینا ومیتنا الخ" ویل کیږي لیکن زمونږ امام صاحب لدی سره "اللهم اغفر له وارحمه وعافه واعف عنه واکرم نزله، ووسع مدخله، واغسله بالماء والثلج والبرد ونقه من الخطایا کما ینقی الثوب الابیض من الدنس وابدله داراً خیراً من داره واهلاً خیراً من اهله وزوجاً من زوجه وادخله الجنة واعذه من عذاب القبر وعذاب النار" لولي، د دی څه حکم دی؟ بینوا توجروا.
ځواب: له اللهم اغفر لحینا ومیتنا له دعا سره اللهم اغفر له دعا هم لوستلی شي او دا ښه کار دی، که جنازه د ښځی وي نو د اللهم اغفر له پر ځای اللهم اغفرلها، او د وارحمه پر ځای وارحمها، او د عافه پر ځای وعافها، د نزله پر ځای نزلها، واغسله پر ځای

واغسلها ، وابدله پر ځای وابدلها ، او د من داره پر ځای دی من دارها ولوستل شي (شامي ج ۱ ص ۳۱٦ صلوات الجنازه) فقط والله اعلم بالصواب.

د غیر مسلم نوکری ښځی څخه د ماشوم حکم :

(۳۲ سوال) که له غیر مسلم نوکری ښځی سره د زنا په صورت کی پیدا شوی ماشوم په کور کی مړ شي نو د هغه د جنازی لمونځ دی وکړی شي او د مسلمانانو په قبر کی دی دفن کړی شي او که نه ؟ یا داسی ماشوم له مړک نه وروسته غیر مسلمو ته ورکول ضروري دي ؟

خواب : دا مسئله مختلف فیه دی ، د خاتم المحققین علامه ابن عابدین تحقیق دا دی چی داسی ماشوم د مسلمان پلار (د چا له نطفی نه چی پیدا شوی دی) تابع ګڼل کیدو په وجه مسلمان حسابولی شي او دهغه جنازی لمونځ هم لوستلي شي ، ځکه چی په حدیث کی دي چی هر ماشوم په فطرت باندی پیدا کیږي ، زمونږ په حنفي مسلک کی له زنا نه پیدا شوی ماشوم د زاني لپاره حرامه ده ، همدغه راز له زنا څخه پیدا شوی ماشوم ته د هغه پلار زکات نشي ورکولی او د هغه په حق کی د دغه ماشوم ګواهي معتبر نه دی ، کله چی په دغو ټولو کارونو کی نطفی ته اعتبار ورکول شوی دی نو بیا د هغه د جنازی لمونځ په ادا کولو کی هم د دی اعتبار پکار دی ، په وراثت او نفقه کی د دی معتبر نه ګڼلو وجه د بدکاري مخه نیولی دی ، علامه سبکي ، شافعي او قاضي القضات حنبلي رحمهم الله هم همدغه فتوه ورکړی ده ، "ورأیت فی فتاوی الشهاب الشبلي قال واقعة الفتوی فی زماننا مسلم زنی بنصرانیة فأتت بولد فهل یکون مسلما اجاز بعض الشافعیة بعدمه وبعضهم باسلامه وذکر ان السبکی نص علیه وهو غیر ظاهر فان الشارع قطع نسب ولد الزنا وبنته من الزنا تحل له عندهم فکیف یکون مسلماً وافتی قاضی القضاة الحنبلی باسلامه ایضاً وتوقفت عن الکتابة فانه وان کان مقطوع النسب عن ابیه حتی لا یرثه فقد صرحوا عندنا بان بنته من الزنا لا تحل له وبانه لا یدفع زکاته لأبنه من الزنا ولا تقبل شهادته له .... قلت یظهر لی الحکم بالاسلام للحدیث الصحیح کل مولود یولد

علی الفطرة" (شامی ج ۲ ص ٥٤٢ باب نکاح الکافر مطلب الولد یتبع خیر الابوین دینا) .

په بخاری شریف کی د ابن شهاب زهری تابعي روایت د علامه شامی د تحقیق پوره تائید کوي چی له زنا څخه د پیدا شوي ماشوم جنازی لمونځ دی ولوستل شي هله چی د هغه مور او پلار یا یواځی پلار یی مسلمان وي ځکه چی هغه په فطرت کی پیدا شوی دی . "قال ابن شهاب یصلی علی کل مولود متوفی وان کان لبغیة من اجل انه ولد علی فطرة الاسلام یدعی ابواه الاسلام وابوه خاصة وان کانت امه علی غیر الاسلام اذا استهل صارخاً صلی علیه ولا یصلی علی من لا یستهل من اجل انه سقط فان اباهریرة کان یحدث قال النبی صلی الله علیه وسلم ما من مولود الا یولد علی الفطرة" (بخاری شریف ج ۱ ص ۱۸۱ باب اذا سلم الصبی فمات هل یصلی علیه الخ) عمدة القاری ج ۸ ص ۷۷ ایضاً (فتح الباری ج ۳ ص ۷٦ ایضاً) .

د مذکوره تحقیق په مطابق دی د دغه ماشوم جنازی لمونځ ولوستل شي او د مسلمانانو په قبرستان کی دی دفن کړی شي ، غیر مسلمو ته دی نه ورکوي . فقط والله اعلم بالصواب .

د زوال په وخت کی د جنازی لمونځ :

(۳۳ سوال) د زوال په وخت د جنازی لمونځ لوستل څنګه دي همدغه راز د لمر د ختلو او پری وتلو په وخت کی د جنازی د لمونځ حکم څه دی ؟ که چا په دغو وختونو کی لمونځ ولوست نو څنګه دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که په همدی وخت کی د جنازی کټ راغلی وي نو لوستلی یی شي مکروه نه دی او که له مخکی نه راغلي وي او په تاخیر کولو سره په دغو وختونو کی د لوستلو اجازه نشته او ممنوع دی ، په درمختار کی دي : "(لاینعقد الفرض) وما هو ملحق به کواجب لعینه کوتر ، (سجدة تلاوة وصلواة جنازة تلیت) الایة (فی کامل وحضرت الجنازة قبل) لوجوبه کاملاً فلا یتادی ناقصاً فلو وجبتا فیها لم یکرد

فعلهما ای تحریماً وفی التحفة الافضل ان لا توخر الجنازة" (درمختار) په شامي کی دي: "(قوله وفی التحفة) هو کالا ستدراك علی مفهوم قوله ای تحریماً فانه اذا کان الافضل عدم التاخیر فی الجنازة فلا کراهة اصلاً وما فی التحفة اقره فی البحر والنهر والفتح والمعراج لحدیث ثلاث لایؤخرن منها الجنازة اذا حضرت الخ" (درمختار والشامی ج ۱ ص ۳٤۷ کتاب الصلواة) فقط والله اعلم بالصواب.

د غائبانه جنازی لمونځ لوستل:

(۳۳ سوال) نن سبا په خینو ځایونو کی دا طریقه لیدل کیږي چی له کوم ملک او هیواد څخه د چا د مړ کیدو خبر راشي نو هغه لپاره غائبانه جنازی لمونځ کوي، په داسي حال کی چی دلته زیات خلک له حنفي مسلک سره دي لاکن له تحقیق نه پرته په دی باندی عمل کوي، نور خلک د هغوی په لیدو سره په دې باندی د عمل کولو اصرار کوي. دغائبانه جنازی په اړه صحیح حکم څه دی؟ کوم خلک چی دا لولي هغوی دی لپاره دا دلیل وړاندی کوي چی محمد صلی الله علیه وسلم د جنازی لمونځ لوستلی دی، د مفصل او مدلل ځواب ضرورت دی، بینوا توجروا (له انګلینډ څخه)

ځواب: د غائبانه جنازی لمونځ لوستل صحیح نه دي، د جنازی د صحت لپاره دا ضروري شرط دی چی جنازه مخی ته پرته وي. محمد صلی الله علیه وسلم د نجاشي اصحمه پاچا غائبانه جنازی لمونځ لوستلی دی خو لدینه استدلال صحیح نه دی، دا د محمد صلی الله علیه وسلم خصوصیت دی، همدغه راز له روایاتونو نه دا هم معلومیږي چی د نجاشي پاچا جنازه د محمد صلی الله علیه وسلم مخی ته راوستل شوی وه لکه چی په یو روایت کی دي، په کوم ورځ چی نجاشي پاچا مړ شو نو په هغه ورځ محمد صلی الله علیه وسلم اصحابو ته خبر ورکړ چی ستاسی ورور نجاشي وفات شوی دی، له اصحابو سره یو ځای هغه ځای ته تشریف ویوړ چیرته چی د جنازی لمونځ کیده، محمد صلی الله علیه وسلم ودرید او اصحاب کرام رضی الله عنهم وریسی په صفونو کی ودریدل او څلور تکبیرونو کی د جنازی لمونځ ادا کړ، د اصحابو کرامو رضی الله عنهم وینا ده چی مونږ ته داسی محسوسیده چی جنازه د هغه صلی الله علیه وسلم په مخکی

ده . بل دا چی په دی کی د نجاشي اعزاز هم مقصد و . د نجاشي خدمات زیات وو ، کله چی په مکه مکرمه کی چی مشرکانو په مسلمانانو باندی ډیر زیات ظلمونه وکړل اوهر قسم تکلیفونه یی ورته ورکړل تر څو له مسلمانی نه یې واړوي نو د محمد صلی الله علیه وسلم په حکم سره اصحابو کرامو رضی الله عنهم د خپل دین او ایمان د حفاظت په خاطر د حبشی په لوری هجرت وکړ ، هلته نجاشي د اصحابو ډیر عزت او احترام وکړ او ډیر زیات سهولت یی ورته ورساو پناه یی ورته ورکړ او هر قسم مدد او مرسته یی ورسره وکړه . کله چی محمد صلی الله علیه وسلم ته د هغه د مړینی خبر ورسید نو محمد صلی الله علیه وسلم له اصحابو سره یوځای د هغه غائبانه جنازی لمونځ ادا کړ . په دی کی د نجاشي اعزاز هم مقصود ولهذا دا حکم عام نه دی او نه هم لدینه د استدلال کولو ضرورت شته . د محمد صلی الله علیه وسلم په زمانه کی په ګڼ شمیر کی اصحاب کرام رضی الله عنهم له مدینی نه د باندی شهیدان شول او د هغوی د شهید کیدو خبر پخپله محمد صلی الله علیه وسلم اصحابو ته ورکړ مګر د هغوی غائبانه جنازی لمونځ ونه لوست ، په داسی حال کی چی پخپله محمد صلی الله علیه وسلم هدایت کړی وُ چی کله هر څوک وفات شي نو د هغه خبر ماته راکړئ ځکه چی زه کله د هغه جنازی لمونځ ولولم نو مړي لپاره د رحمت باعث ګرځي ، همدغه راز الهي فرمان دی : "ان صلوتك سكن لهم" بیشکه ستا دعا هغه لپاره د تسکین باعث دی . د بیر معونه مشهوره حادثه مخی ته راغله چی په هغه کی ۷۰ اصحابان یی د اسلام دښمنانو په دوکی سره له ځان سره وی وړل او په لاره کی ټول یی شهیدان کړل . محمد صلی الله علیه وسلم ډیر غمګین او خفه شو ، تر یوی میاشتی پوری د سهار په لمونځ کی وریسی قنوت نازله وویل ، مګر د هغوی غائبانه جنازه یی ونکړه که چیرته د غائبانه جنازی حکم عام وی نو هغه صلی الله علیه وسلم به هر وخت د هر چا لپاره غائبانه جنازی لمونځ کړی و ، او دهغه په اتباع کولو سره راشده خلفاو هم همداسی کړي و مګر په صحیح ډول د دی ثبوت نشته نو ځکه اوس هیچا لپاره جائز نه دي چی هغه غائبانه جنازی لمونځ ولولي ، او که څوک لولي نو دا له سنت نه مخالفت دی .

اوس حوالو ته وګورئ :

په درمختار کی دي : "وكونه امام المصلي وكونه للقبلة فلا تصح على غائب ومحمول على دابة .... وصلاة النبى صلى الله عليه وسلم على النجاشى

لغيبة او خصوصية (قوله او خصوصية) او لانه رفع سريره حتى راه عليه الصلوٰة والسلام بحضرته فتكون صلوٰة من خلفه على ميت اه"

الامام وبحضرته وهذا غير مانع من الاقتداء فتح واستدل لهذين الاحتمالين بما لا مزيد عليه فارجع اليه من جملة ذلك انه توفى خلق كثير من اصحابه صلى الله عليه وسلم من اعزهم عليه القرأ ولم ينقل عنه انه صلى عليهم مع حرصه على ذلك حتى قال لا يموتن احد منكم الا آذنتموني به فان صلاتى عليه رحمة له" (درمختار مع شامى ج ۱ ص ۸۱۳ مطلب فى صلاة الجنازة) .

يه مراقى الفلاح كى دي :

"والصلوٰة على النجاشي كانت بمشهده كرامة له ، ومعجزة للنبى صلى الله عليه وسلم (قوله كانت بمشهده) اى بمشهد النبى صلى الله عليه وسلم اى بما كان رآه وشاهده فيه صلى الله عليه وسلم فرفع له سريره حتى رأه بحضرته فتكون صلاة من خلفه على ميت يراه الامام دون المأمون وهذا غير مانع من الاقتداء وانها خصوصية للنجاشى او ان المراد بالصلوٰة الدعاء لا الصلوٰة المخصوصة ومثل ما ذكر يقال فى صلوته صلى الله عليه وسلم على زيد بن حارثة وجعفر بن ابى طالب حين استشهد بموته اه" (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۳۱۹ فصل فى الصلوٰة على الجنازة) .

يه زجاجة المصابيح كى دي :

"عن ابى هريرة رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم نعى للناس النجاشى اليوم الذى مات فيه وخرج بهم الى المصلى فصف بهم وكبر اربع تكبيرات متفق عليه . وروى ابن حبان فى صحيحه عن عمر ان بن حصين ان النبى صلى الله عليه وسلم قال ان اخاكم النجاشى توفى فقوموا صلوا عليه فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم وصفوا خلفه فكبر اربعاً وهم لا يظنون الا ان جنازته بين يديه وفى

رواية ابي عوانة فصلينا خلفه ونحن لا نرى الا ان الجنازة قدامنا" (زجاجة المصابيح ج ۱ ص ٤٥٨. ٤٥٩ باب المشي بالجنازة والصلواة عليها)

د ترمذي شريف په حاشيه کې دي : "ونحن نقول رفع له سريره حتى رآه بحضرته او كشف له فيكون صلاة من خلفه كالصلواة على ميت رآه الامام بحضرته دون المامومين وهذا غير مانع من الاقتداء وقيل ذلك مخصوص بالنجاشي فلا يلحق به غيره كذا في اللمعات وفي المرقاة وعن ابن عباس رضى الله عنه قال كشف للنبي صلى الله عليه وسلم سرير النجاشي حتى رآه وصلى عليه" (ترمذی شريف ج ۱ ص ۲۳ باب ما جاء في صلواة صلى الله عليه وسلم على النجاشي (مرقاة ج ٤ ص ٤٦) (مطبوعه ملتان).

په عمدة الفقه کې دي : د غائب سړي جنازې لمونځ صحيح نه دی . محمد صلى الله عليه وسلم د حبشې پاچا اصحمه غائبانه جنازې لمونځ کړې دی خو دا د هغه صلى الله عليه وسلم له خصوصياتو څخه دي چې د هغه او نجاشي پاچا د مړي له منځ نه پردی الله تعالى پخپل فضل او کرم سره لرې کړی او د هغه جنازه يې د محمد صلى الله عليه وسلم مخې ته کړه ، نورو خلکو هغه نه ليده ، محمد صلى الله عليه وسلم ښکاره شو او دهغه جنازې لمونځ يې ولوست ، هغه پسې د اصحابو کرامو رضی الله عنهم اقتدا کول که څه هم هغوی مړي نه ليدو جائز شو ، او پدې کې هيڅ مانع نشته ، که چيرته دغائب مړي جنازې لمونځ کيدای نو محمد صلى الله عليه وسلم به د هغو اصحابو کرامو رضی الله عنهم جنازې لمونځ ضرور لوستلې چې په ګڼ تعداد کې له هغه صلى الله عليه وسلم نه لرې وفات او هلته دفن شول ، حال دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د جنازې لمونځ لوستلو زيات حريص او الهي حکم : ان صلواتك سكن لهم باوجود د چا په باره کې د غائبانه جنازې لمونځ لوستل ثابت نه دي ، په داسې حال کې چې محمد صلى الله عليه وسلم پخپله فرمايلي دي : "لايموتن احد منكم الا آذنتموني به فان صلوتي عليه رحمة له" کله چې له تاسو نه څوک مړ کيږي نو تاسې ماته خبر راکوئ ځکه چې زما د هغه جنازې لمونځ لوستل هغه لپاره د رحمت باعث دی خو چيرته هم

دا نه دي ثابت چې محمد صلی الله علیه وسلم د نجاشي پاچا نه علاوه بل چا لپاره غائبانه جنازی لمونځ لوستلی دی

کوم خلک چې د نجاشي پاچا د غائبانه جنازی لمونځ نه سند نیولی او د دی رواج یې پیدا کړی دی دا غلط او غیر مشروع دی (عمدة الفقه ص ۵۱٦ ، ۵۱۷ ، مطبوعه کراچی پاکستان ، فقط والله اعلم بالصواب

د جنازی لمونځ څو څو ځلې لوستل ، که ولي د جنازی لمونځ دوباره وکړي نو له هغه سړي کوم چې شریکیدلی شي ؟

(۳۵ سوال) زمونږ په قریه کی ډیر لوی د اوبو بند دی . ډیر خلک دلته مزدوري کوي کله چې کوم مسافر مزدور دلته مړ شي نو د قریې خلک مړی لمبوي او د جنازی لمونځ ورته کوي بیا د هغوی خپلوان هغه خپلی علاقی ته وړي ، بیا هلته هم مسلمانان د هغه جنازی لمونځ لولي او بیا یې خاورو ته سپاري په دی ترتیب په دوه ځایونو کی دوه کرته د هغه جنازی لمونځ لوستل کیږي ایا د مړي دوه کرته جنازی لمونځ لوستل صحیح او جائز دي ؟ بل دا چې کوم خلک چې د هغه په لومړی جنازه کی شریک شوي وي په دویمه جنازه کی شریکدای شي او که نه ؟ د ځینو خلکو خیال دی چې اصحابو کرامو د محمد صلی الله علیه وسلم څو څو کرته په مسلسل ډول جنازی لمونځ لوستلی دی لدینه ثابتیږي چې د جنازی لمونځ په مکرر ډول لوستلی شو . تاسی مهرباني وکړی مدلل ځواب راکړئ ، بینوا توجروا .

ځواب حامداً ومصلیاً ومسلماً (۱ ، ۲) که د جنازی لمونځ ولی پخپله لوستلی وي یا یې اجازه ورکړی وي ، برابره خبره ده چې اجازه یې په صراحت سره ورکړی وي بادلالة لکه چې پردي خلک پخپله د جنازی لمونځ وکړ او ولی هغوی پسې اقتداء وکړ نو په دی سره فرض کفایه ادا شوه او له ټولو خلکو نه دا فریضه ساقط شوه اوس که نور خلک د جنازی لمونځ لوستل غواړي نو د حنفي مسلک په مطابق د هغوی لپاره اجازه نشته . ځکه چې د جنازی لمونځ کفائي فرض دی . کله چې یوځل ادا کړی شوی دی نو له ټولو نه فریضه ساقط شو البته که ولي لمونځ نه وي لوستلی او نه هم د هغه په اجازه لوستل شوی وي نو ولي اعاده کولی شي .

ملک العلماء علامه کاشاني رحمه الله په بدائع الصنائع کی روایت نقل کړی دی

"ولنا ما روی ان النبی صلی الله علیه وسلم صلی علی جنازة فلما فرغ جاء عمر رضی الله عنه ومعه قوم فاراد ان یصلی ثانیا فقال له النبی صلی الله علیه وسلم الصلواة علی الجنازة لا تعاد ولکن ادع للمیت واستغفر له وهذا نص فی الباب" یعنی یو ځل محمد صلی الله علیه وسلم د جنازی لمونځ ولوست لدینه وروسته عمر رضی الله عنه او د هغه څو ملګري راغلل هغوی غوښتل چې دوباره جنازی لمونځ ولولي ، خو محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : د جنازی لمونځ دوه کرته نه لوستل کیږي ، البته مړي لپاره دعاء او استغفار وغواړئ (بدائع الصنائع ص ۳۱۱ فصل فی الصلواة الجنازة) .

په درمختار کې دي : "(فان صلی غیره) ای الولی (ممن لیس له حق التقدم) علی الولی (ولم یتابعه) الولی (اعاد الولی) ولو علی قبره ان شاء لا جل حقه لا لاسقاط الفرض ولذا قلنا لیس لمن صلی علیها ان یعید مع الولی لان تکرارها غیر مشروع (والا) ای وان صلی من له حق التقدم و تابعه الولی (لا) یعید لانهم اولی بالصلواة معه (وان صلی الولی بحق) بان لم یحضر من یقدم علیه لا یصلی غیره بعده وان حضر من له التقدم لکونها بحق الخ" (درمختار مع رد المختار ص ۸۲۵ ، ۸۲۶ ج ۱ مطلب فی صلاة الجنازة) .

په بدائع الصنائع کې دي : "ولایصلی علی میت الامرة واحدة لا جماعة ولا وحدانا عندنا الا ان یکون الذین صلواة علیها لا جانب بغیر امر الاولیاء ثم حضرت الولی فحینئذ له ان یعیدها" (بدائع ج ۱ ص ۳۱۱ فصل فی صلواة الجنازة) .

په فتاوی تاتارخانیه کې دي : "ولا یصلی علی میت الامرة واحدة .... قال محمد رحمه الله فی الاصل ان یکون الذی صلی اول مرة غیر الولی فحینئذ یکون للولی حق الاعادة" (الفتاوی التاتارخانیة ص ۱۷۸ ج ۲ کتاب الجنائز نوع آخر من هذا الفصل فی المتفرقات) .

دا چی اصحاب کرامو رضی الله عنهم د محمد صلی الله علیه وسلم جنازی لمونځ څو ځو کړانه ولوست لدینه استدلال کول صحیح کار نه دی . فقهاء کرامو د دی توجیهات بیان کړي دي (۱) د خلیفة المؤمنین په حیث د ولایت حق ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته حاصل و . د هغه له لوستلو نه مخکی نورو خلکو د محمد صلی الله علیه وسلم د جنازی لمونځ ولوست . د خلافت انتظام له سنبالولو نه وروسته چی هغه د جنازی لمونځ ولوست نو له هغه نه وروسته هیچا ونه لوست .

په عنایه شرح هدایه کی دي :

"وهكذا تاويل فعل الصحابة فان ابابكر رضى الله عنه كان مشغولا بتسوية وتسكين الفتنة فكانوا يصلون عليه قبل حضوره وكان الحق له لانه هو الخليفة فلما فرغ صلى عليه ثم لم يصلى عليه احد بعده كذا فى المبسوط" (عنايه شرح هدايه مع فتح القدير ص ۱۲۱ ج ۲ فصل فى الصلوٰة على الميت) .

په بدائع الصنائع کی دي :

"وهذا تاويل فعل الصحابة رضى الله عنهم فان الولاية كانت لابى بكر رضى الله عنه لانه هو الخليفة الا انه كان مشغولاً بتسوية الامور وتسكين الفتنة فكانوا يصلون عليه قبل حضوره فلما فرغ صلى عليه ثم لم يصل بعده عليه والله اعلم (بدائع الصنائع ص ۳۱۱ ، ۳۱۲ فصل فى صلاة الجنازة) .

په درمختار کی دي :

"قلت لكن ذكر فى النهاية عن المبسوط بعده ما ذكره ان تاويل صلوٰة الصحابة على النبى صلى الله عليه وسلم ان ابابكر رضى الله عنه كان مشغولاً بتسوية الامور وتسكين الفتنة فكانوا يصلون عليه قبل حضوره وكان الحق له فلما فرغ صلى عليه ثم لم يصل احد بعده" (هامش رد المختار ص ۸۲۵ ج ۱ باب صلوٰة الجنازة مطلب فى صلوٰة الجنازة) .

(۲) یا د محمد صلی الله علیه وسلم خصوصیت ؤ ، طحطاوی علی الدر المختار کی دي "قوله لا تكن تكرارها غير مشروع .... والنظر مع هذا ما قدمه

قريبا من تكرار الصحابة على النبى صلى الله عليه وسلم ثم رايت فى ابى السعود ان ذلك من خصوصياته صلى الله عليه وسلم" (طحطاوى على الدر المختار ص ٦٠١ ج ايضا).

په طحطاوى على مراقى الفلاح كى دي

"وصلواة الصحابة عليه صلى الله عليه وسلم افواجا خصوصية كما ان تاخير دفنه من يوم الاثنين الى ليلة الاربعاء كان كذلك لانه مكروه فى حق غيره" (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ٣٢٤ فصل السلطان احق بصلاته).

جليل محدث علامه انور شاه كشميري عفا الله عنه فرمائي : چى د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د جنازى لمونځ په تكرارولو سره لوستل د هغه خصوصيت دي الخ

علامه انور شاه كشميري بحواله فتاوى دار العلوم مدلل ومكمل ص ٣٦١ جلد پنجم

(٣) په اصحابو كرامو رضى الله عنهم چى محمد صلى الله عليه وسلم كوم حق دى هغه بنكاره ده ، په هر اصحابى باندى چى هلته موجود وُ لمونځ فرض عين وُ ، مكرر لوستل د هغوى لپاره نفل نه و په طحطاوي على مراقى الفلاح كى دي : "اولاها فرض عين على الصحابة لعظيم حقه صلى الله عليه وسلم عليهم لا تنفلاً بها الخ" (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ٣٢٤ فصل السلطان احق بصلاته) .

كه لومړى لمونځ نه د ولي په اجازه لوستل شوى وى او نه ولي اقتداء كړى وي نو چى ولي جنازى لمونځ دوباره كول غواړي نو كوم خلك چى په لومړى لمونځ كى شريك وي هغوى په دى جنازه كى ګډون نشي كولى ، په درمختار كى دي : "ولذا قلنا ليس لمن صلى عليها ان يعيد مع الولى لان اعادته تكون نفلا من كل وجه" (درمختار وشامى ص ٨٢٦ ج ١ باب صلواة الجنائز مطلب فى صلاة الجنازة)

او كوم خلك چى په لومړي لمونځ كى شريك نه وو كه هغوى له ولي سره تبعاً شريك شي نو په دى كى ګنجائش شته ځكه چى د فقهاو له عبارتونو څخه دا مستفاد كيږي ، په عمدة الفقه كى دي :

او کله چې ولي د دغه مړي جنازې لمونځ دوباره وګرځوي نو کوم خلک چې په لومړي خل لمونځ کې شریک نه وو هغوی له ولي سره لمونځ لوستل شي او کوم خلک چې په لومړي خل لمونځ کې شریک وو هغوی دوباره له ولي سره نشي شریکدلی ځکه چې دهغوی دا لمونځ نفل ګرځي چې مشروع نه دی (عمدة الفقه ص ۵۲۸ ج ۲) .

په فتاوی دار العلوم کې دي :

(سوال) کله چې د جنازې لمونځ لوستلو نه وروسته مړی دفن کړی شي بیا دویم ځل لپاره د دغه مړي په قبر باندی د جنازې لمونځ جائز دی او که نه ؟ که جائز دی نو کومو خلکو چې په لومړي جنازه کې شرکت کړی و هغوی هم په دی لمونځ کې ګډون کولی شي او که نه ایا مخکینی امام دجنازې لمونځ دوباره لوستلی شي او که نه؟

ځواب : که چیرته لومړی لمونځ ولي لوستلی وي یا دهغه په اجازې سره بل چا لوستلی وي او ولي هم په دی کې شریک وي بیا دویم ځل لپاره بل هیچا ته د دغه مړي قبر باندی د جنازې لمونځ لوستل جائز نه دي ، په درمختار کې دي : "وان صلی هو ای الولی بحق الخ لا یصلی غیره بعده الخ" او که ولي د جنازې لمونځ نه وي کړی نو هغه ته د بیا کولو حق حاصل دی لیکن کومو خلکو چې وړاندی په لمونځ کې ګډون کړی وي هغوی دی شریک نشي فقط (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ص ۲۵۸ جلد پنجم).

په امداد الاحکام کې دي :

(سوال) سیدی المحترم ادام الله ظلال فیوضکم ، له مسنون سلام نه وروسته عرض دا دی چې په لاندینی مسئله کې یو مشکل دی امید دی چې زمونږ دا مشکل حل کړئ .
مسئله دا ده چې داسی چا د مړي جنازې لمونځ ولوست چې هغه یې ولي نه دی نو ولي د دی حق لري چې جنازې لمونځ دوباره وګرځوي ، په دی کې لومړی مشکل دا دی چې فرض خو په لومړي جنازې لمونځ سره ساقط شو ، لدینه وروسته چې ولي دوباره ګرځوي په هغه کې به فرض ادا کیږي او که نفل ؟ دویم دا چې کومو خلکو چې د جنازې لمونځ نه دی کړی له ولي سره د جنازې په لمونځ کې ګډون کولی شي او که نه ؟ په ظاهره خو داسی معلومیږي چې شرکت پکې نشي کولی او ولي دی خانله

لمونځ ولوني ځکه چې ولي ته اجازه ځکه ورکول شوی ده چې د هغه حق پاتې شوی دی او په نورو خلکو هيڅ حق نه دی پاتې . لهذا د جنازی دویم لمونځ له ولي سره نشي کيدی ، د دی تائيد له دی مسئلې څخه کيدای شي چې د تيمم په باب کې دی چې له ولي نه علاوه که نورو خلکو ته د لمونځ د فوت کيدو ويره وي نو تيمم دی وکړي او ولي دی اودس وکړي ، که نورو خلکو ته د سړي له ولي سره دلمونځ کولو اجازه وای نو دا پکار و چې کله ولي د اودس کولو په حالت کې ويني نو دوی هم اودس وکړي او له ولي سره په دويم لمونځ کې شريک شي ، حال دا چې داسې چيرته هم په کتابونو کې نه دي راغلي ، بل خوا د جنازی لمونځ فرض کفائي ده او مونږ ته دا رانبکاره کوي چې هر يو باندی فرض خو و مګر د ځينو په ادا کولو سره له نورو نه ساقطيږي او که نور پخپله بنفسه ادا کړي نو د هر يو فرض ادا کيږي ، لهذا وروسته بايد د ولي او د هغه د ملګرو فرض لمونځ ادا شي ، لکه چې په يو ښار کې خو تنه اعتکاف وکړي نو د هر تن سنت ادا کيږي ، غرض دا چې ډير زيات تردد دی . بدائع . فتح القدير . شامي او نور زيات کتابونه مې وليدل خو ليکل شوي جزئيه چيرته نه پيدا کيږي چې د جنازی ګڼ لمونځونه په دی طريقې سره جائز دي او که نه ؟

جواب "قال فی رد المختار فالاحسن الجواب عما قال المقدسی بان اعادة الولی ليس نفلا لان صلواة غيره وان تاوی بها الفرض وهو حق الميت لكنها ناقصة لبقاء حق الولی فيها فاذا اعادها وقعت فرضا مكملا للفرض الاول فليس لمن صلى او لا ان يعيدها مع الولی لان اعادته تكون نفلا من كل وجه بخلاف الولی لانه صاحب الحق" (شامی ص ۹۲۳ ج ۱ مطلب فی صلاة الجنازة) .

لدی عبارت نه لاندينی امور مستفاد شول :

(۱) د ولي اعاده د نفل په توګه نه دي (۲) کوم خلک چې په لومړي جمع کې شريک شوی دي له ولي سره دوباره شريکيدل مکروه دي (۳) کوم خلک چې مخکې نه دي شريک شوي هغوی ته له ولي سره لمونځ ادا کول جائز دي .

"افاده قيد لمن صلى اولا وقيود الفقر احترازيه"

د تيمم په مسئله باندی قياس کول صحيح نه دي ځکه چې کوم خلک په لومړي جمع کې حاضر دي او په تيمم وهلو سره لومړی جمع نيولی شي هغوی ته د دويمې جمعې.

انتظار مکروه دی نو ځکه هغوی د تیمم وهلو لپاره مامور دي ، ځکه چې د دویم جماعت لپاره انتظام کول یو قسم اهتمام دی حال دا چې د فرض له ادا کولو نه وروسته دویم جماعت د اهتمام قابل نه دی ، ولي ته د تیمم اجازه ځکه نشته چې هغه صرف د خپل حق په وجه یواځې هم د جنازې لمونځ ادا کولی شي هغه ته د جمعې انتظار ضرورت نشته ، فقط (امداد الاحکام ص ۷۴۴ ص ۷۴۵ ج ۱ کتاب الجنائز امداد الفتاوی تکمله زیر نګراني حضرت تهانوي رحمه الله) .
(تالیف حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثماني و حضرت مولانا مفتي عبد الکریم صاحب رحمه الله ګمتهلوي رحمه الله) .

د مسجد په صحن یا د هغه په احاطه کې د جنازې لمونځ ادا کول

(۳۶ سوال) د مسجد په احاطه کې د جنازې لمونځ لوستل څنګه دي ؟ بینوا توجروا
ځواب : په شرعي مسجد (جماعت خانه) کې باید د جنازې لمونځ ونه لوستل شي که چیرته صحن په مسجد کې دننه وي او یا دهغه په بهر والي باندې یقین نه وي نو د مسجد په صحن کې هم باید د جنازې لمونځ ونه لوستل شي خو که چیرته په یقین سره معلوم وي چې صحن له مسجد نه خارج دی او په مسجد کې نه دی شامل نو بیا داسې ځای کې د جنازې لمونځ لوستلی شي ، په کفایت المفتی کې دي :
(د سوال خلاصه) ایا په مسجد کې د جنازې لمونځ لوستل جائز دي او که نه ؟ او د مسجد صحن چې پکې لمونځ لوستل کیږي ایا هغه په مسجد کې داخل دی او که نه ؟ له مسجد نه د باندې پراخ سړک دی د قبرستان فاصله یو نیم میله ده چې په همدې وجه هلته ډیر خلک نه راځي او په سړک کې د جنازې لمونځ د لوستلو په وخت کې ډیر خلک راځي نو په داسې حالت کې د جنازې لمونځ په کوم ځای کې لوستل غوره دي؟ په سړک باندې او که په قبرستان کې ؟
ځواب په ډیرو ځایونو کې صحن له مسجد نه بیرون او خارج ګڼل کیږي او هلته عرف همدا وي چې صحن له مسجد نه خارج دی نو ځکه د مسجد جوړولو په وخت کې خلک صحن په مسجد کې د دننه کولو نیت نه کوي . نو په داسې صورت کې په صحن کې د جنازې لمونځ لوستل جائز دي ، خو که صحن یې په مسجد کې دننه شامل کړی وي . نو بیا په سړک باندې د جنازې لمونځ لوستل بهتر دي ځکه چې قبرستان ته د وړلو

په صورت کی، خلک هلته نه ځي او ډیر کم خلک د جنازی په لمونځ کی شرکت کوي (حضرت مولانا مفتي اعظم) محمد کفایت الله کاندهلوي (کفایت المفتي ج ۴ ص ۹۹ کتاب الجنائز)

والله اعلم بالصواب ۲۷ رجب المرجب ۱۴۱۱ه کال

د جنازی په لمونځ کی د شرکت لپاره د نفل لمونځ ماتول :

(۳۷ سوال) یو سړی په نفلي لمونځ کی ولاړ دی، په دی وخت کی جنازه راوستلی شوه او خلکو د جنازی لمونځ تیاري شروع کړ، نفل کونکي ته دا اندیښنه پیدا شوه چی که چیرته پوره نفل کوم نو جنازی لمونځ رانه فوت کیږي، نو د جنازی په لمونځ کی د شرکت لپاره نفل لمونځ ماتولی شي او که نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب : د جنازی لمونځ د پاتی کیدو له ویری نه د نفل لمونځ ماتول جائز دي لاکن فرض لمونځ دی نه ماتوي.

"او کان فی نفل فجیئ بجنازة وخاف فوتها قطعه لا مکان قضائه" (درمختار) قلت عارضه ان الفرض اقوی منها بخلاف النفل" (شامی ص ٦٦٦ ج ١، باب ادراك الفریضة) فقط والله اعلم بالصواب.

د عذر په وجه د مسجد په صحن کی د جنازی لمونځ لوستل :

(۳۸ سوالٌ) کله چی خلک دومره زیات وي چی کوم ځای د جنازی لوستلو لپاره مقرر شوي ده هلته نه ځائیږي نو په دی صورت کی د مسجد په صحن کی د جنازی لمونځ لوستل جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب : په مسجد کی د جنازی لمونځ لوستل مکروه دي. البته د شرعي عذر لکه د باران او نور عذرونو په وجه د لوستلو جواز شته، همدغه راز په شارع عامه کی د جنازی لمونځ لوستل مکروه دي، لیکن د عذر په وجه بلا کراهت جائز دي په مسئوله صورت کی چی جنازه گاه ورکوتی وي او خلک پکی نه ځائیږي نو په دی صورت کی د مسجد په صحن کی د جنازی لمونځ لوستل جائز دي.

په شامي کی دي : "(تتمه) انما تکره فی المسجد بلا عذرٍ فان کان فلا ومن الاعذر المطر کما فی الخانیة .... مطلب فی کراهة صلاة الجنازة فی المسجد الخ" فقط والله اعلم بالصواب.

په قبرستان کی د جنازی لمونځ :

(۳۹ سوال) زمونږ په علاقه کی خلک د جنازی لمونځ په قبرستان کی لولي د قبرستان په یو مزار باندی عمارت جوړ شوی دی ، له دغه عمارت نه د باندی دهغه له دیوال سره جنازی ږدي او خلک دهغه په طرف لمونځ کوي ، هغه عمارت قبله رو وي ۰ دا سلسله له پخوا نه روانه ده ، په دی دوران کی ډیر علماء هم راغلل لیکن هیچا د مزار په وړاندی د جنازی لمونځ له لوستلو نه ممانعت ونکړ .
مګر یو مولوي صاحب د یو چا جنازی لمونځ ته راغلی و هغه وویل چی دلته د جنازی لمونځ نه کیږي ، هغه دا هم وویل تر اوسه پوری چی څومره د جنازی لمونځونه دلته شوی دي هغه نه دي شوي ایا دهغه دا خبره صحیح ده ؟
خواب په قبرستان کی یو داسی خای د جنازی د لمونځ لپاره مقررول پکار دي چی هلته مخامخ قبر نه وي ، خو که داسی خای پیدا نشي نو بیا په هغه خای کی هم لمونځ صحیح کیږي چی مخی ته قبر وي ، قبر ته مخامخ هغه لمونځ مکروه دی چی په هغه کی رکوع او سجده وي خکه چی په دی کی د غیر الله د عبادت شائبه دی لیکن کله چی د جنازی لمونځ د دی باوجود چی مړی وړاندی پروت وي جائز دی نو بیا که قبر هم مخی ته وي نو په دی کی څه حرج دی ؟ د بخاري او مسلم شریف په حدیث کی له حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چی یو ځل محمد صلی الله علیه وسلم په یو داسی قبر باندی تیر شو چی د شپی په وخت کی هلته مړی ښخ شوی و . هغه صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چی دا کله ښخ کړی شوی دی ؟ اصحابو رضی الله عنهم ورته ځواب ورکړ چی نن شپه ، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تاسی زه ولی خبر نه کړم ؟ اصحابو رضی الله عنهم عرض وکړ مونږ دا په توره تیاره شپه کی دفن کړی و ، مونږ ته دا مناسب معلوم نه شو چی تاسی له خوب نه بیدا کړو ، محمد صلی الله علیه وسلم ودرید او مونږ هغه پسی صف جوړ کړ او هغه صلی الله علیه وسلم د جنازی لمونځ ادا کړ .

"عن ابن عباس رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مرّ بقبرٍ دفن لیلا قال متی دفن هذا قالوا البارحة قال افلا اذنتمونی قالوا دفناه فی ظلمة اللیل فکرهنا ان نوقظك فقام فصففنا خلفه فصلی علیه" متفق علیه (مشکواة باب المشی بالجنازة والصلواة علیها ص ۱۴۵) .

نو خکه فقهاء لیکي چې که کوم مړی د جنازی لمونځ نه بغیر دفن کړی شوی وي نو د هغه د مړي له خرابیدو نه وړاندی وړاندی د هغه په قبر باندی د جنازی لمونځ لوستل صحیح دي .

"وان دفن بلا صلواة صلی علی قبره وان لم یغسل ما لم یتفسخ" (نور الایضاح فصل السلطان احق بصلاته ص ۱۳۰ ، ۱۳۱) .

لهذا په مسئوله صورت کی د جنازی لمونځ د نه کیدلو خبره صحیح نه ده ....

همدغه راز وګوری امداد الفتاوی ج ۱ ص ۴۷۷ _ ۴۷۸ مطبوعه پاکستان . فقط والله اعلم بالصواب .

ګران لوستونکي دی خبرو اوسي چې فتوه ورکونکی وروسته خپل لدی فتوی نه راګرځیدلی دی لکه چې هغه پخپله وايي : زما دا فتوی فتاوی رحیمیه ګجراتي ص ۱۴۵ _ ۱۵۰ جلد نمبر ۵ کی چاپ شوی ده ، د دی ترجمه فتاوی رحیمیه اردو کی هم چاپ شوی خو زما یو خوږ دوست ما ته وویل چې په دی مسئله کی دی امداد الفتاوی ج ۱ ص ۷۳۳ مطبوعه دیوبند مطالعه کړی شي ، ما د امداد الفتاوی فتوه په پوره غور سره ولوست اوس زه له خپل پورتنی فتوی څخه راګرځم او د امداد الفتاوی په حواله د حضرت اقدس مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فتوه چې لاندی لیکل کیږي د عمل وړ دی . په امداد الفتاوی کی دي :

په مقبره کی د جنازی لمونځ د لوستلو کراهت :

ما په یوه زمانه کی د دی د جواز فتوه ورکړی وه خو زما یو دوست په شرح جامعه کی دا حدیث وښود : "نهی ان یصلی علی الجنائز بین القبور (طس عن انس رضی الله عنه) او د دی وجه دا بیان کړی دی : "فانها صلواة شرعیه والصلواة فی المقبرة مکروهة تنزیهاً" او دا یی هم ویلي دي چې د دی اسناد حسن دي دا په دی باب کی صریح روایت دی او په محض درایت باندی روایت مخکې دی ، لهذا له مخکیني فتوی څخه رجوع کوم ، ګویا لمونځ کیږي خو د کراهت حکم ورباندی لګول کیږي ، لکه چې ما د خپل دوست قول بره نقل کړی دی ، له غور کولو نه وروسته د دی درایت ځواب هم زما ذهن ته راغی ، هغه دا چې فقهاو د لمونځ ګذار په وړاندی د شمعی او ډیوی موجودیت ته جائز ویلي دي خو د

لمونځ ګذار په وړاندی د سکرو له موجودیت نه منع کړی دی او په دی کی د
فرق وجه دا بیان کړی دی چی
"لانه لم یعبد.هما احد والمجوس یعبدون الجمرلا النار الموقدة" (درمختار ورد
المختار ص ۱۶۰ ج ۱) .
همدغه فرق او توپیر په قبر او مړي کی هم کیږي چی د قبر پرستش معتاد دی حو
د مړي پرستش معتاد نه دی . نو لدینه پس د درایت شبه هم ساقطه شوه او د
کراهت حکم محفوظ پاتی شو ، والله اعلم .
(امداد الفتاوی ج ۱ ص ۷۳۳ مع جدید حاشیه مولانا مفتی سعید احمد صاحب
پالنپوري دامت برکاتهم) .

د جنازی لمونځ نه پرته د ښخ شوي مړي جنازی لمونځ :

(۴۰ سوال) زمونږ په کلي کی د یو مسلمان په کور کی ماشوم پیدا شو خو له پیدا
کیدو نه فوراً وروسته مړ شو هیڅوک یی ورباندی خبر نه کړ او د جنازی لمونځ نه
بغیر یی ښخ کړ ، څو ورځی وروسته خلکو ته معلوم شو نو هغوی د ماشوم په قبر د
جنازی لمونځ ولوست ایا دا لمونځ صحیح شو او که نه ؟ بینوا توجروا .
ځواب : پکار خو دا وه چی له کوم معتبر عالِم نه د پوښتنی نه وروسته عمل شوی
وای .
مسئله داسي ده چی د مړي جسد له خرابیدو او چودیدو نه مخکی مخکی د
جنازی لمونځ لوستلی شي ، که چیرته جسد پړسیدلی یا چودیدلی وي نو لمونځ
ورباندی ونه لوستل شي ، دمړي د پړسیدو او خرابیدو څه ورځی او موده نه
معلومه بلکی د دی مدار د مړي په جثه ، موسم او د زمکی په تاثیر او خاصیت
پوری دی ، په ځینو ځایونو کی دری ورځی ، په ځینو ځایونو کی لس ورځی او
ځینو ځایونو کی تر یوی میاشتی پوری مړی نه خرابیږي ، د زمکی تاثیر او خاصیت
په سلسله کی د دی له ماهرو مسلمانانو څخه له پوښتنی نه وروسته عمل کولی شي
. د مړي د خرابیدو یعنی پړسیدو او چودیدو نه وروسته د جنازی لمونځ د لوستو
اجازه نشته
"وان دفن بغیر صلاة صلی علیٰ قبر استحساناً ما لم یغلب علی الظن تفسخه
من غیر تقدیر هو الاصح (قوله هو الاصح) لانه یختلف باختلاف الاوقات

وبردا والمیت سمنا وهزالا والامکنة بحر وقیل یقدر بثلاثة ایام وقیل عشرة وقیل شهر عن الحموی" (درمختار مع الشامی جلد اول ص ۸۲۶ ، ۸۲۷ مطلب فی صلواة الجنازة) (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۸۲) فقط والله اعلم بالصواب .

د شیعه په جنازه کی شرکت کول :

(۴۱ سوال) که څوک د کوم شیعه سړي دوست وي ایا د هغه په جنازه کی شرکت کولی شي ؟

ځواب په شیعه ګانو کی څو فرقی دي ، د کومو شیعه ګانو چی عقائد فاسد نه وي او د شیخین رضی الله عنهما په شان کی ګستاخي نه کوي ، همدغه راز په حضرت عائشه رضی الله عنها باندی تهمت نه لګوي او عقیده یی کفري نه وي نو له هغوی سره ناسته ولاړه او دوستي کولو کی څه حرج نشته ،همدغه راز دهغوی په جنازه کی شرکت کولو ، د هغه کټ ته د اوږی ورکولو او د جنازی لمونځ کی د ګډون کولو اجازه ده ، مګر د کومو شیعه ګانو چی عقائد او کړنلاره د دی برعکس دی هغوی لپاره دا حکم نشته .

وګوره فتاوی دار العلوم ج ۱ ص ۳۴۰ مطبوعه دار الاشاعت کراچي ، امداد الفتاوی مبوب ج ۱ ص ۷۱۳ فقط والله اعلم بالصواب .

په قبرستان کی د جنازی لمونځ په اړه نور معلومات :

(۴۲ سوال) وقار سادات فکر ګجرات حضرت مولانا سید عبد الرحیم صاحب متع الله المسلمین بطول حیاتکم الطیبة بالصحة والسلامة والعافیة ، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

الله دی وکړي چی ستاسی مزاج او طبیعت ښه وي ، ستاسی هدیه سنیه فتاوی رحیمیه اتم جلد ماته راورسید جزاکم الله تعالیٰ جزاءً جزیلة فی الدنیا والاخرة عنا وعن جمیع الامة ، آمین .

د فتاوی رحیمیه اتم جلد د مطالعې په وخت په قبرستان کې د جنازې لمونځ په اړه لوبړی د جواز بیا د عدم جواز په طرف رجوع او تائید کې حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوي نور الله مرقده فتاوی ته نظره تیر شوه . په دې مسئله کې د زیات تحقیق او تشفي لپاره دغه عریضه ستاسې په خدمت کې پیش کوم
په قبرستان کې د جنازې لمونځ په جواز باندې ستاسې دوه فتوی خپرې شوې دي چې په خو شرائطو مو ورته روا لیکلې دي . ستاسې له فتاوی نه علاوه په نورو فتاواګانو کې هم جواز لیکل شوی دی ، مثلاً احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۵ ، عمدة الفقه ج ۲ ص ۵۲۹ (په قبرستان کې د جنازې لمونځ بلا کراهت جائز دی اګر چې وړاندې قبرونه هم وي ....الخ) .
علامه شامي هم په قبرستان کې د جنازې لمونځ په باره کې فرمایلي دي :
"ولاباس بالصلواة فیها اذا کان فیها موضع اعد للصلواة ولیس فیه قبر ولا نجاسة الخ" (شامي ج ۲ ص ۴۲ مکتبة الباز) .
لدې کبله له ستاسې محترم حضور څخه هیله ده چې نور تحقیق کولو سره د مسئلې وضاحت وکړئ .
خواب حامداً ومصلیاً ومسلماً ! عزیز مولوي صاحب سلمه الله وبارک الله فی علمکم وعملکم السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته ، ستاسې خط تر لاسه شو ، په حالاتو باندې له خبریدو نه وروسته مطمئن شوم ،تاسې چې په کوم شوق اومینه د فتاوی رحیمیه اتم جلد مطالعه کړې ده ، د زړه له کومې مننه کوم ، جزاکم الله .
تاسې چې په قبرستان کې د جنازې د لمونځ په متعلق کوم اشکال پیدا کړی دی د هغه په باب عرض دی چې زما د رجوع تعلق دی صرف له هغه صورت سره وګڼل شي چې کله قبرونه مخکې یا شاخوا موجود وي او لمونځ د قبرونو په منځ کې کیږي ، لکه چې د حدیث الفاظ "نهی ان یصلی بین القبور" هم په دې باندې دلالت کوي . کله چې د قبرونو په منځ کې لمونځ نه ادا کیږي بلکې په قبرستان کې خانله یو خاص ځای کې ادا کولی شي لکه چې په ځینو قبرستانو کې مخصوص ځای له مخکې نه د جنازې لمونځ لپاره جوړ شوی وي نو په داسې ځای کې د جنازې لمونځ بلا تکلف جائز دی ، فتاوی رحیمیه جلد اول ص ۳۶۲ فتوه

ضرور ولولی . دا خواب ډیر مناسب او جامع دی د موقع په مناسبت سره هغه خواب دلته هم نقلول غواړم
خواب که چیرته په قبرستان کی خالی ځای وي او وړاندی قبرونه نه راځي او یا هم راځي خو دومره لری وي چی د لمونځ گذارانو نظرونه په هغو نه لګیږي . یا په منځ کی څه څیز حائل وي نو د جنازی لمونځ بلاکراهت جائز دی . که نه نو مکروه دی .
د حدیث معتبر کتاب په جامع صغیر کی دي "نهی ان یصلی علی الجنائز بین القبور"
د قبرونو تر منځ د جنازی لمونځ لوستل مکروه وي (ج ۲ ص ۱۸۱) او د فقهی معتبر کتاب البدائع الصنائع کی دي : (قال ابوحنیفة ولا ینبغی ان یصلی علی میت بین القبور ج ۱ ص ۳۱۵) .
امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایي : چی د قبرونو تر منځ دی د جنازی لمونځ ونه لوستل شي
حضرت علی او حضرت عباس رضی الله عنهما په قبرستان کی د جنازی لمونځ لوستل مکروه گڼل (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۹۸) فقط والله اعلم بالصواب .
(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳٦۲)
کله چی په حدیث کی د قبرونو تر منځ د جنازی لمونځ لوستل منع دي نو همدغه عمل دمنلو وړ دی او لدینه مخالفت کول د عملي کولو وړ نه دی ، لهذا د عمدة الفقه او احسن الفتاوی خواب په قیاس باندی مبني معلومیږي او محض درایت باندی روایت مقدم دی کما قال الشیخ المحقق التهانوی رحمه الله تعالی دا په دی باب کی صریح روایت دی او محض درایت باندی روایت مقدم دی . (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۸۳۳) او د شامي په جزئیه کی "ولیس فیه قبر" الفاظ هم په همدی باندی دلالت کوي .
ستاسی د توجه اړولو له کبله مسئله هم صفا شوه او زما په فتوه کی تطبیق هم ، جزاکم الله خیر الجزاء ، فقط والله اعلم بالصواب .

باب ما یتعلق بالغسل والکفن

د غسل او کفن په اړه

د خنثی مشکل غسل او کفن :

(۴۳ سوال) یو پنځوس کلن شخص وفات شوی دی هغه نه سړی دی او نه ښځه بلکی خنثی مشکل دی دیته غسل اوکفن څنګه ورکړی شي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د داسی خنثی مشکل مړي د غسل او کفن حکم دا دی چی دیته غسل ورنکړی شي بلکی تیمم دی ورته وکړی شي ، "الخنثی المشکل لا یغسل بل یتیمم" (فتاوی سراجیه ص ۲۲) په درمختار کی دي : "ویتیمم الخنثی المشکل لو مراهقا قبیل مطلب فی الکفن الخ" .

خو کفن دی ورته د ښځو پشان پنځه ورکړی شي خو وریښمو نه دی نه وي همدغه راز په زعفرانو کی هم نه وي رنګ شوی ، په درمختار کی دي :

"وخنثی مشکل کامرأة فیه ای الکفن (قوله وخنثی مشکل کامرأة فیه) ای فیکفن فی خمسة اثواب احتیاطاً لانه علی احتمال کونه مذکرا فالزیادة لاتضر قال فی النهر الا انه یجتنب الحریر والمعصفر والزعفران احتیاطاً" (شامی ص ۸۰۹ ج ۱ مطلب فی الکفن) والله تعالی اعلم بالصواب .

له روح وتلو نه وروسته او د غسل ورکولو په وخت کی دی مړی څنګه څملول شي ؟

(۴۴ سوال) کله چی د سړي روح ووځي نو هغه دی څنګه څملول شي او څه قسم دی ورته غسل ورکړی شي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د روح له وتلو نه وروسته دی مړی شمالاً او جنوباً څملولی شي څرنګه چی په قبر کی څملول کیږي ، د غسل په وخت کی دی هم همداسی څملول شي ، او که په دی کی سهولت نه وي او بل قسم څملولو کی اساني وي نو همدغسی دی څملول

شي . او كه د غسل په وخت د قبلي په طرف پښې وكړى شي او سر يې پورته ونيول شي تر څو مخ يې قبلې ته وشي نو داسې هم صحيح دى
په درمختار كې دي :
"يوجه المحتضر .... القبلة يمينه هو السنة (وجاز الاستلقاء) على ظهره وقد ماه اليها وهو المعتاد فى زماننا ولكن يرفع راسه ، قليلاً ليتوجه الى القبلة" (درمختار مع الشامى ج ١ ص ٧٩٥ باب صلواة الجنائز) .
په " الاختيار لتعليل المختار " كې دي :
"ومن ا حتضروجه ا لى القبلة على شقة الايمن (قوله وجه الى القبلة على شقة الايمن) هو السنة واعتباراً بحالة الوضع فى القبر القربه منه الخ" (ج ١ ص ٩٠ . ٩١ كتاب الجنائز) .
په كبيرى كې دي :
قال فى المبسوط والبدائع والمرغينانى يوضع على تحت طولاً الى القبلة كما فى صلواة المريض بالايماء" (ص ٥٣٤ فصل فى الجنائز) والله اعلم فقط والله اعلم بالصواب .

ايا په اوبو كې غرق شوي سړي ته دى غسل وركړى شي او كه نه ؟

(۴۵ سوال) كه كوم سړى په اوبو كې ډوب او مړ شي نو هغه ته غسل وركول ضروري دي او كه نه ؟ په اوبو كې ډوبيدل او له اوبو نه ويستل دغسل لپاره كافي دي او كه نه؟ بينوا توجروا .
ځواب : كه څوك په اوبو كې د ډوبيدو په وجه مړ شي نو بيا هم هغه ته غسل وركول ضروري دي په اوبو كې ډوبيدل د غسل لپاره كافي نه دي ځكه چې مړي ته غسل وركول د ژوندو خلكو ذمه واري ده ، خو كه چيرته له اوبو نه دمړي د ويستلو په وخت كې دغسل په نيت سره په اوبو كې درى غوپې وركړى شي نو غسل لپاره كافي دى ، د بل غسل ضرورت نشته ، په قاضي خان كې دي :

"الغریق یغسل ثلثا فی قول ابی یوسف رحمه الله وعن محمد رحمه الله فی روایة ان نوی الغسل عند الاخراج من الماء یغسل مرتین وان لم ینو یغسل ثلثا عنه فی روایة یغسل مرةً" (ج ۱ ص ۸۹ باب فی غسل المیت وما یتعلق به من الصلوٰة علی الجنازة الخ) (بحر الرائق ج ۲ ص ۱۷٤) فقط والله اعلم بالصواب .

ایا خاوند ښځی ته غسل ورکولی شي او که نه ؟

(۴٦ سوال) ایا خاوند کولی شي چی خپلی مړی ښځی ته غسل ورکړي ؟ بینوا توجروا
ځواب په درمختار کی دي : "(ویمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر الیها علی الاصح) منیة وقالت الائمة الثلثة یجوز لان علیاً رضی الله عنه غسل فاطمة رضی الله عنها قلنا هذا محمول علی بقاء الزوجیه لقوله علیه السلام کل سبب ونسب ینقطع بالموت الاسببیّ ونسبی مع ان بعض الصحابة انکر علیه شرح المجمع للعینی الخ" (درمختار ج ۱ ص ۸۰۳ مطلب فی حدیث کل سبب ونسب منقطع الاسببی ونسبی).

یعنی سړی دی خپلی ښځی ته غسل ورنکړي او نه دی وربانـدی لاس لګوي ، البته د هغی مخ ته کتلی شي ، او دری نورو اُمامانو په نزد لمبولی هم شي او لاس وربانـدی هم لګولی شي ، د هغوی دلیل دا دی چی حضرت علي رضی الله عنه خپلی ښځی فاطمی رضی الله عنها ته غسل ورکړی و ، خو مونږ د دی ځواب دا ورکوو چی اول خو په دی باندی د ټولو اتفاق نشته چی حضرت علي رضی الله عنه ورته غسل ورکړی و . په روایت کی دي چی هغی ته غسل حضرت ام ایمن ورکړی و ، حضرت علي رضی الله عنه ته د غسل ورکولو نسبت په دی وجه دی چی د غسل ټول انتظام علی رضی الله عنه کړی و ، دویم ځواب یی دا دی چی : د حضرت علی رضی الله عنه لـه خـوا خپلی ښځی ته غسل ورکول د زوجیت د قائم پاتی کیدو په وجه دی ، د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "ان فاطمة زوجتك فی الدنیا والاخرة" فاطمه ستا ښځه ده په دنیا کی هم او په آخرت کی هم ، همدغه راز د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی : "کل سبب ونسب ینقطع بالموت الا سببی و نسبی" یعنی هر سبب او نسب

د مرګ په وجه ختميږي مګر زما سبب او نسب په مرګ سره نه قطع کیږي . لدینه علاوه خینو اصحابو رضی الله عنهم لکه حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه . د حضرت علي رضی الله عنه په دی کار باندی اعتراض کړی دی (شامي ج ۱ ص ۸۰۳) په هر حال مسئله مختلف فیه ده او غوره ده چی له څه مجبوریت او شرعي عذر نه بغیر خاوند خپلی ښځی ته غسل ورنکړي ، البته ښځه خپل خاوند ته غسل ورکولی شي څکه چی د وفات عدت تر پوره کیدو پوری هغه د دی په نکاح کی وي[۱] . فقط والله اعلم بالصواب .

له کفن ورکولو نه وروسته دی مړی څرنګه څملولی شي ؟

(۴۷ سوال) په بمبی کی عموماً لیدل کیږي چی کله څوک مړ شي نو هغه ته له غسل او کفن ورکولو نه وروسته د قبلی په طرف پښی او مشرق طرف ته سر کوي او څملوي یی ، په بوهره قوم کی خو دا رواج له پخوا نه و خو اوس په سنیانو کی هم دا طریقه رائجه شوی ده ، ایا داسی کول صحیح دي ؟ ایا دا قسم څملولو کی د قبلی بی حرمتي نه کیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : کله چی مریض په ملاسته لمونځ کوي نو د هغه د لمونځ یوه طریقه دا ده چی پښی به د قبلیَ په طرف کوي خو ودروي دي که د ودرولو طاقت نه لري نو غځولی هم شي او د سر لاندی د بالښت په ایښودلو سره دی دهغه سر اوچتوي تر څو مخ یی قبلی طرف ته شي ، همدغسی د قریب المرګ سړي د څملولو یوه طریقه دا هم ده چی څرنګه په قبر کی مړی د قبلی په طرف څملول کیږي همداسی هغه دی هم په کټ کی هم څملول شي خو که په دی کی څه تکلیف وي نو د قبلی په طرف دی مخامخ څملول شي خو په سر لاندی دی ورته یو بالښت یا تکیه کیږدي تر څو مخ یی د قبلی په طرف شي ، نه د اسمان په طرف . له غسل او کفن ورکولو نه وروسته دی شمالاً او جنوباً دی څملولی شي خو که داسی کول مشکل وي نو بیا دی شرقاً او غرباً څملولی شي د قبلی په طرف د پښو اوږدول مناسب کار نه دی څکه چی په دی کی سر نشي

[۱] ـ قوله وهی لا تمنع من ذلك ای من تغسیل زوجها دخل بها اولا الخ مطلب فی حدیث کل سبب الخ .

اوچتیدلی . خکه دلته دا دستور نشته[1] ، فقط والله اعلم بالصواب ۱۳ شوال المکرم ۱۴۰۰ هجري

(۱) په خښولو کی ځنډ کول او جنازه د مسجد په تهه خانه کی ایښودل

(۲) د جنازی لمونځ دی له جنازی نه مخکی کړی شي یا وروسته ؟

(۴۸ سوال ؟ (۱) دلته په برطانیه کی چی کله څوک مړ کیږي نو قانوناً مړي هسپتال ته وړل کیږي هلته مړي د یخچال په کوټه کی ایښودل کیږي خو که چیرته د یکشنبی یا بل کوم د رخصتی ورځ وي نو په دغو ورځو کی قبرستان بند وي او د حکومت له طرفه نه د خښولو اجازه نه وي نو دوه ورځو لپاره په شفاخانه کی ږدي ، د باتلي نوم ښار کی مسلمانانو د مسجد په تهه خانه (زیر زمیني) کی پخپله کولډروم (یخه کوټه) جوړه کړیده دهسپتال پر ځای همغلته ږدي ، دلته دا رواج دی چی کله څوک مړ کیږي نو خلک دهغوی کور ته دتعزیت لپاره ورځي له تعزیت نه وروسته دنیاوي خبرې هم کیږي ، څرنګه چی مړي د مسجد په تهه خانه کی ایښودل شوی وي نو ډیر خلک همغلته د تعزیت لپاره ورځي او هلته د قرآن کریم په تلاوت کولو سره مړي ته ثواب وربخښي ، ایا مړي ته دا قسم تلاوت جائز دی او که نه ؟ ډیر وخت داسی هم کیږي چی د مړي د کور له مسجد نه کافي لرې وي نو مړی یواځی په یخه کوټه کی ږدي هیڅوک ورسره نه وي ایا داسی کول جائز دي او که نه ؟

(۲) که چیرته د جنازی لمونځ که ماسپښین نه وروسته د ادا کولو لپاره وخت مقرر شي د جنازی لمونځ دی کله ولوستل شي د جمعی له لمونځ نه د فارغیدو نه وروسته او که د سنت او نفلي لمونځونو نه له خلاصیدو نه وروسته ؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ (۱ برطانیه نه) .

---

[1] ـ وکیفیة الوضع عند بعض اصحابنا الوضع طولا کما فی حالة المرض اذا ارادالصلواة بالماء ومنهم من اختار الوضع کما یوضع فی القبر والاصح انه ، یوضع کما تیسر کذا فی الظهیریة فتاوی عالمگیری الثانی فی الغسل ج ۱ ص ۱۵۸

خواب کله چې څوک مړ شي نو چې څومره ژر کیدای شي د هغه تجهیز ، تکفین او تدفین لپاره دی تلوار وکړی شي ، په شامي کې دي : "(قوله ویسرع فی جهازة) لما روی ابوداود عنه صلی الله علیه وسلم لما عاد طلحة بن البراء وانصرف قال ما اری الا قد حدث فیه الموت فاذا مات فاذنونی حتی اصلی علیه وعجلوا به فانه ، لاینبغی لجیفة مسلم ان تحبس بین ظهر انی اهله والصارف عن وجوب التعجیل الاحتیاط للروح الشریفة فانه یحتمل الاغماء وقد قال الاطباء ان کثیرین ممن یموتون بالسکتة ظاهرا یدفنون احیاءً لانه یعسر ادراك الموت الحقیقی بها الاعلی افاضیل الاطباء فیتعین التاخیر فیها الی ظهور الیقین بنحو التغیر امداد ، وفی الجوهرة وان مات فجأة ترك حتی یتیقن بموته" (شامی ج ۱ ص ۷۹۹ باب صلواة الجنائز مطلب فی القرأة عند المیت) .

یعنی د مړي په تجهیز تکفین او تدفین کی دی تلوار وکړی شي د هغه حدیث له کبله چې په ابوداود کی روایت شوی دی چې کله محمد صلی الله علیه وسلم د طلحه بن براء رضی الله عنه له عیادت او تپوس نه وروسته واپس تشریف راوړ نو وی فرمایل : زما خیال دی چې هغه مړ کیږي کله چې مړ شي نو ماته خبر راکړئ چې زه دهغه جنازی لمونځ ولولم ، او دهغه تجهیز او تکفین کی تلوار وکړئ ځکه چې د مسلمان جسد لپاره مناسب نه دي چې هغه د کور د خلکو په منځ کی پریښودی شي (شامي) لهذا شرعي عذر او قانوني مجبوریت نه بغیر دی د مړي تجهیز او تکفین کی تاخیر او وروسته والی کول غلط او د ګناه موجب دی په دی سره مړي ته تکلیف رسیږي او بی حرمتي یی کیږي ، که چیرته مړی وپړخیږي یا وچوي نو د جنازی د لمونځ قابل نه پاتی کیږي ، له مذکوره شرعي احکامو نه دی حکومت خبر کړی شي او د مړي ژر خښولو لپاره خصوصي رخصت او اجازه واخلئ ، که چیرته د دغه مقصد د تر لاسه کولو لپاره د پیسو ورکولو ضرورت هم وي نو لدینه هم دریغ مه کوئ ، که له ډیر کوښښ نه وروسته بیا هم اجازه درنکړي نو بیا مجبوریت دی الله دی معاف کړي ، مړي ته له غسل ورکولو نه وروسته د هغه په خوا کی د قرآن کریم تلاوت کول مکروه دي خو په بله کوټه کی تلاوت کول او هغه ته ثواب وربخل جائز دي ، په درمختار کی دي : "تکره القرأة

عنده حتی یغسل" او په شامي کـی دي : "محل الکراهة اذا کان قریبا منه اما اذا بعد بالقرأة فلا کراهة" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۹۹ مطلب فی القرأة عنـــد المیت) .

د شرعي مسجد لاندی تهه خانه کی دمړي ایښودل جائز نه دي خـو کـه عیادت خانـه وي نو څه حرج پکی نشته ، په نصاب الاحتساب کی دي : "قال العبــد اصـــلحه الله تعالیٰ وبعض الناس اعتادوا ان واحداً لو مات باللیل ولا یتهیأ لهم الاخـــراج الی المقبرة یضعونه فی المسجد وانه مکروه ذکر فی شرح الکرخی قال علیه الســـلام جنبوا مساجدکم صبیانکم لانه لایؤمن منهم النجاسة وهذا المعـــنی موجـــود فی المیت" (نصاب الاحتساب قلمی ص ۳۳ باب نمبر ۱۵) .

د مړي د ایښودو لپاره دی.د یو بل داسی ځای انتظام جوړ کړی شي چی هلته له مـړي سره خلک پاتی کیدای شي مړی دی یواځی پری نښودی شي ، که دهغه پـه خــوا کــی کیښناستیدل ګران دي نو لری دی ترینه کیني او تسبیح تهلیل کی دی مشغول واوسـي ، مړي لپاره دی د مغفرت دعا وغواړي ، په شفاخانه کـی دی هــم همدغســی وکـړي ، د مړي څنګ ته دی حائضه نفاسه او جنب کسان نه ځي ، "ویخرج من عنـــده الحـــائض والنفساء والجنب" (درمختار ج ۱ ص ۷۹۸ باب صلواة الجنائز) .

(۲) د فرض لمونځ له ادا کولو نه وروسته دی جنازی لمونځ ولوستل شي او لـه هغـه نـه وروسته دی سنت لمونځ وکړی شي په درمختار کـی دي : "وتقدم صلواة الجنائز علی الخطبة) وعلی سنة المغرب وغیرها (کسنة الظهر والجمعة والعشاء)" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۷۵ باب العیدین) فقط والله اعلم بالصواب .

د زمزم په اوبو کی د خیشته کړي کپړی په کفن کی استعمالول څنګه دي ؟

(۳۹ سوال) هغه توټه چی د زمزم په اوبو کی خیشته شوي او بیا وچ کړی شوی وي ابا ! هغه په کفن کی استعمالولی شو او که نه ؟ ایا په داسی کولـو سـره بـی ادبـی خـو نـه کیږی ؟

خواب د برکت د تر لاسه کولو لپاره دزمزم په اوبو کی خیشته کړی شوی ټوټه چې وچه شوی وي هغه په کفن کی استعمالولی شي . "ولذ قال فی الاسرار المحمدية لو وضع شعر رسول الله صلی الله تعالی علیه وعلی آله وسلم او عصاه او سوطه علی قبر عاص لنجا ذلك العاصی ببركات تلك الذخيرة من العذاب ومن هذا القبيل ماء زمزم والكفن المبلول به وبطانة استار الكعبة والتكفين بها" (تفسير روح البيان ص ۵۵۹).

په دی کی د بی ادبی هیڅ خبره نشته ، له حدیث نه دا ثابت دي چې د هغه صلی الله علیه وسلم مبارک قمیص او لنګ په کفن کی استعمال شوی دی ، فقط والله اعلم بالصواب

نرس چې مړي ته کوم غسل ورکړی دی ایا هغه ورته کافي دی او که بیا دی ورته غسل ورکړی شي ؟

(۵۰ سوال) دلته په افریقا کی تقریباً ۹۹ فیصده ماشومان په شفاخانو کی کیږي ، او کله داسی هم کیږي چې مړ ماشوم پیدا کیږي ، دغه ماشوم ته نرسان غسل هم ورکوي او کفن ورته هم آغوندي بیا یی براه راست په قبرستان کی دفنوي ، په کور کی هغه ته څوک غسل نه ورکوي ، حال دا چې په بهشتي کی زیور کی د غسل ورکولو په متعلق حکم ورکولی شوی دی او حواله یی د درمختار ورکړی دی ، لهذا د خط په ذریعه تفصیلي ځواب راکړئ .

ځواب : په بهشتي زیور کی چې د درمختار په حواله څه لیکل شوی دي هغه صحیح او د مختار مذهب په مطابق دي .

نور الایضاح او نورو معتبرو کتابونو کی دي چې کله ماشوم مړ پیدا شي نو مختار مذهب دا دی چې هغه ته غسل ورکړی شي او په یوه کپړه کی دی له تاوولو نه وروسته دفن کړی شي خو د جنازی لمونځ دی ورته ونه لوستل شي ، "وان لم يستهل غسل فی المختار وادرج فی خرقة ودفن ولم يصل عليه" (ص ۱۳۸ باب احكام الجنائز فصل السلطان احق بصلواته) ومن لم يستهل ادرج فی خرقة كرامة ببنی ادم ولم

یصلی علیه" (هدیة ج ۱ ص ۱۶۱ فصل فی الصلواة علی المیت) (عالمگیری ج ۱ ص ۱۵۹)
د غیر مسلم په لاس ورکول شوی غسل که څه هم د غسل په حکم کی راځي ځکه چې غسل ورکونکي لپاره مکلف کیدل شرط نه دي ، "وانه یسقط وان لم یکن الغاسل مکلفاً" (شامي ج ۱ ص ۸۰۵ باب صلواة الجنائز تحت قوله وفی الاختیار) .
مګر په دی کی دوه خرابیانی دي یو دا چې غیر مسلم په لاسو ورکول شوی غسل د سنت مطابق نه وي دویم د مسلم تجهیز او تکفین پر مسلمانانو لازم دي ، د هغه ذمه واري پر مسلمانانو پاتی کیږي ، لهذا د مسلمانانو په لاسو د سنت طریقی په مطابق غسل ورکول ضروري دي ، برابره خبره ده چې په شفاخانه کی وي یا کور کی (فقط والله اعلم بالصواب) .

مړي ته له غسل ورکولو نه مخکی د قرآن کریم تلاوت کول مکروه دي

(۵۲ سوال) مړي ته له غسل ورکولو نه مخکی د هغه په څنګ کی کیناستل او د قرآن کریم تلاوت کول څنګه دي ؟

خواب : صحیح خبره همدا ده چې مړي ته له غسل ورکولو نه مخکی د هغه په څنګ کی د قرآن کریم تلاوت کول مکروه او منع دي ، البته تسبیح ویلی شي ، په نور الایضاح کی دي : "ویکره قرأة القرآن عنده حتی یغسل" یعنی تر څو پوری چې مړي ته غسل نه وي ورکول شوی دهغه په څنګ کی د قرآن کریم تلاوت کول مکروه دي (ص ۱۳۳ باب احکام الجنائز) (درمختار مع الشامی ص ۸۰۰ ج ۱) ځکه چې مړی له ضروري حاجت نه وړاندی دی د هغه په څنګ کی قرآن کریم ونه لولي ، په بله کوټه کی لری د قرآن کریم تلاوت کول جائز دي ، "وکره قرأة القرآن" ای تحریماً بناءً علی ان نجاسة خبث" (طحطاوی علی الدر المختار ج ۱ ص ۵۸۲ باب صلواة الجنائز)
فقط والله تعالی اعلم بالصواب .

د مړي لپاره د خوشبو او کافور استعمال .

(۵۳ سوال) کله چې ښځې ته کفن ورکول کیږي نو په دې وخت کې د هغه د سر ویښتانو او د سجدې په اعضاو باندې عطر لګول پکار دي او که نه ؟ او د سړي په سر او د ږیرې په ویښتانو همدغه راز د سجدې په اندامونو باندې عطر لګول څنګه دي ؟ بینوا توجروا

ځواب حنوط چې له څو پاکو خوشبو دار عطر او له نورو شیانو څخه مرکب وي هغ د ښځې د سر په ویښتانو او د سړي د سر او د ږیرې په ویښتانو کې دې ولګول شي ، خو کافور دې د سجدې په اندامونو یعنې وچولي ، پوزه ، د لاسونو ورغوو ، زنګنو او پښو باندې چې د سجدې په وختکې له زمکې سره لګیږي ومومږل شي ، دا حکم سړو او ښځو دواړو ته شامل دی ، سړي لپاره دې په حنوط کې زعفران او نور رنګین خوشبو ګډ نکړي خو ښځې لپاره جائز دي د فقهې په ځینو کتابونو کې د مړي په ټول بدن باندې دخوشبو اجازه ده ، مګر ستر ته نه کتل او لاس لګولو نه اجتناب ضروري دی . نو ځکه دلته دا دستور دی چې کفن لومړی خلاص آواروي او په هغه کې مرکب خوشبو آچوي او بیا د مړي نه تاووي ، تر څو ټول بدن یې معطر او خوشبو شي ، په الجوهرت النیریه کې دي : "قوله ویجعل الحنوط فی لحیته ورأسه وسائر جسده وان لم یکن حنوط لایضره ولا بأس بسائر الطیب غیر الزعفران والورس فانه لا یقرب الرجال کما فی الحیواة .... ولا بأس ان یحنط النساء بالزعفران اعتباراً بحال الحیواة (قوله الکافور علی مساجده) یعنی جبهته وانفه وکفیه ورکبتیه وقدمیه لفضیلتها لانه کان یسجد بها لله تعالی فاختصت بزیادة الکرامة والرجل والمرأة فی ذلك سواء" (الجوهرالنیرة ص ۱۰۵ باب الجنائز) .

په طحطاوي علی مراقی الفلاح کې دي : "(قوله علی رأسه ولحیته) وسائر جسده کما فی الجوهرة بعد ان یوضع علی الازار کما فی القهستانی" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۱۳ باب احکام الجنائز) .

په غایة الاوطار کې دي : د استحباب په خاطر دې د هغه په سر او ږیره کې حنوط ومومږل شي او د هغه د سجدې په اندامونو باندې د هغوی د تعظیم په خاطر کافور

وسوږول شي تر څو ژر خاوره نشي ، حنوط له خوشبو دارو څيزونو څخه مرکب شوی عطر دي و خو په دی کی زعفران او ورس نه وي ګډ شوي ځکه چې دا دواړه غالبا د سرو لپاره مکروه دي (غاية الاوطار ترجمه درمختار ج ۱ ص ٤٠٢) فقط والله اعلم بالصواب .

د ښځی کفن د هغی په مور او پلار باندی دی او که د هغی په خاوند باندی ؟

(۵۴ سوال) که چیرته د یو سړي ښځه مړه شي نو د هغی کفن د چا په سر دی ، د ښځی مور او پلار وائي چی کله یوه ښځه مړه شي او د هغوی مور او پلار ژوندي وي نو د هغی کفن د هغوی په غاړه دی ایا د هغوی دا خبره صحیح ده ؟ او که پخپله د ښځی له مال نه کفن ورکړی شي او که د ښځی کفن د خاوند په غاړه دی ؟ بینوا توجروا

ځواب : کله چی ښځه مړه شي او خاوند یی ژوندی وي نو په دی صورت کی که ښځه مالداره هم وي د هغی کفن په خاوند باندی دی ، د مور او پلار په غاړه نه دی ، په شامي کی دي : "(قوله بتجهيز) وكذا تجهيزة من تلزمه نفقته كولدمات قبله ولو بلحظة وكزوجته ولو غنية على المعتمد در منتقی" (شامی جلد ۵ ص ٦٦٤ كتاب الفرائض) ..

په مفید الوارثین کی دي : (۴) که د ښځی خاوند موجود وي نو د هغی د ښځی کفن د هغه په ذمه واجب دی ، د ښځی له ترکی نه دی د دی خرچه وانخستلی شي ، او که خاوند یی نه وي نو حسب معمول د مړی شوی ښځی له ترکی او مال څخه دی خرچ کړی شي (مفید الوارثین ص ۳٦ فصل اول د تجهیز او تکین بیان) فقط والله اعلم بالصواب

مړي ته رانجه پوری کول :

(۵۵ سوال) مړي ته عطر او رانجه لګول څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : مړي ته دی د سنت په طریقی سره عطر او کافور ولګول شي خو رانجه دی ورته پوری نکړی شي ، دا زینت دی او مړی له زینت نه بی نیازه شوی دی ، همدغه

وجه ده چې فقهاو ليکلی دي چې په ويښتانو کی دی ګوښځ ونه لګول شي . ويښتان او نوکان دی ورته کټ نه کړی شي .
په مراقی الفلاح کی دي : "(ولا يقص ظفره) الى الميت (ولا شعره ولايسرح شعره) اى شعر رأسه (ولحيته) لانه للزينة وقد استغنى عنها"(مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۳۱۲ باب احکام الجنائز) په درمختار کی دي : "(ولايسرح شعره) اى يکره تحريماً (ولايقص ظفره) الا المکسور (ولا شعره)" په شامي کی دي : "(قوله تحريماً) لما فی القنية من ان التزين بعد موتها والامتشاط وقطع الشعر لايجوز هر فلو قطع ظفره او شعره ادرج معه فی الکفن قهستانی عن العتابی" (درمختار وشامی ص ۸۰۳ ج ۱ باب صلواة الجنائز) فقط والله اعلم بالصواب .

د ښځی کفن د هغی په خاوند باندی دی او که ورور باندی ؟

(۵٦ سوال) زمونږ په علاقه کی دا رواج دی چې کله کومه ښځه مړه شي او د هغوی خاوند او زامن هم موجود وي ، نو بيا هم خلک دا ګڼي چې د دغی ښځی کفن او دفن ټول ذمه واري د هغه په ورور باندی دی ، همغه دی د دی ټول مصارف په سر واخلي ايا دا خبره صحيح ده ؟

ځواب : په درمختار کی دي : "(واختلف فی الزوج والفتوی علی وجوب کفنها عليه) عند الثانی (وان ترکت مالا) خانية ورجحه فی البحر بانه الظاهر لانه ککسوتها" (درمختار مع شامی ص ۸۱۰ ج ۱ ، باب صلواة الجنائز مطلب فی کفن الزوجة علی الزوج) .

په مفيد الوارثين کی دي : (۴) که د ښځی خاوند موجود وي نو د هغه د ښځی کفن د هغه په سر واجب دی د ښځی له ترکه نه دی دا خرچه وانخستل شي . او که خاوند يی ژوندی نه وي نو د معمول په مطابق د هغی له ترکی او مال څخه دی خرچ کړی شي (مفيد الوارثين ص ۳٦ فصل اول د تجهيز او تکفين بيان) .
لدينه ثابتيږي چې دا رواج غلط دی ، کله چې خاوند موجود وي نو دا مسئوليت او ذمه واري د هغی د خاوند دی نه د هغی د ورور ، فقط والله اعلم بالصواب .

باب ما يتعلق بالدفن الميت

د مړي د خښولو په اړه باب

په قبرستان کې له څپلو سره ګرځيدل او تلل څنګه دي ؟

(۵۷ سوال) له وړوکوالي نه آورو چې قبرستان ته په څپلو کې تلل منع دي ، ليکن په عمومي توګه ليدل کيږي چې خلک په څپلو کې ګرځي راګرځي ، په دی باره کې څه حکم دی ؟

ځواب : په قبرو باندی څپلو او غير د څپلو نه تلل ممنوع او مکروه دي [1] خو که په کومو ځايونو کې قبرونه نه وي خالي ځايونه موجود وي نو هلته په څپلو کې تلل راتلل منع نه دي او بلاکراهت جائز دي ، په عالمګيري کې دي : "والمشيى فى المقـابر بـالنعلين لايكره عندنا" .

ترجمه : په قبرستان کې په څپلو سره ګرځيدل زمونږ په نزد مکروه نه دی (ص ۱۶۰ ج ۱ اخر فصل فى القبر والدفن الخ) خو دا خبره په ياد وساتئ چې کله بالکل قبر تا نژدی فاتحه خواني کوئ نو د څپلو ويستل ښه کار دی ، والله اعلم بالصواب .

له خښولو نه وروسته پښو او سر طرف ته د تلاوت کولو څه اصل دی ؟

(۵۸ سوال) په څينو ځايونو کې د مړي له خښولو نه وروسته يو کس د مړي سر طرف ته (الم نه تر المفلحون پوری) او د پښو په طرف له (امن الرسول نه تر آخره پوری) لولي او دعا کوي ايا د دی څه اصل شته ؟

ځواب : هو داسی لوستل مستحب دي ليکن بايد په قراره او آهسته ولوستل شي ، کله کله دی پريږدي او نه دی لازموي ، له حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دی چې : "واليقرأ عند رأسه فاتحة بقر وعند رجله بخاتمة البقرة"

[1] ويكره ان يبنى على القبر او يقعد او ينام عليه او يوطاعليه الخ فصل فى القبر والدفن .

ترجمه : له خښولو نه وروسته دی د سر په طرف د بقری د سوری ابتدائي آیتونه (آلم څخه تر مفلحون پوری) او د پښو په طرف د سوره بقره آخري آیتونه (امن الرسول نه تر آخره پوری) دی ولوستل شي . مشکواة باب دفن المیت ص ۱۴۹

په شامي کی دي : "وکان ابن عمر رضی الله عنه یستحب ان یقرأ علی القبر بعد الدفن اول سورة البقرة وخاتمتها" حضرت ابن عمر رضی الله عنه به د مړي له خښولو نه وروسته دا مستحب ګڼلو چی په قبر باندی د سوره بقره لومړی حصه او آخري حصه ولوستل شي (ص ۸۳۸ ج اول مطلب فی دفن المیت) فقط والله اعلم بالصواب .

د بل چا لپاره په ویستل شوي قبر کی بل څوک خښول :

(۵۹ سوال) د چا په زمکه کی مړی خښ کړی شو خو د زمکی مالک دا مړی راویستل غواړي ایا هغه د دی حق لري چی دا مړی له خپلی زمکی نه راوباسي ؟ یا د زمکی د قیمت حق لري چی واخلي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د زمکی مالک حق لري چی مړی له زمکی نه وباسي خو که زمکه یی وقف کړی وي او چا قبر پکی کنستی وي مګر په هغه کی بل سړی خپل مړی دفن کړي نو د قبر ویستونکي والا د خپل اجرت غوښتنه کولی شي خو د مړي د ویستلو غوښتنه نشي کولی . په درمختار کی دي :

"(ولایخرج منه) بعد اهالة التراب الا الحق ادمی کان تکون الارض مغصوبة الخ"

او په شامي کی دي : "واحترز بالمغصوبة عما اذا کانت وقفاً قال فی التاتارخانیة انفق مالاً فی اصلاح قبر فجاء رجل ودفن فیه میته ، وکانت الارض موقوفة یضمن ما انفق فیه ولایحول میتة من مکانه لانه دفن فی وقف اه وعبره فی الفتح بقوله یضمن قیمة الحضر فتمال" (ص ۸۳۹ ، ۸۴۰ مطلب فی دفن المیت) فقط والله اعلم بالصواب .

ایا خاوند خپله ښځه په قبر کی پخپله ښکته کولی شي ؟

(۶۰ سوال) ایا خاوند په قبر کی د خپلی ښځی د ښکته کولو لپاره قبر ته ښکته کیدای شي او که نه ؟ بینوا توجروا .

خواب کله چی ښځه مړه شي نو خاوند یی ترینه پردی کیږي ، د کپړی او لباس د پردی نه علاوه د هغه بدن نشي لمس کولی مګر مخ ته یی کتلی شي ، له محرم سره یو خای په قبر کی خښولی شي ، امام طاهر بخاري سرخسي المتوفي ۵۴۲ه فرماني

"وقال الامام الاجل فخر الدين كان يكره للناس ان يمنعوا حمل جنازة المرأة لزوجها مع ابيها واخيها ويدخل الزوج فى القبر مع محرمها استحساناً وهو الصحيح وعليه الفتوى" .

ترجمه : امام فخر الدين فرمايي چی نورو خلکو ته دا مکروه دي چی خاوند دخپلی ښځی د جنازی له اوچتولو نه منع کړي خاوند کولی شي چی د هغی له محرم سره یوځای خپله ښځه په قبر کی ښکته کړي ، استحساناً او همدغه صحیح دی او په همدی باندی فتوه هم ده (خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۲۵ الفصل الخامس والعشرون فى الجنائز) فقط والله اعلم بالصواب .

په قبر کی د مړي پښی د قبلی په طرف کول :

(۶۱ سوال) دوه کسانو په یو کتاب کی دا مسئله ولوست چی کله مړی په قبر کی خښ کړی شي نو د هغه پښی دی د قبلی په طرف کړي ، دا مو په یاد نه دي چی دا مو په کوم کتاب کی لوستلی دي ؟ خو خلک وائي چی د مړي مخ باید د قبلی په طرف کړی شي ، که چیرته د مړي پښی د قبلی په طرف کولی شي نو دا په کوم حالت کی ؟ دکتاب په حواله ځواب راکړئ .

ځواب : دا سنت دی چی مړي په قبر کی په داسی حالت کی راښکته کړی شي چی مخ یی د قبلی په طرف وي ، دا موکد سنت دی چی مړی په ښي اړخ داسی کینبودل شي چی مخ یی د قبلی په طرف وي ، د قبلی په طرف د مړي پښی کول ناجائز دي ، د عالمګیر په فتاوی کی دي :

"ويوضع فى القبر على جنبه الايمن مستقبل القبلة" .

ترجمه : مړی دی په قبر کی په ښي اړخ داسی کینبودل شي چی مخ یی د قبلی په طرف وي (ج ۱ ص ۱۶۶ الفصل السادس فى القبر والدفن الخ ، شامي ج ۱ ص ۸۳۷ مطلب فى دفن الميت

په مالا بد منه کی دي : وروی او بسوی قبله کرده شود .

یعنی په قبر کی دی دمړي مخ د قبلی په طرف کړی شي (ص ٦٧) یعنی د خینو فقهاو په نزد دا واجب دي چی د مړي مخ دی د قبلی په طرف کړی شي .
در مختار هدایه ج ۱ ص ۱٦۲ فصل فی الدفن) په هر حال په قبر کی د قبلی په طرف د مړي پښی کول جائز نه دي ، دا د اسلامي طریق نه خلاف او گناه ده ، والله تعالی اعلم بالصواب .
(٦۲ سوال) یو پنځه کلن ماشوم مړ شو هغه په صندوق کی دفن کړی شو مگر دا چی خښوونکو کسانو هغه یی په صندوق کی په کوم ترتیب سره ایښی دی د دی پته نشته ، خو له خښولو نه وروسته معلوم شو چی د هغه مخ دقبلی په طرف نه دی شوی او اوس خلک قسماقسم خبرې کوي ، ایا دا قسم خښولو کی څه گناه شته او که نه ؟
ځواب : په قبر کی د مړي مخ عمداً د قبلی په طرف نه کول گناه ده خو که په غلطی او سهواً داسی وشي نو گناه پکی نشته ، که چیرته د خاوری له اچولو نه مخکی ورته په یاد شي چی دمړي مخ د قبلی په طرف نه دی شوی نو د هغه مخ دی د قبلی په طرف واړوي خو که خاورهورباندی اچول شوی وي نو بیا د قبر لوځول جائز نه بلکی گناه ده ، په شامي کی دي :
"لودفن مستدبراً لها واهالوا التراب لاینبش لان التوجه الی القبلة سنة والنبش حرام بخلاف ما اذا کان بعد اقامة اللبن قبل اهالة التراب" (ج ۱ ص ۸۳۷ مطلب فی دفن المیت) والله تعالی اعلم .

په قبر باندی د لرگیو تښتی ایښودل څنگه دي ؟

(٦۳ سوال) په قبر کی د مړي له خښولو نه وروسته دخاوری له اچولو نه مخکی د لرگیو تښتی یا بانس د ایښودلو شرعي حکم څه دی ؟ د دی ځای خلک د لرگیو تښتی او بانسونه نه ږدي نو توله خاوره په مړي باندی غورځیږي او په دی سره د مړي بی حرمتي کیږي ، لهذا مفصل ځواب راکړئ .
ځواب : د قبر دوه قسمونه دي ، یو بغلي دی او بل صندوقي ، بغلي قبر سنت دی د دی صورت دا دی چی د قبر له کنستلو نه وروسته د قبلی په طرف داسی یو ځای وکنستلی شي چی په هغه کی مړی کیښودلی شي ، بیا د هغه په وړاندی کچه خښتی په ودرولو سره هغه بند کړی شي که کوم سوری او چاود پاتی شي نو هغه دی په ختې سره بند کړي که خامې خښتی نه وي نو بیا دی بانس ودرول شي ، که هغه هم نه وي

نو بیا دی مجبوراً د لرګیو تښتی کیږدي او لپاسه دی د کجورو پاڼی یا پوزی دی کیږدي تر څو خاوری ورباندی ونه غورځیږي ، خو دا بغلي قبر چی ورته لحد ویلی شي په سخته زمکه کی جوړیږي ، که په نرمه زمکه کی جوړ کړی شي نو ډیر ژر خرابیږي په نرمه زمکه کی باید د صندوق پشان قبر جوړ کړی شي .

د هغه صورت داسی دی چی قبر دومره وکنستل شي چی مړی پکی کینسودل شي پر هغه دی د کاڼو تښتی یا د باڼس لرګي ورباندی کیږدي او چت دی ورباندی جوړ کړي تر څو په مړي باندی خاوره ونه غورځیږي بیا دی ورباندی خاوره ورواچول شي او ډک دی کړی شي .

(فتاوی عالمګیري ج ۱ ص ۱٦۵ ، ۱٦٦)[1] (عیني شرح هدایه وغیره) .

لکه څنګه چي په سوال کی بیان شویدی د لرګیو د تښتو یا د باڼس د ایښودلو نه پرته په مړي باند خاوره اچول له سنت نه خلاف کار دی ، په دی سره د مړي بی حرمتي کیږي ، د دغی طریقی پریښودل او توبه استغفار کول ضروري دي ، فقط والله اعلم بالصواب .

ایا قبر په کاڼو سره پټولی شو ؟

(٦۴ سوال) زمونږ په علاقه کی د لحد پر ځای د صندوقي قبر رواج دی ، ایا د زمکی د نرم والي له کبله په هغه کی کاڼي لګول جائز دي او که نه ؟ لکه چي په مدینه منوره کی کاڼي پکی لګوي ؟

ځواب : که چیرته زمکه نرمه وي او د قبر د غورځیدو اندیښنه وي نو د صندوق پشان قبر جوړول په هغه کی د کاڼو لګول جائز دي ، تر څو ځناور د خاوری په لری کولو سره مړي ته نقصان ونه رسوي ، مګر بهتره دا ده چی د مړي ځای په خاورو سره کاږل کړی

[1] _ والسنة هوا للحد دون الشق كذا فى محيط السرخسى وصفة اللحد ان يحفر القبر بتمامه ثم يحفر ل جانب القبلة حفيره فيوضع فيه الميت كذا فى المحيط ويجعل ذلك كالبيت المسقف كذا فى البحر الرائق فان كانت الارض رخوة فلا بأس بالشق كذا فى الفتاوى قاضى خان وصفة الشق ان تحفر صغيرة كالنهر وسط القبر ويبنى جانباه باللبن ويوضع الميت فيه ويسقف كذا فى معراج الدراية الفصل السادس فى القبر والدفن

شي تر څو د مړي خلور خواو ته خاوره معلوم شـي (درمختـار ، شـامي ج ۱ ص ۸۳٦)[1]
فقط والله اعلم بالصواب .

د پوخ قبر جوړولو په متعلق :

(٦٥ سوال) يو سړی غواړي چی د خپل پلار قبر پوخ کړي ايا شرعا د دی اجازه شته ؟ (۲) که چيرته د پوخ قبر د جوړولو اجازه نه وي نو شا خوا د پوخ ديـوال تـاوولو اجـازه شته او که نه ؟ (۳) او که د دی اجازه هم نه وي نو ايا يـواځی پـه يـوه کـاڼي بانـدی د هغه دنوم او د وفات دتاريخ ليکلو جواز شته او که نه ؟

ځواب : شرعا د قبر د پخولو اجازه نشته بلکی ممنوع دی ، په حديث شـريف کـی دي : "نهی رسول الله صلی الله عليه وسلم ان يجصص القبر وان يبنی عليه وان يعقـد" رواه مسلم ، مشکواة شريف ص ۱٤۸ بابٌ فی دفن الميت .

محمد صلی الله عليه وسلم لدينه منع کړی ده چی د مړي قبر پوخ کړی شي ، وربانـدی عمارت جوړ کړی شي او يا هم ورباندی څوک کيني .

نو ځکه فقهاو په قبر کی د پخو خښتو د لګولو ، د قبـر شـاخوا د پخـی چـونتری ، د قبـر خوا ته د اور وړلو او په اور کی د پوخ شويو څيزونو له وړلو نـه ممانعـت کـړی دی (رد المختار ج ۱ ص ۸۳۷)[2] لهذا د شرعي ضرورت نه پرته د چار ديوالي ضرورت خام قبـر د مړي په ګټه دي کوم قبر چی خام وي او ورباندی ډول او سينګار نـه وي شـوی هغـه د الهي رحمتونو زيات مستحق وي همدغه راز کوم خلک چی قبر ته دعا لپاره ودريـږي د هغوی په زړونو هم ښه اثر کوي، په دی سره مرګ په ياد راځـي او د دنيـا د زوال نقشـه مخی ته راځي ، د قبرونو د زيارت چی کوم مقصد دی هغه حاصليږي ، له مـړي سـره د محبت لپاره دا ضروري نه دي چی دهغه قبر پوخ او ښکلی کړی شـي ، اصـحاب کـرام رضی الله عنهم د محمد صلی الله عليه وسلم عاشقان او فدايان وو ، د هغه د اودس اوبـه

---

[1] ـ وقال لاکن ينبغی ان يفرش فيه التراب وتطن الطبقة العلياء مما يلی الميت ويجعل اللبن الخفيف علـی يمين الميت ويساره ليصير بمنـزلة اللحد مطلب فی دفن الميت .

[2] ـ لا الاجر المطبوخ والخشب لدخلوه قال فی الشامية تحت قوله الآجر .... قال البدائع لانه يستعمل للزينة ولاحاجة للميت اليها ولانه مسته النار فيکره ان يجعل علی الميت تفاؤلا کما يکره ان يتبع قبره بنا رتفاؤ لا مطلب فی دفن الميت .

به یی زمکی ته نه پرینودلی او هغه به یی په مخ او سترگو کی سولولی ، د دومره عظمت او محبت درلودلو باوجود هغوی د خپل محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم قبر پوح نه کړ بلکی خام یی پریښود ، مونږ ته هم پکار دي چی د هغوی په نقش قدم باندی روان شو ، الله تعالی دی مونږ ته د نیکی توفیق راکړي ، آمین .

که چیرته تاسی ضروري گڼئ چی د قبر نښه او نښانی پاتی شي نو پر هغه باندی کله کله خاوره اچولی شي ، همدغه راز دی لپاره چی د قبر توهین او بی عزتي ونشي خلک وربانډی پښی کیږدي نو پر قبر باندی د هغه نوم او د وفات تاریخ هم لیکلی شئ.

"ولابأس بالكتابة عليه لئلاّ يذهب الاثر ولا يمتهن" (نور الايضاح ص ١٤٠ فصل في حملها ودفنها) ان احتيج الى الكتابة حتى لايذهب الاثر ولايمتهن فلا بأس به فاما الكتابة بغير عذر فلا اه" (شامی ج ١ ص ٨٣٩) ولابأس بالكتابته ان احتيج اليها" (درمختار مع رد المختار ج ١ ص ٨٣٩ ايضاً).

به هر حال که څه هم فقها حضراتو د ضرورت صورتونه مستثنی کړی دی خو بیا هم بهتره خبره دا ده چی نوم او د وفات تاریخ ونه لیکل شي ، "لان رسول الله صلی الله عليه وسلم نهى ان يجصص القبور وان يكتب عليها وان توطا" رواه الترمذی ، مشکواة شریف ص ١٤٨ باب دفن الميت .

ترجمه : محمد صلی الله عیه وسلم لدینه منع کړی ده چی قبرونه پوخ کړی شي یا وربانډی څه ولیکل شي یا وربانډی پښی کیښودلی شي (ترمذی شریف بحواله مشکواة شریف) .

په شرعي حکم کی زیات حکمتونه او مصلحتونه وي ، که چیرته د قبر پخول ممنوع نه وای نو نن به هر لوري قبرونه قبرونه وو ، د کورونو او فصلونو لپاره به هم زمکه نه پیدا کیده فقط

مړي ته دی کله تلقین وکړي ؟

(٦٦ سوال) یو کتاب کی می ولیدل چی په قبر باندی د تلقین تر عنوان لاندی دغه لاندینی مضمون لیکلی و :

له حضرت ابی امامه څخه روایت دی چی محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چی ستاسی کوم ورور وفات شي او هغه په قبر کی خښ کړئ نو بیا دی یو کس د قبر په څنګ کی ودریږي او د مړي نوم په آخستلو سره دی آواز وکړي ، دغه آواز هغه آوري . مګر هغه ته ځواب نشي ورکولی ، بیا کله چی د هغه نوم دویم کرت واخستل شي نو هغه واني ورورہ څه وائی ؟ الله دی پر تا رحم وکړي ، د مړي دا خبره د قبر په خوا کی ولاړ خلک نشي آوریدلی ، همدغسی دری کرته دی ورته آواز وکړي او بیا دی ورته دا تلقین وکړي :

"اذ کرما اخرجت علیه من الدنیا بشهادةان لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله وانك رضیت بالله رباً وبالاسلام دیناً وبمحمد رسولاً" .

د مړي د دغه تلقین په آوریدو سره له قبر نه منکر او نکیر دوه پرښتی واپس کیږي او وائي چی دلته خو تلقین کیږي ، زمونږ دلته څه کار نشته .

د دغه تلقین په باره کی امام نووي د (تعلیقات) مصنف قاضي حسین د " تتمه " مصنف ابوسعید شیخ ابو الفتح ، نست مقدسی ، امام شافعي او نور علماء کرام متفق دي .

ځواب : د تلقین دوه ځایونه دي (۱) د مرګ په وخت کی دویم له مرګ نه وروسته تلقین کول بالاجماع مستحب دي ، "وهذا التلقین مستحب بالاجماع" فتاوی عالمګیری الفصل الاول فی المختصر ج ۱ ص ۱۵۷ .

او په قبر کی له اینبودلو نه وروسته مړي ته تلقین کولو کی اختلاف دی ځینی فقهاء د دی قائل دي او ځینی یی نه مني .

"واما التلقین بعد الموت فلا یلقن عندنا فی ظاهر الروایة کذا فی العینی ، شرح الهدایه ومعراج الدرایة ،ونحن نعلم بما عند الموت وعند الدفن کذا فی المضمرات" .

یعنی په هر حال له مرګ نه وروسته د تلقین خبره له ظاهر روایت نه منع دی او زمونږ قول په دواړو تلقینونو باندی دی .

فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۱۵۷ فی القبر والدفن الخ (عینی ج ۱ ص ۱۰۷۳) طحطاوی شرح درمختار ج ۱ ص ۵۷۹ .

لدینه ثابتیږي چی له مرګ نه وروسته تلقین کول له ظاهر روایت نه مخالف دي او ترجیح ظاهري روایت ته دی ، له مرګ نه وروسته قبر ته نژدی مړي ته د تلقین په باره

کی چی کوم حدیث پیش کولی شي هغه د محدثینو په نزد صحیح نه دی بلکی ضعیف دی .
البته ضعیف روایتونه په فضائل اعمال کی د اعتبار وړ وي او عمل وربانـدی جـائز دی ، په دی شرط چی اعتقادي یا د عمل خرابـي پکـی رانشـي ، مګـر مـذکوره تلقـین کـی زیاتره وخت عملي او اعتقادي خرابي لیدل شوی دی یعنی دا لازمي ګڼل کیږي او کله یی هم نه پریږدي ، که خوک یی نه کوي هغه ملامتوي او رټي یی .
هغه ته بد مذهب او بد عقیده ویل کیږي ، د اهل سنت نه خارج ګڼل کیـږي ، لهـذا دا د پرینـودو قابل دی ، د فقهاؤ مسلمه عقیده دا ده چی :
"ان المندوب ینقلب مکروهاً اذا خیف ان یرفع عن رتبته میاح" .
او مستحب چی کله د هغه له اصل درجی نه زیات کړی شي نو هغـه مکـروه او ممنـوع دی (مجمع البحار ج ۲ ص ۲۴۴) .
حاصل دا چی د مړکیدو په وخت کـی لومړی تلقـین بالاجمـاع مسـتحب دی ، او لـه صحیح حدیث نه ثابت دی او دویم تلقین یعنی د قبر په خنګ کی مړي تـه تلقـین کـول اختلافي دی ، لهذا د فقهاؤ فیصله دا ده چی په کوم ځای کی د دی رواج نشته ، هلتـه دی جاري نه کړی شي او چیرته چی د دی رواج وي هلته دی بند نه کـړی شـي هلـه چی دفتنی او فساد ویره وي ، په درمختار او نورو کتابونو کـی دي : "ولایلقـــن بعـــد تلحیده وان فعل الا ینهی عنه" یعنی له خښولو نه وروسته دی تلقین ونکړی شي او که خوک یی کوي هغه دی منع کړی شي (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۹۷ مطلـب فـی التلقین بعد الموت) فقط والله اعلم بالصواب .

په زوړ قبر کی د دویم مړي ایښودل څنګه دي ؟

(٦٧ سوال) د دین له علماو نه په لاندینی مسئله کی رهنمائي مطلـوب دی ، زمونږ پـه ملک کی انساني آبادي ورځ په ورځ زیاتیږي او ډیر په تیزی سره دا خوریږي ، د دی یـو قدرتي نتیجه دا هم ده چـی قبرونـه هـم زیاتیـږي او د خلکـو د خښولـو لپـاره ځایونـه کمیږي . دغه مشکل د حلولو لپاره یـوه لاره دا ده چـی پـه زاړه قبرونـو کـی دی دویم خل لپاره مړي خښ کړی شي ، په دی شرط چی اسلامي شریعت د دی جواز ورکـړي ، دی لپاره دی علماء کرام لارښونه وکړي چی شرعاً څومره وخت وروسته زوړ قبـر د دویم مړي د خښولو لپاره پکار راوستلی شو ، د مبصرینو عام فکر دا دی چی له څلویښتو نه تر

پنځوسو کلونو پوری د مړي بدن خـاوري کیـږي ، ایـا پـه هغـو قبرونـو چـی څلویښت پنځوس کاله نیر شوی وي په هغه کی نور مړي خښولی شو او که نه ؟ په دی باره کـی د شریعت واضـح هـدایت مونـږ تـه بیـان کـړئ ، جـزاکم الله خـیراً . بینـوا تـوجروا (لـه دهلي نه)

ځواب : په شامي کـی دي : "قال فی الفتح ولایحفر قبر لدفن آخر ان بلی الاول فلم یبق له عظم الا ان لایوجد عظام الاول ویجعل بینهما حاجز من تـــراب ...... الی قوله .... قال الزیلعی ولو بلی المیت وصار ترابا جاز دفن غیره فی قـــبره وزرعه والبناء علیه . الی قوله . قلت فالاولی اناطة الجواز بالبلاد اذ لا یمکـــن ان یعدل کل میت قبر لا یدفن فیه غیره وان صار الاول ترابا لا سیما فی الامصـــار الکبیرة الجامعة الخ........." (شامی ص ۸۳۵ ج ۱ کتاب الجنائز مطلب فی دفن المیت) .

یعنی په فتح القدیر کی دي چی د مړي د خښولو لپآره دی زوړ قبر استعمال نـه کـړی شي مګر دا چی په دی قبر کی د پخواني مړي جسد بوسیده شـوی وي او هـډوکي یی نه وي پاتي ، البته که چیرته ځای نه پیدا کیده او زوړ قبر وکنستل شـي او پـه هغـه کـی هډوکي ووځي نو په پوره احترام سره دی د لومړي سړي هډوکي راجمع کړی شـي او یو طرف ته دی کیښودل شي ، د دغو دواړو تر منځ دی د خاوری یو حائل ودرول شـي . الی قوله . علامه زیلعي فرمایي : کله چی مړی خاوره شي نو په دی کـی د بـل سـړي ایښودل جائز دي . الی قوله . قلت ، علامه شامي فرمایي : د مـړي د جسـد لـه خـاوری کیدو نه وروسته د جواز قول خپلول بهتر دی ځکه چی هر مړي لپاره داسی نوی ځـای پیدا کول چی هلته له وړاندی نه مړي نه وي خښ کړی شوي ډیـر مشـکل او نـاممکن دي ، خصوصاً په لویو ښارونو کی (شامي ص ۸۳۵ ج ۱) .

په مراقی الفلاح کی دي : "لوبلی المیت وصار تراباً جاز دفن غیره فی قبره کـــذا فی التبیین" (مرافی الفلاح مع طحطاوی ص ۳۳٦ فصل فی حملها ودفنها) .

په بحر الرائق کـې دي : "وفی التبیین ولو بلی المیت وصار ترابا جائز دفـن غـيره وزرعه والبناء علیه اه" (البحر الرائق ص ۱۹۵ ج ۲ ، کتاب الجنائز تحت قولـه ولایخرج من القبر الخ) .

په فتاوی عـالمگیري کـې دي : "ولو بلی المیت وصار تراباً جاز دفن غیره فی قـبره وزرعه والبناء علیه کذا فی التبیین" عـالمگیری ص ۱٦۷ ج ۱ کتـاب الجنـائز فصل نمبر ٦ .

د مړي له خاورې کیدو نه وروسته قصدا د هغه په قبر کې د بل مړي اېښـودل جـائز نـه دي . علامه شامي فرمـائي : "ومایفعل جهلة الحفارین من نبش القبور الـتی لم تبـل اربابها وادخال اجانب علیهم هم من المنکر الظاهر" .

یعنی ځینې جاهل قبر کنستونکي داسې قبر هم کنې چې مړي پکـې نـه وي خـاورې شوي او بل مړی پکې ږدي دا خبره په ظاهري توګـه منکـر او ممنـوع دی (شـامي ص ۸۳۵ ج۱) له پورتنیو عبارتونو څخه واضح کیږي چې د راجح قول په مطابق مـړی کلـه خاورې شي او د هغه څه اثر پاتې نشي نو په دې صورت کې په دغه قبر کې د بل مـړي ښخول جائز دي ، خصوصاً په لویو ښـارونو کـې هلتـه د ځمکـې ډېـر کمـې وي ، لدینـه مخکې چې د مړي جسد نه وي خاورې شوي قصداً له شرعي عذر نه پرته د هغه پـه قبـر کې د بل مړي ښخول جائز نه دي .

لهذا په مسئوله صورت کې چې کله د ځمکې کمی وي او نوی قبرستان له کلي او ښار نـه ډېر لرې وي او هلته د مړي وړل ګران وي نو مبصرین چې هلته څومره کالـه وښـایي او له تجربې نه هم د هغه د خبرې تصدیق کیږي نو له دومره مودې نه وروسته پـه زوړ قبر کې د مړي ښخول جائز دي خو که چیرته له زوړ قبر نه هډوکې وباسي نو هغـه دې پـه ډېر احترام سره راجمع کړي او همغه قبر کـې یـو طـرف تـه کیـږدي ، دمـړي او هغو هډوکو تر منځ دې د خاورو یو حائل یا دیوالګې غوندې جوړ کړي ، د پوخ قبر جوړولو اجازه دې هرګز ورنکړې شي ځکه چې شرعاً هـم ممنـوع دی او لـه مصلحت نـه هم خلاف دی .

د عارف بالله حضرت مفتي عزیز الرحمن عثماني رحمه الله فتوی وګورئ :

(سوال) ما یو قبر وویست په هغه کی د مړي هډوکی ووتلی . په داسی قبر کی د بـل مړي خښول جائز دي او که نه ؟

ځواب هډوکي د قبر یو طرف ته ایښودل او د نوي مړي په دی کی خښول صحیح دي (فتاوی دار العلوم مکمل و مدلل ص ۳۷۸ ج ۵)

دویمه فتوه :

ځواب : د پوهی باوجود چې په دی قبر کی مړی موجود دی له څه شرعي عذر نه پرته په هغه کی د بل مړي خښول جائز نه دي ، خو که اتفاقاً ځای وکنست او هلته قبر پیدا شو نو له هغه نه دی هډوکي راجمع کړي او د قبر یو طرف ته دی کیږدي ، د خاورو د پولی په حائل کولو سره دی بل تازه مړی خښ کړي نو دا جائز دي ، ځکه چې دمړي د خاوری کیدو نه وروسته د هغه په قبر کی د بل مړي د خښولو جواز مختار دی ، لکه چې شامي د علماو د اقوالو له نقلولو نه وروسته دا لیکلي دي :

"فالاولی اناطة الجواز بالبلاد اذا لا یمکن ان یعد لکل میت قبر لایدفن فیه غیره الخ"

او خاوری کیدو نه مخکی داسی کول ناجائز کړي دي چنانچې لیکي : "ومایفعله جهلة الحفارین من نبش القبور التی لم تبل اربابها وادخال اجانب علیهم فهو من المنکر الظاهر فقط" (فتاوی دار العلوم مدلل ج ۵ ص ۳۸۵ ، نیز ج ۵ ص ۳۸۷) .

نوټ : په پورتنیو حواله جاتو کی چی د زراعت او کور جوړولو کوم اجازه ورکول شوی هغه غیر موقوفه زمکی په باره کی دی ، په موقوفه زمکه کنی د دی اجازه نشته . فقط والله اعلم بالصواب .

په وقف قبرستان کی د قبر شاو خوا صفه (چونتره) جوړول او په هغه کی لوحه لګول

(٦٨ سوال) د دین مفتیان په دی باره کی څه فرمایي چې زما پلار مړشو ، خلکو د برکت لپاره پخپل قبرستانه کی دفن کړ ، دا قبرستان د چا مملوکه زمکه نه ده بلکی وقف زمکه ده ، اوس د هغه معتقدین غواړي چې دهغه په قبر باندی بوړدۍ او لوحه

ولګوي د قبر له شاخوا نه دیوالو نه اوچت کړی تر څو ناخبر خلک قبر په اسانی سره پیدا کړی او په تکلیف کی نشي ، لیکن په مذکوره قبرستان کی د هیڅا په قبر لوحه نه ده لګولی ، ایا د قبرستان منتظمین د ممانعت باوجود لوحه (بورډ) لګولی شي او که نه؟ مهرباني وکړئ ، قوي ځواب راکړئ .

ځواب : په مذکوره مسئله کی چی قبرستان وقف دی نو له څه شرعي ضرورت نه پرته دی د قبر له شاوخوا نه دیوال تاو نه کړی شي ، دسنت طریقه همدا ده چی قبر مکمل خام وساتل شي ، په قبر باندی نوم او د وفات تاریخ لیکلی شي خو دا هم ضروري نه دي ، دا چی په مذکوره قبرستان کی د هیڅا په قبر باندی لوحه نه ده لیکل شوی نو د لوحی پر ځای دی یوه کاني ودروي . په فتاوی رحیمیه کی دي : ځکه خو فقهای کرامو په قبر کی د پښو خښتو لګولو او د قبر شاخوا د صفی او چونتری جوړولو ، همدغه راز د قبر خوا ته اور او په اور کی د پوخ شویو خیزونو وړل منع کړی دی (رد المختار ج ۱ ص ۸۳۷)[1] .

په خام قبر کی د مړي ګټه ده ، کوم قبر چی کچه وي او شاوخوا ترینه ډول او سینګار نه وي جوړ شوی نو داسی قبر باندی د الهي رحمت باران کیږي او د زائرینو په زړونو باندی د مړي اثر پیدا کیږي ، په دی سره مرګ یادیږي ، د دنیا د زوال نقشه مخی ته ودریږي د قبرونو د زیارت چی کوم مقصد دی هغه تر لاسه کیږي . الی قوله . که چیرته دا ضرورت محسوس کړی شي چی د قبر نښه پاتی شي نو وختاً په وختاً وربانـدی د خاوری اچولو اجازه ده ، همدغه راز دی لپاره چی دقبر نښه پاتی شي او خلک وربانـدی ونګرځي د هغه توهین او بی حرمتي ونشي نو پر هغه د مړي نوم او د وفات تاریخ پکی لیکلی شي .

"ولابأس بالكتابة عليه لئلا يذهب الاثر ولا يمتهن" (نور الايضـاح ص ١٤٠) ان احتيج الى الكتابة حتى لايذهب الاثر ولايمتهن فلا بأس به فاما الكتابة بغير عـذر فلا اه" (شامى ج ١-ص ٨٣٩) ولابأس بالكتابة ان احتيج اليها (درمختار مـع رد المختار ج ١ ص ٨٣٩) .

---

[1] والسنة ان يفرش فى القبر التراب ثم لم يتعقبوا الرحضة فى اتخاذه من جديد بشئ ولا شك فى كراهة كما هو ظاهر الوجه اى لأنه لا يعمل الا بالنار فيكون كالاجر المطب،خ مطلب فى دفن الميت .

په هر حال کی څه هم فقهاو د ضرورت صورتونه مستثنی کړی دي خو بیا هم غوره خبره ده چی هیڅ دی ونه لیکل شي ، "لان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی ان یجصص القبور وان یکتب علیها وان توطاء" رواه الترمذی (مشکواة شریف ص ۱٤۸) .

ترجمه : محمد صلی الله علیه وسلم لدینه منع کړی ده چی قبرونه پوخ کړی شي یا پری څه ولیکل شي یا وربانډی پښی کیښودلی شي .

په فتاوی دار العلوم کی‌دي :

(سوال) زید د حفاظت او علامی لپاره د خپل مرحوم پلار د قبر څلور طرف ځای پخوي او په سنځ کی په کاڼو او سنګ مرمر باندی څه لیکل غواړي ، ایا په دی کی د جواز څه صورت شته او که نه ؟

ځواب : په شامي کی د صحیح مسلم دغه حدیث نقل شوی دی : "نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن تجصیص القبور وان یکتب علیها وان یبنی علیها" رواه مسلم .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبرونو له پخولو ، پر هغه د څه لیکلو او وربانډی د کور جوړولو نه منع کړی ده .

لهذا تا چی د کومی خبری پوښتنه کړی ده هغه شرعاً جائز نه دی ، فقط فتاوی دار العلوم ص ۳۲۷ ج ۵ ص ۳۷۸ مدلل و مکمل .

په فتاوی محمودیه کی دي :

(سوال) که خام قبر کیني او وربانډی خاوره واچوي او یا دوه دری کاله بعد پر هغه نوره خاوره واچول شي تر څو د قبر نښه پاتی شي او خلکو ته معلوم شي چی دا قبر دی ، ایا داسی کول جائز دي او که نه ؟

ځواب : حامداً ومصلیاً ! په داسی قبر باندی خاوره اچول صحیح او جائز دي . که چیرته قبر پخپل مملوکه زمکه کی وي نو معمولي غوندی چونتره جوړول هم جائز دی لیکن په دی کی د نورو مفاسدو احتمال دی نو ځکه د چونتری جوړول نه دي پکار ، په وقف زمکه کی خو د دی د جوړولو له سره ګنجائش نشته ، فقط ، والله تعالی اعلم (فتاوی محمودیه ص ۳۹۵ ج ۲ ص ۳۹٦ کتاب الجنائز) فقط والله اعلم بالصواب .

دی لپاره چی د مړي خپل خپلوان راشي د هغه د خښولو لپاره انتظار کول

(۶۹ سوال) د پورتيني سوال په اړه چی د مړي زوی، لور، خاوند او نور خپلوان بی راشي د مړي په خښولو کی انتظار کول څنګه دي؟ بينوا توجروا.

خواب کله چی کوم شخص مړ شي نو د هغه په تجهيز او تکفين کی عجله او بيړه پکار ده، په احاديثو کی په دی ډير زيات تاکيد راغلی دی، په يو حديث کی دي:

"عن حصين بن وحوح ان طلحة بن البراء رضی الله عنه مرض فاتاه النبی صلی الله عليه وسلم يعوده فقال انی لاری طلحة وقد حدث به الموت فاذنونی به وعجلوا فانه لاينبغی لجيفة مسلم ان تحبس بين ظهر انی اهله" (ابوداؤد ص ۹٤ ج ۲ کتاب الجنائز باب تعجيل الجنازة).

ترجمه: حضرت طلحه بن براء رضی الله عنه ناروغ شو محمد صلی الله عليه وسلم د هغه پوښتنی ته تشريف يووړ، محمد صلی الله عليه وسلم د هغه د حالت په ليدلو سره وويل زما ګمان دا دی چی د دی د مرګ وخت نژدی دی، کله چی دی مړ شي نو ماته ضرور خبر راکړئ او په تجهيز او تکفين بيړه وکړئ، ځکه چی دا مناسبه نه ده د مسلمان مړي د هغه د کور د خلکو په منځ کی وساتل شي. ابوداؤد ص ۹۴ ج ۲.

(دويم حديث) "عن عبد الله بن عمر رضی الله عنه قال سمعت النبی صلی الله عليه وسلم يقول اذا مات احدكم فلا تحبسوه واسرعوا به الی قبره وليقرأ عند رأسه فاتحة البقرة وعند رجليه بخاتمة البقرة" (رواه البيهقی).

له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چی ما له محمد صلی الله عليه وسلم نه اوريدلی دي چی کله له تاسو نه څوک مړ شي نو هغه مه ساتئ او ډير ژر يی خپل قبر ته ورسوئ، د هغه له خښولو نه وروسته د هغه د سر په طرف د سوره بقره ابتدائي ايتونه تر مفلحون پوری او د پښو په طرف د سوره بقری آخري ايتونه له امن الرسول نه تر آخره پوری دی ولوستل شي (مشکواة شريف ص ۱۶۹ باب دفن الميت فصل نمبر ۳).

(دریم حدیث) "عن علی رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال یا علی ثلث لا تؤخرها الصلوٰة اذا اتت والجنازة اذا حضرت والایم اذا وجدت لها کفوا" رواه الترمذی .

ترجمه له علی رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ای علی ! په دریو ځیزونو کی تاخیر مه کوه ، یو دا چی کله د لمونځ وخت راشي ، بل دا چی کله د جنازی لمونځ حاضر شي ، دریم کله چی ناواده شوی ښځی ته د هغی کفو پیدا شي (نو فوراً نکاح یی ورسره وکړه) (مشکواة شریف ص ۷۱ باب تعجیل الصلوٰة) .

خلورم حدیث :

"عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اسرعوا بالجنازة فان تك صالحة فخیر تقدمونها الیه وان تك سوء ذلك فشر تضعونه عن رقابکم" متفق علیه .

ترجمه : له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چی محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل د جنازی په وړلو کی بیړه وکړئ ،که هغه صالح وي نو دا هغه لپاره ښه دي او که صالح نه وي نو له خپل سر نه ژر تر ژره شر لری کوئ (مسلم ، مشکواة شریف ص ۱٤٤ باب المشی بالجنازة) .

یعنی کله چی یو شخص مړ شي نو د هغه په تجهیز او تکفین کی بیړه کوئ په همدی کی د هغه عزت او احترام دی ، په حدیث کی دي چی په تجهیز او تکفین کی بیړه وکړئ ، د مسلمان مړي د هغه د کور د خلکو په منځ کی ساتل مناسب نه دي (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۳۰۹ باب احکام الجنائز) .

فقهاو دا مکروه ګرځولی ده چی د مړي جسد له یو دو میل نه زیات له یو ښار نه بل ښار ته منتقل کړی شي ، د دی څو وجوهات یی بیان کړی دي ، له هغوی نه یوه وجه یی دا بیان کړی دی چی دومره لری وړلو کی په تدفین کی تاخیر راځي ، په رسائل الارکان کی دي :

"ولاینقل المیت من بلد مات فیه الی بلد اخری لما عن جابر رضی الله عنه قال لما کان یوم احد جاءت عمتی بابی لتدفنه فی مقابرنا فنادی منادی رسول الله صلی الله علیه وسلم رد والقتلی الی مضاجعهم" رواه الترمذی وابوداؤد .الی قوله والافضل ان لا ینتقل فعلم منه ان النقل مکروه والافضل عدم النقل وایضاً فی النقل تاخیر الدفن .

یعنی مړی دې له یو ښار نه بل ښار ته منتقل نه کړی شي ، ترمذي او ابوداؤد له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی هغه وائي چې د احد د غزوې په ورځ زما ترور زما پلار (یعنی خپل ورور) یې په قبرستان کې خښول غوښتل ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم منادی اعلان وکړ چې شهیدان پخپلو شیهد شویو ځایونو کې خښ کړئ ، الی قوله ، د مړو له یوځای نه بل ځای ته نه وړل ښه کار دی ، همدغه راز له یو ځای نه بل ځای ته د مړي د وړلو په صورت کې د مړي په خښولو کې تاخیر او وروسته والی راځي . (رسائل الارکان ص ۱۵۹ ، ۱۶۰ فصل فی سجودة التلاوة) .

نو څکه ښه او غوره صورت دا دی چې څومره ژر وشي په تدفین کې دې بیړه وکړی شي څکه چې پدی کې د مړي احترام او عزت دی ، د خپلوانو او نورو په خاطر د مړي په ساتلو کې تاخیر راځي او تاخیر مناسب نه دی ، فقهاؤ خو تر دې لیکلي دي : "وکره تاخیر صلوته ودفنه لیصلی علیه جمع عظیم بعد صلواة الجمعة" یعني دی مقصد لپاره جنازی په لمونځ کې تاخیر کول چې له جمعې لمونځ نه وروسته د جنازې لمونځ لپاره خلک زیات وي مکروه دی (درمختار مع رد المختار ج ٦ ص ۸۳۳ مطلب فی حمل المیت . فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۳٦۸) .

له پورتینی مضمون څخه ثابت شو چې کله ستاسي په کلی کې مړ شوی وي نو بهتر کار دا دی چې ستاسي په کلي کې دې دفن کړی شي او بل ښار ته منتقل نه کړی شي (درمختار ص ۸۴۰ ج ۱) (کبیری شرح منیه ص ۵٦۳ فصل فی الجنائز) (رسائل الارکان ص ۱۵۹، ۱٦۰) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۳۳۷ کتاب الجنائز) دا ټولې حوالې په تیرو پاڼو کې راغلی دي .

که چیرته د مړي خپلوان په دې خبره په ضد وي چې مړي خپل کلي ته وړي نو په دې صورت کې بهتر دا دی چې په دغه کلي کې د هغه جنازې لمونځ ونه لوستل شي

، خکه چې د هغه د خپلوانو د اصرار مقصد دا دی چې د جنازی لمونځ یې همغلته ولوستل شي او که ستاسی په کلي کی هم ولوستل شي نو د شرعي قیودو رعایت نشي کیدلی ، یا خو انتشار پیدا کیږي او یا هم د جنازی د لمونځ تکرار مخې ته راځي ستاسی د کلي خلک دی د مړي لپاره د بخښنی دعا ګانی وغواړي او څوک چې له مړي سره وطن ته تلل شي نو هغه دی د مړي له خپلوانو سره د جنازی لمونځ ادا کړي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د مسلمانانو په قبرستان کی د روافضو خښول :

(۷۱ سوال) د دین علماء او مفتیان د لاندینی مسئلی په باره کی څه فرمایي :
د سنیانو یو قبرستان دی چې د هغه د انتظام چاری د عدالت له طرف نه سني مسلم وقف کمیټي په نوم یوه کمیټي ته سپارل شوی دی ، ایا په داسی قبرستان کی له مسلمانانو نه علاوه یعنی له سنیانو نه پرته مثلاً شیعه او د نورو فرقو د مړي خښولو اجازه شته او که نه ؟ که چیرته پورتنی کمیټي د دوی د خښولو اجازه ورکوي نو جائز دي او که نه ؟ له معتبرو کتابونو په حوالو سره ځواب راکړئ ، بینوا توجروا .
ځواب : وبالله التوفیق : روافض او شیعه ګانو کی مختلفو عقیدو والا فرقی موجودی دي، ځینی هغه دي چې هغوی حضرت علي رضی الله عنه د لومړی خلیفو کیدو مستحق ګني ، مګر په نورو اصحابو کرامو رضی الله عنهم باندی تبری نه کوي ، دا فاسق او مبتدع دی خو له اسلام نه خارج نه دی ، د هغوی د جنازی لمونځ لوستلی شئ او هغوی د مسلمانانو په قبرستان کی خښول هم جائز دي ، لیکن د هغوی ځای دی جلا کړی شي ، ځینی یکی داسی خلک شته چې حضرت علي رضی الله عنه خپل معبود ګني (معاذ الله) ځینی یکی هغه دي چې د هغوی عقیده دا ده چې حضرت جبریل علیه السلام د وحي په راوړلو کی غلطي کړی دی ، د دی پر ځای چې حضرت علي رضی الله عنه ته راوړي محمد صلی الله علیه وسلم ته راوړ ، ګویا د هغوی په نزد د نبوت او رسالت اصلي حقدار معاذ الله علی رضی الله عنه و ، ځینی یکی داسی دي چې په حضرت عائشه رضی الله عنها باندی تهمت لګوي ، ځینی یکی داسی دي چې اصحاب کرام رضی الله عنهم له سره مسلمان نه ګني او ورته کافر او مرتد وائي ، د داسی خلکو د جنازی لمونځ جائز نه دی او د مسلمانانو په قبرستان کی هم د هغوی خښول جائز نه دي .

"الرافضی اذا یسب الشیخین ویلعنهما والعیاذ بالله فهو کافر وان کان یفضل علیاً کرم الله وجهه علی ابن ابی بکر رضی الله عنه لایکون کافراً الا انه مبتدع . الی قوله . من انکر امامة ابی بکر الصدیق رضی الله عنه فهو کافر علی قول بعضهم هو مبتدع ولیس بکافر والصحیح انه کافر وکذلك من انکر خلافة عمر رضی الله عنه فی اصح الاقوال کذا فی الظهیریة" (فتاوی عالمگیری ج ۲ ص ۲۶٤ کتاب السیر مطلب موجبات الکفر انواع منها ما یتعلق بالانبیاء علیهم الصلواة والسلام) .

او په شامي کی دي :

"نعم لاشك فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة علی رضی الله عنه او ان جبرئیل غلط فی الوحی" (شامی ج ۳ ص ٤٠٥ کتاب الجهاد مطلب مهم فی حکم سب الشیخین) .

د هری فرقی معلومول مشکل کار دی ، کوم خلك چی خپل ځانو ته روافض او شیعه وائي هغوی نه دی د مسلمانانو په قبرستان کی د ښخولو اجازه ورنکړی شي ، په همدی کی احتیاط دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

په قبر کی د مړي د ښخولو نه وروسته د خامو خښتو یا تختو له اینښودلو نه بغیر خاوره اچول څنګه دي ؟

(۷۲ سوال) زمونږ په علاقه کی د مهدویه فرقی څه خلك دي ، کله چی زمونږ په علاقه کی مړی کیږي نو مونږ په عمومي توګه صندوقي قبر جوړوو ، په قبر کی د مړي له ښخولو نه وروسته د قبر په سر تختی ږدو او بیا وربانـدی خاوره اچوو د مهدویه فرقی خلك زمونږ دغه کار له سنت نه خلاف بولي ، د هغوی طریقه دا ده چی په قبر کی د مړي له ښخولو نه وروسته له ټولو نه وړاندی دهغوی پیر صاحب خاوری اچوي ، لدینه وروسته نور خلك په بیلچي سره ښه په تیزی سره په مړي باندی خاوره اچوي او قبر له خاوری نه ډکوي .هغوی خپل دغه کار ته صحیح او سنت طریقی سره برابر بولي ، او زمونږ طریقی ته غلط او له سنت نه خلاف وائي ، مونږ هغوی ته وایو چی مونږ په کومی

طريقى سره سري خښوو او ورباندى خاوره آچوو هغه صحيح او سنت سره برابره ده په دى كى د مړي احترام دى ، مگر هغوى يحپل طريقه باندى اصرار كوي او د غزواتو واقعات وړاندى كوي چى شهيدان به په يو قبر كى خښول كيدل ، هلته چيرته پښى ختنى يا تختى ايښودل كيدلى ؟ هغوى دا هم وائي چى كفن بايد خيرن كړى شي ، پر هغه چى خاوره واچول شي نو هغه پخپله خيرنيږي ، ستاسى له محترم څخه هيله ده چى په دى باره كى مونږ ته لارښودنه وكړئ او مدلل ځواب وليكئ ، بينوا توجروا
ځواب لحد (بغلي) او شقي (صندوقي) قبرونه دواړه جائز دي كه زمكه سخته وي نو د لحد (بغلي) قبر جوړول افضل دي او په نرمه زمكه كى د شقي (صندوقي) قبر د جوړولو كى څه حرج نشته ، قبر لحد جوړ كړى شي يا شقي طريقه دا ده چى په قبر كى د مړي د خښولو نه وروسته كچه خښتى يا بانس ورباندى كيښودل شي او كه شقي قبر وي نو په قبر كى د مړي له خښولو نه وروسته دى ورباندى له كچه خښتو يا تختو نه چت جوړ كړى شي تر څو د خاورى اچولو په وخت كى په مړي باندى خاوره ونه غورځيږي ، د محمد صلى الله عليه وسلم په قبر باندى هم همداسى خښتى ايښودلى شوى وى .
په مسلم شريف كى حديث دى :
"حدثنا يحيى .... ان سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه قال فى مرضه الذى هلك فيه الحدو الى لحداً وانصبوا على اللبن نصباً كما صنع برسول الله صلى الله عليه وسلم" .
حضرت سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه پخپل مرض الموت كى وفرمايل : زما لپاره لحد (بغلي قبر) جوړ كړئ او زما په قبر كى خښتى ودروئ څنگه چى د رسول الله صلى الله عليه وسلم په قبر كى ودرول شوي دي ، (مسلم شريف ج ۱ ص ۳٦۱ كتاب الجنائز فصل فى استحباب اللحد (مشكواة شريف ص ١٤٨ باب دفن الميت) .
د مسلم شرح نووي كى دي :
"فى استحباب اللحد ونصب اللبن وانه فعل ذلك برسول الله صلى الله عليه وسلم باتفاق الصحابة رضى الله عنهم" .

لدى حديث نه ثابتيږي چې دلحد قبر جوړول او پر هغه كې خښتې ودرول مستحب دي او د اصحابو كرامو رضى الله عنهم په اتفاق له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره هم همداسې وشو (نووي شرح مسلم ج ۱ ص ۳۱۱) .

له دغه پورتني حديث او د علامه نووي رحمه الله له تشريح څخه ثابتيږي چې سنت طريقه دا ده چې د لحد په قبر كې خامې خښتې ودرول شي تر څو په مړي باندې خاوره ونه غورځيږي او دا دمړي احترام هم دى او دا طريقه په تواتر سره روانه ده ، لهذا لدينه مخالفت كول نه دي پكار ، پاخه خښتې او تختې دى وربانـدى كينښودلى شي ځكه چې هغه په اور كې پاخه شوى دي او له مړي نـه د هغـوى لـرى كـول ښـه كار دى .

په درمختار كې دي :

"ويسوى اللبن عليه والقصب لا الاجر المطبوخ والخشب" .

په شامي كـې دي : "(قوله والقصب) قال فى الحلية وتسد الفرج التى بين اللبن والمدد بالقصب كى لاينـزل التراب منها على الميت" .

يعنى په قبر كې دى خامې خښتې او بانس كيښودلى شي ، پاخه خښتې او تختې دى ونه لګولى شي ، په حليه كې دي چې د خښتو تر منځ كوم سورى وي هغه دى په ختمو سره بند كړى شي تر څو په مړي باندى خاوره ونه غورځيږي .

درمختار و شامى ص ۸۳۷ ج ۱ مطلب فى دفن الميت

فقهاو دا وضاحت د حديث په رڼا كې كړى دى ، كبيرى شرح منيه كې دي :

"وفى فتاوى قاضى خان والسنة فى القبر اللحد وان كانت الارض رخوة فلابأس بالشق انتهى والاصل فيه قوله عليه الصلواة والسلام اللحد لنا والشق لغيرنا رواه ابوداؤد والترمذى . الى قوله . واخرج مسلم عن سعد بن ابى وقاص انه قال فى مرضه الذى مات فيه الحد والى لحداً وانصبوا على اللبن نصباً كما صنع برسول الله صلى الله عليه وسلم روى ابن حبان فى صحيحه عن جابر انه عليه الصلواة والسلام الحدو نصب عليه اللبن ورفع قبره من الارض نحو شبر واللحد ان يحفر فى جانب القبلة من الارض حفيرة فيوضع فيه الميت وينصب عليها اللبين . والشق ان

یحفر حفیرة کالنهر ویبنی جانباها باللبن او غیره ویوضع المیت بینهما ویسقف علیه اللبن او الخشب" (کبیری ص ۵۹۵ فصل فی الجنائز).

په عمدة الفقه کی دي چی کله مړی په قبر کی کینودلی شي نو لحد دی په خښتو یا تختو سره بند کړی شي او د خښتو تر منځ چی کوم سوري پاتی شي هغه دی په ختې سره بند کړی شي تر څو په مړي باندی خاوره ونه غورځیږي . د لحد د بندولو لپاره د بانس استعمال هم د خامو خښتو پشان مستحب دی (عمدة الفقه ص ۵۳ ج ۲).

له پورتنیو حوالو څخه ثابت شو چی په لحد او قبر کی دی مړی داسی دفن کړی شي چی خاوره سیده په مړي باندی ونه غورځیږي ، په دی کی د مړي احترام دی څرنګه چی د قرآن کریم د بوسیده او زړو پاڼو د ښخولو طریقه دا ده چی لحد دی جوړ کړی شي تر څو ورباندی خاوره ونه غورځیږي او که صندوقي قبر جوړ کړی شي نو په قرآن کریم باندی خاوره غورځیږي او دا یو قسم د قرآن کریم تحقیراو سپکاوی دی څو که ورباندی له تختو نه چت جوړ کړی شي او بیا ورباندی خاوره واچولی شي نو بیا څه بدي نشته لکه چی د عالمګیري په فتاوی کی دي :

"المصحف اذا صار خلقاً لایقرؤ یخاف ان یضیع یجعل فی خرقة طاهرة ویدفن اولی من وضعه موضعاً یخاف ان یقع علیه النجاسة او نحو ذلك ویلحد له لانه لوشق ودفن یحتاج الی اهالة التراب علیه وفی ذلك نوع تحقیر الا اذا جعل فوقه سقف بحیث لا یصل التراب الیه فهو حسن ایضا کذا فی الغرائب" (فتاوی عالمګیری ج ۵ ص ۳۲۳) (درمختار شامی ص ۱۶۵ فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۸٤۸۳ حاشیه)

د نوي ترتیب په مطابق کتاب الایمان کی مایتعلق بالقرآن والتفسیر باب کی د قرآن شریف د بوسیده صفحو څه حکم دی ؟ تر عنوان لاندی وګورئ ج ۳ ص ۱۲ ، مرتب .

د غزواتو معامله جلا ده ، په هغه کی خو د دی خبری کوښښ کولی شي چی شهیدان دی ژر تر ژر دفن کړی شي ، په بیره د ښخولو فضیلت او ثواب هم دی ، هلته د دومره اهتمام کولو وخت چیرته وي چی د هر یو ځانله ځانله قبر جوړ کړی شي او په پوره اهتمام سره هغوی دفن کړی شي ، په غزواتو کی خو داسی واقعات هم مخی ته راغلی دي چی پوره کفن هم چاته نه دی رسیدلی که سر یی پټول نو پښی به یی لوڅیدلی او

که پښې یې پښولی نو سر یې ښکاره کیده ، د محمد صلی الله علیه وسلم په هدایت سره سر یې پټ کړ او دفن کړی شو ، لهذا که په کوم غزوه کی داسی اهتمام نه دی شوی نو له هغه نه استدلال کول صحیح نه دي .
کفن حو هسی خیرنیږي ځکه په خاوره باندی خملول کیږي پخپلو لاسونو سره د خیرنولو لپاره کوم شرعي هدایت نشته ، بلکی هدایت دا دی چی د خپل حیثیت په مطابق ښه کفن ورته وراغوندوئ او خوشبو ورته لګوئ .
"عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کفن احدکم اخاه فلیحسن کفنه" رواه مسلم .
له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چی له تاسی نه څوک خپل ورور ته کفن ورکوي نو ښه کفن دی ورته ورکړي (مشکواة شریف ص ١٤٣ باب غسل المیت وکفنه) لهذا دا استدلال هم ناقص دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

په قبر کی د مړي په ښي ډډه خملول سنت دي :

(٧٣ سوال) زمونږ په علاقه کی کله چی مړی په قبر کی کیښودل شي نو صرف مخ یی د قبلی په طرف اړوي په داسی حال کی په کتابونو کی عموماً داړخ لفظ لیدل کیږي ایا یواځی د قبلی په طرف مخ کولو سره سنت ادا کیږي او که مړی به په اړخ خملول کیږي ؟ صحیح طریقه ولیکئ ، بینوا توجروا .
ځواب : په مسئوله صورت کی سنت طریقه دا ده چی مړی دی په ښي اړخ د قبلی په طرف کیښودلی شي او شا طرف ته دی دخاوری پوله ودروي تر څو مړی وانه وړي او که د کوم عذر په وجه مړی په اړخ نشي خملولی او یوازی مخ یی د قبلی په طرف واړوي نو د دی هم ګنجائش شته ، په فتاوی عالمګیری کی دي :
"ویوضع فی القبر علی جنبه الایمن مستقبل القبلة کذا فی الخلاصة" (عالمگیری ص ١٦٣ ج ١ الفصل السادس فی القبر والدفن الخ) .
په مراقی الفلاح کی دي :
"ویوجه الی القبلة علی جنبه الایمن) بذلك امر النبی صلی الله علیه وسلم" .
په طحطاوي کی دي :

"(قوله بذلك امر النبی صلی الله علیه وسلم) علیا لما مات رجل من عبد المطلب فقال یا علی استقبل القبلة استقبالاً وقولوا جمیعا بسم الله وعلی ملة رسول الله وضعوه لجنبه ولاتكبوه، علی وجهه ولاتلقوه علی ظهره كذا فی الجوهر الخ" (مراقی الفلاح وطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۳۷ فصل فی حملها ودفنها) (الجوهرة النيرة ص ۱۱۰ ج ۱).

په امداد الفتاوی کی دي:

(سوال) ایا په قبر کی د مړي په ښي اړخ خملول سنت دي او که یواځی مخ یی قبلی ته کول کافي دي؟ د دی ځای ځینی علماء لومړی حالت ته سنت وایي، په دی کی څه تحقیق دی، او په اوله هدایه کی د یوجه الیها څه معنی ده؟

ځواب: "فی الدر المختار ویوجه الیها الی قوله وینبغی کونه علی شقه الایمن، فی رد المختار عن الحلیة، بخلاف ما اذا کان بعد اقامة اللبن قبل اهالة التراب فانه یزال ویوجه الی القبلة عن یمینه آه".

دا روایت په دی خبره صریح دلالت کوي چی مړی دی په قبر کی په ښي اړخ د قبلی په طرف خملولی شي، د هدایه عبارت یوجه الیها هم په همدی باندی محمول دی، والله اعلم بالصواب.

(سوال) مړی دی په قبر کی د قبلی په طرف په ښي ډډه خملولی شي او که یواځی مخ یی د قبلی په طرف کول کافي دي؟ زمونږ د خلکو رواج دا دی چی یوازی مخ یی د قبلی په طرف کوي، له دواړو طریقو نه کوم یوه طریقه بهتره او جائز ده؟

ځواب: پکار دا دي چی مړی دی په ښي اړخ د قبلي په طرف څملول شي.

په درمختار کی دي: "ویوجه الیها وجوباً وینبغی کونه علی شقه الایمن فی رد المختار لکن صرح فی التحفة بانه سنة" (امداد الفتاوی ص ٤٦١ ج ۱).

په عمدة الفقه کی دي: سنت دا دي چی مړی دی په قبر کی په ښي اړخ د قبلی په طرف څملول شي او د مړي ملا ته دی خښته یا خاوره تکیه کړي تر څو په همدی اړخ قائم پاتی شي او بیرته وانه وړي دا چی یواځی مخ یی قبلی ته کوي نو دا کار له متوارثه سنت نه خلاف دی، او په دی ترتیب لږ غوندی وروسته مخ یی بیرته آوړي پس

له داسی کولو نه ډډه کول او د سنت په طریقه باندی عمل کول ضروري دي ځکه چی په احادیثو کی د مړي په سمه تخته اچولو نه منع راغلی ده ، (عمدة الفقه ص ۵۳۱ ج ۲ فقط والله اعلم بالصواب) .

د مړي له خښولو نه وروسته د قبر په خاوره باندی اوبه شیندل ښکه دي ؟

(۷۴ سوال) د مړي له خښولو نه وروسته د قبر په خاوره د اوبو شیندل ښکه دي ؟ ایا په شریعت کی د دی‌څه ثبوت شته ؟ که کوم وخت د قبر خاوره خواره واره شي ایا دهغه د یوځای کولو په خاطر د اوبو شیندل جائز دي ، ډیر خلک د جمعی په ورځ په قبرونو باندی اوبه آچوي د دی څه حکم دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : دی لپاره چی دقبر خاوره کلکه شي او دقبر حفاظت وشي د اوبو څنکاو کول نه یواځی دا چی جائز دي بلکی مستحب دي ، دا له محمد صلی الله علیه وسلم نه ثابت دي ، د قبر له سر طرف نه دی شروع کړي او تر پښو پوری دی ورسوي ، وروسته که چیرته د قبر خاوره خواره واره شوی وي د خاوری یوځای کول او بیا د هغی د سختولو او کلکولو لپاره د اوبو څڼکاو کول څه بد کار نه دی ، دا چی هره پنجشنبه یا هره جمعه د اوبو د څنکاو کولو اهتمام کیږي په شریعت کی د دی څه ثبوت نشته .

په حدیث کی دي :

"عن جعفر بن محمد عن ابیه مرسلاً ان النبی صلی الله علیه وسلم حثی علی المیت ثلث حثیات بیدیه جمیعاً وانه رش علی قبر ابنه ابراهیم الخ" .

حضرت جعفر صادق له خپل پلار محمد او هغه له خپل پلار امام باقر څخه مرسلاً روایت کوي چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم پخپلو دواړو مبارکو لاسونو د مړي په قبر دری لپه خاوره واچوله ، او محمد صلی الله علیه وسلم د خپل زوی ابراهیم په قبر باندی اوبه څنکاو وکړه (مشکواة شریف ص ۱۴۸ باب دفن المیت) .

په یو بل حدیث کی دي :

"عن جابر رضی الله عنه قال رش قبر النبی صلی الله علیه وسلم وکان الذی رش الماء علی قبره بلال بن رباح بقربة بدأ من قبل رأسه حتی انتهی الی رجلیه" .

حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په قبر مبارک باندی اوبه چڼکاو کړی شو ، بلال بن رباح رضی الله عنه د هغه صلی الله علیه وسلم د سر له طرف نه تر پښو مبارکو پوری مشک چڼکاو کړ (مشکواة شریف ص ۱٤۹ فصل حملها ودفنها) .

همدغه راز په حدیث کی دي :

"عن ابن رافع قال سل رسول الله صلی الله علیه وسلم سعداً ورش علی قبره" رواه ابن ماجه (مشکواة شریف ص ۱٤۹) .

په درمختار کی دي : "(ولابأس برش الماء علیه) بل ینبغی ان یندب لانه صلی الله علیه وسلم فعله بقبر سعد کما رواه ابن ماجه وبقبر ولده ابراهیم کما رواه ابوداؤد فی مراسیله وامر به فی قبر عثمان بن مظعون کما رواه البزار فانتفی ما عن ابی یوسف من مکراهته لانه یشبه التطین حلیة" (درمختار وشامی ج ۱ ص ۷۳۸ مطلب فی دفن المیت) .

په غایة الاوطار کی دي چی د قبر په خاوره باندی د اوبو په چڼکاو کولو کی هیڅ مضائقه او بدي نشته ، بلکی د اوبو چڼکاو ته مستحب ویل بهتر دي ، ځکه چی محمد صلی الله علیه وسلم د حضرت سعد رضی الله عنه او خپل زوی ابراهیم رضی الله عنه د قبر په خاوره باندی اوبه چڼکاو کړی وه لکه چی د ابن ماجه او ابوداؤد په مراسیلو کی روایت شوی دی (غایة الاوطار ترجمه درمختار ج ۱ ٤۲۱) فقط والله اعلم بالصواب

که چیرته په قبر کی د مړي مخ د قبلی په طرف ونه کړی شي نو ؟

(۷۵ سوال) زمونږ په علاقه کی دا رواج دی چی د ماشوم له تجهیز او تکفین نه وروسته په صندوق کي ږدو ، د پنځو میاشتو یو ماشوم وفات شو ، دا چی غسل ورکونکي هغه په صندوق کی څنګه کینود ما ته یی څه ونه ویل ، له خښولو نه وروسته معلوم شو چی په صندوق کی د ماشوم مخ د قبلی په طرف نه و کړی ، اوس خلک په دی باندی

قسم قسم خبرې کوي ، ایا په دی کار سره مونږ ته ګناه شوی ده او که نه ؟ بینوا توجروا

خواب : دمړي مخ قصداً د قبلی په طرف نه کول د ګناه موجب دی ، خو که سهواً داسی شوی وي نو په دی کی څه حرج نشته ، که چیرته په قبر باندی له خاوری اچولو نه وروسته معلوم شي چی د مړي مخ قبلی ته نه دی شوی نو قبر دی خلاص کړی شي او مخ دی ورته دقبلی په طرف کړي ، خو د خاورې له اچولو نه وروسته د قبر خلاصول ګناه ده

"لو دفن مستدبر الها واهالو التراب لاینبش لان التوجه الی القبلة سنة والنبش حرام بخلاف ما اذا کان بعد اقامة اللبن قبل اهالة التراب".(شامی ج ۱ ص ۸۳۷ مطلب فی دفن المیت) فقط والله اعلم بالصواب .

د جنازی د وړلو په متعلق باب

که چیرته د جنازی د وړلو په وخت د مړي پښی د قبلی په طرف وي نو د دی څه حکم دی ؟

(۷٦ سوال) د مړي جنازه مو قبرستان ته وړو مګر قبرستان د مشرق پـه طـرف دی کلـه چی د غرب له طرف نه جنازه وړو نو پښی یی د قبلی په طرف کیږي او مـخ یی د مشرق په طرف ، نو د دی څه حکم دی ؟ ایا د قبلی په طرف د مړي د پښی په کیدلو سره بـی ادبي خو نه کیږي ؟

ځواب : که چیرته د جنازی د وړلو په وخت په لاره کی د مړي پښـی د قبلـی پـه طـرف شي نو په دی کی څه حرج نشته ځکه چی دا مجبوریت دی او په دی سره د قبلی بـی ادبي نه کیږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

ایا د جنازی په کټ باندی د مړي د اچولو لپاره مړی په خر اچولي شو او که نه ؟

(۷۷ سوال) که چیرته په کور کی خر موجود وي او د جنازی په کـټ بانـدی د اچولـو لپاره په خر باندی مړی واچوو نو ایا داسی کول جائز دي او که نه ؟

ځواب : د جنازی په کټ کی د مړي د اچولو لپاره د خر یا د پوزی ضرورت نشته بلکـی له کفن نه ونیسئ او د جنازی په کټ کی کیږدئ همدغه راز بیا له کفن نه ونیسـئ او پـه قبر کی کیږدئ ، که کله ضرورت مخی تـه راشـي نـو دخـادر ، سترنجی او داسـی نـور خیزونه هم دمړي د اوچتولو لپاره استعمالولی شئ ، بیا هغه بیرتـه پخپـل اسـتعمال کـی هم راوستلی شئ ، د خیراتولو ضرورت یی نشته ، دا عقیـده غلطـه ده ، فقـط والله اعلـم بالصواب .

له نژدی لاری نه د مړي وړل ښه کار دی :

(۷۸ سوال) په حدیث کی جنازی ته تر څلوېښتو قدمونو پوری د اوږی ورکـول فضیلت راغلی ، د دغه فضیلت د حصول لپاره نژدی لاره پریښودل او په لـری لاره بانـدی تلـل څه حکم لري ؟ نن سبا زیاتره همداسی کیږي چی کله په جنازه کی خلک زیـات وي او هر یو ته د جنازی کټ ته د اوږه ورکولو فرصت پیدا شي نو دی مقصـد لپـاره پـه اوږده

لاره باندی جنازه وړو او کلي په کلي جنازه ګرځـوو ا و قبرسـتان تـه یې وړو ، د دی پـه متعلق د شریعت څه حکم دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب بیشکه چې د جنازی کټ ته اوږه ورکول او لس لس قدمه تلل زیات فضیلت او ثواب لري ، په حدیث کی دي : "من حمل جنازة اربعین حظوة کفرت عنه اربعـین کبیرة" یعنی کوم سړی چې څلویښت قدمه د جنازی کټ اوچت کړې د هغه څلویښـت ګناهونه بخښل کیږي (بحواله مراقی الفلاح مع طحطـاوي ص ۳۳۱ فصـل فـی حملـها ودفنها) .

مګر لدینه هم زیات تاکیدي حکم دا دی کله یو څوک مړ شي نو دهغه د تجهیز ، تکفـین او د جنازی امونځ لپاره دی بیړه وکړی شي ، په مراقی الفلاح کی دي :

"واذ تیقن موته (یعجل بتجهیزه) اکراماً له لما فی الحدیث اهله الخ" .

یعنی کله چې د یو سړي مرګ یقیني شي نـو د هغـه د تجهیـز او تکفـین کـی دی بیـړه وکړی شي د هغه د عزت په وجه .

په حدیث کی دي چې د هغه په کفن او دفن کی بیړه وکړئ ، ځکه چې دا مناسـب نـه دي چې د مسلمان لاش د هغه د کور د خلکو په منځ کی پروت وي (مراقی الفلاح مـع طحطاوی ص ۳۰۹ باب احکام الجنائز) (در مختار مع شامي ج ۱ ص ۷۹۹) .

او کله چې جنازه روان کړئ نو هغه وخت دا حکم دی چې جنـازه پـه داسـی طریقـه یوسئ چې د مړي کټ اخوا دیخوا نشي او ټکانونه ونه خوري ، پـه حـدیث کـی دي :

"اسرعوا بالجنازة فان تلك صالحة فخیر تقدموها وان تلك سوء ذلك فشر تضعونه عن رقابکم متفق علیه" .

یعنی جنازه په بیړه بوځئ که هغه صالح وي نو په دی کی هغـه لپـاره خـیر دی ، او کـه هغه صالح نه وي نو د خپلی غاړی نه په بیړه شر لـری کـوئ (مشـکواة شـریف ص ۱۶۶ باب المشی بالجنازة) همدغه راز په حدیث کـی دي : "اذا وضـعت الجنـازة فاحتملها الرجال علی اعناقهم فان تلك صالحة قالت قدمونی وان کانت غیر صالحة قالت لاهلها یاویلها این تذهبون بها یسمع صوتها کل شئ الا الانسـان ولوسمـع الانسان لصعق" رواه البخاری .

يعنى كله چې خلک جنازه پر خپلو اوږو اوچتوي نو که هغه صالح وي نو وائـي چـې ما ژر ژر ورسوئ او که صالح نه وي نو وائي چې های افسوس ما چیرته وړئ ، دغه آواز لـه انسان نه علاوه ټول مخلوق اوري ، که چیرته دا آواز انسان واوري نو د هغـه هـوش بـه پاتی نشي (مشکواة شریف ص ١٤٤ باب احکام الجنائز) .

له مذکوره احادیثو نه ثابتیږي چې مړی دی ژر ژر خپل اصلي ځـای تـه ورسـول شـي . فقهاو لیکلي دي چې دی مقصد لپاره د جنازی په لمونځ کی وروسته والی کول چې که چیرته د جمعی د ورځی له لمونځ نه وروسته د جنازی لمونځ ولوستل شي نو ډیر خلـک به پکی ګډون وکړي نو داسی کول مکروه دي .

په درمختـار کـی دي : "وكره تاخير صلاته ودفنه يصلى عليه جمع عظيم بعد صلواة الجمعة" (درمختار ج ١ ص ٨٣٣ مطلب فى حمل الميت) .

د شریعت په رڼا کی دا خبره ښه ذهن ته راتلی شي چې جنازه لـه نـږدی لاری نـه وړل غوره دي ، له شرعي عذر نه پرته نږدی لاره پریښودل او په لـری لاره بانـدی د جنـازی وړل او په کلیو کی د ګرځولو رواج ښه نه دی او بل دا چې مړی هم په کټ کی زیات خوځیږي او راخوځیږي چې د شریعت په نظر کی ښه کار نه دی .

د تعزيت او غمرازي مسائل

د تعزيت مسنونه طريقه او د خط په ذريعه تعزيت كول :

(۷۹ سوال) د تعزيت مسنونه طريقه څه ده ؟ او د دی وخت تر څو ورځو پوری دی ، او په كومو الفاظو دی تعزيت وكړی شي ؟ كه چيرته كوم سړی ډير لری وي يا د كوم مجبوريت له كبله پخپله حاضر نشي او د خط په ذريعه تعزيت وكړي نو ايا داسی كولی شي ايا دی لپاره څه ثبوت شته او كه نه ؟ هيله ده چی په دی مسئله كی مونږ ته لار ښوونه وكړی . فقط بينوا توجروا

ځواب : د تعزيت سنت طريقه دا ده چی له تدفين نه مخكی يا وروسته د هغه كور خلكو خوا ته لاړ شي او تسلي ورته وركړي ، حوصله يی ورته اوچته كړي ، د صبر او زغم كولو نصيحت ورته وكړي ، د هغوی او د مړي په حق كی دعا وكړي .

د تعزيت د فضيلت په باره كی زيات احاديث راغلي دي ، په يو حديث كی دي : "عن النبی صلی الله عليه وسلم انه قال ما من مؤمن يعزی اخاه بمصيبة الا كساه الله سبحانه من حلل ا لكرامة يوم القيامة" .

يعنی كوم سړی چی د مصيبت او پريشاني په وخت كی خپل ورور ته تسلي وركړي او له هغه سره تعزيت وكړي نو د قيامت په ورځ الله تعالی هغه ته د بزرګی او كرامت جامی اغوندوي (ابن ماجه شريف ص ۱۱٦ باب ما جاء فی ثواب من عزی مصاباً) .

همدغه راز په يو بل حديث كی دي : "من عزی مصاباً فله مثل اجره" كوم سړی چی له مصيبت وهلي سړي سره تعزيت وكړي ، الله تعالی هغه ته دومره ثواب وركوي څومره چی مصيبت وهلي ته وركوي (د هغه د صبر كولو په وجه) ترمذي شريف جلد ۱ ص ۲۷ (باب ما جاء فی اجر من عزی مصاباً) همدغه راز په يو بل حديث كی دي : "قال رسول الله صلی الله عليه وسلم من عزی ثكلی كسی برداً فی الجنة" رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چی كوم سړی د يوی داسی ښځی سره تعزيت وكړي چی د هغوی ماشوم مړ شوی وي نو هغه ته په جنت كی څادر ورآغوستل كيږي (ترمذي ج ۱ ص ۱۲۷ باب آخر فی فضل التعزيه) .

د تعزیت الفاظ او د هغه مضمون الفاظ معلوم نه دي ، د صبر او تسلی لپاره چی کوم الفاظ زیات موزون وي هغه جملې دی ووائي ، خو غوره دا ده چی دا جمله ووائي "ان لله ما اخذ وله ما اعطی وکل عنده لاجل مسمی فلتصبر والتحسب" یعنی الله تعالی چی له تاته څه واخستل هغه هم د الله و او څه یی چی درکړی دي هغه هم د هغه ملکیت دی د هر یو څیز وخت له هغه سره لیکل شوی دی (مطلب دا چی د مرحوم ژوند له پخوا نه ټاکل شوی و) نو صبر وکړه او د ثواب امید وساته (مشکواة شریف ص ۱۵۰ باب البکاء علی المیت) .

په یو حدیث کی دا الفاظ هم راغلي دي : "اعظم الله اجرك واحسن عزاءك وغفر لمیتك" الله تعالی دی تاته لوی اجر درکړي او ستا د صبر بهترین ثواب دی درکړي او ستا مړي دی وبخښي ، که چیرته غیر مکلف وي نو آخري جمله دي نه وائي (کبیری) (درمختار ج ۱ ص ۸۴۳ مطلب فی الثواب علی المعصیه) .

که چیرته مجبوري وي ، یا ډیر لری وي او پخپله نشي راتلی نو د خط په ذریعه تعزیت کول هم د سنت طریقه ده ، محمد صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د هغه د زوی د وفات په وخت تعزیتي خط لیکلی و ، دهغه صلی الله علیه وسلم هغه خط په حصن او حصین کی دی چی مونږ دلته رانقلوو .

"وکتب النبی صلی الله علیه وسلم الی معاذ یعزیه فی ابن له . بسم الله الرحمن الرحیم من محمد رسول الله الی معاذ بن جبل سلام علیك فانی احمد الیك الله الذی لا اله الا هو اما بعد فاعظم الله لك الاجر والهمك الصبر ورزقنا وایاك الشكر فان انفسنا واموالنا واهلینا واولادنا من مواهب الله عزوجل الهنیة وعواریه المستودعة نمتع بها الی اجل معدود ویقبضها لوقت معلوم ثم افترض علینا الشكر اذا اعطی والصبر اذا ابتلی فكان ابنك من مواهب الله الهنیة وعواریة المستودعة متعك به فی غبطة وسرور قبضه منك باجر كبیر . الصلواة والرحمة والهدی ان احتسبت فاصبر ولایحبط جزعك اجرك فتندم واعلم ان الجزع لایرد شیئاً ولا یدفع حزناً وماهو نازل فمكان قد والسلام" .

نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنـه تـه د هغـه د زوی د وفات په وخت د تعزیت لپاره په یو خط کـې ولیکـل : بسـم الله الـرحمن الـرحیم د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم له طرف نه دمعاذ بن جبل په نوم . پر تـا دی سـلامتي وي . زه ستا په وړاندې د الله تعریف کوم چې له هغه نه علاوه بل معبود نشته ، له حمـد او ثنا نه وروسته الله تعالی دی تا ته لوی اجر درکړي او د صبر کولو قوت درته په نصـیب کړی ، مونږ او تاسو ته دی الله د شکر کولو توفیق په برخه کړی ، ځکه چې بیشکه زمونږ مالونه ، زمونږ میرمنی او زمونږ اولادونه ټول د لـوی او برتـر الله عطیـی او دعاریـت پـه توګه یی مونږ ته سپارلي شوي څیزونه دي چې مونږ ته ئړ یوی مخصوصی مودی پـوری د ګټې اوچتولو فرصت او موقع راکړی دی او په تـاکلي وخـت کـی لـه مونـږ نـه بیرتـه اخلي ، بیا یې پر مونږ دا فرض ګرځولي دي چې کله هغه جل جلاله مونږ ته راکـړي نـو شکر یې ادا کړو او کله چې هغه پر مونږ ازمیښت وکړي (هغـه واپـس واخلـي) نـو صـبر وکړه ، ستاسی زوی هم د الله تعالی له دغو ښکلو نعمتونو او سپارل شوي امانتونو څخـه یو امانت و ، الله تعالی ستاسو ته له هغه نه ګټه ورسوله او اوس هم د لوی اجر ، رحمـت ، مغفرت او هدایت په بدله کی هغه له تانه اوچت کـړ ، کـه تـه ثـواب غـواړی نـو صـبر ورباندی وکړه ، هسی نه چیرته ستا بی صبري (او ژړا فریاد) ستا ثواب ختم نـه کـړي ، بیا به پښیماني کوی ، په یاد وساته چې ژړا فریاد هیڅ یو څیز تاته نه واپـس کـوي او نـه هم غم او درد لری کوي ، کوم څیز چې کیدونکی دی هغـه ضـرور کیـږي او څـه چـې کیدو والا و هغه وشو . والسلام .

(حصن حصین ص ۱۸۰ پنځم منزل دوشنبه)

ما هم لاندینی تعزیتی خط د خپل پخواني مخلص دوست مرحوم جنـاب منشـي عیسـی کاوي ته د هغه د زوی حافظ احمد د وفات په وخت کی لیکلی و :

مکرم او محترم جنـاب .... صاحب رزقکم الله صبراً جمیلاً واجراً جــزیلاً لـه مسنون سلام نه وروسته ستاسی د زوی په وفات خفه شوم ، ستاسی د خط له مضـمون نـه زما طبیعت ډیر متاثر شو او له سترګو نه می پخپله اوښکې روانـی شـوی ، انا لله وانا الیه راجعون . ماشاء الله کان وما لایشاء لایکون غفر الله له واسکنه جنة الفــردوس وافاض علیه شآبیب غفرانه وادعوا الله تعالی ان یفرغ علی قلوبکم صبراً جمـیلاً

وعلی من فقدتم اجراً جزیلاً بلطفه ورحمه آمین بحرمة سید المرسلین صلی الله علیه وسلم .

زما وروره دنیا ته هر راغلی څیز یـوه ورځ لـه دی دنیـا نـه ځـي او د الله تعـالی حتمـی فیصله ده .

کـــل نفس ذائـــقة المـــوت

وکـــل روحٍ مارزة الفوت

د ژوند ساګاني شمارل شوي او د مرګ وخت ټاکل شـوی دی ، ستاسـی زوی لـه تاسـی سره امانت و چی ورته دی واپس کړ . ان لله ما اخذ وله . ما اعطی وکل عنده باجل مسمی فلتصبر والتحسب هغه جل جلاله چی درنه څه واخست هغه د همغه و او څـه چی درته درکړی دي هغه هم د همغه دي ، د هر څیز لپاره له هغه سره ټـاکلی وخـت دی صبر غوره کړه او د ثواب امید وساته ، یو عربي شاعر وائي :

. لا تقل فیما جری کیف جری

کـــل شیئ بقضــــــاء وقدر

څه چی شوی دي د هغه په متعلق دا مه وایه چی دا څنګه وشو ، هر څیز د قضا او قـدر په موافق کیږي ، په یو روایت کی دي چی کله آدم علیه السلام له جنت نه وویستل شـو نو د الله له طرف نه ارشاد وشو ای آدمه ! د فنـا کیـدو لپـاره ماشـومان او پیریـان دي او خرابیدو لپاره کورونه دي .

یو عربي شاعر د دی ډیر ښه نقشه ویستلی ده :

الا یا ساکن القصر المعــــلی

ستدفن عن قریب فی التراب

ای په اوچتو قصرونو کی اوسیدونکو خلکو هوښیار اوسئ ډیـر ژر تاسـی پـه خـاوره کـی خښیدونکی یی .

له ملك ینادی کـــــل یوم

لدوا اللموت وابنوا للخراب

پرښته هره ورځ آواز کوي چې د مړ کیدو لپاره ماشومان پیدا کړئ او خرابیدو لپاره کورونه جوړ کړئ .

قلیل عمرنا فی دار دنیـــا

مرجعنا الی بیت التراب

تاسی د خپل زوی صحت او شفا لپاره په دعا او دوا کـی هیڅ کمـی ونکـړ مګـر تهاکلی وخت رارسیدلی و .

د حضرت معاویه رضی الله عنه ارشاد دی :

واذا لمنية انشبت اظفارها

القيت كل تميمة لاتنفع .

کله چې مرګ خپلی پنجی خښی کړي نو هیڅ تعویذ او علاج ګټه نشي رسولی لهـذا په الهي مشیت باندی خوښیدل پکار دي .

کله چې حضرت عباس رضی الله عنه وفات شو نو یو بدوي د هغه زوی حضرت عبـد الله رضی الله عنه ته تعزیت وکړ او دا اشعار یی ورته وویل :

اصبر نكن بك صابرين فانما

صبر الرعية بعد صبر الرأس

خير من العباس اجرك بعده

والله خيـــر منك للعباس

تاسی صبر وکړئ چې مونږ ستاسی په وجه صبر وکړو ځکه چې د مشرانو صابر لیدلو سره واړه هم صبر کوي ، په صبر کولو سره تاسو ته اجر رسیږي ، صبر ستاسی لپاره له حضرت عباس رضی الله عنه نه غوره دی ، او حضرت عباس رضی الله عنه تـه چـی د الله کوم قرب حاصل شو دا هغه لپاره ستا په نسبت زیات ګټور دی .

نقل دي چې په دغو اشعارو سره حضرت عبد الله رضی الله عنه ته زیات تسـلي وشـو الله دی وکړي چې ستاسی لپاره هم دا اشعار ګټور وګرځي .

دا تعزیت نامه پخپل کور کی ټولو ته واوروه ، تاسی پخپله هم صبر وکړئ او د کور نـورو ټولو غړو ته د صبر کولو تلقین وکړه ، الله تعالی تاسی او ستاسـی د ټول ټولو غړو او نـورو متعلقینو ته ښایسته صبر درکړي او مرحوم ته دی بخښنه وکړي ، آمین یارب العلمین

به فردوس اعلی بود جای او
بهشت برین بود مـــاوای او

فقط والسلام

د مړي دکورینو لپاره لومړی اختر نه لمانځل څنګه دي ؟

(۸۰ سوال) زمونږ په علاقه کی عمومي رواج دی چی کله د چا په کور کی مړی وشـي نو په دی کال ښه خوراک نه کوي ، ښځی زیب او زینت نه کوي ، پخپله چاکره نه ځـي ، د هغوی نژدی خپلوان او دوسـتان ورتـه ډوډی وړي او همغـه ډوډی خـوري ، ایـا دا ټول څیزونه شرعاً صحیح دي ؟ په دی باندی په پوره پابندی سره عمل کیـږي او لدینـه مخالفت کول ډیر بد او معیوب ګڼل کیږي ، تاسی مهرباني وکړئ په دی بـاره کـی رنها واچوئ او امت ته لار ښودنه وکړئ .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! په سوال کی چی تا کـومی خبـری لیکلـی دي دا ټـول غیر شرعي رسمونه دي ، په شریعت کی د دغو رسمونو هیڅ حیثیـت نشـته بلکـی شـرعاً ممنوع دي ، دا د غیر مسلمو کار دی په اسلام کی د دی هیڅ ځای نشته پکار دي چـی لدینه په کلکه ډډه وکړی شي .

کله چی د یوی ښځی خاوند مړي نو هغی لپاره څلور میاشتی او لس ورځـی د زیـب او زینت نه کولو حکم دی ، او له خاوند نه علاوه د نورو خپلوانو د مړینی پـه حالـت کـی دری ورځـی صرف ښځو ته د زیب او زینت نه کولو اجازه ده ، د سړو لپاره د نوي لبـاس د اغوستلو او د ښه خوراک او څښاک نه ځان ډډه کول صحیح نه دي .

په حـدیث کـی دي : "عن ام حبیبه وزینب بنت جحش رضی الله عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لایحل لامرأة تؤمن بالله والیوم الاخر ان تحـد علـی میت فوق ثلاث لیالٍ الا علی زوج اربعة اشهر وعشراً" متفق علیه .

له حضرت ام حبیبه او حضرت زینب رضی الله عنهما له محمد صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه صلی الله علیه وفرمایل : کومه ښځه چې الله تعالی او د آخرت په ورځ باندی ایمان لري نو هغی لپاره دا حلاله نه ده چې په مړي باندی له دریو ورځو نه زیات غم وکړي پرته له خپل خاوند نه چې د هغه په مړینه دی څلور میاشتی او لس ورځی غم وکړي (بخاري ، مسلم) (بحواله مشکواة باب العدة ص ۲۸۸ ، ۲۸۹) .

همدغه راز په حدیث کی دي : "عن ام عطیه رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لا تحد امرأة علی میت فوق ثلث لیال الا علی زوج اربعة اشهر وعشراً ولاتلبس ثوباً مصبوغاً الا ثوب عصب ولاتکتحل ولاتمس طیبا .... الخ" متفق علیه (مشکواة شریف ص ۲۸۹ باب العدة) .

له حضرت ام عطیه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هیڅ یوه ښځه دی په کوم مړي باندی له دریو ورځو نه زیات سوګ (غم) نه کوي البته د خاوند د وفات په وخت کی دی څلور میاشتی او لس ورځی سوګ او خفګان وکړي ، ښکلی او رنګینی جامی دی نه آغوندي ، رانجه دی نه آچوي او خوشبو دی نه لګوي (مشکواة شریف ص ۲۸۲) .

د ام المؤمنین حضرت ام حبیبه رضی الله عنها پلار وفات شو ، هغی دری ورځی وروسته خوشبوی راوغوښت او ویی ویل چې ماته د خوشبو لګولو هیڅ ضرورت نشته ، مګر څرنګه چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي : "لایحل لامرأة الخ" څرنګه چې زما د پلار د وفات دری ورځی پوره شوی دي لهذا په دی حدیث باندی د عمل کولو په نیت خوشبو لګوم (شامي فصل فی الحداد) .

ام المؤمنین حضرت زینب رضی الله عنها هم د خپل ورو د مړ کیدو نه دری ورځی وروسته همداسی خوشبو لګولو سره په حدیث باندی عمل وکړ ، په شامي کی دي "وقال الرحمتی الحدیث مطلق وقد حمله امهات المؤمنین علی الملاقه فدعت ام حبیبة بالطیب بعد موت ابیها وکذلك زینب بعد موت اخیها وقالت کل منهما مالی بالطیب حاجة غیرانی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لا یحل لامرأة الخ" (شامی ج ۲ ص ۸۵۱ باب الحداد) .

له مذکوره دوارو حدیثونو او ام المؤمنین حضرت ام حبیبه او ام المؤمنین حضرت زینب رضی الله عنهما له عمل مبارک نه په ښکاره ډول ثابت شو چې د چا په مرګ باندی لـه دریو ورځو نه زیات سوګ او خفګان کول جائز نه دي ، لهذا په مسئوله صورت کی چـې کله د چا د مړینی دری ورځی تیری شوی وي نو له دینه وروسته غـم او خفګـان کـول له حدیث نه خلاف کار دی ، نو ځکه کله چـې د اختـر یـا د بـل کـوم خوشـالي وخـت راشي نو په داسی وختونو کی داسی طریقه خپلول چې په هغـه کـی د غـم او خفګـان صورت وي جائز نه دي ، په درمختار کی دي :

"ویباح الحداد علی قرابة ثلاثة ایام فقط . وللزوج منعها لکان الزینة حقه فـــتح" (درمختار مع رد المختار ص ۸۵۱ فصل فی الحداد) .

په بهشتي زیور کی دي (۱) مسئله : د خاوند نه علاوه د نورو خپلوانـو پـه مـرګ سـوګ او خفګان کول صحیح نه دي ، البته که چیرته خاوند منع نه کړي نو د خپلـو خپلوانـو پـه مرګ باندی تر دریو ورځو پورې زیب او زینت پریښـودل ورتـه جـائز دي ، لدینـه زیـات بالکل حرام دي ، او که منع کړي نو دری ورځـی دی هـم خپـل زیـب او زینـت پـری نږدي (بهشتي زیور ص ۳۸ څلورمه حصه د سوګ کولو بیان) .

په کوم کور کی چې د چا خپلوان مړ شي نو د هغه له کورنی سره تعزیـت کـول سـنت دي مګر د دی حد دری ورځی دی ، له دریو ورځو نه وروسته مکروه دی .

خو که له دوارو نه یو موجود نه وي نو وروسته هم د تعزیت کولـو اجـازه ده د تعزیـت کولو مطلب دا دی چې د مړي خپلوانو ته تسلي ورکړی شي ، دصبر تلقین ورته وشـي ، د صبر ثواب ورته بیان کړی شي ، د مړي لپاره دعا وکـړی شـي ، مـثلاً دا وویـل شـي :

"اعظم الله اجرك واحسن جزائك وغفر لمیتك" الله تعالی دی تاسو ټولو ته لوی اجـر او د خیر جزا درکړي او ستاسی مړي ته دی بخښنه وکړي .

کله چې د محمد صلی الله علیه وسلم لور د حضرت زینب رضی الله عنها لـور مـړه شـوه نو محمد صلی الله علیه وسلم له زینب رضی الله عنها سره په دی الفاظو تعزیت کړی و:

"لله ما اخذوا له ما اعطی وکل عنده باجل مسمی فلتصبر ولتحتســـب" (بخــاری شریف باب زیارة القبور مطلب فی الثواب علی المصیبة ص ۱۷۱) .

څه یې چې، درنه واخست هغه هم د الله و او څه یې چې درته درکړي و هغه هم د الله وو د الله په نزد د هر څیز معیار او وخت مقرر دی ، نو صبر وکړه او د ثواب نیت وساته ، فتاوی رحیمیه اردو .

په درمختار کی دي : "وبتعزية اهله وترغيبهم فی الصبر وباتخاذ طعام لهـم .... ثلاثة ايام واولها افضلها وتكره بعدها الا لغائب وتكره التعزية وتكره ثانيا وعند القبر وعند باب الدار ويقول اعظم الله اجرك واحسن عـزاءك وغفـر لميتـك" (درمختار مع رد المختار مطلب فی الثواب علی المصـيبة ص ٨٤١ ج ١ ٨٤٣ ج ١) .

همدغه راز نژدی خپلوانو او ګاونډیانو لپاره مستحب دي چې د مړي کورنۍ لپاره د دغی ورځی ډوډی او خوراک څښاک برابر کړي او که ضرورت وي نو پخپله دی ورسره کیني او ډوډی دی ورباندی وخوروي .

په حدیث کی د دی ثبوت دی (مشکواة شریف ص ١٥١) (مرقاة شرح مشـکواة ص ٩٦ ج ٤) (شامی ص ٨٤١ ج ١) .[1]

د محققینو علماو په نزد د دی معیـار او وخـت یـوه شـپه او یـوه ورځ دی ، دا کـار بایـد یواځی د الله رضا لپاره وي هسی خلکو ته د ښودلو لپاره نه وي .

دا څیزونه خو له شریعت نه ثابت او سنت دي ، مګر بیا بیا تعزیت کول خصوصاً د اختر په ورځ د تعزیت لپاره ورتلل او د مړي کورنۍ ته غم تازه کول ، هغوی تـه ډوډۍ وړل دا ټول صرف رسمونه دي چې ډېره ترینه پکار ده ، فقط والله اعلم بالصواب .

[1] ـ ويستحب لجير ان اهل الميت والاقرباء الا باعد تهيئة طعام لهم يشبعهم يومهم وليلتهم لقوله صلی الله عليه وسلم اصنعوا الآل جعفر طعاما فقد جاء مايشغلهم . مطلب فی كراهية الضيافة من اهل الميت.

زيارت قبور

په قبرستان کی دی دعاء څنګه وکړی شي ؟

(۸۱ سوال) څه فرمايي د دين علماء او د متين شرع مفتيان په دی مسئله کـی چـی پـه قبرستان کی د دعا کولو په وخت لاسونه اوچتول سنت دي او که بدعت ؟ دعـا دی پـه ناسته وکړی شي او که په ولاړه ؟ ايا د قبلی په طرف ودريدل ضروري دي او که نـه ؟ لـه حديث نه څه شي ثابت دي ؟

ځواب : په قبرستان کی په ولاړه مخ په قبله ودريدل او د لاسونو پـه اوچتولـو سـره دعـا کول سنت دي نه بدعت ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په باره کی حـديث شـريف کی راغلی دي : "جاء البقيع فاطال القيام ثم رفع يديه ثلاث مرات" (صحيح مسلم ص ۳۱۳ ج ۱ كتاب الجنائز باب الذهاب الى زيارة القبور) فيه استحباب اطالة الدعاء وتكريره ورفع اليدين وفيه ان دعاء القائم اعلى مـن دعـاء الجـالس فى القبور(نووى شرح مسلم ص ۳۱۳ ج ۱ ايضاً) واذا اراد الدعاء يقوم مسـتقبل كذا فى خزانة الفتاوى" (عالمگیری ص ۳۵۰ ج ۵ كتاب الكراهية الباب السادس عشر فى زيارة القبور وقرأة القرآن فى المقابر) .

حافظ بدر الدين عيني په بنايه کـی فرمـايي : "لايقعد الزائر وعند الـدعاء للميـت يستقبل ا لقبلة" يعنی د قبرونو زيارت کونکي لپاره ادب دا دی چی کيني او مړي لپـاره د دعا کولو په وخت د قبلی په طرف ودريږي ، فتح الباری شرح صحيح بخاری کی دي : "وفى حديث ابن مسعود رضى الله عنه رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم فى قبر عبد الله بن ذى البجادين الحديث وفيه فلما فرغ من دفنه استقبل القبلة رافعاً يديه" (اخرجه ابو عوانه فى صحيحه ض ۲۲ ج ۱۱۱ باب الدعاء مستقبل القبلة)

د قبلی نه بل خوا په ناسته او د لاسونو له اوچتولو نه پرته هم دعا کول جـائز ده د دعـا په وخت کی داسی شکل او صورت جوړول نه دي پکار چی هغه تـه کتـونکی سـړی دا

شک وکړي چې له مړي نه سوال کوي ، نو کله چې لاسونه اوچتوي او مړي ته دعا کوي نو د قبر په طرف باید مخ ونکړي ، فقط والله اعلم بالصواب .

که ښځه زیارت ته لاړه شي نو ایا له خاوند سره د هغې نکاح ماتیږي او که نه ؟

(۸۲ سوال) که چیرته ښځه او خاوند دواړه د کوم بزرګ مزار ته لاړ شي نو ښځه یې له نکاح نه اوځي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : ښځې لپاره زیارت ته تلل جائز نه دي ، په مالا بد منه کې دي : " زیارت قبور مردان را جائز است نه زنان " . یعنی د قبرونو زیارت ته تلل سړو ته جائز دي نه ښځو ته (ص ۷۹) بریلوي علماء هم ورته جائز وايي ، مولانا حکیم محمد حشمت علی بریلوي فرمايي چې په دې زمانه کې ښځو ته قبرونو ته تلل مکروه بلکې حرام دي (جمع المسائل ص ۱۱۰ ج ۱) .

مولانا رضان خان بریلوي فرمايي : د اولیاو او نورو قبرونو ته تلل اتباع غنیه علامه محقق ابراهیم حلبي هرګز نه خوښاو (جمل النور ص ۷ ، ۸) .

لهذا که لاړه شي نو ګنهګاریږي لیکن نکاح یې نه ماتیږي البته که هلته مشرکانه کارونه وکړي ، سجده او طواف وکړي هغه حاجت پوره کوونکی وګڼي او له هغه نه مراد ونه غواړي نو د هغه حکم ډیر زیات سخت دی د نکاح د ماتیدو خطره ده ، په ما لا بد منه کې دي :

" سجده کردن بسوء قبور انبیاء و اولیاء وطواف ګرد قبور کردن ودعاء از آنها خواستن ونذر برای آنها قبول کردن حرام است بلکه چیزها ازان به کفر می رسانند ، پیغمبر بر آنها لعنت ګفته ، واز آن منع فرموده و ګفته که قبر مرابت نه کنند " .

یعنی د انبیاؤ او اولیاو د قبرونو په طرف سجده کول ، له قبرونو نه طواف کول ، له هغوی دعا غوښتل او هغوی ته نذر منل حرام دي بلکې بعض څیزونه کفر ته رسوي پیغمبر علیه السلام په داسې کارونو باندې لعنت کړی دی ، او فرمایلي دي چې زما له قبر نه بت مه جوړوئ (ص ۸۰) فقط والله اعلم بالصواب .

باب ما یتعلق بـــايـصال الثواب

د ایصال ثواب په اړه د مسائلو باب

د ایصال ثواب حکم :

(۸۳ سوال) د مړي لپاره ایصال ثواب د قرآن او حدیث په رڼا کی کی ثابت دي او که نه ؟ زمونږ په علاقه کی د خلکو دوه ډلی جوړی شوی دي ،یوه ډله د غیر مقلدینو په څیر له ایصال ثواب نه منکر دي او دی لپاره د قرآن او حدیث څخه ثبوت غواړي هغوی وايي چی تاسی مونږ ته په قرآن کریم کی هغه ځایونه وښائي چی هلته د ایصال ثواب لپاره حکم موجود وي ، همدغه راز محمد صلی الله علیه وسلم د ایصال ثواب لپاره چیرته فرمایلی دي ، ستاسی له حضور څخه هیله کوو چی دغه مسئله مفصل او مدلل ولیکئ ، بینوا توجروا .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! د احنافو مفتی به مذهب دا دی چی اعمال که بدني وي یا مالي د دواړو ثواب مړو ته رسول جائز دي ، او دغه ثواب مړو ته رسیږي ، او دا له کتاب او سنت څخه ثابت هم دي ، د فقه معتبر کتابونه لکه هدایه ، عالمګیري ، بحر الرائق ، بدائع ، شامي عیني او نورو کی د دی بیان موجود دي ، په هدایه کی دي : "الاصل فی هذا الباب ان الانسان له ان یجعل ثواب عمله لغیره صلواة او صوماً او صدقة او غیرها عند اهل السنة والجماعة لما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه ضحی بکبشین املحین احدهما عن نفسه والاخر عن امته ممن اقر بوحدانیة الله وشهد له بالبلاغ" .

په دی باب کی کلي قانون دا دی چی انسان د خپلو اعمالو ثواب نورو ته رسولی شي ، د اهل سنت والجماعت په نزد لمونځ وي یا روژه ، حج وي یا صدقه او خیرات یا له هغوی نه علاوه بل کوم عمل ، د هغه حدیث په وجه چی له محمد صلی الله علیه وسلم نه روایت شوی دی چی محمد صلی الله علیه وسلم دو ګډان قرباني کړل یوه یی د خپل خان لپاره او بل یی د خپل ټول هغه امت لپاره چی د الله د وحدانیت اقرار یی کړی دی او پدی خبره ګواهي ورکړی چی محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی دین خپل امت ته رسولی دی (هدایه ص ۲۷۶ باب الحج عن الغیر) .

په فتاوی عالمګیري کی دي :
"الاصل فی هذا الباب ان الانسان له ان یجعل ثواب عمله لغیره صلواة کان او صوماً او صدقة او غیرها کالحج وقراء القران والاذکار وزیارة القبور الانبیاء علیهم الصلواة والسلام والشهداء والاولیاء والصالحین وتکفین الموتی وجمیع انواع البر کذا فی غایة السروجی شرح الهدایه انتهی" .
یعنی په دی باب کی کلي قانون دا دی چی خپل عمل ثواب د بل چا په نوم کول جائز دی ، برابره خبره ده چی هغه عمل لمونځ وي یا روژه ، صدقه یا بل کوم عبارت لکه حج ، تلاوت ، او نور ذکر اذکار او د دی پشان نور نیک اعمال لکه انبیاؤ ، اولیاو ، شهیدانو او صالحینو د قبرونو زیارت او مړو ته کفن ورکول (فتاوی عالمګیري ج ۱ ص ۱٦٦ الباب الرابع فی الحج عن الغیر) .
په درمختار کی دي : "الاصل ان کل من اتی بعبادة ما له جعل ثوابها لغیره (قوله بعبادة ما) ای سواء کانت صلواة او صوماً او صدقةً او قراءةً او ذکراً او طوافاً او حجاً او عمرةً او غیر ذلك من زیارة القبور الانبیاء علیهم الصلواة والسلام والشهداء والاولیاء والصالحین وتکفین الموتی و جمیع انواع البر کما فی الهندیة وقدمنا فی الزکاة عن التتارخانیة عن المحیط الافضل لمن تصدق نفلاً ان ینوی لجمیع المؤمنین والمؤمنات لانها تصل الیهم ولا ینقص من اجره شئ اه" (درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۳۲۳ باب الحج عن الغیر) .

په غایة الاوطار کی دي : اصل قانون دا دی چی کوم سړی عبادت وکړي ، لمونځ ، روژه ، حج ، د قرآن تلاوت عمره یا بل کوم د نیکی کار وکړي نو هغه ته جائز دي چی د دی ثواب بل چا ته وبښي ، اګر چی د عبادت کولو په وخت کی د خپل ځان لپاره نیت کړی وي دا ثابت اصل دي ، د قرآن کریم او سنت له ظاهري دلالت نه له څه تاویل نه پرته په قرآن کریم کی اولاد ته دا لاربنونه شوی ده چی خپل مور او پلار لپاره داسی دعا وغواړي "رب ارحمهما کما ربیانی صغیراً" ای زما ربه ! زما په مور او پلار باندی رحم وکړه داسی چی لکه هغوی زه وړوکتوب کی وپاللم . که چیرته د

انسان عمل بل لپاره مفید او گټور نه وای نو د زوی دعا به دمور او پلار لپاره بـی گټـی وه ، په داسی حال کی چی دا غلط دي .
الله تعالی خبر ورکړی دی چی ملائکی مومنانو لپاره دعا کوي ، لدینـه ثابـت شـو چـی دیو عمل بل لپاره گټه ور دی ، که څه هم په دی باره کی گڼ احادیث موجود دي . لـه هغو نه په بخاري کی یو متفق علیه حدیث دی چـی محمـد صـلی الله علیـه وسـلم دوه گډان قرباني کړل یو گډ د خپل ځان له طرف نه او بل د خپل امت له طـرف نـه . الی قوله . دار قطنی روایت کړی دی چـی : "ان رجلاً سأل علیه الصلواة والسلام فقال کان لی ابوان ابراهما حال حیوهما فکیف ببرهما بعد موهما فقال صلی الله علیـــه وسلم ان من البر بعد الموت ان تصلی لها مع صلوتك وان تصوم لهما مع صومك"

یو سړي له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چی زما مور او پـلار ژونـدي وو ، د هغوی په ژوند کی به ماله هغوی سره نیکی کاو ، اوس له هغوی سـره څنگـه وکـړم ؟ محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : د هغوی له مرگ نه وروسته نیکـی دا ده چـی د هغوی لپاره له خپلو لمونځونو سره لمونځونه کوه او له خپلو روژو سره روژی نیسه .
"وروی الدار قطنی ایضاً عن علی رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال من مر علی المقابر وقراء قل هو الله احد احدی عشرة مـــرة ثم وهـــب اجرهـــا للاموات اعطی من الاجر بعدد الاموات" .
محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چی په قبرستان تیر شي او یـو لـس کرتـه قل هو الله احد ولولي او ثواب مړو ته وبخښي نو دا ثواب هغـوی تـه ورکـول کیـږي د هغوی د مړو د شمار په اندازه .
"وعن انس رضی الله عنه قال یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) انا نتصدق عن موتانا ونحج عنهم وندعوا لهم فهل یصل ذلك لهم قال نعم انه لیصل الیهم وانهـــم لیفرحون به کما یفرح احدکم بالطبق اذا اهدی الیهم" رواه ابو حفص الکبیر .
حضرت انس رضی الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چـی یارسـول الله (صلی الله علیه وسلم) مونږ د خپلو مړو له طرف نه هغوی لپاره خیرات ورکوو ، حج

کوو او دعا ورته کوو ایا د دی ثواب هغوی ته رسیږي محمد صلی الله علیـه وسـلم ورتـه وفرمایل : هو بالکل هغوی ته رسیږي او ورباندی خوشالیږي بالکل داسی لکـه چـی لـه تاسو نه یو تن خوشالیږي له هغه طبق نه چی بل څوک یی ورته په تحفه کی لیږي .

همدغه راز محمد صلی الله علیه وسلم فرمائي : "اقرؤو علی موتـاکم یـس" رواه ابو داؤد د خپلو مړو لپاره سوره یس ولولئ .

له دغو احادیثو نه ثابتیږي چی د صالحو اعمالو ثواب نورو تـه هـم ګټـه رسـوي (غایـة الاوطار ترجمه درمختار ملخصاً ج ۲ ص ۶۰۷ ، ۶۰۸) .

په مشکواة شریف کی روایت دی :

"عن عبد الله بن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما لمیت فی القبر الا کالعریق المتغوث ینتظر دعوةً تلحقـه مـن اب او ام او اخ او صدیق فاذا لحقته کان احب الیه من الدنیا وما فیها وان الله تعالی لیدخل علی اهل القبور من دعاء اهل الارض امثال الجبال (من الرحمة والغفران) وان هدیة الاحیاء الی الاموات الاستغفار لهم" رواه البیهقی فی شعب الایمان.

مړی په قبر کی د ډوب شوي سړي پشان د مدد او مرستی خواهش من وي یعنی د دعـا او ثواب منتظر وي چی د هغه پلار ، مور ، او یا نـورو دوسـتانو لـه طرفـه ورتـه ورسـیږي (برابره خبره ده چی هغه د ایصال ثواب په شکل کی وي یا قرآن کریم تلاوت او یا ذکـر او اذکار د بخښلو په شکل کی) کله چی هغوی ته دعا ورسیږي نو دا هغه لپاره له دنیا او ما فیها څخه ریات خوښ وي او الله تعالی د دنیا د خلکو پـه سـبب د قبرونـو مـړو تـه د غرونو هومره اجر رسوي ، او د ژوندو تحفه مړو لپاره د مغفرت دعا کـول دي (مشکواة شریف ص ۲۰۶ باب الاستغفار والتوبة) .

همدغه شان په حدیث کی دي :

عن ابن عباس رضی الله عنه ان رجلا قال یارسول الله ان امی توفیت افینفعها ان تصدقت عنها قال نعم قال فان لی مخرفاً فاشهدك انی قد تصدقت به عنها" .

ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چی يو سړی (حضرت سـعد رضـی الله عنـه) د محمـد صلی الله عليه وسلم په خدمت کی حاضر شو او وی ويل چی زما مور مړه شوی ده کـه زه د هغه له طرفه نه صدقه وکړم نو ايا هغی تـه ثـواب رسـيږي ؟ هغـه صـلی الله عليـه وسلم ورته وفرمايل : هو رسيږي ، هغوی عرض وکړ چی زما يو باغ دی ، زه تاسـی گـواه نيسم چی ما خپل هغه باغ د خپلی مور لپاره می صدقه کړه (ترمذی شريف ج ۱ ص ۸۵ کتاب الزکات باب ما جاء فی الصدقه عن الميت) .

دغه پورتني حديث د ايصال ثواب په ثبوت کی بالکل ښکاره او واضح دي .

په حديث کی دي چی کله انسان مړ شي نو دهغه ټول عملونه قطع کيږي ، مگر د دريـو خيزونو ثواب هغه ته رسيږي (۱) صدقه جاريه (۲) داسی علم چی له هغه نه گټه تـر لاسـه کړی شي (۳) صالح زوی چی هغه لپاره دعا کوي .

عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسـلم اذا مـات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلثة الا من صدقة جارية او علم ينتفع به او ولد صالح يدعوا له" رواه مسلم (مشكواة شريف ص ۳۲ كتاب العلم) .

ملا علي قاري رحمه الله د مشکواة شرح مرقات کیَ د اويازره کرته د لا الـه الا الله د ويلو د تاثير په متعلق يوه عجيبه واقعه نقل کړی ده چی لدينه هم د دغی مسئلی تائيـد کيږي :

"قال الشيخ محی الدين بن العزمی انه بلغنی عن النبی صلی الله عليه وسلم من قال لا له الا الله سبعين الفاً غفر له ومن قيل له غفر له ايضاً فكنت ذكرت التهليلة بالعدد المروی من غير ان انوی لاحد بالخصوص بل علی الوجه الاجمالی فحضرت طعاماً مع بعض الاصحاب وفيهم شاب مشهور بالكشف فاذا هو فی اثناء الاكـل اظهر البكاء فسألته عن السبب فقال اری امی فی العذاب فوهبت فی باطنی ثواب التهليلة المذكورة لها فضحك وقال انی اراها الان فی حسن المآب قـال الشـيخ فعرفت صحة الحديث بصحة كشفه وصحة كشفه بصحة الحديث" .

شيخ محی الدين ابن عربي فرمايي چی ما ته د محمد صلی الله عليـه وسـلم دا روايـت رسيدلی دی چی کوم سړي اويا زره کرته لا اله الا الله ووايـي نـو د هغـه لپاره مغفرت

کیږي او چا لپاره چې ولوستل شي هغه ته هم بخښنه کیږي ، ما دغه کلمه به د چا لپاره له نیت کولو نه بغیر لوستله ، یوځل زه له خپلو دوستانو سره په یو دعوت کی حاضر شوم په دعوت کی یو ځلمی و چې په کشف کی مشهور و ، د ډوډۍ د خوړلو پـه وخـت کـی هغه ناخاپي په ژړا شو ، ما له هغه نه د ژړا سبب وپوښت ، هغـه وویـل زه خپـل مـور په عذاب کی وینم ، ما پخپل زړه کی د خپل د دغه ذکر ثواب د هغه مور تـه وبخښلـه هغه په خندا شو او ویې ویل چې زه خپل مور په ښه حالت کی وینم ، ما د دغـی حـدیث د صحت په وجه د هغه د کشف په صحت باندی هم یقین وکړه .

(مرقاة شرح مشکواة ج ۳ ص ۹۸ ، ۹۹ باب ما علی الماموم من التابعة تحـت حدیث معاذ اذا اتی احدکم الصلواة والامام علی حال الخ) .

له پورتني حوالو نه دا ثابت شو چـې مړو لپاره ایصال ثـواب جـائز دی او هغـوی ته رسیږي ، فقط والله اعلم بالصواب وعلمه اتم واحکم .

د ایصال ثواب طریقه :

(۸۴ سوال) قبرستان یا پخپل کور کی مړي ته د ایصال ثواب لپاره د څـه لوسـتل پکار دي یعنی د فاتحی طریقه څه ده ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د قرآن کریم ختمول ، یا سوره فاتحه ، سوره اخلاص ، سوره یس ، سـوره ملک ،سوره تکاثر ، سوه هود او نور سورتونه چې هر یو درته یاد وي او کوم یـوه درتـه اسان وي ، لدینه علاوه درود شریف یا نوافل چې ستا د لاسه وشي ، همدغه راز مالي خیرات ،صدقات ، لمونځ ، د روژی فدیه د خپل همت او شوق په مطابق وکړي او ثواب مړو ته وبخښي نو دا ټول ورته رسیږي ، په شامي کی دي :

"وفی شرح اللباب ویقراء من القرآن ما تیسر له من الفاتحة واول سوة البقـرة الی المفلحون وآیة الکرسی وآمن الرسول وسورة یس وسورة الملك وسورة التکـاثر والاخلاص اثنی عشر مرة او احدی عشر او سبعاً او ثلثاً ثم یقول اللهم او صل ثواب ما قرأناه الی فلان او الیهم اه" .

له قرآن کریم نه چې هر یو ځای او سورت اسانه درته معلوم شي ، لکه سـوره فاتحـه ، د سوره بقره ابتدائي ایتونه تر مفلحون پوری ، ایت الکرسی ، امن الرسول ، سـوره یـس ، سور تبارک الذی (الملك) سوره التکاثر او سوره اخلاص ، دولس ، یولس ، اووه یـا دری

کرته ولولي او مړي ته وبخښي نو د دی ثواب هغه ته رسيږي (شـــامی ج ۱ ص ٨٤٤ مطلب فی القرأة للميت واهداء ثوابها له) .

د مشکواة شرح مرقات کی دي :

"قال النووی فی الشرح المهذب يستحب لزائر القبور ان يقرأ ما تيسر من القرآن ويدعوا لهم عقبها" .

د قبر زيارت کونکو لپاره مستحب دا دي چی له قرآن کريم نه کـوم خيزونـه ورتـه اسـان وي هغه دی تلاوت کړي او بيا دی مړو لپاره دعا وکړي (مرقاة شرح مشـــکواة ج ٤ ص ٨٢ باب زيارة القبور) .

په عالمگيري کی‌دي :

"ثم يقرء سورة الفاتحة واية الکرسی ثم يقرء سورة اذا زلزلت والهکـــم التکـــاثر کذا فی الغرائب" .

په قبرستان کی له مسنون دعا لوستلو نه وروسته دی سوره فاتحه ، ايت الکرسـی ، سـوره اذا زلزلــت الارض او الهکــم التکـاثر ولــولي (فتـاوی عـالمگيري ج ۵ ص ۳۹۴ بـاب الکراهيه) .

په مرقات کی دي : "واخرج ابو القاسم سعد بن علی الزنجانی فی فوائده عـــن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم من دخل المقـــابر ثم قراء فاتحة الکتاب وقل هو الله احد والهکم التکاثر . ثم قال انی جعلت ثواب مـــا قرأت من کلامك لاهل المقابر من المؤمنين والمؤمنات کانوا شـــفعاء لـــه الی الله تعالی" .

محمد صلی الله عليه وسلم وفرمايل : کوم سړی چی قبرستان ته لاړ شي بيا هلتـه سـوره فاتحه ، قل هو الله احد او الهکم التکاثر ولولي او ثواب مومنو سړو او ښځو ته وبخښي نو دا د هغوی لپاره سفارښت کوونکی وګرځي (دار قطنی باب زيارت القبور ج ۴ ص ۸۲).

له علی رضی الله عنه نه روایت دی چی کوم سړی قبرستان تـه لاړ شـي او هلتـه یـولس کرته سوره اخلاص ولولي او بیا ثواب یی مړو ته وبخښي ، نو د مړو شمار په مطـابق هغـ ته هم اجر او ثواب ورکول کیږي .

"وعن علی رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال من مر علـــی المقـــابر فقرأ قل هو الله احد احدی عشرة مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطی من الاجر بعدد الاموات" رواه الدار قطنی (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۳۴۲ فصل في زیارة القبور) .

شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین مدني نور الله مرقده فرمائي :

زه مزارونو کی د حاضریدو په وخت دغه لاندینی کار کوم :

السلام علیکم یا دار قوم مومنین انتم سلفنا ونحن بالاثر وانا ان شـــاء الله بکـــم لاحقون یغفر الله لنا ولکم اجمعین وصلی الله علی سیدنا ومولانا محمدٍ واله وصحبه ، وبارك وسلم ، سلامٌ علیکم بما صبرتم فنعم عقبی الدار" .

لدینه وروسته دری کرتـه درود شـریف ، دری کرتـه سـوره فاتحـه ، دولـس کرتـه سـورة اخلاص ، بیا دری کرته درود شریف لولَم او د دی ثواب د مـزار مـړي تـه د بخښلـو نـا وزوسته هغه او دهغه شاخوا نورو مړو ته د بخښنی دعا غواړم (فرمودات حضـرت مـدني ص ۲۴۰) .

له خښولو نه وروسته په ګډه د ایصال ثواب حکم :

(۸۵ سوال) ایا د مړي له خښولو نه وروسته ایصال ثواب ثابت دی او که نـه ؟ پـه ځینو ځایونو کی له خښولو نه وروسته د فاتحی په نـوم اعـلان کیـږي او خلـک د لاسـونو پـه اوچتولو دعا غواړي ، همدغه راز دمړي په کور کی هم دویم ځل لپاره د ایصـال ثـواب په خاطر دفاتحی اعلان کیږي ، او خلک ټول بوځای دعا کوي ، ایا په خیر القـرون کـی داسی کارونه کیدل ؟ بینوا توجروا .

خواب :دمړي له خښولو نه وروسته د قبر په خوا کـی پـه جمـع د مغفـرت دعـا کـول او دقرآن کریم تلاوت هغه ته بخښل له څه تامل نه بغیر جـائز دي ، پـه حـدیث کـی دي "عن عثمان بن عفان رضی الله عنه قال کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا فرغ

من دفن الميت وقف عليه فقال استغفروا لاخيكم واسألوا له التثبت فانه الان يسئل" .
كله به چې محمد صلى الله عليه وسلم د مړي له خښولو نه فارغ شو نو هلته به ودريدو او فرمايل به يې د خپل ورور لپاره له الله نه مغفرت او بخښنه وغواړئ او هغه لپاره دثابت قدم پاتې كيدو دعا وغواړئ چې اوس له دينه سوال كيږي (ابوداؤد شريف ج ۱ ص ۹۰) .
له حضرت عبد الله بن عمر رضى الله عنه څخه روايت دى : "قال سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول اذا مات احدكم فلاتحبسوه واسرعوا به الى قبره واليقرأ عند رأسه (اى بعد الدفن) فاتحة البقرة وعند رجليه بخاتمة البقرة" رواه البيهقى فى شعب الايمان وقال والصحيح انه موقوف عليه .
محمد صلى الله عليه وسلم فرمايي : كله چې له تاسو نه څوک مړ شي نو هغه پخپل كور كې (له څه شرعي عذر نه پرته) مه ايساروئ او دهغه په خښولو كې بيړه وكړئ ، بيا له خښولو نه وروسته د سر په طرف د سوره بقرى ابتدائي ايتونه تر مفلحون پورى او د پښو په طرف د دى اختتامي ايتونه امن الرسول نه تر آخره پورى ولولئ (مشكواة شريف ص ۱٤۹ باب دفن الميت) .
حضرت عمرو بن العاص رضى الله عنه د نزعى په حالت كې خپل زوى عبد الله ته داسى وصت وكړ :
"اذا انا ميت فلا تصحبنى نائحة ولانارا واذا دفنتمونى فشنوا على التراب شناً ثم اقيموا حول قبرى قدر ما ينحر جزور ويقسم لحمها حتى استانس بكم واعلم ماذا اراجع به رسل ربى" رواه مسلم .
كله چې زه مړ شم نو زما له جنازى سره دى نه ژړا كونكى ښځه وي او نه دى اور وي او كله چې زه خاورو ته وسپارل شم نو په كلاره كلاره خاورى راباندى واچوئ بيا زما د قبر په څنګ كې دومره وخت پورى ودريږئ څومره وخت چې د اوخ د حلالولو او د هغه د غوښى په تقسيمولو كې لګيږي تر څو زه له تاسو نه انس تر لاسه كړم او پوه شم

چې د خپل رب قاصدانو (پرښتو) ته څه شی ځواب ورکوم (مشکواة شریف ص ۱٤۹ باب دفن المیت الفصل الثالث).

مرقات د مشکواة په شرح کی د دغه حدیث په تشریح کی لیکي: "قوله ثم اقیموا حول قبری لعله للدعاء بالتثبیت وغیره".

په حدیث کی د "اقیموا حول قبری" جمله شاید دی لپاره وي چې مړي لپاره د ثابت قدمی او نوری دعاګانې وکړې شي (قوله حتی استأنس لکم) ای بدعاءکم واذکارکم واستغفارکم یعنی تر څو له تاسو نه انس حاصل کړم یعنی ستاسی د دعا ذکر او تلاوت او استغفار په ذریعه.

(مرقات شرح مشکواة ج ٤ ص ۱۸۱)

په مرقات کی یو بل حدیث دی:

"وقد ورد فی الخبر لابی داؤد انه علیه الصلوة والسلام کان اذا فرغ من دفن الرجل یقف علیه ویقول استغفروا الله لاخیکم واسئالوا له التثبیت وفی روایة فان الآن یسئل"

ترجمه: کله به چې محمد صلی الله علیه وسلم د کوم مړي له خښولو نه فارغ شو نو هلته به ودرید، او فرمایل به یې له خپل رب نه دخپل ورور لپاره بخښنه وغواړئ او د ثابت قدم پاتی کیدو دعا ورته وکړئ، ځکه چې لدینه اوس سوال کیږي (مرقات ج ۴ ص ۸۱ باب دفن المیت).

په کفایت المفتي کی دي:

(سوال) فی سنن ابي داؤد کی دي: کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا فرغ من دفن المیت وقف علی قبره وقال استغفروا لاخیکم واسئلوا الله له التثبت الخ".

له پورتني حدیث نه دمړي لپاره په دست جمعی سره بخښنه غوښتل ثابتیږي او که فرداً فرداً؟

ځواب: د دغه حدیث له سیاق نه معلومیږي چې ټولو حاضرینو به یوځای دعا کاو ځکه چې له خښولو نه د فارغیدو نه وروسته د واپس کیدو وخت و لیکن لدی حدیث نه معلوم

شو چې محمد صلی الله علیه وسلم به په راتلو کی څه تاخیر اوتوقـف کـاو او د مـړي د تثبت او مغفرت لپاره به پخپله دعا کاو او نورو ته هم د دعا کولو حکم ورکاو ، څکه چـې " فانه الآن یسئل " د دی قرینـه ده ، نـو لـږ غونـدی د ټولـو حاضـرینو توقـف کـول او حاضرینو ته په همغه وخت کی د استغفار کولو حکم کول او دټولـو موجودیـت او هغـه وخت له مړي نه د نکیرینو سوال کول په دی خبره دلیل دی چې د ټولـو حاضـرینو پـه یو وخت په اجتماعي حالت کـی کیـده او همدغـه معمـول او متـوارث دی ، لـیکن دا خبره دی واضحه وي چې دغه اجتماع چې لدی حدیث نه ثابت ده د دعا لپـاره قصـداً اجتماع نه ده بلکی قصدي اجتماع د دفن او خبنولو لپاره دی ، که څـه هـم د پـورتني بیان په سبب په دی وخت دعاء هم په اجتماعي توګـه شـوی ده ، والله اعلـم (کفایـت المفتي ج ۴ ص ۵۹ ، ۶۰) .

طحطاوی علی مراقی الفلاح کی دي :

"وفی السراج ویستحب ان یقرأ علی القبر بعد الدفن اول سورة البقرة وخاتمتها" (فصل فی زیارة القبور ص ۳۴۱) .

مستحب دا دي چې دمړي له خبنولـو نـه وروسـته د قبر پـه څـنګ کـی د سـوره بقـره ابتدائي او آخري ایتونه ولوستل شي .

له پورتینو حواله جاتو څخه ښکاره ثابتیږي چې له خبنولـو نـه وروسـته د ایصـال ثـواب لپاره څه لوستل او اجتماعي دعا غوښتل ثابت دي .[1]

البته د مړي له خبنولو نه وروسته بیا دمړي په کور کی راغونډیدل او ایصال ثـواب لپـاره دوباره فاتحه لوستل بدعت دی ، بلکی دمړي له خبنولو نه وروسته دی هر څوک پخپلـو خپلو کارونو کی مشغول شي ، په مراقی الفلاح کی دي :

"(تتمه) قال کثیر من متاخری ائمتنا رحمهم الله یکره الاجتماع عند صاحب المیت حتی یأتی الیه من یعزی بل اذا رجع من الدفن فلیتفرقـوا ویشـتغلوا بـامورهم واصحاب المیت بامره" .

د تعزیت په قصد د مړي په کور کی جمـع کیـدل مکـروه دي ، بلکـی لـه خبنولـو نـه د فراغت او وزګاري نه وروسته چې خلک واپس راګرځي نو متفرق او منتشر دی شـي او د

[1] په دی شرط چې د دی التزام نه وي او دا ضروري ونه ګڼل شي ۱۲ سعید احمد .

مړي وارثان دی هم پخپلو کارونو کی مشغول شي (مراقـی الفلاح ص ۱۲۰ فصل فـی حملها ودفنها) (شامي ج ۱ ص ۸۴۳) فقط والله اعلم بالصواب .

د بل هیواد څخه د مرګ د خبر رسیدو نه وروسته ایصال ثواب کول

(۸٦ سوال) کله چی له بل ملک نه د چا د خپلوان د مړینی خبر راشـي نـو دفاتحه خوانی لپاره اعلان کوي . د مسجد امام یا مـوذن فاتحـه لـولي او فـاتحی لپـاره راغلـی خلک لاسونه اوچتوي او دعا کوي په شریعت کی د دی څه حکم دی ؟

ځواب داسی کار کول مکروه دي ، البته دمړي خپل کولی شي چی نور خپلـوان هـم خبر کړي او هغه لپاره د مغفرت دعا او ایصال ثواب لپاره څه تلاوت وکړي یـا صـدقه او خیرات وکړي، دا صحیح او جائز دي که څوک له دعوت او د رسوماتو لـه قیـد نـه پرتـه فرداً فرداً راځي او د مړي خپلوان ته تعزیت کوي او تسلي ورته ورکوي هغه او دهغه مړ شوی شخص لپاره د دعا الفاظ ووائي مثلاً داسی ووائي "اعظم الله اجـرك واحسـن عزائك وغفر لميتك" الله تعالی دی تاسو ته لوی اجر درکړي ، تاسو ته جمیـل صـبر پـه نصیب کړي او ستاسی مړي ته بخښنه کړي.) نو دا صورت جـائز دی ، د اصـحاب کرامـو رضی الله عنهم او صالحو سلفو همدغه طریقه وه ، که چیرته پخپله حاضر نشي نو د خـط په ذریعه هم تعزیت کولی شي ، محمد صلی الله علیه وسلم د معاذ بـن جبـل رضـی الله عنه د زوی د وفات په وخت د تعزیت خط استولی و ، كتب النبى صـلى الله عليـه وسلم الى معاذ يعزيه فى ابن له . حصن حصين ص ۱۸۰ .

د فاتحه خوانی او تعزیت لپاره اعلان کول او دخلکو د راجمع کولو لپاره انتظـام کـول له سنت نه د مخالفت په وجه مکروه دي ، د مړي لپاره د جنازی لمونځ لپـاره د اعـلان کولو نه علاوه دتعزیت او فاتحه خوانی لپاره د خلکـو د راجمـع کولـو کـار تـه شـریعت اجازه نه ده ورکړی .

حضرت شیخ عبد الحق محدث دهلوي لیکي : " وعادت نبـود کـه بـرای میـت درغیر وقت نماز جنازه جمع شوند و قرآن خوانند وختمـات خواننـد گورنـه و غیر آن ، وایـن مجموع بدعت است ومکروه "

د انحضرت صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم او نورو سلف صالحینو دا عادت نه و چی مړي لپاره د جنازی له لمونځ نه علاوه جمع شوي وای او قرآن یی لوستلي وای . نه په قبر باندی او نه هم په بل خای کی او دا تول رواجونه بدعت او مکروه دي (شرح سفر السعادت ص ۲۷۳ مدارج النبوه ج ۱ ص ۴۲۱) .

ایا د نوافلو په ذریعه ایصال ثواب کیدای شي او که نه ؟

(۸۷ سوال) که د چا له علماو سره مینه او عقیدت وي لکه له مولانا حسین احمد مدني سره . نو هغه ته د ایصال ثواب په نیت نفل لمونخونه کولی شي او که نه ؟ همدغه راز که هره ورځ ورته نفل لمونځونه ولوستل شي . نو د دی څه حکم دی ؟ د روژی په تول میاشت کی ورته هره ورځ نفل لمونځ ورته کولی شي او که نه ؟

خواب چاته د ایصال ثواب په نیت نفل لمونځ لوستل له څه حرج نه پرته جائز دي او هیڅ قسم ممانعت پکی نشته[۱] . فقط والله اعلم بالصواب .

ایصال ثواب کوونکی ته ثواب کیږي او که نه ؟

(۸۸ سوال) یو سړی هره ورځ د قرآن کریم یوه یا دوه پاره تلاوت کوي ، د هغه نیمه حصه خپلو مړو پلار او مور ته بخښي او نور نیم ثواب تولو مسلمانو سړو او ښځو ته بخښي نو ایا د دغه تلاوت کوونکي سړي ته چی ثواب یی بل چاته بخښي ثواب کیږي او که نه ؟ ځکه چی د تلاوت تول ثواب مړو ته بخښي پخپله تلاوت کوونکي ته څه اجر رسیږي ؟

خواب د قران کریم تلاوت کوونکي ته هم دقرآن کریم د تلاوت او مړي ته دهغه د ثواب وربخښلو ثواب ورکول کیږي ، کوم سړی چی تلاوت کوي یا صدقه او خیرات کوي او دهغه تول ثواب مړو ته وربخښي نو پخپله هم له ثواب نه نه محروميږي لکه چی د دین علماو لیکلي دي : "الافضل لمن یتصدق نفلاً ان ینوی لجمیع المؤمنین والمؤمنات لانها تصل الیهم ولاینقص من اجره شیئ" نفل عبادت کوونکو ته پکار دي چی خپل تول مسلمان سړي او ښځی پخپل ثواب کی شامل کړي . هغوی ته هم ثواب

---

[۱] صرح علمائنا فی باب احج عن الغیر بان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیر صلاوة او صوماً او صدقة او غیرها کذا فی الهدایه . شامی باب صلواة الجنائز مطلب فی القرأة للمیت واهداء ثوبها له ج ۱

رسیږي او پخپله د دی په ثواب کی هم څه نقصان او کمی نه راځي (شامي ج ۱ ص ۸۴۴)

یواځی دا نه بلکی کله د زیات ثواب مستحق هم ګرځي ، له حضرت علي رضی الله عنه نه روایت دی چی محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

"من مرّ علی مقابر وقرء "قل هو الله احد" احدی عشرة مرة ثم وهب للاموات اعطی من الاجر بعد الاموات" .

ترجمه : کوم سړی چی له قبرستان نه تیر شي او هغه یولس کرته قل هو الله احد ولولي او هغه د مړو روحونو ته وبخښي نو هغه ته دمړو د تعداد په اندازه ثواب ورکول کیږئ ، د سوره یس د لوستلو هم همدومره اجر بیان شوی دی (دار قطنی ، طبراني ، درمختار ، شامي وغیره باب صلواة الجنائز مطلب فی القرأة للمیت واهداء ثوابها له ص ۸٤٤ ج ۱) .

له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل هر چا چی د خپل پلار او مور له طرف نه حج وکړ نو هغه د هغوی له طرف نه حج ادا کړ او پخپله هغه ته د لسو حجونو ثواب ورکول کیږي ، دار قطني .[1]

دا د الله تعالی یو خاص رحم دی د هغه په خزانو کی هیڅ کمی نشته ، نو ځکه ځینو جلیل القدر بزرګانو عقیده ده چی د نیکی ثواب چی مړو ته بخښل کیږي هغه نه تقسیمیږي بلکی الله تعالی هر یو ته پوره پوره ثواب ورکوي .

په شامي کی دي : چی له حضرت ابن حجر مکي نه پوښتنه وشوه چی که یو څوک سوره فاتحه ولولي او هغه مړو ته وبخښي نو هغه بخښل شوی ثواب ویشل کیږي یا هر یو ته د فاتحی د سوری پوره پوره ثواب رسیږي؟ ، هغه وویل چی هر یو ته د پوره ثواب د رسیدو لپاره د علماو یوه ډلی فتوه ورکړی ده او همدا فتوه د الله تعالی د عام فضل له شان سره مناسب دی (شامي ج ۱ ص ۸٤٥ باب صلواة الجنائز مطلب فی القرأة للمیت الخ) همدغه امید سائل پکار دي چی الله تعالی هر یو مړي ته پوره پوره ثواب

---

[1] ـ واخرج ایضاً من جابر انه علیه الصلواة والسلام قال من حج عن ابیه وامه فقد قضی عنه ، حجته وکان له فضل عشر حج . شامي باب الحج عن الغیر ج ۲ ص ٦٠٩ .

ورکوي ، "قال الله تعالی انا عند ظن عبدی بی" زما بنده چی په ما باندی څنګه عقیده لري زه د هغه په حق کی همغسی کیږم ، فقط والله اعلم بالصواب

د ایصال ثواب لپاره د خلکو راغونډول او د قرآن کریم ختم کول

(۸۹ سوال) مړي ته د ایصال ثواب شل پنځه ویشت کسان راغونډیږي او د ټول قرآن کریم ختم کوي بیا د دغه ختم ثواب مړي ته بخښي ، داسی هم کیږي چی د قرآن کریم د تلاوت او ختم لپاره له سلو نه زیات کسان هم راغونډیږي ، دا کارونه په میاشت کی څو څو ځله کیږي ، ما پخپلو سترګو ولیدل چی دا هسی یو رواجي کار دی او د قرآن کریم د لوستلو لپاره چی کوم اداب پکار دي د هغه هیڅ خیال نه کیږي ټول یوځای په زوره تلاوت کوي ، څوک صحیح لولي او څوک غلط ، په کوم ایتونو کی چی سجده تلاوت واجبیږي هغه هم څوک نه کوي ، داسی قرآن خواني چی په هغه کی د قرآن کریم د تلاوت د ادابو خیال نه کیږي او واجبو سجدو څوک پروا نه کوي ایا د داسی قرآن خوانی ثواب پوره پوره رسیږي او که ناقص ؟ او کوم خلک چی د دی ارتکاب کوي هغوی ګنهګاریږي او که نه ؟

ځواب : که چیرت د رسم او رواج د پابندی او د مروت او فشار نه بغیر د کومی مخصوصی نیټی له تاکلو او دعوتي اهتمام او اجتماعي التزام نه علاوه ، دمړي متعلقین ، عزیز او اقارب پخپله خوښه د ایصال ثواب لپاره راغونډ شي او قرآن کریم ولولي نو دا جائز دي او هیڅ قسم ممانعت پکی نشته (عینی شرح هدایه جلد اول ج ۳ ص ۳۰۲ قبیل باب الشهید) .

البته د ډیرو ګڼو کسانو راغونډیدل او بیا په زوره زوره د قرآن کریم تلاوت په باره کی د فقهاؤ تر منځ اختلاف دی ، ځینی فقهاء لدینه منع کوي او استدلال کوي چی په دی قسم تلاوت کی چی هر یو تن په زوره وایي او د بل نه آوري حال دا چی آوریدل یی ضروري دي ځکه چی په قرآن کریم کی ارشاد دی چی : "واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون" .

ترجمه : او کله چی قرآن کریم ولوستل شي نو هغه ته غوږ کیږدئ او وایی ورئ شاید چی پر تاسو رحم وکړی شي (سوره اعراف) .

او یو حدیث هم په دلیل کې راوړي لکه چې په نصاب الاحتساب کې راغلي دي:

"ومن قال من المشائخ ان ختم القرآن جهرا بالجماعة یسمی بالفارسیة (سیاره خواندن) آشکارا مکروه است . زیرا که از رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت است که کان یکره رفع الصوت عند قراة القرآن".

ترجمه: کومو مشائخو چې په مجمع او غونډه کې په لوړ آواز د قرآن کریم تلاوت ته چې سیاره خواني ورته ویل کیږي مکروه ویلي دي . هغوی دا دلیل نیسي چې محمد صلی الله علیه وسلم په زوره او لوړ آواز سره د قرآن کریم تلاوت مکروه گڼل (نصاب الاحتساب قلمي باب ۱٦ ، ص ۳۷).

مولانا احمد رضا خان بریلوي خو په صراحت سره په مجمع کې په لوړ غږ د قرآن کریم تلاوت ته د حرمت فتوه ورکړې ده ، هغه لیکي : کله چې ناست ټول کسان پخپلو آوازونو کې په اوچت غږ سره تلاوت کوي او د یو بل نه آوري ناجائز او حرام دی (فتاوی افریقیه ص ۲۹ مصنف مولوي احمد رضا خان صاحب بریلوي) .

خو ځینې محققین علماء داسې ختم په خو شرائطو جائز گڼي ، همدغه قول زیات صحیح او راجح دی او په دی کې د دواړو ډلو دلائل او روایت هم تطبیقیږي .

"اجمع العلماء سلفا وخلفا علی استحباب ذکر الله تعالی جماعة فی المساجد وغیرها من غیر نکیر الا ان یشوش جهرهم بالذکر علی نائم او مصلی او قاری".

ترجمه: متقدمین او متاخرینو علماو په مسجدونو او په نورو ځایونو کې په جمع د الله ذکر (د قرآن کریم تلاوت وغیره) د مستحب کیدو په باره کې له څه اعتراض نه پرته په دی شرط اجتماع کړی ده چې کوم ویده یا لمونځ کوونکی او تلاوت کونکي ته په زوره سره د تلاوت کولو په وجه تشویش او پریشاني نه کیږي (شرح حموي للاشباه والنظائر ص ۵٦۰) شامي ج ۱ ص ٦۱۸ مطلب فی رفع الصوت باذکر .

د قرآن کریم د تلاوت د آوریدو وجوبي حکم په هغه صورت کې دی چې په لمونځ کې او له لمونځ نه دباندی د تبلیغ لپاره ولوستل شي ، لهذا هغوی لپاره خو د ایصال ثواب لپاره لوستل کیږي ، او نور هم په دی مقصد کې شریک دي لهذا هغوی لپاره چوپ پاتی کیدل او تلاوت ته غوږ اینودل ضروري نه دي ، په حدیث کې په اوچت آواز سره د تلاوت کولو دممانعت وجوهات نور دي ، هغه ریاء ، ایذاء ، له حد نه زیات تیز لوستل دي ، په معمولي زور سره تلاوت کول ممنوع نه دي ، هله چې کوم ویده شوی

شخص او لمونځ ګذار ته تشویش او پریشاني نه وي ، دا خو د مطلق قرآن خوانی حکم دی چې له سنت نه مخالفت ، اهتمام ، دعوتي التزام ، د قومي رسم او رواج پابندی او د بدنامی دویری خرابیانی نه وي شامل ، که نه نو د رسمي قرآن خوانی دثواب بدله د عذاب سبب جوړیدی شي ، کله چې خالص د الله رضا لپاره د نه کیدو په وجه پخپله دثواب مستحق نه ګرځي نو مړي ته به څه شی وبخښي ؟ په مجالس الابرار کی دي : کله چې د دنیادارانو داتباع ، یا د مطلب د پوره کولو او د لعن او طعن نه د بچ کیدو یا د رسم او رواج د پابندی په خاطر نوم کار وکړی شي نو هغه ریاء ده او په عبادت کی ریا حرامه ده (م ن ص ۱۴۱ عربي) .

په شامي کی د رواجي قرآن خوانی او رسمي غونډو په متعلق دمعراج الدرایه مصنف فقیه علامه قیام الدین رحمه الله (المتوفي ۷۴۹ھ) قول نقل شویدی چې دا رنګه دی : "هذه الافعال کلها للسمعة والریا فیحترز عنها لانهم لایریدون بها وجه الله تعالیٰ" ترجمه : دا ټول کارونه هسی د ښودنی او نمود لپاره وي لهذا دغو کارونو څخه ځان ساتل پکار دي ،ځکه چې په داسی رواجي کارونو کی للهیت نه وي (شامی ج ۱ ص ۸۴۲ مطلب فی کراهیة الضیافة من اهل المیت) .

حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي رحمه الله د قرآن خوانی او ایصال ثواب لپاره داسی یوه طریقه ښودلی ده چې ډیره اسانه او له اخلاص نه ډکه ده ، هغه لیکي : نن سبا چې د قرآن کریم په تلاوت کولو سره مړي ته ایصال ثواب کولی شي دا مروجه طریقه صحیح نه ده ، خو که خصوصي دوستانو ته وویل شي چې پخپلو کورونو کی دخپل طاقت په اندازه د قرآن کریم تلاوت وکړی شي او ثواب یې مړي ته وبخښي نو دا صحیح دي ، که یو سړی دری کرته قل هو الله احد ولولي او د دی ثواب مړي ته وبخښي دا له هغه قرآن خوانی نه ښه دی چې په اجتماعي صورت کی لس ځلی قرآن کریم ختم وشي ځکه چې په داسی اجتماعي ختمونو کی دمړي کورنی فخر کوي ، د الله تعالی په نزد لږ یا ډیر ته نه کتل کیږي بلکی اخلاص او نیت ته ګوري ، لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : که زما یوصحابي یو مد کجوری صدقه ورکړي او بل څوک چې صحابي نه وي د احد د غره هومره سره زر صدقه ورکړي نو هغه د صحابي صدقی ته نشي رسیدلی ، دا فرق صرف د خلوص او عدم خلوص په وجه دی

ځکه چې کوم خلوص د یو اصحابي په زړه کې دی غیر اصحابي په زړه کې نشي کیدلی (انفاس عیسی ج ۱ ص ۲۱۵) .

پاتې شو د سجده تلاوت کول که هغه یواځې ځانته وکړي یا ټول په یوځای وکړي په هر حالت کې کول یې لازمي دي ، که په هغه وخت کې ممکن نه وي نو وروسته دی په یاد سره ژر تر ژر وکړي که لدینه بې پرواهي کوي نو ګنهګاریږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

ایا د ایصال ثواب دا طریقه صحیح ده د فتاوی او زجندي په نوم غلطه پروپاګنډه او د هغه ځواب

(۹۰ سوال) آب حیات (ماهنامه ګجراتي) احمد آباد شماره نمبر ۲۴ ص ۱۹ کې د زیارت تر عنوان لاندی لیکلي دي چې ملا علي قاري په فتاوی اوزجندي کې روایت وړاندی کړی دی چې د محمد صلی الله علیه وسلم زوی د حضرت ابراهیم علیه السلام د رحلت په دریم ورځ یو بدوي د خو کجورو ، د اوربشو ډوډی او د اوښې شدو سره د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او په ډیر ادب سره یې دغه څیزونه د محمد صلی الله علیه وسلم په وړاندی کیښودل ، محمد صلی الله علیه وسلم د سوره بقره لومړي پنځه ایتونه له (الم نه تر مفلحون) پوری او دری کرته سوره اخلاص او سوره فاتحه ولوستل بیا یې دواړه لاسونه اوچت کړل او دعا یې وغوښت ، د فاتحی او د خوراکی څیزونو ثواب یې خپل زوی ابراهیم روح ته وبخښلو ، بیا یې ابوذر غفاري رضی الله عنه ته وویل چې دغه څیزونه په ټولو ناستو خلکو وویشه هغه دغه څیزونه تقسیم کړل (ملا علي قاري) ایا دغه روایت صحیح دی ؟

ځواب : د فتاوی اوزجندي په نوم هیڅ تصنیف یا تالیف د ملا علي قاري په نوم نشته همدغه راز د مذکوره کتاب په حواله سره چې کوم حدیث نقل شوی دی ، هغه بې اصل او بې بنیاده دی ، موضوعي او له ځانه جوړ شوی حدیث دی ، افسوس دی چې بدعتیان د خپلو ګیډو ډکولو لپاره محمد صلی الله علیه وسلم ته د غلطو څیزونو نسبت کوي او له ځانه جوړ شوي احادیث هغه ته منسوبوي "انا لله وانا الیه راجعون" کبرت کلمة تخرج من افواههم ان یقولون الا کذباً" .

ډیره غټه او درنه ده هغه خبره چې د هغوی له خولې نه اوځي . هغوی بالکل دروغ وايي (کهف) .
"وتحسبونه هيناً وهو عند الله عظيم" ترجمه : تاسې دا معمولي ګڼئ حال دا چې د الله په نزد هغه ډير اهميت لري ، سوه نور .
د محمد صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی : "من كذب على متعمداً فليتبوأ مقعده من النار" (صحیح بخاری ج ۱ ص ۲۱ باب من كذب على النبى صلى الله عليه وسلم) .
ترجمه : هر څا چې قصداً زما په طرف دروغ خبر منسوب کړ ، یعنی لـه ځانـه یې حـدیث جوړ کړ او ما ته یې منسوب کړ نو هغه ته پکار دي چې خپل کور په دوزخ کې جوړ کړي .
محمد صلی الله علیه وسلم پیشن ګوئي او وړاندی وینه کړی ده چې :
"یکون فی اخر الزمان دجالون كذابون يأتونكم من الاحاديث بما لم تسمعوا انتم ولا اباءكم اياكم واياهم لايضلونكم ولايفتنونك" (صحيح مسلم ج ۱ ص ۱۰ باب النهى عن الرواية عن الضعفاء ولاحتياط فى تحملها) .
ترجمه : په آخره زمانه کې به ډیر زیات دروغژن خلک پیدا کیږي ، هغوی به تاسو ته داسې (موضوعي) احادیث راوړي چې نه تاسو چیرته اوریدلي وي او نه هم ستاسو پلرونو او نیکونو ، له داسې خلکو ځانونه وساتئ او هغوی له خپل ځان نه لرې وساتئ داسې ونشي چې تاسې ګمراه او فتنه کې واچوي .
کوم عبارت چې په دې سوال کې د حدیث په نوم لیکل شوی دی دهغه عمر صرف سل کاله دی ، په ۱۸۵۷ء کال کې له ځانه جوړ شوی دی (چې خلک یې له تحقیق نه پرته بیانوي او د خلکو په وړاندې پیش کوي دا دهغوی لوی غلطي ده) .
په هغه زمانه کې د دهلي مفتي اعظم علامه صدر الدین خان صاحب رحمه الله او نورو محققینو علماؤ د دغه مذکوره روایت د موضوعي کیدو په باره کې فتوه ورکړی وه ، او ویلي یې وو چې ملا علي قاري د اوزجندي په نامه هیڅ کتاب نه لري .
په کال ۱۳۳۸ ھ کې مذکوره کتاب او روایت په مکه معظمه او مدینه منوره کې د علماو په خدمت کې پیش کړی شو نو حضرت عبد الله مفتي حنفي رحمه الله ، شیخ محمد

... مفتي سواقع رحمه الله او علامه محمد ابراهيم مفتي مدينه منوره او علامه نور محمد مفتي خانف او نورو مفتيانو متفقه فتوه ورکړه چې د مذکوره عبارت نسبت محمد صلی الله علیه وسلم ته کول لویه ګناه ده او غټ بهتان دی ، د اوزجندي په نوم هيڅ کتاب د ملا علي قاري په نوم نشته خاتم المحققين علامه عبد الحی لکهنوي فرنګی محلي رحمه الله څخه د دغه روايت او کتاب په اړه سوال وشو نو هغه دغه لاندینی خواب ورکړ

نه ملا علي قاري د اوزجندي په نوم کوم کتاب لري او نه هم مذکوره روایت صحیح دی بلکې موضوعي او باطل دی . پر هغه اعتماد کول نه دي پکار ، د احادیثو په کتاب کې د داسې روایت هیڅ نښه او نښان نه سوندل کیږي مجموعه فتاوی قدیم ج ۲ ص ۱۷۵

په آخره کې د حضرت شاه عبد العزیز صاحب محدث دهلوي فتوه هم ولولئ :

(سوال) د ربیع الاول د میاشتې په ورځو کې د الله د رضا لپاره ډوډی پخول او د هغه ثواب د محمد صلی الله علیه وسلم روح ته وربخښل همدغه راز امام حسین علیه السلام او د هغه کورنۍ ته د محرم په ورځو کې ډوډی پخول او د هغه ثواب هغوی ته وربخښل صحیح دي او که نه ؟

خواب انسان پخپل کار کې خود مختار دی هغه کولی شي چې د خپل عمل ثواب د دین بزرګانو ته وبخښي ، لیکن دی کار لپاره وخت ، ورځ او میاشت مقررول بدعت دی حو که په داسې وخت کې وکړي چې په هغه کې ثواب زیاتیږي لکه د روژې میاشت چې په هغه کې د مؤمن بنده د عمل ثواب ۷۰ درجې زیات ثواب لري نو څه بدي پکې نشته ځکه چې محمد صلی الله علیه وسلم د دی ترغیب ورکړی دی ، د علي رضی الله عنه د هدایت په مطابق هر یو کار چې په هغه باندې محمد صلی الله علیه وسلم امر نه وي کړی هغه خوشې عبث دی له محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه له سنت نه مخالفت کول حرام دی ، که چیرته دچا زړه غواړي نو پټ خیرات دی وکړي او په دی کې دی ورځ ، میاشت او کال مقرر نه کړي بلکې هر وخت کې چې کول غواړي ودی کړي تر څو ریا ونشي (مجموع فتاوی عزیزي ج ۱ ص ۹۸ ، ۹۹) .

غرض دا چې دریم ، لسم ، دولسم ، شلمه ، څلویښتي او کلیزه اسلامي طریقه نه ده بلکې د نورو قومونو همسایه توب او د هغوی د تقلید نتیجه ده ، فقط والله اعلم بالصواب

دعا لیکل او د مړي په سینه باندې د هغې ایښودل :

(۹۱ سوال) له احمد آباد نه ماهنامه " آب حیات " (گجراتي) خبرېږي ، د هغه په تازه شمار کې د ایصال ثواب په متعلق یو مضمون د ادارې له طرف نه لیکل شوی دی ، او په هغه کې د مړي لپاره د یو خاص دعا په باره کې لاندیني عبارت لیکلی شوی دی په کبیری کې دي چې د مړ شوي سړي یا مړې شوې ښځې ته د کفن داغوستلو په وخت کې په یوه کاغذ باندې لاندیني دعا ولیکل شي او د هغه په سینه کې له ایښودلو نه وروسته خاورو ته وسپارل شي نو الله تعالی پر مړي باندې ډیر زیات رحم او کرم کوي. دعا دا ده :

"بسم الله الرحمن الرحيم ربنا اتمم لنا نورنا واغفر لنا انك على كل شئ قدير ، اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله ، اقم الصلوٰة طرفي النهار وزلفا من الليل ان الحسنات يذهبن السيئات ذلك ذكرى للذاكرين افمن شرح الله صدره للاسلام فهو على نور من ربه فاصبر ان الله لايضيع اجر المحسنين اقم الصلواة لدلوك الشمس الى غسق الليل وقرآن الفجر ان قرآن الفجر كان مشهوداً فقل حسبي الله لا اله الا هو عليه توكلت وهو رب العرش العظيم" .

په آخره کې د بسم الله لیکلو نه وروسته د الم نشرح ټول سورت دې په پرچه باندې ولیکل شي او هغه دې د مړي په سینه باندې کیښودلی شي (کبیری شرح منیه ص ۶۵۹ ، مفتاح الجنان باب ۲۰ فصل ۶) .

ایا د مړي لپاره داسې طریقه کول جائز ده او که ناجائز ؟ په تفصیل سره ځواب راکړی او ځواب په پیغام کې چاپ کړئ .

ځواب : کبیری شرح منیه کې نه دا ایتونه دي او نه دا دعا او د دې تشریح چې په کاغذ کې دې دا دعا او سورت ولیکل شي او د مړي په سینه کې یې کیښودلی شي . صرف دومره لیکل شوي دي چې که چیرته د مړي په پګړي ، یا وچولي او کفن باندې عهد نامه ولیکل شي نو د هغه د مغفرت او بخښنې امید دی ، د دې د ثبوت لپاره هیڅ قسم حدیث نه دی لیکلی ، بلکې د کوم بزرګ واقعه یې نقل کړې ده چې هغه وصیت کړی و چې زما په وچولي او سینه باندې بسم الله الرحمن الرحیم ولیکئ . له مړ کیدو

نه وروسته هغه بزرگ چا په خوب کی ولید او د هغه حال یی معلوم کړ ، نو هغه بزرگ ورته وویل د عذاب پرښتو چی زما په سینه او زما په وچولي باندی بسم الله لیکل شوی ولید نو وی ویل دا له عذاب نه مامون دی (کبیری شرح منیه) .
د دی عبارت مطلب دا دی چی که له سیاهي نه بغیر هسی د ګوتی په اشاری سره په کفن او وچولي باندی عهدنامه او نوری دعاګانی ولیکل شي نو په دی کی څه حرج نشته . په فتاوی شامي کی دي چی ځینو فقهاو هدایت کړی دی چی کله مړي ته غسل ورکړی شي نو په کفن کی له تاوولو نه وروسته له سیاهي نه بغیر یواځی د شهادت په ګوته د مړي په وچولي باندی بسم الله او سینی باندی دی کلمه طیبه ولیکل شي ، "ان مما یکتب علی جبهة المیت بغیر مداد بالاصبع المسبحة بسم الله الرحمن الرحیم وعلی الصدر لا اله الا الله محمد رسول الله وذلك بعد الغسل قبل التکفین" (شامی ج ۱ ص ۸٤۸ مطلب فیما یکتب علی کفن المیت) .
که چیرته د کبیری د عبارت مطلب دا واخستل شي چی په سیاهي سره دی ولیکل شي نو دا خبره معتبره او صحیح نه ده ، علامه شامي او نور محققین فقها د دی سخت مخالف دي . په شامي کی دي : "وقد افتی ابن الصلاح بانه لایجوز ان یکتب علی الکفن یس والکهف ونحوهما خوفاً من صدید المیت .... وقدمنا قبیل باب المیاه عن الفتح انه تکره کتابة القرآن واسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاریب والجدران وما یفرش وما ذاك الا لاحترامه وخشیة وطئه ونحوه مما فیه اهانة فالمنع هنا بالاولی ما لم یثبت عن المجتهد او ینقل فیه حدیث ثابت" (ج ۱ ص ۸٤۷ مطلب فیما یکتب علی کفن المیت) .
ترجمه : امام ابن صلاح فتوه ورکړی ده چی دمړي په کفن باندی سوره یس ، سوره کهف او نورو متبرکو کلمو لیکل جائز نه دي ، ځکه چی قصداً د واجب الاحترام کلمو په کفن کی لیکل د مړي په وینه او نور ګنده ګی کی لړل دي ، مونږ وړاندی هم د فتح القدیر په حواله لیکلي دي چی الهي آیتونه او الهي اسماء په روپو ، محراب ، دیوال ، فرش او نورو ځیزونو باندی لیکل ممنوع دي ، ددی ممانعت وجه صرف دا ده چی دغو ایتونو او کلمو احترام ضروري دی او دلته د بی ادبی خطره ده چی حرام

دی . کله چی په دیوال او محراب باندی لیکل ممنوع دي نو په کفن یـا جسـم بانـدی لیکل خو ضرور ممنوع دي ، ځکه چی دلته خطره نوره هـم زیاتـه ده او تـر څـو پـوری چی دکوم مجتهد فتوه نه وي ، یا په دی باره کی کوم صحیح حدیث نه وي نو هغـه تـه ممنوع ویل کیږي (شامي ج ۱ ص ۸۴۷) .

حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله په قبر کی د شجری د ایښودلو په بـاره کی لیکي : شجره در قبر نهادن معمول بزرگان است لیکن این را دو طریـق اسـت اول اینکه بر سینه مرده درون کفن یا بالای کفن گزارند این طریق را فقها منع می گویند کـه از بدن مرده خون وزیم سیلان میکند وموجب سؤ ادب باسماء بزرگان میشود .

ترجمه : په قبر کی شجره ایښودل د ځینو بزرگـانو معمـول دی مګـر د دې دوه طریقـی دي . یو دا چې د مړي په سینه باندی په کفن کی دننه یا د بانـدی کیـږدي لـه داسـی طریقی نه فقهاو منع کړی دی او ویلی یې دي چی د مړي له جسم نه وینه او پیپ اوزي او د بزرگانو نومونو بی عزتي کیږي (فیض عام) .

او په فوائد الفوائد کی دي : قرآن و دعا بر قبر بتهانمی باید نوشت و برجامه کفن نیز .

ترجمه : قرآن او دعا باید په قبرونو ونه لیکل شي او په کفن باندی هم .

د لطف او خوند خبـره دا ده چـی د رضاخاني فرقـی مشـهور او معـروف کتـاب (بهـار شریعت) کی د مذکوره بیان په آخر کی د فیصلی په توګه دممانعت د حکم تائید کـړی دی او ویلی یې دي چی له غسل ورکولو نه وروسته دی او د کفـن ورکولـو نـه وړانـدی دی کلمه تش په ګوته ولیکي نه په سیاهي او نور څیز سره (بهار شریعت ج ۴ ص ۱٦۴).

حاصل دا چی د مړي په بدن یا کفن باندی عهد نامه یـا بـل څـه لیکـل د کلمـو د بـی حرمتی په وجه ممنوع دي او سینه باندی د کلمی طیبی لیکل له سیاهی او نورو رنګونو نه بغیر یواځی په ګوتی سره داسی لیکل چی د حروف نښی معلوم نشي نـو جـائز دي ، مګر دا ضروري او مسنون دی ونه ګڼل شي ، همدغه راز عقیده دی هم ونـه سـاتل شـي چی په دی سره یقیني بخښنـه ورتـه کیـږي ،ځکـه چـی د مغفـرت او بخښنـی طریقـی سماعي دي نه قیاسي ، لهذا له صحیح حدیث او مضبوط دلیل نه پرته یواځی د قیاس او خوبونو په اعتماد باندی عقیده یا شرعي حکم نشي جوړیدلی ، خـو د رحمـت د نـزول او د مغفرت د حصول امید ساتل ښه کار دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

د حاجیانو په مسافر خانه کی د ایصال ثواب لپاره چنده ورکول

(۹۲ سوال) د حاجیانو په مسافر خانه کی چی په بمبی کی جوړیږي په دی کی مړي ته د ایصال ثواب لپاره چنده ورکړم نو ایا هغه ته ثواب رسیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د حاجیانو په مسافر خانه کی تعاون کول ډیر لوی د ثواب کـار دی مـړي تـه د ثواب رسولو لپاره په دی کی چنده ورکولی شي او مړي ته ثواب رسیږي ، لـیکن زکـات او وجوبي صدقات ورکول صحیح نه دي ، البته نفلي صدقی ورکـولی شـي ، "لایصرف الی بناء نحو مسجد (قوله نحو مسجد) کبنـــاء القنــاطیر والســقایات واصـــلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل ما لا تملیك فیه" زیلعی (شامی ج ۲ ص ۸۵ کتاب الزکواة باب المصرف) فقط والله اعلم بالصواب .

د غمرازی موده ، او د ایصال ثواب لپاره د قرآن کریم تلاوت کول

(۹۳ سوال) د مړي وارثانو لپاره څو ورځی غم کول پکار دي ؟ په دی وخت کی کلمه طیبه او د قرآن کریم تلاوت معمول ګرځول د څه قسم رسم او رواج نـه پـه ځـان سـاتلو سره یا ضروري او مسنون ګنلو نه بغیر ښتکه دي ؟ ایا په دی سره کوم قباحـت او بـدعت خو نه لازمیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د مړي وارثانو ته تر دریو ورځو پـوری تعزیـت جـائز دی ، ښځـه د خپلوانـو پـه مړینه غم او خفګان کولی شي یعنی زینت او ښکلا دی پریږدي ، خـو د خاونـد پـه مرګ باندی به څلور میاشتی او لس ورځی سوګ او غم رازي کوي .

په شامي کی دي چی د خپلوانو په مړینه باندی تر دریو ورځو پـوری سـوګ او غمـرازي کول مباح دي ، او له صحیح حدیث نه دا ثابت دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی چی په الله او آخرت باندی ایمان لرونکی ښځی لپاره حلال نه دي چـی له دریو ورځو نه زیات سوګ وکړي البته د خاوند په مرګ دی څلور میاشـتی او لـس ورځې سوګ وکړي .

"ویبیح الحداد علی قرابة ثلاثة ایام فقط قال الشامی ای للحدیث الصحیح لایحل لامراة تؤمن بالله والیوم الاخر ان تحد فوق ثلاث الا علی زوجها فانها تحد اربعة اشهر وعشرا" (شامی ج ۲ ص ۸۵۱ فصل فی الحداد).

په عالمګیري کی دي: د مصیبت په وخت کی تر دریو ورځو پوری کور کـی کیښناستل جائز دي خو پریښودل یی ښه کار دی په مړي باندی ژړا او نوحه کول ناروا دي.

"وفی خزانة الفتاوی والجلوس للمصیبة ثلاثة ایام رخصة وترکه احسن کذا فی معراج الدرایه واما النوح العالی فلایجوز" (ج ۱ ص ۱۶۷ جنائز ومما یتصل بذلک مسائل التعزیة).

که چیرته د مړي د کور خلک او نور خپلوان یی راجمع شي او د قرآن کریم تلاوت یا کلمه طیبه ووائي او دا مسنون ونه ګڼي نو داسی ایصال ثواب کول جائز دي خو په قبرستان او نورو ځایونو کی د دغی اجتماع او غونډی لپاره اعلان کول قابل ترک دي. او که چیرته د رسمونو د پابندی کول یی مقصد وي یعنی داسی چی خلک راوغواړي او څوک چی داسی نه کوي هغه دی ملامت کړی شي او بدی ردی دی ورته وویل شي نو دا جائز نه دي.

په شامي او فتاوی بزازیه کی دي چی مړي لپاره په لومړی ورځ یا دریمه ورځ یا له هفتی نه وروسته د مړي لپاره ډوډی او دیګي پخول مکروه دي دغم په ورځو کی قبر ته د خوراک او څښاک شیان وړل هم مکروه دي، همدغه راز د ایصال ثواب لپاره قرآن خواني، یا د سورت انعام یا د سوره اخلاص لوستلو لپاره د صالحینو او قاریانو راغونډول هم مکروه دي.

د کلام حاصل دا چی قرآن خواني کول او په دی ورځو کی د خوراک څښاک اهتمام کول مکروه دي، لکه چی د فتاوی بزازیه کتاب الاستحسان کی دي چی صرف غرباء او فقراو لپاره خوراک پخول بهتر دي، په معراج الدرایه کی په دی باره کی تفصیلي بحث موجود دی. او په دی کی دا خبره هم شته چی دا ټول کارونه د شهرت او ریاکاری لپاره دي، نو څکه لدینه ډډه کول پکار دي په دی خاطر چی په دی کـی د الله رضا مقصود نه وي.

"وفی البزازیة ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الی القبر فی المواسم واتخاذ الدعوة لقرءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او القرءة سورة الانعام او الاخلاص والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قرءة القرآن لاجل الاکل یکره وفیها من کتاب الاستحسان وان اتخذ طعاما للفقراء کان حسناً اه واطال فی ذلک فی المعراج وقال وهذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم لایرون بها وجه الله اه" (شامي ج ۱ ص ۸٤۲ مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت) (فتاوی بزازیة علی هامش الهندیة ج ٤ ص ۷۱) (بریقة محمودیة ج ٤ ص ۳۲۲) (مائة مسائل ص ۳۵ ، ۳٦) (الجنة لاهل السنة ص ۱۷۳) .

په مجموع فتاوی کی مولانا عبد الحی لکهنوي قدس سره د حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي فتوه نقلوي

(سوال) روز سوم یا پنجم مرد به طلب یا بلا طلب جمع می شوند وچند ختم کلام مجید می خوانند ، بعضی اهسته و بعض بلند ودر پیاله خوشبو می انداز ندودیگر خصوصیات ورسوم بعمل می آرند چه حکم دارد ؟

جواب مقرر کردن روز وغیره به تخصیص واورا ضروري انگاشتن در شریعت محمدیه صلی الله علیه وسلم ثابت نیست صاحب نصاب الاحتساب آنرا مکروه نوشته رسم وراه تخصیص بگذار ند وهر روز یکه خواهند ثواب بروح میت رسانند .

یعنی دریم ورځ یا د نورو ورځو تخصیص او مقررول او د هغوی د ضروري ګڼلو ثبوت په محمدی صلی الله علیه وسلم شریعت کی نشته د نصاب الاحتساب مصنف دیته مکروه ویلی دي ، د رسم په ډول د مخصوصو ورځو مقررول دی پریږدي او بل کوم ورځ دی ایصال ثواب وکړي ، مجموعه فتاوی ج ۳ ص ٦۸ .

لنډه دا چی که د رسومو پابندي ، ریاکاري ، د خلکو فشار د تاریخ او د ورځی ټاکل او د خلکو د راټولولو التزام نه وي نو د مړي عزیزان خپلوان او دوستان د ایصال ثواب په خاطر قرآن خواني وکړي نو ددی ګنجائش پکی شته (عیني شرح هدایه ج ۳ ص ۳۰٦) قبیل باب الشهید ، فقط والله اعلم بالصواب .

د خپلوان په مړینه د قرآن کريم تلاوت کول او خپل کاروبار بندول

(۹۴ سوال) زمونږ په علاقه کی له پخوا نه دا سلسله روانه ده چی د چا د مړ کيدو په وخت کی دهغه خپلوان تر دريو ورځو پوری کاروبار بندوي او په دی ورځو کی مړي ته د ايصال ثواب په خاطر کلمه طيبه او قرآن کريم لولي ، ايا دا جائز دي او که نه ؟

ځواب د ورځو او نيتی له مقررولو او د رسومو د پابندی نه علاوه قرآن کريم لوستل او د هغه ثواب مړي ته وربخښل جائز دي ، همدغه راز د خپلوان له مرگ نه وروسته تر دريو ورځو پوری خپل کارونه بند ساتل هم جائز دي خو دا بايد ضروري ونه گڼل شي او څوک چی خپل کاروبار بندوي پر هغه دی طعن او لعن ونکړی شي ، فقط والله اعلم بالصواب .

له ځنبولو نه وړاندی د قرآن کريم لوستل او مړي ته د هغه ثواب وربخښل څنگه دي ؟

(۹۵ سوال) د يو سړي د مړ کيدو خبر راغي ، د هغوی خپلوان د تعزيت لپاره د مړي کور ته راغلل ، په دی وخت کی حاضرين په خبرو کی مشغول وو ، يو سړي وويل ښه دا ده چی مونږ قرآن کريم ولولو او مړي ته ايصال ثواب او د مغفرت دعا وکړو مونږ همداسی وکړه ، يو مولوي صاحب تشريف راوړ او ويی ويل چی د مړي له ځنبولو نه وړاندی د قرآن کريم تلاوت او ايصال ثواب نشي کيدای خو له ځنبولو نه وروسته د قرآن کريم تلاوت او ايصال ثواب کولی شئ ، پوښتنه دا ده چی ايا د مولوي صاحب د خبری مطابق له ځنبولو نه وړاندی ايصال ثواب کول صحيح دي او که نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب : مړي ته له غسل ورکولو نه مخکی د هغه په خوا کی د قرآن کريم تلاوت کول مکروه دي البته تسبيح لوستلی شي ، په نور الايضاح کی دي : "ويکره قرأة القرآن عنده حتی يغسل" يعنی تر څو پوری چی غسل ورنکړی شي د هغه په څنگ کی د قرآن کريم تلاوت مکروه دی (نور الايضاح ص ۱۳۳ باب احکام الجنائز) درمختار مع شامی ص ۸۰۰ ج۱ مطلب الحاصل فی القرائت عند الميت .

حکه چې مړی له ضروري حاجت مثلاً متیازی او نور غټ بول نه نشي محفوظ پاتی کیدلی نو حکهله غسل نه مخکې د هغه په خوا کې قرآن کریم بایډ ونه لوستل شي . بلکې په بله کوټه کې دی ولوستل شي ، په شامي کې دي :

"وذکر ان محل الکراهة اذا کان قریباً منه اما اذا بعد عنده بالقرأة فلا کراهـــة" (شامی ج ۱ ص ۸۰۰ باب احکام الجنائز(فتاوی رحیمیه ص ۹۱ ، ۹۲ ج ۷) .

لهذا په دی صورت مسئوله کې چې د مړي خپلوان او دوستان له مړي نه لرې په بل ځای کې دمړي له ښښولو نه وړاندی د ایصال ثواب لپاره د قرآن کریم تلاوت کوي او دا اجتماع د تعزیت په نیت اتفاقاً شوی دی په آواز او دعوت سره دا خلک د قرآن کریم د تلاوت لپاره نه دي راغلي نو په داسی حالت کې بلا تکلف قرآن کریم تلاوت کولی او د هغه ثواب مړي ته بخښلی شي ، مولوي صاحب ته غالباً اشتباه شوی ده هغه چې کومه خبره کړی ده هغه په داسی صورت کې دي چې مړی نژدی پروت وي او غسل یې ورته نه وي ورکړی او د هغه په خوا کې جبراً قرآن کریم ولوستل شي نو دا قسم تلاوت ته فقهاو مکروه ویلي دي ، خو له مړي نه لری په بله کوټه کې تلاومت کولو ته مکروه نه دي ویلي ، لهذا کله چې له غسل او تدفین نه مخکې په بله کوټه کې ځوک تلاوت کولی شي نو په بل ځای کې ولی نشي کولی ؟ فقط والله اعلم بالصواب .

د جنازی متفرق مسائل

له مړي نه په کومه ژبه سوال کیږي ؟

(۹٦ سوال) د دین علماء او دشریعت مفتیان په دی مسئله کی څه وائي چی په قبر کی له مړي نه په کومه ژبه کی سوال او پوښتنه کیږي ؟ په عربي ژبه او که د مړي په ژبه ؟ بینوا توجروا

خواب د ځینو علماو دا قول دی چې په سرياني ژبه کی سوال کیږي لیکن د علامه ابن حجر رحمه الله تحقیق دا دی چې ظاهر حدیث دا دی چې په عربي ژبه کی سوال کیږي ، او دا احتمال هم شته چی له هر یو نه د هغه په ژبه پوښتنه وشي لکه چی د شرح الصدور په کتاب کی راغلي دي چې : "وقع في فتاوی شیخنا شیخ الاسلام علم الدین البلقینی ان المیت یجیب السوال فی القبر بالسریانیة ولم اقف لذلك علی مستند وسئل الحافظ ابن حجر عن ذلك فقال ظاهر الحدیث انه بالعربی قال یحتمل مع ذلك ان یکون خطاب کل احد بلسانه" (ص ۵۷) فقط والله اعلم بالصواب .

د جنازی له لمونځ نه وروسته فاتحه اخستل څه حکم لري ؟

(۹۷ سوال) په ځینو ځایونو کی د جنازی لمونځ لوستلو نه فوراً وروسته الحمد لله (سوره فاتحه) دری یا یولس کرته قل هو الله احد سوره اخلاص لولي او مړي په حق کی دعا کوي په شریعت کی د داسی قسم دعا غوښتلو څه حکم دی ؟ د ځینو وینا ده چی ۱۳ هجري ځینی علماء د دغه پورتنی طریقی سره د دعا کولو مخالفت کړی دی او له دوی نه وړاندی بل هیچا مخالفت نه دی کړی ایا دا وینا صحیح ده ؟

خواب : د جنازی لمونځ په حقیقت کی د مړي لپاره دعا ده ، له لومړي تکبیر نه وروسته ثنا ویل کیږي ، له دویم تکبیر نه وروسته درود شریف ، له دریم تکبیر نه وروسته چې کومه دعا لوستل کیږي په دی کی د مړي لپاره د مغفرت او ژوندو خلکو لپاره د ایمان د سلامتیا دعا غوښتل کیږي ، د دغی دعا الفاظ محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته ښودلي دي ، دا چی د جنازی له لمونځ نه وروسته چی کټ لا پخپل ځای کی پروت وي په ګډه د دعا غوښتلو التزام له محمد صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرامو رضی الله عنهم نه ثابت دي ، لهذا دغه طریقه باید ترک کړی شي د محمد صلی الله علیه وسلم مبارک

ارشاد دی "من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو ردٌ" یعنی څوک چی داسی یو کارَ وکړي چی د هغه لپاره زمونږ حکم نه وي (زمونږ دستور نه وي) نو هغه مردود دی (مسلم شریف ج ۲ ص ۷۷ باب نقض احکام الباطله ورد محدثات الامور) .

او د حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمان دی : "کل عبادة لم یتعبدها صحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فلا تعبدوها" (الاعتصام ج ۲ ص ۳۱۰) .

یعنی هر هغه عبادت چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو نه وي کړی نو تاسی یی هم مه کوئ .

او حضرت امام مالک رحمه الله فرمایي : هر چا چی په اسلام کی نوی خبره راوویست او هغه یی ښه وګڼله نو هغه محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی د احکامو په تبلیغ کی خیانت کوونکی وګڼله ، ځکه چی الله تعالی فرمایي : "الیوم اکملت لکم دینکم" نن ما ستاسو لپاره ستاسی دین کامل کړی دی نو د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په زمانه کی چی کوم کار نه و شامل هغه نن په دین کی نشي شاملیدلی (الاعتصام ج ۱ ص ۴۸) .

د هغوی دا وینا چی له ۱۴ هجري پیړی نه وړاندی چا لدینه مخالفت نه و کړی دا صرف ناخبري دی ، علما پوهیږي چی له دی پیړی نه نه بلکی تقریباً له یولس سوه پیړی نه فقهای کرام د جنازی له لمونځ نه وروسته دعاء له سنت نه مخالفت ، ممنوع او مکروه ویلی دي او د دی په عدم جواز باندی فتوه ورکړی دی .

(۱) د دریمی پیړی هجري فقیه امام ابوبکر بن حامد معاصر ابوحفص الکبیر المتوفی ۲۶۴ هجري کال ، لکه چی په فوائد الهبه ص ۲ کی فرمایي :

"ان الدعاء بعد صلواة الجنازة مکروه" (۷ جنوری ج ۱ ص ۱۸۰) .

یعنی بیشکه چی د جنازی له لمونځ نه وروسته دعا کول مکروه دي .

(۲) د پنځمی پیړی هجري فقیه شمس الائمه حلواني المتوفی ۴۵۴ هجري او

(۳) د بخارا مفتي ، قاضي شیخ الاسلام علامه سعدي رحمه الله المتوفي ۴۶۱ هجري فرمایي "لایقوم الرجل بالدعاء بعد صلواة الجنازة" (قنية ج ۱ ص ۵۶) .

د جنازی لمونځ نه وروسته دی هیڅوک د دعا لپاره ونه دریږي ، یعنی دعا لپاره ونه دریږي .

(۴) د شپږمی هجري پیړۍ فقیه امام طاهر بن احمد بخاري سرخسي المتوفي ۵۴۲ هجري فرمايي "لایقوم بالدعاء فی قرأة القرآن لاجل المیت بعد صلواة الجنازة وقبلها" (خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۵ الفصل الخامس والعشرون فی الجنائز).
ترجمه : د جنازی لمونځ نه وروسته او وړاندی دی د مړي لپاره د قرآن کریم تلاوت او دعا لپاره دی نه ودریږي.
(۵) د مذکوره پیړۍ دویم فقیه (علامه سراج الدین اوشی رحمه الله) د سراجیه فتاوی مصنف ۵۶۹ ه) فرمايي : "اذا فرغ من الصلواة لایقوم داعیاً له" (فتاوی سراجیه مع قاضی خان ج ۱ ص ۱٤۱).
کله چی د جنازی له لمونځ نه فارغ شي نو دعا لپاره دی نه ودریږي.
(٦) د اوومی هجری پیړۍ فقیه مختار بن محمد زاهدي المتوفي ٦۵۸ هجری هم همدغه رایه ده (فتاوی قنیه ج ۱ ص ۵٦).
(۷) د اتمی هجری پیړۍ مشهور عالم ابن الحاج المتوفي ۷۲۷ هجري فرمايي : دا رواج د پریښودو وړ دی (کتاب المدخل ج ۳ ص ۲۲).
(۸) د نهمی هجری پیړۍ فقیه علامه شیخ حافظ الدین محمد بن شهاب کردري رحمه الله المتوفي ۸۲۷ هجري فرمايي :
"لایقوم بالدعاء بعد صلواة الجنازة لانه دعا مرة لان اکثرها دعاء" (فتاوی بزازیه مع هندیه ۱ ص ۸۰ جنائز نوع آخر ذهب الی المصلی قبل الجنازة وینتظرها).
د جنازی لمونځ نه دی وروسته دعا لپاره ونه دریږي ځکه چی هغه یوځل دعا کړیده او دجنازی لمونځ لویه حصه په دعا مشتمل دی.
(۹) د لسمی هجری پیړۍ فقیه علامه علی بر جندي رحمه الله د برجندي د کتاب مصنف چی په کال ۹۳۳ ه کی لیکلی دی ، له جنازی نه وروسته د دعا کولو نه منع کری ده (فتاوی برجندي ج ۱ ص ۱۸۰).
(۱۰) د لسمی هجری پیړۍ دویم فقیه شمس الدین خراسانی قهستانی المتوفي ۹٦۲ هـ فرمايي : "ولایقوم داعیاً له" (فتاوی جامع الرموز ج ۱ ص ۱۷٤) د دعا کولو لپاره دی نه ودریږي.

(۱۱) د لسمی هجری پیړی فقیه علامه ابن نجیم مصري رحمه الله المتوفي ۹٦۹ هـ فرمایي "لایدعوا بعد التسلیم" (بحر الرائق ج ۲ ص ۱۸٤ کتاب الجنائز تحت قوله وهی اربع تکبیرات) یعنی د جنازی له سلام نه وروسته دی دعا نه کوي

(۱۲) د لسمي هجری پیړی فقیه شیخ نصیر الدین رحمه الله د برهنه فتاوی مصنف چی په کال ۹۹۷ ه کی لیکلي دي فرمایي وبعده ایستاد نماند برای دعاء (فتاوی برهنه ص ۳٦)

(۱۳) د یولسمی هجری پیړی مجدد علامه علی قاری المتوفي ۱۰۱۴ ه فرمائي "ولایدعوا للمیت بعد صلواة الجنازة لانه یشبه الزیادة فی صلواة الجنازة" (مرقاة المفاتیح شرح مشکواة المصابیح ج ۲ ص ۳۱۹ باب المشی بالجنازة والصلواة علیها).

د جنازی لمونځ نه دی وروسته د مړي لپاره دعا ونه کړي ، ځکه چی په دی سره د جنازی په لمونځ کی د زیاتي کولو شبهه کیږي .

(۱۴) په مجموعه خاني کی دي : دعا نخواند وفتوی برین قول است (قلمی ص ۳۴۹) یعنی د جنازی لمونځ نه دی وروسته دعا ونه کړي او په همدی خبره فتوه ده .

(۱۵) د دیار لسمی هجری پیړی فقیه قاضي مفتي محمد سعد الله المتوفي ۱۲۹۲ هـ فرمائي : خالي از کراهت نیست زیراکه اکثر فقها بوجه زیاده بودن برامر مسنون منع می کنند (فتاوی سعدیه ص ۱۳۰) یعنی د جنازی لمونځ نه وروسته دعا کول له کراهت نه خالي نه دي ، ځکه چی زیاتره فقهاء په مسنونه امر باندی دزیاتوالي لازمیدو په وجه منع کوي .

(۱٦) فقیه مولانا قطب الدین د مظاهر حق مصنف چی په کال ۱۲۵۳ ه کی لیکلی دي چی د جنازی لمونځ نه وروسته دی د مړي لپاره دعا ونه غواړي ځکه چی دا له جنازی لمونځ سره د زیاتوالي سره مشابه دي (مظاهر حق ج ۲ ص ۵۷ باب المشی بالجنازة والصلواة علیها) .

(۱۷) علامه فقیه عبد الحی لکهنوی المتوفي ۱۳۰۴ ه هم د دی په کراهت باندی قول کړی دی ، نفع المفتی ص ۱۴۳ د تصنیف کال ۱۲۸۷ هـ لدینه ثابتیږي چی د

څوارلسمی هجری پیړۍ علماء کرامو باندی کوم تور او الزام لګول شوی دی هغه صحیح نه دی بلکی د مذکوره رواج مخالفت د یو لس سوه کالو راهسی را روان دی له صحیح او معتمدی طریقی څخه ثابت دي چی د مړي له خښولو نه وروسته څومره وخت پوری چی اوښ ذبحه کیږي او غوښه یی ویشل کیږي دومره وخت پوری دی د قبر تر څنګ د قرآن کریم تلاوت او د مغفرت په دعا کی مشغول شي . دا کار مستحب دی او په دی سره مړي ته اُنس او فائده رسیږي .
دغه صحیح او ثابته طریقه پریږدي . د مغفرت د دعا قیمتي وخت په دنیاوي کارونو کی لګوي او هسی تش په نامه دعا کوي او رخصتیږي . یا له سنت نه خلاف طریقه کی خپل قیمتي وخت ضائع کوي .
الله تعالی دی ټولو مسلمانانو ته دسنت په طریقه د عمل کولو توفیق راکړي ، آمـین ــ صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد واله وصحبه واهل بیته اجمعین ، فقط والله اعلم بالصواب .

د جنازی لمونځ له اوچتولو نه وړاندی د فاتحی د لوستلو څه حکم دی ؟

(۹۸ سوال) زمونږ په علاقه کی داسی دستور دی چی د مړي په کور کی خلک جمع کیږي د جنازی له اوچتولو نه وړاندی امام صاحب ودریږي او په خلکو باندی فاتحه لولي بیا په اوچت آواز سره دعا غواړي ، ایا دا دستور د سنت په مطابق دی ؟
خواب : هر چاته په ذاتي توګه د دعا کولو اجازه ده ، په جمع سره د دعا کولو دستور د محمد صلی الله علیه وسلم ، د هغه صلی الله علیه وسلم د اصحابو رضی الله عنهم او صالحو سلفو له عمل او طریق نه مخالف دی .
لهذا په سوال کی چی د دعا کومه طریقه بیان شوی ده هغه مکروه ده .
په فتاوی عالمګیري کی دي : "کره ان یقوم رجل بعد ما اجتمع القـوم للصـلواة ویدعوا اللمیت ویرفع صوته" (ج ۵ کتاب الکراهیة الباب الرابـع فی الصـلواة والتسبیح وقرأة القرآن والدعاء الخ) .

ترجمه کله چی د جنازی لمونځ لپاره خلک راغونډ شوی وي نو په دی وخت کی یو سړی سوره فاتحه لولي او مړي لپاره په اوچت آواز دعا وکړي نو دا مکروه دي . فقط والله اعلم بالصواب .

د مړي منتقلول او د هغه مصارف :

(۹۹ سوال) یو سړی مړ شوی و هغه خپل شاته خپل یوه ښځه ، یو ځوان زوی یوه ځوانه لور او نور واړه ماشومان یی پریښي دي ، د مړ شوي سړي تجهیز او تکفین همغلته بل ځای کی په سهولت سره کیږي خو د نورو خپلوانو خواهش دا دی چی پخپل وطن کی ځای ته وسپارل شي نو ځکه د مړي ورور هغه خپل کلي ته په دوه نیم سوه کرایه باندی راوړ اوس سوال دا دی چی ایا د بس دغه کرایه د مړي په تجهیز او تدفین کی حسابیدای او د هغه له نابالغو ماشومانو له مال څخه اخستل کیدای شي او که دا پسی د هغه پر هغه ورور باندی واجول شي چی کلي ته یی د هغه مړی راوړیدی؟

ځواب : فقهاء کرامو له دوه میل نه زیات مسافی په صورت کی د مړي انتقالولو ته مکروه او ممنوع ویلی دي ، په نور الایضاح او نورو کتابونو کی دي : "فان نقل قبل الدفن قدر میل او میلین لا بأس به وکره نقله لاکثر منه" (ص ۱۶۱ فصل فی حملها ودفنها) .

لهذا له لری ځای نه د راوړل شوي مړي مصارف د تجهیز او تکفین په پیسو کی نه حسابیږي او د هغه له ترکی نه نه اخستل کیږي ، که چیرته د بالغو ورثاو په رضا دا کار شوی وي یا اوس ورباندی رضا شوی وي نو دهغوی له برخی نه دغه مصارف ادا کیدلی شي خو د نابالغو وارثانو له مال څخه نشي ادا کیدلی ، فقط والله اعلم بالصواب.

د قبر په څنګ کی اذان کول :

(۱۰۰ سوال) دمړي له ښخولو نه وروسته د قبر څنګ ته اذان کول څنګه دي ؟ زمونږ په علاقه کی د بدعتي ملایانو دا نوی رواج جاري کړی دی ، امید دی چی په تفصیل سره به ځواب راکوئ ، د هغوی عقیده دا ده چی د اذان په وجه مړی د شیطان له شر نه ساتل کیږي .

خواب محمد صلی الله علیه وسلم دمړي د خښولو په وخت کی دغه څلور لار ښوويی کړی دي یو دا چی د مغفرت ، د قبر له عذاب او لـه شیطاني شرارت څخـه دمحفوظ پاتی کیدو لپاره د جنازی لمونځ ، په قبر کی د خښولو په وخـت کـی بسم الله علی ملة رسول الله د لوستلو امر کړی دی ، همدغه راز په قبر باندی د خاوری اچولو پـه وخـت کی د دری موټي خاوره اچولو په وخت په لومړي موټي کی منها خلقناکم دویم موټي کی وفیها نعیدکم او دریمه موټي خاوره کـی ومنها نخرجکم تـارة اخــری د ویلـو هدایت هم کړی دی ، بیا له خښولو نه وروسته د سر پـه طـرف د سـوره بقـره ابتـدائي ایتونه او د پښو په طرف د سوره بقره اخري ایتونو د تلاوت او مړي لپـاره د مغفـرت دعـا ثبوت هم تر لاسه کیـږي (مشکواة شریف ص ۱٤۹ باب الدفن) (کتاب الاذکـــار امام نووی ص ۱۱۱) که په دی وخت کی د آذان ضرورت وای نو محمد صـلی الله علیه وسلم به ضرور د دی حکم ورکړی و ، او اصحابو کرامو رضی الله عنهم به ضرور پـر هغه عمل کاو . د محمد صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانـه کـی او د هغـه صـلی الله علیه وسلم له وفات نه وروسته راشده خلفاو ابوبکر صـدیق رضـی الله عنـه ، عمـر فـاروق رضی الله عنه ، عثمان رضی الله عنه ، علی رضی الله عنه په نوراني دور کی پـه زرګونـو اصحاب او تابعین وفات شوی دي مګر د هیڅا په قبر باندی اذان نه دی شوی .

د اصحابو کرامو رضی الله عنهم نه وروسته تابعین ، تبع تابعین ، مجتهدو امامانو لکه امـام ابوحنیفه ، امام شافعي ، امام مالک ، امام احمد ابن حنبل او له هغوی نه وروستی لویـو لویو علماو لکه امام بخاري ، امام مسلم ، امام ترمذي ، امام ابوداؤد او نـورو علمـاو هـم چیرته په قبر باندی اذان نه دی کړی ، زمونږ نجات پـه دی کـی دی چـی پـه مسنونه طریقه باندی عمل وکړو او لدینه ممانعت کول د ګمراهی باعث دی ، محمـد صلی الله علیه وسلم د خپل امت دری اویا فرقی بیـان کـړي او فرمـایلي دي چـی پـه دوی کـی یواځی یوه فرقه نجات موندونکی دی ، اصحابو کرامـو رضـی الله عـنهم پوښتنـه وکـړه "من هی یارسول الله" هغه صلی الله علیه وسـلم ارشـاد وفرمایـل : "مــا انــا علیــه واصحابی" په کومه طریقه باندی چی زه او زما اصحاب روان دي (مشــکواة ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة) تاسی وګورئ چی هغه صلی الله علیه وسلم د امت د

اصلاح او د هغوى د هدايت لپاره كړنلاره مقرره كړيده هغه دا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د اصحابو په طريقه باندى په عمل كولو كې نجات دى . په حديث شريف كې دي چې يوه ورځ محمد صلى الله عليه وسلم په عجيب و غريب او مؤثر انداز كې خو خبرى وكړى چې د هغه په آوريدو سره د ناستو خلكو له سترګو نه اوښكې روانى شوى او زړونه يې ولړځيدل ، يو صحابي عرض وكړ يارسول الله ! ستا دا نصيحت خو داسى دى لكه چې كوم رخصتوونكى سړى ته ضروري نصيحت كوي مونږ ته نور نصيحتونه هم وكړئ ، هغه صلى الله عليه وسلم نور نصيحتونه هم شروع كړل له هغو نه يو مهم نصيحت دا و چې له مانه وروسته څوک ژوندى پاتې كيږي هغوى به ډير اختلافات ويني نو په داسى حالت كې په تاسو ضروري دي چې په دغه طريقه باندى په مزبوتى سره ودريږئ چې زما او له ما نه وروسته د راشده خلفاو طريقه ده چې د الله له طرف نه هدايت يافته دي (يعنى ابوبكر ، عمر ، عثمان ، على رضى الله عنهم) دغه طريقه كلكه ونيسئ او د ژامو په غابونو يې په مزبوطى سره ونيسئ . كوم نوي كارونه چې په دين كې پيدا كړى شي له هغو نه پرهيز وكړئ ځكه چې په دين كې هر نوى كار بدعت دى او هر بدعت ګمراهي دى ، (مشكواة شريف) .

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ارشاد دى : "اتبعوا اثرنا ولاتبتدعوا فقد كفيتم" زمونږ په نقش قدم باندى روان شئ او بدعتونه مه پيدا كوئ ستاسو لپاره ستاسى اتباع كافي دى (الاعتصام ج ۱ ص ۱۹۱) (كنز العمال ج ۱ ص ۵٦) .

حضرت حذيفه رضى الله عنه فرمايي : "كل عبادة لم يتعبدها اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فلا تعبدوها" .

ترجمه : هر هغه عبادت چې اصحابو كرامو رضى الله عنهم نه وي كړى هغه تاسى هم مه كوئ (الاعتصام ج ۲ ص ۳۱۰) .

په حديث كې دي چې حضرت ابن مسعود رضى الله عنه ته خبر ورسيد چې څه خلك له ماښام نه وروسته يوځاى كيني او له هغو نه يو تن وائي چې دومره كرته سبحان الله دومره كرته الحمد لله ، او الله اكبر او لا اله الا الله ووايئ ، هلته ناست خلك همداسى وايي . ابن مسعود رضى الله عنه دهغوى خوا ته لاړ د هغوى دا طريقه چې وليد نو ودريد او ورته يې وويل : قسم دى په هغه لوى ذات چې له هغه نه علاوه بل معبود نشته ، بيشكه تاسى په سخته تياره بدعت كې اخته شوي يئ ، كه نه نو داسى ووائي چې

ستاسی علم د اصحابو کرامو رضی الله عنهم له علم نه زیات دی یعنی چې تاسی هغه څه کوئ چې اصحاب کرامو رضی الله عنهم ته د هغه هیڅ پته نه و بیا یې هغوی له مسجد نه وویستل (الاعتصام ج ۲ ص ۱٦٠) (مجالس الابرار م ۱۸ ص ۱۲۵)
حضرت امام مالک رحمه الله فرمائي : هر چا چې په دین کی نوی خبره پیدا کړه او هغه یې نیک کار وګڼلو نو هغه محمد صلی الله علیه وسلم په دی تورن کړ چې هغه د الهي احکامو په رسولو کی کمی او خیانت کړی دی ، الله تعالی فرمایي : "الیوم اکملت لکم دینکم" ما نن ستاسو لپاره دین مکمل کړی دی ، لهذا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی چې کوم یو کار په دین کی شامل نه و هغه نن هم په دین کی شامل نشي کیدلی (الاعتصام ج ۱ ص ۴۸) نو ځکه د اختر د خطبی او لمونځ په وخت کی آذان او دلمونځ په وخت کی اقامت نشي ویل کیدای ځکه چې دا دمحمد صلی الله علیه وسلم په ژوند مبارک کی نه و ، همدغه راز په قبر باندی اذان کول هم په دین کی نشته بلکی قطعاً بدعت دی ځکه چې له سنت نه ثابت نه دي .
(فتح القدیر ج ۲ ص ۱۰۲) (بحر الرائق ج ۲ ص ۱۹٦) (فتاوی عالمګیري ج ۱ ص ۱٦٦)[1]
علامه شامي په قبر باندی اذان کول له سنت نه خلاف او بدعت ویلی دي .
"لایسن ا لاذان عند ادخال المیت" او لیکي چې "قد صرح ابن حجر فی فتاواه بانه بدعةٌ" ابن حجر رحمه الله پخپل فتاوی تصریح کړی دی چې دا بدعت دی ، شامي ج ۱ ص ۸۳۷ مطلب فی الدفن المیت ، والله تعالی اعلم .
(۲۹۳ سوال) په ځینو ځایونو کی د مړي له ښخولو نه وروسته پر قبر باندی اذان کوي او دیته سنت او ښه کار وایي ، د دی څه حکم دی ؟
ځواب : د مړي له ښخولو نه وروسته د هغه لپاره د مغفرت دعا او د قرآن کریم تلاوت کول چې ثواب یې ورته وبخښي له حدیث نه ثابت دي مګر په قبر باندی اذان کول ثابت نه دي ، آذان په هغه ځای کی کول پکار دي چیرته چې ثابت وي ، وګورئ د جمعی لمونځ لپاره اذان ویل کیږي ، د خطبی په وخت اذان ویل کیږي ، مګر د اختر او د هغه د خطبی لپاره نه اذان ویل کیږي او نه هم اقامت ځکه چې دا له حدیث ن

---

[1] ویکره النوم عند القبر وقضاء الحاجة بل اولی و کل ما لم یعهد من السنة ، باب الجنائز تتمه .

ثابت نه دي ، همدغسې په قبر باندې هم محمد صلی الله علیه وسلم ، اصحابو کرامو رضی الله عنهم او نورو صالحو سلفو نه ثابت نه دي ، نو ځکه لدينه ډډه او اجتناب کول لازم دي ، د حضرت حذيفه رضی الله عنه بيان دی چې هر هغه عبادت چې محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه اصحابو کرامو رضی الله عنهم نه وي کړی ، تاسی هم مه کوئ (الاعتصام ج ۲ ص ۳۱۰) فقط والله اعلم بالصواب .

د مړي له ښخولو نه وروسته د هغه له کورنۍ سره مصافحه کول څنګه دي ؟

(۱۰۱ سوال) د مړي له ښخولو نه وروسته ټول خلک په قطار کې ودريږي او دمړي له خپلوانو سره مصافحه کوي (لاس ملاوه وي) ايا دا کار شرعاً جائز دی ؟

ځواب د مړي له کورنۍ سره تعزيت په ژبې او کاغذ سره مسنون دی له ښخولو نه مخکې هم او وروسته هم (شامي ج ۱ ص ۸۴۳ قبيل مطلب في زيارت القبور) کله چې وخت او موقع وي نو د مړي له خپلوانو سره تعزيت کول پکار دي ، مګر د دی حد تر دريو ورځو پورې دی له دريو ورځو نه وروسته مکروه دی ، خو له دواړو نه يو موجود نه وي نو وروسته هم د تعزيت ګنجائش شته .

د تعزيت مطلب دا دی چې د مړي خپلوانو ته تسليت ورکړی شي او د صبر تلقين ورته وکړی شي ، دصبر ثواب ورته بيان کړی شي ، د لوی اجر توقع دی ورته ورکړی شي ، د مړي لپاره دعا وکړی شي مثلاً دا وويل شي ، "اعظم الله اجرك واحسن عزاءك وغفر لميتك" .

د محمد صلی الله علیه وسلم د لور حضرت زينب رضی الله عنها زوی مړ شو نو هغه صلی الله علیه وسلم زينب رضی الله عنها ته داسی تعزيت وکړ :

"لله ما اخذ وله ما اعطی وكل عنده باجل مسمی فلتصبر ولتحتسب" (بخاری شريف ص ۱۷۱ باب قول النبی صلی الله علیه وسلم يعذب الميت ببعض بكاء اهله الخ) .

څه يې چې ورنه واخست هغه هم د الله و او څه چې درکړی و هغه هم د الله تعالی دي د الله په نزد د هر يو څيز وخت معلوم دی ، پس صبر وکړه او د ثواب نيت وساته .

د مړي په کور کې راجمع کېدل او بيا د تللو په وخت کې مصافحه کول ضروري ګڼل د سنت مطابق نه دي ، مراقی الفلاح او نورو معتبرو کتابونو کی دي ، ويکره الاجتماع عند صاحب الميت حتی ياتی اليه من يعزی بل اذا رجع الناس من الدفن فليتفرقوا ويشتغلوا بامرهم وصاحب الميت بامره" .

ترجمه دا چی د مړي په کور کی خلک جمع کيږي او په پر له پسی يو د بل پسی تعزيت کوي نو دا رسم مکروه دی ، بلکی ټول خلک دی د مړي له خښولو نه وروسته خواره واره شي او هر يو دی خپل کار ته لاړ شي ، د مړي خپلوان دی هم پخپلو خپلو کارونو کی مشغول شي (شامی جلد ۱ ص ۷۴۲ مراقی الفلاح ص ۱۲۰ فصل فی حملها ودفنها تتمه) .

لدينه هم ثابت شو چی له خښولو نه وروسته د مړي په کور کی جمع کيدل او فاتحه خواني کول مکروه او بی بنياد کار دی ، تعزيت او مصافحه کول لازم او ملزوم نه دي ، کله چی يو مسلمان له بل مسلمان سره مخامخ شي نو سلام دی ورباندی واچوي او که خو ورځی بعد يو بل ووينی نو مصافحه دی وکړي ، ددغی قاعدی مطابق د مړي له خپلوانو سره مصافحه کولی شي مګر دا مصافحه دی د تعزيت مصافحه ونه ګڼل شي ، په حصن حصين کی دي فاذا عزی احداً يسلم ويقول ان الله ما اخذ وله ما اعطی وکل عنده باجل مسمیً فلتصبر ولتحسب" (ص ۱۰۸) .

لدينه هم ثابتيږي چی د تعزيت په وخت مصافحه ضروري نه دی ، د ملاقات په وخت کی دی صرف سلام وکړي يا دی ورسره مصافحه هم وکړي ، او که له ډير وخت نه وروسته ورسره ملاقات وکړي نو معانقه دی هم ورسره وکړي په دی کی څه بدي او حرج نشته ، والله اعلم بالصواب .

د مسافر سړي د کفن او دفن لپاره چنده شوی ده ، د هغی پاتی پيسو باندی دی څه وکړی شي ؟

(۱۰۲ سوال) زمونږ په کلي کی يو مسافر مړ شو د هغه د تجهيز او تکفين لپاره خلکو چنده رکړه ، لدينه څو پيسی پاتی دي هغه دی څنګه استعمال کړی شي ؟

ځواب : که دا معلوم وي چی پاتی شوی پيسی فلان سړي ورکړي وی نو همغه ته دی واپس کړی شي او که معلوم نشي چی دا پاتی شوی پيسی چا ورکړی دي نو د بل

غریب په تجهیز او تکفین کی دی استعمال کړی شي او که دا هم ممکن نه وي نو دا دی کوم بل محتاج غریب ته صدقه او خیرات کړي .

"رجل مات فی مسجد قوم فقام احدهم وجمع الدراهم ففضل من ذلك شیٔ ان عرف صاحب الفضل رده علیه وان لم یعرف کفن به محتاجا آخر وان لم یقدر علی صرفه فی الکفن یتصدق به علی الفقراء کذا فی فتاوی قاضی خان" (عالمگیری ج ۱ ص ۱۶۱ الفصل الثالث فی التکفین) فقط والله اعلم بالصواب .

د جا په مرګ باندی دری خلور دقیقې چوپتیا غوره کول څنګه دي ؟

(۱۰۳ سوال) کله چی په مسلمانانو کی کوم یو لیډر او مشر مړ شي نو څه خلک د انګریزانو په تیان سر ښکته نیسي او دوه دری دقیقې غلی ودریږي ، ایا دا قسم تعزیت کول جائز دي ؟

جواب : د تعزیت کولو دغه طریقه جائز نه ده ، په دی کی له نصاراو او نورو کفارو سره مشابهت لازمیږي لهذا د دغه رواج پرېښودل ضروري دي ، "عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم کان لایجلس حتی یوضع المیت فی اللحد فکان قائما مع اصحابه علی رأس قبر فقال یهودی هکذا نصنع بموتانا فجلس صلی الله علیه وسلم وقال لاصحابه خالفوهم" .

له حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه څخه روایت دی چی تر څو پوری به مړی په قبر کی نه و ایښودل شوی نو محمد صلی الله علیه وسلم به د قبر په څوا کی ولاړ و او نه به کیناستو ، یوځل یو یهودي هغه ولید او وی ویل مونږ هم له خپلو مړو سره همداسی کوو ، محمد صلی الله علیه وسلم فوراً کیناست او اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته یی وفرمایل چی (خالفوهم) یعنی له دوی نه مخالفت وکړئ یعنی کینئ ، په ودریدلو کی له هغوی سره مشابهت راځي (طحطاوی علی الدر المختار ج ۱ ص ۶۰۷ ، شامي ج ۱ ص ۸۳۳ قبیل مطلب فی دفن المیت) .

د محمد صلی الله علیه وسلم اشاد دی : کوم سړی چی زمونږ له طریقی نه علاوه د نورو په طریقه روانیږي هغه له مونږ څخه نه دی (کنز العمال ج ۱ ص ۵۶) .

همدغه راز د محمد صلی الله علیه وسلم فرمان دی : "من تشبه بقوم فهو منهم" کوم سړی چې د بل قوم مشابهت وکړي هغه له همغه قوم څخه دی .
حضرت حسن رضی الله عنه فرمايي :داسې خلک ډیر کم دي چې چا د بل قوم مشابهت کړی وي او له هغوی نه نه وي ګرځیدلي ، د عبرت لپاره یوه ربښتوني کیسه وړاندې کیږي :
په تذکرة الرشید کې دي چې په کانپور کې یو نصراني چې په حکومت کې غټه وظیفه درلوده مسلمان شوی و مګر د مصلحت په خاطر خپل مسلماني پټ ساتلی و ، اتفاقاً هغه بل ځای ته بدل شو ، هغه له هغه مولوي صاحب سره رابطه وکړه چې د هغه په کوشش سره مسلمان شوی و او له هغه نه یې اسلامي احکام یاد کړي وو ، له مولوي صاحب نه یې غوښتنه وکړه چې یو قابل شاګرد دی له ماسره ولیږي تر څو له هغه نه د دین احکام زده کړم ، مولوي صاحب له هغه سره خپل یو شاګرد ولیږه ، څه وخت وروسته کله چې نصراني ناروغ شو نو هغه د مولوي صاحب شاګرد ته څو روپۍ ورکړې او ورته یې وویل چې که چیرته زه مړ شم او نصاری ما په قبر کې خښ کړي نو د هغوی له روانیدو نه وروسته ته د شپې په تیاره کې راشه او ما لدی ځاینه وباسه او د مسلمانانو په قبرستان کې مې خښ کړه ، د مولوي صاحب شاګرد چې همداسې وکړ نو ګوري چې په قبر کې نصراني خو نشته البته مولوي صاحب پکې پروت دی هغه ډیر زیات پریشان شو او ويې ویل دا زه څه وینم چې زما استاد دلته په قبر کې پروت دی .
وروسته له پوښتنو څخه څرګند شو چې مولوي صاحب د نصاراو طور طریقې ډیرې خوښولې (تذکرة الرشید ج ۲ ص ۲۵۰) هغه نوی مسلمان شوی نصراني به د مولوي صاحب قبر ته منتقل شوی وي ، داسې واقعات په سلګونو دي ، الله پاک دې مونږ له داسې حالت نه وساتي ، آمین ، والله اعلم بالصواب .

د مړي روحونه ټک او راتګ کوي :

(۱۰۴ سوال) د بهشتي زیور جلد پنځم ص ۵۵ کې د رسومو په بحث کې دا مسئله بیان شوې ده چې ځینې خلک داسې فکر کوي چې د جمعې او برات په شپه کې دمړو روحونه کورو ته راځي خو په شریعت کې د دې هیڅ اصل نشته آخر روحونو ته د راتلو څه ضرورت دی ؟ ځکه چې کوم ځیز مړو ته بخښل کیږي هغه ورته رسول کیږي ، بیا هغه ته دا څه ضرورت دی چې محتاج او سرګردان دی وګرځي ، دا خبره هم ده چې

کله سړی نیک او صالح وي او جنت ته تللی وي نو هغه دومره لوی لوی نعمتونـه ځنګـه پریږدي ؟ او که دوزخي وي نوهغه پرېښتی ځنګه پریږدي چی له عذاب نـه خوشـي شـي او سیلونه دی کوي غرض دا چی دا خبره بالکل غلطه معلومیږي که چیرتـه پـه کتـابونو کی داسـی کومه خبره وګوری نو بیا هم وربانـدی عقیده مه ساته ، کوم کتـاب چـی بـی سنده وي هغه د اعتماد وړ کتاب نه دی .

دا خو د بهشتي زیور خبره شوه اوس راځئ چی مولانا محمد عیسی صاحب تـه وګـورو چی هغه پخپل کتاب نور الصدور فی شرح القبور ګجراتي ص ۲۰٦ کی څه وائي :

هغه پخپل کتاب کی د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه یو روایـت کـوي چـی رسـول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د مؤمنانو روحونه د جمعی په شپه له آسمان نـه دنیـا ته راځي او د خپل کور په وړاندی ودریږي او غمګین آواز کی آواز کوي .... بیا لږ غوندی وړاندی په ۲۰۷ صفحه کی لیکي چی دا حدیث شیخ ابن الحسـن پخپـل کتـاب کی روایت کړی دی خو حواله یی نه ده ورکړی .

اوس سوال دا دی چی مونږ په دغو دواړو اقوالو کی په کوم یو قول عقیـده وکـړو ؟ پـه دی باره کی مونږ ته معلومات راکړئ .

ځواب : روح راتلی شي او راځي هم ، واقعات او مشاهدات وربانـدی ګـواه دي ، "واما قول من قال ان ارواح المؤمنین فی برزخ من الارض تذهب حیث شـاءت فهـذا مروی من سلمان الفارسی رضی الله عنه البرزخ هو الحاجز بین شـیئین وکـان سلمان اراد بها فی ارض بین الدنیا والاخرة مرسلة هناك تذهب حیث شاءت وهذا قول قوی الخ" (کتاب الروح ص ۱۷۳) .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله فرمائي چی حضرت شـاه عبـد الـرحیم محدث دهلوي رحمه الله اکبر آباد کی د حضرت مرزا محمد زاهد هروي رحمه الله لـه درس نه واپس شو نو په لاره کی مخی ته یوه اوږده کوڅه راغله ، پـه هغـه وخـت شـاه صحاب د شیخ سعدي رحمه الله دا بیتونه ولوستل :

جز یاو دوست هر چه کنی عمر ضائع است
جز سر عشق هر چه بـخوانی بطـالت است
سعـدی بشـوئے لوح دل از نـقش غیـر حق
علمی که ره بحق ننماید جهـــالت است

یعنی د الله له یاد نه علاوه چی ته هر څه ورکوی هغه ژوند برباد ول دي او د الهي عشق له اسرارو نه پرته چی ته هر څه لولی هغه هسی بیهودگي او بیکاری دی . ای سعدي ته خپل د زړه تخته د غیر الله له نقش نه پاک کړه ځکه چی کوم علم د خدای په لور لاره ونه ښائي هغه د جهالت علم دی .
اخري مصرعه : " علمی که ره بحق ننماید جهالت است " ورته نه راتلـو ، نـو ځکـه ډیـر پریشان شو دا بیتونه یی بیا بیا تکرارول خو دغه بیت ته به ورسید نو پر دماغ بـه یی ډیـر زور راوړ چی په یاد یی شي مگر بیا بیا به ناکامیدو ، ناخاپي یو درویش د فقیر پـه لباس کی د هغه ښي طرف ته ښکاره شو او وی ویل : علمی که ره بحق ننماید جهالت است ددی په آوریدلو سره د هغه پریشاني په سکون بدل شو او درویش ته یی وویل چـی الله دی تا ته ښه اجر درکړي تا زما پریشاني لری کړه بیا یی ورته پان ورکړ نو درویـش خنـدا وکړ لو ورته یی وویل ایا ما ته مزدوری راکوی ؟ شاه صاحب ورته وویل نه دا شـکرانه ده ، هغه وویل زه نه خورم ، لدینه وروسته درویش خپـل قـدم اوچـت کـړ او د کـوخی پـه آخري سر کی یی کینود ، شاه صاحب پوه شو چـی دا مجسـم روح دی ، آواز یی ورتـه وکړ چی ای درویشه ! ستا نوم څه دی ؟ هغه وویل " سعدی همین فقیر اسـت " یعنـی د دی فقیر نوم سعدی دی ، لدی واقعی نه دا معلومیـږي چـی روح راتلـی شـي (والعلـم الصحیح عند الله) لیکن د روحونو راتلل د هغوی په واک کی نه دي بلکی الهـي حکـم ته موقوف دي ، دا عقیده صحیح نه ده چی ټول روحونه د جمعی په شپه یا د پنچشـنبی په شپه کورونو ته راځي او د خیرات کولو سوال کوي او خیرات نه کوونکو ته بـده دعـا کوي او له مړ کیدو نه وروسته تر یوی میاشتی پوری هره ورځ کور ته راځـي (لکـه چـی پـه وقـایع الاخیـار ص ۱۸ کـی روایـت دي) ځکـه چـی دغـه خبـری لـه حـدیث نـه ثابتی نه دي .
په نور الصدور کی چی کوم روایت لیکل شوی دی هغـه ضـعیف دی او ضـعیف روایـت دعقیدی لپاره معتبر او صحیح نه دی ، په بهشتي زیور کی لـه دا قسـم عقیـدی نـه انکـار کوي الله تعالی چی کوم روح لپاره کله هم وغواړي او چیرته یی چـی وغـواړي د تللـو اجازه ورکړي نو هله دا روح هلته تللی شي ، لدینه انکار نشته .
په دی باره کی د مولانا تهانوي رحمه الله یـوه فتـوه لانـدی نقلـولی شـي ، پـه غـور سره یی ولولی :

استفتاء : فتاوی رشیدیه دویمه حصه صفحه نمبر ۹۸ کی د یو سوال په ځواب کی لیکي: د مړي روحونه د جمعی په شپه کورونو ته راځي دا روایت غلط دی .
او د دی خلاف نور الصدور ص ۱٦۸ کی د ابوهریره رضی الله عنه روایت رانقلوي چې دهغه مطلب څه دا ډول دی چی د جمعی په شپه د مؤمنانو روحونه د خپلو خپلو کورونو په مخکی ودریږي او آوازونه کوي چې مونږ ته څه راکړئ ، هر یو ورځ زړګونو سرو او ښځو نه آوازونه کوي ، دا روایت شیخ ابن الحسن بن علي پخپل کتاب راوړی دی. اوس عرض دا دی چی شرعاً صحیح خبره کومه یوه ده ؟
ځواب : لومړی خو د دی سند د تحقیق وړ دی ، بل دا چی ثبوت په تقدیر سره مفید دی له اذن سره ، او د نفي حکم د عموم دعوی پر تقدیر دی ، پس په دواړو کی تعارض نشته . (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۵۱۴) .
په بهشتي زیور کی دي چی له کومی خبری نه انکار کړی شوی دی هغه د عقیدی د صحت او جوړولو لپاره دی ، ځکه چی د عقیدی جوړول مهم او مقدم دي ، عقیده د اعمالو بنیاد دی خرنګه چی د خپلی عقیدی او ایمان حفاظت ضروري دی ، همداسی د نورو مسلمانو ورونو د عقیده او دین حفاظت هم ضروري دی ، فقهاء لیکي : د وتر لمونځ ، د جمعی د سهار لمونځ او د جمعی په لمانځه کی چی محمد صلی الله علیه وسلم کوم سورتونه زیات لوستل همیشه لپاره د هغو ضروري ګڼل او د همغو لوستل مکروه دي ، او په دوه وجوهاتو مکروه دي :
"وجه الكراهة فى المداومة ، هو انه رأى ذلك حتماً يكره من حيث تغيير المشروع والا يكره من حيث ايهام الجاهل" (شامي جلد ۱ ص ۵۰۸ فصل فى القرأة) .
لومړی د شریعت بدلول دویم د جاهل ایهام ، یعنی که لوستونکی دا ضروري ګڼي نو د شرعي حکم د ابدال په وجه مکروه دی ، شریعت دا ضروري نه دي ګرځولي بلکی ده پخپله په ځان ضروري کړي دی او په شریعت کی یو قسم مداخله کړیده ، او دا کار د شریعت په نظر کی لویه ګناه ده ، او که لوستونکی ضروري نه ګڼي بلکی مستحب وګڼي بیا هم د همیشه لوستلو اجازه نشته مکروه دی ، ځکه چی همیشه لوستلو په صورت کی عوام سنت یا واجب ګڼي ، همدغه معامله د سجده شکر هم ده ، په درمختار کی دي :

"وسجدة[1] الشكر مستحبة به يفتى لكنها تكره بعد الصلواة لان الجلهلة يعتقدونها سنة او واجبة وكل مباح يؤدى اليه فمكروه" (درمختار مـع الشـامى ج ۱ ص ۷۳۱ مطلب فى سجدة الشكر وشرح سفر السعادة ص ۱۵۹) .

د کوم نوي نعمت په ليدلو سره د شکر سجده کول له حديث نـه ثابـت دي مګـر عـوام هغه مقصوده سنت ګڼي ، له همدی ويری نه زمونږ امـام اعظـم رحمـه الله ديتـه مکـروه ويلی دي ، همدغه راز د مابنام د آذان او تکبير تر منځ د دوه رکعتـه لمـونځ لوسـتلو پـه متعلق بخاري شريف کی دي :

"قال[2] صلوا قبل صلواة المغرب قال فى الثالثة لمن شاء كراهية أن يتخذها النـاس سنة" بخارى شريف ج ۲ ص ۱۰۹۵ باب نهى النبى صلى الله عليه وسـلم مـن التحريم الا سا يعرف اباحة .

د مابنام اذان او تکبير تر منځ د نفل په نيت سره دوه رکعته لمونځ لوسـتل ثابـت دي ، مګر امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله ورتـه مکـروه وائـي ، د دی وجـه دا ده چـی عـوام خلک دا ضروري ګڼي ، په حديث کی هم د مکروه کيـدو وجـه همدغـه ښـودل شـويده عوام خصوصاً دا فکر کوي چی ذمړي روحونه ، جمعـه ،پنجشـنبه ، د بـرات پـه شـپه ، د معراج په شپه ، د قدر په شپه او د اخترونو په شپه خپلو خپلو کورونو ته راځي نـو ځکـه د خيرات لپاره د همدغو ورځو او شپو انتظار کی ناست وي ، مګر په حقيقت کـی مړي په اوبو کی د غرق شوی سړي پشان د مرستی محتاج وي ، ځومره چی کيدای شي هـر وخت د سنت طريقه دی د خپل طاقت په اندازه د ايصال ثـواب لپـاره څـه خيراتونـه ورکړی شي ، دا چی دمړي روح راشي او هغه عاجزي وکړي ، د خيرات ورکولـو سـوال وکړي او بيا د يو روپی کجوری په ماشومانو تقسيم کړي نو لدينه به بلـه لويـه کـم عقلـي

---

[1]_ د شکر سجده مستحبه ده او د همدی فتوه ورکولی شي ، ليکن له لمونځ نه وروسته مکروه ده ځکـه چـی د ناخبرو عوامو دا فکر او عقيده جوړيږي چی دا سنت يا واجبه ده ، او داسی مباح چی د عقيـدی د خرابـی باعـث وګرځي ، مکروه دی .

[2]_ ارشاد يی وفرمايل چی له مابنام نه وړاندی لمونځ ولولئ دا يی دوه کرته وويـل ، پـه دريم ځـل يی وفرمايـل چی لمن شاء يعنی د چا چی خوښه وي دا يی ځکه وفرمايل چی خلک دا سنت ونه ګڼي

څه وي : نو څکه په بهشتي زیور کی د عقیدی او عمل د صحیح کولو لپاره دا څیز لیکل شوی دی . فقط والله اعلم بالصواب .

په قبرستان کی د میښو او غواګانو څرول :

(۱۰۵ سوال) څه خلک په قبرستان کی میښـی او غواګـانې څـروي ، هلتـه خوشـايې او متیازی کوي ، شرعاً ددی څه حکم دی ؟

ځواب : په قبرستان کی د میښو او نورو ځارویو څرول منع دي څکـه چـی پـه دی سـره قبرونه پښو لاندی کیږي ، خوشائي او متیازی ورباندی کوي چی په دی سره د مړي بی عزتي کیږي . "فلو کان فیها حشیش یحش ویرسل الی الدواب ولاترسل الـدواب فیها الخ" (بحر الرائق ج ۵ ص ۲۵٤ فصل فی احکام المسجد تحت قوله ومن بنی سقایه الخ) .

مور او پلار له مانه خفه مړ شوی دي ، زه څه وکړم ؟

(۱۰٦ سوال) د چا مور او پلار چی له خپـل اولاد نـه خفـه مړ شـوی وي نـو د هغـه د تلافي څه شکل دی ؟

ځواب : دقرآن کریم په تلاوت او خیراتونو ورکولو سره دی د هغوی روحونـو تـه ثـواب ورسول شي د هغوی لپاره دی له الله نه دبخښنی دعا وغوښتل شي ، که قرضدار وي نـو هغه دی ادا کړی شي ، که طاقت ولري نو د مور او پـلار لپـاره دی حـج وکـړی شـي ، انشاء الله په دی سره به هغوی رضا شي او اولاد به مطیع وګڼل شي .

په حدیث شریف کی دي چی کوم سړی د خپل مور او پلار له طرف نـه حـج ادا کـړي نو دا د هغوی طرف نه ادا کیږي او د هغوی روحونو ته زیـری ورکـول کیـږي او د الله په نزد اولاد مطیع او فرمانبردار ګڼل کیږي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1] لما اخرج الدار قطنی عن ابن عباس رضی الله عنهما عنه صلی الله علیه وسلم لمن حج عن ابویـه او قضی عنهما مغر ما بعث یوم القیامة مع الابرار واخرج ا یضاً عن جابر انه علیه الصلوٰة والسلام قال من حج عن ابیه وامه فقد قضی عن حجته واخرج ایضاً عن زید بن ارقم قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا حج الرجل عن والدیه تقبل منه ومنها وابتشرت ا رواحهما وکتب عند الله برا ، شامی بـاب الحج عن الغیر

په قبرونو باندی چت جوړول :

(۱۰۷ سوال) د یو خاندان یو قبرستان دی ، هغوی په دغه قبرستان باندی چت جوړوي ، په قبرستان کی عمارت جوړول څنګه دي ؟
خواب په قبرونو باندی چت او عمارت جوړول ، همدغه راز خیمه یا څپره جوړول د شریعت په رڼا کی منع او مکروه دي ، په مسلم شریف کی دي ، له جابر رضی الله عنه نه روایت دی "نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبر وان یقعد علیه وان یبنی علیه" .
رسول الله صلی الله علیه وسلم لدینه منع کړی ده چی په قبرونو عمارت جوړ کړی شي قبرونه پاخه کړی شي او یا ورباندی څوک کیني (ص ۳۱۲ جلد ۱ کتاب الجنائز ، ترمذی ص ۱۲۵ ج ۱ ابوداؤد ص ۱۰٤ ج ۲ ، مشکواة ص ۱٤۸) .
نو ځکه د تیرو دیارلس سوه کلونو راهسی د دین علماء او بزرګان ، فقهاء او محدثین په قبرونو باندی د عمارت او نورو شیزونو له جوړلو نه منع کړی دی او سخته مکروه یې ورته ویلی دي ، په کبیری کی دي :
"عن ابی حنیفة رحمه الله انه یکره ان یبنی علیه بناء من بیتٍ او قبةٍ او نحو ذلك لما مر من الحدیث انفاً" .
یعنی د امام ابوحنیفه رحمه الله قول او مسلک (فتوه) په دی ده چی په قبر باندی هر قسم تعمیر جوړول مکروه دي ، که هغه له ګنبد نه بغیر کوته وي یا هم ګونبد وي او یا بل کوم عمارت . ص ۵۵۵ فصل فی الجنائز .
په فتوی عالمګیري کی دي :
"ویکره ان یبنی علی القبور" یعنی په قبرونو باندی عمارت جوړول مکروه او بد کار دی (ص ۱٦٦ فی القبر والدفن الخ) .
د عائشه صدیقی رضی الله عنها ورور عبد الرحمان بن ابی بکر رضی الله عنه وفات شو ، دهغه خه خپلوانو د هغه په قبر خیمه ودروله ، حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه خیمه ولیده نو وی فرمایل :

"انزعه یا غلام فانما یظله عمله" ای بچیه ! دا ترینه لری کړه پرده باندی د دی خپـل عمل سوری کوي (بخاري شریف ص ۱۸۱ باب الجرید علی القبر الخ) .

امام شافعي رحمه الله فرمايي : "رأیت الائمة بمکة یأمرون بهدم یبنی" .

یعنی ما د مکی معظمی حکام ولیدل چی هغوی د هغو عمارتونو د نړولو حکم کاو چـی په قبرونو باندی یی جوړیدلی (کتاب الام للشافعي بحوالـه نـووي شـرح مسـلم ص ۳۱۲ فصل فی النهی عن تجصیص القبور الخ کتاب الجنائز) .

محدث علامه علی قاري حنفي فرمايي : "وهی ما انکره ائمة المسلمین کالبناء علـــی القبور وتجصیصها" (او له ګمراه کوونکي بدعت څخه هغه بدعت مراد دی) چـی پـر هغه د مسلمانانو ائمه و اعتراض او مخالفت یی کړی دی لکه پر قبرونو ودانـی جـوړول او د قبرونو پخول (مرقات ص ۲۴٦ ایضاً) .

دا خبره د یادلو وړ ده چی په قبرونو باندی د عمارتونو جوړول نه دینـي ګټـه ده او نـه هم دنیاوي ، لهذا د اسراف ګناه یکی هم شته چی په قرآن کریم کی ورتـه پـه خرګنـدو ټکو کی حرام ویل شوی دي ، که چیرته د دی رواج عام شي نـو څرنګـه چـی پـه قبـر باندی عمارت جوړوونکی ګنهګاریږي همداسی د دغی ګناه او وبال به هم پـه هغـه چـا باندی راځي چا چی دا سلسله شروع کړی وه ، په جوړونکي باندی د جوړولـو ګنـاه او شروع کوونکي باندی به د شروع کولو د ساسلی ګناه وي ، د هیڅ یو پـه ګنـاه کـی بـه کمی نه کیږي ، د محمد صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی :

"من سن فی الاسلام سنة سیئةً کان علیه وزرها ووزر من عمل بها من بعده مـــن غیران ینقص من اوزارهم شيئ" (مشکواة ص ۳۳ کتـــاب العلـــم) والله اعلـــم بالصواب .

د محرم او غیر محرم لپاره مړي ته کتل څنګه دي ؟

(۱۰۸ سوال) په زیاتره ځایونو کی رواج دی چی په کتهٔ کی د مړي ښځـی د جنـازی له اینبودلو نه وړاندی زیاتره خپلوان د هغی مخ ته ګوري ، لـه هغـوی سـره نـور پـردي خلک هم ورته ګوري ، نو د دی څه حکم دی ؟ ایا خاوند د ښځی مخ ته کتلـی شـي او که نه ؟ او په قبر کی اینبودلی شي او که نه ؟

خواب ښځه د پټولو ځیز ده نه د ښودلو لپاره ، د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی "المرأة عورة" ښځه د پټولو ځیز ده (مشکواة ص ۲۶۹ باب النظر الی المخطوبة) همدغه راز د محمد صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی چی : (لعن الله الناظر والمنظور الیه) د الله لعنت دی پر هغه چا چی نامحرمی ښځي ته گوري او پر هغی ښځی هم چی وکتل شي (مشکواة کتاب النکاح) .

په دغو احادیثو کی د ژوندي او مړي هیڅ فرق نشته ، لهذا کومی ښځی ته چی د ژوند په حالت کی کتل منع دي ، د هغی له مرگ نه وروسته کتل هم منع دي ، له حضرت فاطمی رضی الله عنها څخه پوښتنه وشوه چی په ښځه کی له ټولو نه زیات د خوبی خبره کوم یوه ده ؟ هغی رضی الله عنها په ځواب کی وویل : نه دی پخپله کوم نامحرم سړي ته وگوري او نه هم نامحرم سړی هغه ولیدلی شي (مسند بزار وغیره) .

هغی رضی الله عنها ته د پردی کولو دومره خیال و چی د وفات په وخت کی وصیت وکړه چی زما د جنازی په کټ باندی دی پرده واچوله شي تر څو نامحرمو خلکو ته زما د بدن قدقامت اندازه ونه لگیږي نو ځکه کله چی ښځه په قبر کی اینبودلی شي په هغه وخت کی پرده ورته نیول کیږي .

د حضرت فاطمی رضی الله عنها د شرم او حیا حلت دا و ، مگر نن سبا خلک چی خپل ځان اسلام ته هم منسوبوي د خلکو په کور کی دننه کیږي او د نامحرمی ښځی مخ ته گوري ، څومره د افسوس خبره ده ، مطلب دا چی کوم خپلوان د هغی محرم دي او نکاح یی ورسره همیشه لپاره نه کیږي هغوی د هغی مخ کتلی شي خو په هغه وخت کی دی نامحرمی ښځی له هغه ځای نه لری شي .

که چیرته کوم محرم نه وي یا د ضرورت په مطابق پوره محرم کسان موجود نه وي او د ښځی د جنازی د اوچتولو او قبر کی د کوزو لپاره د نامحرم ضرورت راپیښ شي نو له داسی محرم نه کومک غوښتلی شی چی هغه متقی وي همدغه راز خاوند د ښځی مخ ته کتلی شي ، دجنازی په کټ او قبر کی د اینبودلو په وخت کی د ښځی له محرمو کسانو سره مدد کولی شي .

په درمختار کی دي چی زیات صحیح خبره دا ده چی خاوند لپاره ښځی ته غسل ورکول او لاس وربادی لگول منع دي خو د هغی مخ کتل منع نه دي .

"ویمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر الیها علی الاصح" (رد المختـــار ص ۸۰۳ ج ۱ مطلب فی حدیث کل سبب ونسب منقطع الا سببی ونســبی) او په خلاصة الفتاوی کـی دي : "(ویدخل الزوج فی القبر محرمهـــا استحســـاناً وهــو الصحیح وعلیه الفتوی)" (ص ۲۲۵ ج ۱) .
یعنی خاوند د خپلی ښځی له محرمو کسانو سره یوځای پـه قبـر کـی داخلیـدلی شـي . فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته په خوب کی ښځه د ماشوم د پیدا کیدو خبر ورکړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۱۰۹ سوال) زمونږ په کلي کی یوه ښځه مړه شوه او خاورو تـه یی وسـپارله د شـپی پـه وخت کی یو دیندار سړي په خوب کی ولیده چی هغه ښځه دغه سړي ته وایـي چـی زما ماشوم پیدا شوی دی نو څکه د هغی کورنی خلک پریشانه دي ایا قبر دی خلاص کـړی شي چی واقعی ماشوم خو یی نه دی پیدا شوی ؟ بینوا توجروا .
ځواب : په دی صورت کی د قبر د خلاصولو اجازه نشته ، پـه قاضـي خـان کـی دي : "حامل ماتت وقد اتی علی حملها تسعة اشهر وکان الولد یتحرك فی بطنها فدفن ولم یشق بطنها ثم رأیت فی المنام انها تقول ولدت لاینبش القبر لان الظاهر انها لــو ولدت کان الولد میتاً" (فتاوی قاضی خان ج ۱ ص ۹۳ باب فی غسل المیت وما یتعلق به الخ) .

یعنی یوه حامله ښځه مړه شوه د هغی د حمل ۹ میاشتی پـوره شـوی دي ، او ماشـوم د هغی په ګیډه کی حرکت کوي ، په همدی حالـت کـی هغـه خـاورو تـه وسـپارل شـوه ماشوم یی ترینه ونه ویست ، بیا چا په خوب کی ولیده چی ویل یی زما ماشوم شوی دی ، نو د هغی قبر به نه لوڅوي څکه چی ظاهر دا دی چی که ماشوم پیدا شـوی هـم وي نو هغه به مړ شوی وي (قاضي خان) فقط والله اعلم بالصواب .

په یو ځای دخپلوانو قبرونه :

(۱۱۰ سوال) که چیرته دخپل خپلوانو قبرونه ټول یوځای کی وي تر څو وپیژندل شـي او په قبر باندی د فاتحه خوانی سهولت وي نو په دی کی څه مضـائقه شـته او کـه نـه ؟ بینوا توجروا

ځواب : که چیرته دخپلـی کورنـی او نـورو خپلوانـو قبرونـه نـژدی نـژدی وي تـر څـو وپیرندل شي او په قبر باندی فاتحه خوانی او دعا کولو کی سهولت وي نو پـه دی کـی هیڅ بدي نشته بلکی افضل دي ، په متفرق کیدو کـی د قبرونـو پیژنـدل ګـران دي نـو ځکه په یوځای کی بهتر دي ، په حدیث کی دي چی کله محمد صـلی الله علیـه وسـلم حضرت عثمان بن مظعوٌن رضی الله عنه خاورو ته وسپارلو نو د نبی لپاره د هغـه پـه قبـر یوه کاڼی کیښوڎ او ویی فرمایل چی دا دی لپاره می کیښود چی قبـر وپیژنـدل شـي او زه خپلوان دیته نژدی خښ کړم ، بیا وروسته خپل زوی ابراهیم رضی الله عنه یی هم په همدغه ځای کی خښ کړ . په مشکواة شریف کی دي :

"عن المطلب بی ابی وداعة قال لما مات عثمان بن مظعون اخرج بجنازته فدفن فامر النبی صلی الله علیه وسلم رجلا ان یاتیه بحجر فلم یستطع حملها فقام الیها رسول الله صلی الله علیه وسلم کانی انظر الی بیاض ذراعی رسول الله صـــلی الله علیـــه وسلم حین حسر عنهما ثم حملها فوضعها عند رأسه وقال اعلم بها قبر اخی وادفن الیه من مات من اهلی" رواه ابوداؤد (مشکواة شریف ص ۱۴۹ بـــاب دفـــن المیت) مرقاة کـی دي: "ویستحب ان یجمع الاقارب فی موضع لقوله علیه الصلواة والسلام وادفن الیه من مات من اهلی وکان عثمان اخاه من الرضاعة واول مـــن دفن الیه ابراهیم ابنه" (مرقات شرح مشکواة ج ٤ ص ۷۸ مطبوعه ملتان) فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته له مړ کیدو نه دوه ورځې وروسته خښ کړی شي نو له هغه نه سوال او ځواب کله کیږي ؟

(۱۱۱ سوال) جمهور رئیس (صدر) سید فخر الدین علی احمد صاحب د جمعې په ورځې وفات شو او د یکشنبې په ورځ خاورو ته وسپارل شو ، نو له هغه نه د سوال ځواب معامله له خښولو نه مخکې کیږي او که وروسته ؟ بینوا توجروا .

ځواب : "والسوال فی القبر باب مات ولم یدفن ایاماً بان جعل التابوت لیحمل من مصر الی مصر اخر ما لم یدفن لایسئل" (خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲٦ الفصل الخامس والعشرون فی الجنازة) .

له دې عبارت نه معلوم شو چې له دفنولو نه وروسته سوال او ځواب کیږي ، لیکن څرنګه چې د جمعې ورځ یا د جمعې په شپه کې له مړ شوي سړي نه سوال نه کیږي نو لهذا زمونږ صدر صاحب هم د دغه بشارت مستحق دی ، ان شاء الله "ثم ذکر ان من لا یسئل ثمانیة . الی قوله . والمیت یوم الجمعة ولیلتها" (مطلب ثمانیة لایسئلون فی قبورهم شامی ص ۷۹۷ ص ل ۷۹۸ جلد اول) فقط والله اعلم بالصواب .

د سړي په کټ باندې د ګلونو او نورو شیانو اچول :

(۱۱۲ سوال) مونږ د مړي په کټ باندې د ګلونو څادر د ثواب او د عذاب د تخفیف سبب ګڼلو په وجه آچوو ، دا څادرونه مونږ له مخکې نه جوړوو ، که وروسته جوړ کړو نو تاخیر راځي او دجنازې په وړلو کې ځنډ راځي ایا د دې کوم اصلیت شته او دا شرعاً ضروري دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د دې هیڅ اصل نشته ، له رسول الله صلی الله علیه وسلم ، د هغه اصحاب کرام رضی الله عنهم ، تابعین ، تبع تابعین او مجتهدو امامانو له قول او عمل څخه نه دي ثابت ، که چیرته دا د ګلونو څادر د مړي لپاره مفید وای نو دغه حضراتو به کله هم سستي نه کاو ، نو ځکه د جنازې په کټ باندې د ګلونو څادر آچول تحریمي مکروه دي ، حضرت شاه اسحاق محدث دهلوي رحمه الله متوفي ۱۲٦۲ ھ لیکي :

" و چادر ګل بر جنازه انداختن بدعت است و مکروه تحریمي "

یعنی د ګلونو څادر پـه جنـازه بانـدی اچـول بـدعت او تحریمـي مکـروه دي . مسـائل اربعین ص ۳۵) په دی د مال ضیاع او هنود سره مشابهت هـم دی او مسـلمان لپـاره لـه کفارو او فساقو سره مشابهت حرام دی (ما لا بد منه ص ۱۳۱) فقط والله اعلم بالصواب

د جمعی په ورځ د مړ کیدو فضیلت :

(۱۱۳ سوال) د جمعی په ورځ د مړ کیدو فضیلت راغلی دی ، دا فضیلت د کوم وخـت نه تر کوم وخت پوری دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : له حدیث نه ثابت دي چی د جمعی په ورځ یا د جمعی په شپه وفات کیدونکی مسلمان د منکر او نکیر له سوال او ځواب څخه محرومیږي .

"ثم ذکر ان من لا یسئل ثمانیة ، الی قوله ، والمیت یوم الجمعة او لیلتها" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۹۸ ، مطلب ثمانیة لایسئلون فی قبورهم فقط والله اعلـــم بالصواب) .

د قبرستان وچه ګیاه سوځول :

(۱۱۴ سوال) د قبرسـتان د صفایي لپاره د وچی ګیـاه سـوځولو حکـم څـه دی ؟ بینـوا توجروا

ځواب : کله چی قبرستان ته د اور وړلو ممانعت دی نو د قبرونـو لپاسـه د وچـی ګیـاه د سوځولو اجازه څنګه کیدای شي ، دی لپاره باید بله طریقه په کار واچولی شـي[1] ، فقـط والله اعلم بالصواب .

د غسل ورکولو ، د جنازی لمونځ د لوستلو او خاورو ته د سپارلو وصیت

(۱۱۵ سوال) یو چا له مړ کیدو نه وړاندی وصیت وکړ چی ما ته دی فلانکی سړی غسل راکړي فلانکی سړی دی زما د جنازی لمونځ ادا کړي او په فلان ځای کی می خښ کړئ ، ایا د هغه په وارثانو باندی د هغه په دی وصیت عمل کول ضروري دي ؟ بینوا توجروا

ځواب : دا قسم وصیت چی فلانکی سړی دی راته غسل راکړي ، فلانکی عالِم دی زما د جنازی لمونځ ولولي او په فلان ځای کی می دی خښ کړي شرعاً څه حیثیت نه لري ، دا کارونه د مړي په اختیار کی نه دي ، بلکی دا د هغه د ورثاو حق دی ، ورثاو ته چی کوم یو ښه ښکاري همغه دی وکړي .

"والفتوی علی بطلان الوصیة بغسله وصلاته" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۸۲٤ مطلب فی صلواة الجنازة) والله اعلم بالصواب .

د جنازی له کټ سره څنګه تلل پکار دي ؟

(۱۱٦ سوال) د مړي د جنازی کټ نه مخکی ځو یا وروسته ؟ دلته دا دستور جوړ شوی دی چی خلک دجنازی دکټ نه وړاندی لوی قطار جوړوي دا څنګه دي ؟ او په قبرستان کی ځیلو سره وګرځو او که پښی ابله ، شرعي حکم څه دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : له حضرت براء بن عاذب څخه روایت دی : "امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم باتباع الجنازة الخ" بخاری ج ۱ ص ۱۲٦ باب الامر باتباع الجنائز .

رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته جنازی پسی د تللو حکم کړی دی .

لدینه ثابتیږي چی جنازه متبوع دی او خلک تابع دی ، متبوع له تابع نه مخکی وي ، لهذا د جنازی مخکی کول او هغی پسی د خلکو تلل افضل او مستحب کار دی . دا چی جنازه مخکی وي نو په دی سره خلکو ته عبرت او نصیحت هم حاصلیږي او دمړي عزت هم کیږي .

د جنازی له کټ نه مخکی او وروسته تلل هم جائز دي مګر بهتر نه دي ، د جنازی کټ ته د اوږی ورکولو لپاره دخه خلکو مخکی تلل هم جائز دي ، مګر له جنازی نه دی لری نه خي ، د ټولو خلکو وړاندی تلل او د جنازی کټ شاته پریښودل مکروه دي ،

خلک تول د جنازی له کښ نه مخکی روان وي او جنازه وروسته پریږدي دا یـوه غلطـه طریقه ده . پکار دا دي چی څه خلک د جنازی له کښ نه وړانـدی وي او زیـات خلـک وروسته . مخکینی خلک چی د جنازی کـښ تـه اوږه ورکـوي او بیـا ترینـه لـری کیـدل غواړي نو هغوی دی وروسته شي او ورستي خلک دی مخکی شي او دجنازی کـښ دی په اوږو کیږدي په دی طریقه وروستي خلکو ته دجنازی کښ ته اوږه ورکـول آسـانیږي ، په درمختار کی دي : "(وندب المشی خلفها) لانها متبوعه ، الی قوله ولـــو مشـــی امامها جاز وفیه فضیلة ایضا ولکن ان تباعد عنها او تقدم الکل او رکب امامهـــا کره" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۸۳٤ قبیل مطلب فی دفن المیت) (فتـــاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۰٤) (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۹۲) په قبرستان کی په قبرونو باندی لوخي پښی او بوټانو سره ګرځیدل سخت مکروه دي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د قبر له شاخوا نه د شنه ګیاه ریبدل :

(۱۱۷ سوال) په قبرستان کی په قبرونو باندی شنه ګیاه او بوټي وي که چیرته هغـه دی مقصد لپاره وریبدل شي چی خلکو ته په تلو راتلو کی اساني وشي نو څنګه دي ؟ بینـوا توجروا .

خواب : مستحب دا دي چی د قبر لپاسه شنه شوی ګیاه ونـه ریبـدل شـي پـه دی سـره مړي ته اُنس حاصلیږي او ګټه ورته رسیږيْ ، خو کـه وچـه شـوی وي نـو بیـا د هغـه پـه ریبدلو کی څه حرج نشته ، که چیرته د قبر شا خوا دومره زیاته ګیاه وي چی خلکو ته په تلو راتلو کی تکلیف وي نو بیا یی ریبدل جائز دي .

"شوك او حشیش نبت علی القبور ان کان رطباً یکره قلعه وان کان یابساً لایکره لانه ، مادام رطباً یسبح ویحصل للمیت بتسبیحه انس" (نصاب الاحتساب قلمی ص ۸٦ باب ٤۲) وکره قلع الحشیش والشجرة من المقبرة ولا بأس بقلع الیابس منهما(نور الایضاح فضل فی زیارة القبور) (وکره قلع الحشیش) الرطب وکـــذا (الشجرة من المقبرة) لانه مادام رطباً یسبح الله تعالی فیونس المیت وتنـــزل بذکر الله تعالی الرحمة (ولاباس بقلع الیابس منهما) ای الحشیش والشجر لزوال المقصود

(مراقی الفلاح ص ۱۲۱ ایضاً) وقطع النبات الربطة مـن اعـلاه دون اليـابس (کبیری ص ۵٦٣ فصل فی الجنائز) یکره قلع ما نبت علی القبور ما دام رطباً لانه یسبح مادام رطباً وان یبس لا بأس به" (فتاوی سراجیه ص ۷۳ فصل فی الجنائز) فقط والله اعلم بالصواب .

د جنازی لمونځ نه وروسته د مخ کتلو رسم :

(۱۱۸ سوال) زمونږ په علاقه کی د جنازي لمونځ نه وروسته خلکو ته د مړي مخ ښودل کیږي د دی څه حکم دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : دا رسم غیر ضروري او مکروه دی ځکه چی د تاخیر موجب ګرځي ، حال دا چی ما مور به تعجیل دی یعنی دا چی مړی دی ژر تر ژر خاورو ته وسپارل شي ، په حدیث شریف کی دي : "اسرعوا بالجنازة" په شامي کی دي : "(قوله یسرع بها بلا خبب) بمعجمة مفتوحه وموحدتین وحد التعجیل المسنون یسرع به بحیث لا یضرب المیت علی الجنازة للحدیث اسرعوا بالجنازة الخ" (شامی ج ۱ ص ۸۳۳ مطلب فی حمل المیت) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۳۵۲) .

کله چی د جنازی نه وروسته د مړي لپاره اجتماعي دعا ممنوعه ده نو د مړي د مخ ښودلو لپاره اجتماع څنګه صحیح ده .

په فتاوی سراجیه کی دي :

"اذا فرغ من الصلوٰة لایقوم بالدعاء" فتاوی سراجیه ص ۲۳ جنائز خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۵ . فقط والله اعلم بالصواب .

له مړ کیدو نه وروسته د سوځولو وصیت :

(۱۱۹ سوال) زمونږ په ګاونډ کی یو تش په نامه مسلمان مړ شوی دی دهغه عقیده صحیح نه وه ، هره ورځ به د اسلامي قوانینو په خلاف بکواس کاو ، هغه د مړ کیدو په وخت کی وصیت وکړ چی ما په قبر کی مه خښوئ بلکی په اور کی می وسوځوئ ، د مړي سوځول د کفارو له شعائرو څخه دي ، که چیرته یو سړی د کفارو شعائر خوښ کړي

نو د هغه په اړه دا ویل کیدای شي چې هغه کفر خوښ کړی دی . ایا مسلمانان دی د هغه جنازی لمونځ ولولي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب د مسلمان مړي په خاورو کی خښول کفائي فرض دي او په دی باندی اجماع ده دا د مسلمانانو شعار هم دی ، دا چې مړ کیدونکی سړی دا وصیت کړی دی چې زما لاش دی وسوځول شي نو لدینه دا معلومیږي چې د دی په زړه کی د اسلام د طریقو نفرت او دهندوانو د طریقو قدر دی . دهغه په دی وصیت کی د اسلامي شعائرو استخفاف دی

"والاستهزاء على الشريعة كفرٌ لان ذلك من امارات التكذيب" شرح عقائد ص ١٢٠

لهذا هغه ته مسلمان ویل او د سنت په طریقه ورته غسل او کفن ورکول ، د جنازی لمونځ وربانذی لوستل صحیح کار نه دی ، د چا په زړه کي چې د اسلام عظمت وي او محمد صلی الله علیه وسلم رښتونی ګڼي نو هغه دا قسم جرئت نشي کولی .

په تفسیر بیضاوي کی دي :

"وانما عدمنه (ای من الکفر) ولبس لغيار وشد الزنار ونحوهما كفرا لانها تدل على التكذيب فان من صدق رسول الله صلى الله عليه وسلم لايجترى عليها ظاهراً لا لانها كفر فى انفسها" (تفسير بيضاوى ص ٢٣ سوره بقره ركوع) .

یعنی د کافرو ځانته خاص لباس دی لکه د پهننا ، زنار او داسی نورو شیانو تړل په کفریه افسانو کی شمارل شوی دي ، ځکه چی دا خیزونه د محمدي شریعت په دروغ ګڼلو دلالت کوي ، کوم سړی چی محمد صلی الله علیه وسلم رښتونی پیغمبر ګڼي نو هغه کله هم دی ډول کارونه ته زړه نشي ښه کولی که نه دا خیزونه پخپله د ذات په اعتبار سره کفر نه دی (بیضاوي) .

په مرقات المفاتیح کی دي : "(عيداً) كالنيروز للمجوس وغيرهم وجعل علماءنا التشبه بهم كلبس ثياب الزينة ولعب البيض وصبغ الحناء واللهو والغناء على وجه التعظيم لليوم كفراً" .

یعنی زمونږ علماو له کفارو سره مشابهت کولو ته لکه د کفارو د اخترونو د ورځو عظمت کول او په هغه کی لباس اغوستل ، نکریزی لګول ، خوشالي او موسیقي اوریدلو ته کفر ویلی دي (مرقات ج ۱ ص ۲۹۸ باب صلوات العیدین طبع ملتان) .

په ما لا بد منه کی دي :

مسئله :

اګر کسی زنار بست قاضی ابو حفص ګفته که اګر برای خلاصی از دست کفار کرده باشد کافر نه شود واګر برائی فائده درتجارت کرده باشد کافر شود .

یعني که چا زنار وتړله نو د هغه په باره کی قاضي ابوحفص رحمه الله فرمائي : که چیرته د کافرانو د لاسه د خلاصیدو او نجات لپاره (مجبوراً) تړلی وي نو نه کافر کیږي او که تجارت کی د ګټی لپاره اغوستی وي نو کافریږي (ما لا بد منه ص ۱۴۵ ، ۱۴۶) همدغه راز فرمایي :

مسئله :

مجوس در نو روز جمع شوند یا هنود روز هولی یا دیوالی شادی نمائید و مسلمان ګوید چه خوب سیرت نهاده اند ، کافر شود .

یعنی مجوس د نو روز په ورځ راغونډیږي یا هنود د هولی او دیوالی په ورځ خوشالی کوي او کوم مسلمان ووائي چی خومره ښه طریقه ده نو په دی سره کافر کیږي (ما لا بد منه ص ۱۳۶) همدغه راز فرمایي :

مسئله :

در دستور القضاء از امام زاهد رحمه الله ابوبکر نقل کرده که هر که در روز عید کافران چنانچه نوروز و مجوس وهمچنین در دوالي ودسهره کفار هند بر آید وباکافران موافقت کند دربازي کافر شوند .

په دستور القضات کی امام زاهد د ابوبکر قول نکل کړی دی چی که د کافرانو دیوالي او دوم دسهره په ورځ کوم مسلمان له کافرانو سره یوځای ووځي او له هغوی سره مستي او لوبی وکړي نو هغه کافریږي (ما لا بد منه ص ۱۳۸ ، ۱۴۹ باب کلمات الکفر) .

په تجنیس کی دي : زمونږ مشائخ په دی خبره متفق دي چی چا د کفارو کارونه ښه وګڼل نو هغه کافر دی انتها . (مضاهر حق ج ۱ ص ۳۷۱ باب صلوات العید) .

په نوادر الفتاوی کی دي کوم سري چی د هندوانو رسم بنه وګڼي نو هغه کافريږي (مظاهر حق ج۱ ص ۴۵) په عمدة الاسلام کی دي کوم سړي چی دی کفارو رسم ترسره کړی نو هغه کافريږي (مظاهر حق ج ۱ ص ۷۴۱) فقط والله اعلم بالصواب ۳ جمادی الاولی ۱۴۰۱ هـ .

په خښتو او کاڼو سره د قبرستان احاطه جوړول :

(۱۲۰ سوال) له مسنون سلام نه وروسته د دغه لاندینی مسئلی په باره کی علماء کرام او مفتیان عظام د شریعت په رڼا کی څه فرمایي ؟

زموږ په علاقه کی تقریباً څلویښت کاله پخوانی قبرستان دی ، پخوا به زموږ خلکو قبر د پڼو خښتو نه جوړاو ، اوس الحمد لله دا خبری ختمی شوی دي څلویښت کاله وړاندی چی کوم قبرونه له پخو خښتو نه جوړ شوی دي ، له هغو نه دغه پښی خښتی او کاڼي راوباسي او په یو ځای کی جمع کوي ، زموږ ځوانان غواړي چی په دغو خښتو سره له قبرښتان نه دیوال تاو کړي ، ایا له قبرونو نه خښتی او کاڼي ویستل او بیا له هغو نه د قبرستان نه دیوال تاوول صحیح دي او که نه ؟ د قبرونو نښی نښانی به پاتی کیږي صرف له هغو دیوالونو نه خښتی راوباسي چی د قبر دیوالونو ته لګول شوی دي ، ایا په داسی کولو سره د مړو توهین کیږي او که نه ؟ په دغو قبرونو کی څه نوي قبرونه هم شته چی تقریباً کال دوه کاله وړاندی تیر شوی وي ، مهرباني وکړئ په تفصیل سره ځواب راکړئ .

ځواب : له څه شرعي ضرورت نه بغیر په قبر کی پخی خښتی او کاڼي لګول صحیح کار نه دی همدغه راز د قبر له پاسه هم د خښتو او کاڼو لګول جائز نه دي ، لیکن د خښتو او کاڼو ویستلو لپاره د قبر پرانستل صحیح کار نه دی ، مسئله ده چی که چیرته مړي له غسل ورکولو نه پرته بیغسله خاورو ته وسپارل شي نو له خښولو نه وروسته د غسل ورکولو لپاره له قبر نه نشي ویستل کیدای ، په همغه حالت کی به د هغه قبر ته جنازه کیږي اګر چی مخکی د جنازی لمونځ وړاندی شوی وي ، البته د قبر له پاسه چی کوم خښتی او کاڼي لګیدلی دي هغه ترینه لری کولی شي دا هم په دی شرط چی وارثان یی رضا وي او د فتنی ویره نه وي ، خلک دی په دی خبره پوه کړی شي چی پاخه قبرونه جوړول صحیح نه دي ، لهذا د قبر له پاسه چی کومی خښتی او کاڼي لګیدلی دي هغه دی لری کړي او په خاورو سره دی قبر جوړ کړی شي ، که وارثان یی

راضي وي نو داسې کیدای شي . فقط والله اعلم بالصواب . ۱۳ رمضان المبارک کال ۱۳۰۶ه

د جنازې لمونځ په اودس سره بل لمونځ لوستل :

(۱۲۱ سوال) ما د جنازې د لمونځ لپاره اودس کړی دی ، په همدې اودس سره د سهار لمونځ لوستل څنګه دي ؟

ځواب دجنازې لمونځ لپاره چې کوم اودس دې کړیدی په دې سره نور لمونځونه هم کولی شي هیڅ حرج يکې نشته .

"كل وضوء تصح به الصلواة لان الصلواة تصح عندنا لوضوء ولو لم يكن منوياً"

(شامي كتاب الطهارة) والله تعالى اعلم .

په قبرستان کې بلډوزر ګرځول :

(۱۲۲ سوال) دلته زمونږ په سیمه کې یو قبرستان دی د دې په منځ کې د خاورو یوه اوچته ډیری ده ، په دغې ډیرې باندې هم قبرونه دي ، د بلډوزر په ګرځولو سره د دغې ډیرې له نورې زمکې سره برابرول څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په قبرستان کې داسې کار کول چې مړو ته ایذا او تکلیف ورسیږي جائز نه دی برابره خبره ده چې په دغو قبرونو باندې لږ وخت تیر شوی وي یا ډیر ، کله چې په قبر باندې په تلو راتلو او کیناستو سره مړي ته تکلیف رسیږي نو په قبرونو باندې د بلډوزر چلولو سره به څنګه تکلیف نه رسیږي ؟ لهذا لدینه دې ډډه وکړی شي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

په قبر باندې لوحه لګول ښه دي او که په نیک کار کې خرچول ؟

(۱۲۳ سوال) زه غواړم چې دخپل مرحوم خاوند ته ایصال ثواب لپاره د هغه په قبر د کاڼي یوه لوحه ولګوم . نو ایا په دې سره مرحوم ته زیات ثواب رسیږي او که د دغې

---

[1] ويكره ان يبنى على القبر او يقعد او ينام عليه و يوطاء عليه او يقضى حاجة الانسان الخ فتاوى عالمگيرى الفصل السادس فى القبر والدفن الخ .

لوحی قیمت په کوم جاریه صدقه کی ورکړم په دغو دواړو کی کوم یو د زیات ثواب باعث دی ؟ بینوا توجروا
خواب په قبر باندی د کاڼي لوحی په لګولو سره هیڅ ثواب ستا خاوند ته نه رسیږي ، اجر او ثواب په دی کی دی چی د خپل حیثیت په مطابق د غرباوو او مسکینانو مرسته وکړی شي ، یا په کوم صدقه جاریه کی خرچ کړی شي همدغه د مرحوم لپاره بهتر دي ، فقط والله اعلم بالصواب .

په اتش فشان کی سوځیدلي کاڼي د قبرستان په لاره کی آچول او په کور کی دننه له دغو کاڼو نه د اتش فشان په شکل غر جوړول څنګه دي ؟

(۱۲۴ سوال) دلته د یونین یو غرني علاقه ده ، په دغه ځای کی اتش فشان دی چی تر ډیر لری لری پوری پروت دی ، هغه ته نژدی ډیر سوځیدلي کاڼي پرتی دي ، دا کاڼي په وزن کی ډیر سپک دي ، دغه کاڼي خلک زیات استعمالوي ، د سینټ لوئیس په قبرستان کی دننه چی د تلو راتلو کومه لاره ده دی لپاره چی په هغه کی ختمه جوړه نشي دغه سوځیدلي کاڼي په دی کی آچوي خو ځینی خلک اعتراض کوي چی دا کاڼي د دوزخ د کاڼو پشان دي ، په دی باره کی شرعي حکم څه دی ؟
(۲) د دی ځای ډیر مسلمانان دغه کاڼي د فیشن په توګه خپلو کورو ته راوړي او په کور کی دننه آتش فشان جوړوي ، په دی باره کی شرعي حکم څه دی ؟ بینوا توجروا .
خواب : (۱) په قبرستان کی چی د خلکو د تلو راتلو لپاره کومه لاره ده نو د هغی د پخولو لپاره دغه کاڼي لګولی شي خو په قبر کی دننه او باندی نشئ لګولی[1] .
(۲) مباح دي په کور کی دننه د فیشن لپاره دغه کاڼي لګولی شي لیکن له فضولیاتو څخه اجتناب کول ښه کار دی .

په قبر کی د کامل مومن خواب :

(۱۲۵ سوال) په قبر کی چی منکیر او نکیر ته کامل مومن کوم ځواب ورکوي هغه څه شی دی ؟ هیله ده چی د کتابونو په حواله سره ځواب راکړئ .

---

[1] ـ ویسوی اللبن علیه والقصب لا الاخر المطبوخ والخشب لوحوله اما فوقه فلا یکره . ابن مالک درمختار مع الشامی مطلب فی دفن المیت ج ۱ ص ۷۳۸ .

خواب د شاه عبد العزیز محدث دهلوي مجموعه کمالات عزیزي کی سـوال او خـواب منقول دي وي لولئ :

سوال په قبر کی چی کوم سوال ځواب کیږي که د هغه ځواب پخپل دستخط او ټاپی لکولو سره راکړئ نو دا به ستاسی عنایت وي .

ځواب په قبر کی چی کامل مومن کوم ځواب ورکوي هغه د احادیثو په موافـق درتـه لیکل کیږي ، د مهر او ټاپی ضرورت نشته ، ځواب دا دی :

"اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً عبده ورسوله رضیت بالله ربا وبالاسلام دینا وبمحمد نبیاً ورسولاً وبالقرآن اماما وبالکعبة قبلة وبالمؤمنین اخواناً وبالصدیق وبالفاروق وبذی النورین وبالمرتضی ائمة رضوان الله علـیهم مرحبـاً بـالملکین الشاهدین الحاضرین واشهد بانا نشهد ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله علی هذه الشهادة نحیی وعلیها نموت نبعث ان شاء الله تعالی" .

زه ګواهي ورکوم د دی خبری چی له الله نه علاوه بل هیڅوک د بندګی لائـق نـه دي او ګواهي ورکوم چی دا محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنـده او د هغـه پیغمبـر دی ، زه له الله نه د هغه د رب کیدو په حیث له اسلام نه ددین په حیث او له محمد صـلی الله علیه وسلم نه د هغه د رسول کیدو پـه حیث راضي او خوشـاله یم ، زه لـه قـرآن نـه د مقتدی کیدو په حیث له کعبی نـه د قبلـی کیـدو پـه توګـه راضـي یم ، زه راضـي یم لـه مسلمانانو د ورور کیدو په توګه ، راضي یم زه د حضـرت ابـوبکر صـدیق ،حضـرت عمـر ، حضرت ذوالنورین او حضرت علی رضی الله عنهم څخه د امام کیـدو پـه توګـه ، د دغـو حضراتو په شان کی دی د الله تعالی رضا وي ، او خوښ یم د دوه ملائکو په راتلـو چـی ګواه او موجود دي ، ای تاسی دواړو ملائکو ! ګواه وسئ تاسـی پـه دی خبـره چـی زه ګواهي ورکوم د دی خبری چی لـه الله نـه پرتـه بـل هیڅـوک د عبـادت وړ نـه دی او محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی ، په همدغه ګواهی باندی مونږ ژوندي یـو او په همدی باندی مړ کیږو او په همدی باندی د قیامت پـه ورځ پـاځول کیـږو کـه الله وغواړي (مجموعه کمالات عزیزي ص ۲۷) فقط والله اعلم بالصواب .

له يوځاى نه بل ځاى ته د مړي انتقالول :

(۱۳٦ سوال) زمونږ په علاقه كى زياتره داسى كيږي چى كله كوم سړى مړ كيږي نـو دمړي د خپلوانو كوشش دا وي چى مړا پخپل وطن كى دفن كـړى شـي خينـى وخـت خو له يو وطن ته بل وطن ته د وړلو كوشش هم كيږي ، شرعاً د دى څه حكم دى ؟ ايـا په دى كى څه قباحت او بدي خو نشته ؟ ځينى خلک وائي چى زمونږ بزرګـان هـم لـه يو ځاى نه بل ځاى ته وړل شوي او هلته خښ كړى شوى دي ،شايد د دى كـار جـواز په وجه داسى شوى وي ايا د دغو خلكو دا استدلال صحيح دى ؟ همدغـه راز ايـا پـه دى كى د عام او خاص خلكو يو حكم دى اوكه څه فرق پكـى شـته ؟ مهربـاني وكـړئ مدلل خواب راكړئ .

ځواب : مستحبه او افضله طريقه دا ده چى انسان په كوم ځاى كى مړ شي همغلته دفـن كړى شي ، برابره خبره ده چى پخپل وطن كى مړ شوى وي يا په بـل وطـن كـى ، لـه دفنولو نه وړاندى د مړي وړلو په باره كى د علمـاو تـر منځ اخـتلاف دى تـر دوه ميلـه پورى وړل خو د ټولو فقهاو تر منځ اتفاق دى چى وړلى شئ خو له دوه ميلـو نـه زيـاتى فاصلى په باره كى زياتو علماو مكـروه ليكلـى دى ، د نهـر كتـاب مصـنف ديتـه ظـاهري روايت ويلى دي ، شامي رانقل كړى دي ج ۱ ص ۸۴ ځينو فقهاو مادون السـفر او ځينـى مطلقاً د جـواز قائـل دي مګـر افضـل د نـه منتقلولـو دى چـى څـومره مهـم وجوهـات يى دا دي :

(۱) د انتقالولو په صورت كى په تجهيز او تكفين كى تاخيروالى راځي حال دا چـى پـه تجهيز او تكفين كى بيړه پكار ده ،

(۲) كله كله د مړي په بدن بدلون او تغير راځي كله د مړي بدن خرابيږي او بـوى ترينـه خي چى دهغى په وجه خلک هم ترينه كركه كوي او د مړي احترام ختميږي كه چيرتـه له غسل وركولو نه وړاندى انتقال كړى شي نوخپل وطن ته تر رسيدو پورى دمړي بـدن نه د غسل وركولو قابل پـاتى كيږي او نـه هـم د جنـازى لمـونځ د ادا كولـو ، د مـړي انتقالول پخپل اختيار كى هم نه وي قانوني خنډونه مخى تـه راځـي او پـه دى ترتيـب تاخير والى پكى راځي .

(۳) د مړي د انتقال په وخت كى دهغه د بى حرمتى امكان هم زيات وي له ضرورت نـه زيات د هغه وجود خوځيږي او زيات وخت په واوره باندى اينبودل كيـږي چـى پخپـل ځاى مړي ته د تكليف باعث ګرځي او مړي ته تكليف رسول ممنوع دي ، نو څكه حكم

دا دی چی مړي ته دغسل لپاره اوبه دومره ګرم کړی شي څومره پخپل ژوند کی استعمالوی . ډیر ګرم دی نه وي
په بهشتي زیور کی دي

مسئله

که چیرته د بیری په پانړی کی ګرم شوی اوبه موجودی نه وي نو همدغه ساده نیم ګرم اوبه کافي دي . په ډیرو ګرمو اوبو سره دی مړي ته غسل نه ورکوي ، په حاشیه کی دي: "ویغلی الماء بالسدر او ا لحرض فان لم یکن فالماء القراح" ۱۲ هدایة ج ۱ ص ۱۶۰ بهشتی زیور ص ۶۳ دویمه حصه د لمبولو بیان .

په حدیث شریف کی دي :

"عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال کسر عظم المیت ککسره حیاً" ، رواه مالك وابوداؤد ابن ماجه (مشکواة شریف ص ۱٤۹) په حاشیه کی دي : "قوله ککسره حیاً یعنی فی الاثم کما فی الروایة قال لطیبی اشارة الی انه لایهان المیت کما لا یهان الحی وقال ابن الملك والی ان المیت یتالم قال ابن حجر ومن لازمه ان یستلذبما یستلذ به الحی انتهی وقد اخرج ابن ابی شیبة عن ابن مسعود اذی المؤمن فی موته کاذاه فی حیواته ذکره فی المرقاة ۱۲" (حاشیه مشکواة شریف ص ۱٤۹ باب دفن المیت) .

(۴) ځرنګه چي له شرعي عذر نه بغیر دمړي منتقلول غیر ضروري بلکی مکروه دي نو څکه د انتقالولو مصارف د تجهیز او تکفین په مصارفو کی نه حسابیږي (فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۱۱۲) مګر ځینی وخت دغه مصارف د مړي د ترکی له مال اخستل کیږي ، کله په وارثانو کی نابالغ ماشوم هم وي او د هغوی حق تلفي کیږي دا پخپله د ګناه کار دی .لهذا له بو ځای نه بل ځای ته دی د مړي د انتقالولو کوشش ونکړی شي ، هر چیرته چی مړ شوی وي همغلته دی خښ کړی شي مړی خو هسی هم د مغفرت د دعا او ایصال ثواب محتاج دی ، هر څوک دی پخپل ځای کی د سنت د طریقی په مطابق د بخښنی دعا او خیراتونه دی ورته وکړي ، په دی کی دمړي ګټه ده او په انتقالولو کی مړي ته هیڅ ګټه نه رسیږي .

په درمختار کی دي :
"يندب دفنه فی جهت موته وتعجيله ولابأس بنقله قبل دفنه" (درمختار) پـه شـامي کـی دي "(قوله يندب فی جهة موته) ای فی مقابر اهل المکان الذی مات فيـه او قتل وان نقل قدر ميل او ميلين فلا بأس شرح المنية ، قلت ولذا صح امره صـلى الله عليه وسلم بدفن قتلى احد فی مضاجعهم مع ان مقبرة المدينة قريبة ولذا دفنت الصحابة الذين فتحوا دمشق عند ابوابها ولم يدفنوا کلهم فی محل واحد (قولـه لا بأس بنقله قبل دفنه) قيل مطلقاً وقيل الی مادون السفر وقيده محمد بقدر ميـل او ميلين لان مقابر البلد ربما بلغت هذه المسافة فيکره فيما زاد ، قال فی النهر عـن عقد الفرائد وهو الظاهر" (درمختار وشامی ج ۱ ص ۸٤۰ قبيل مطلب فی الثواب علی المصيبة) .

د مذکوره عبارت خلاصه دا ده چی کوم ځای کی يو مسلمان مړ شوی وي يـا شـهيد شوی وي د همغه کلي په قبرستان کی دی خښ کړی شي .
محمد صلی الله عليه وسلم د احـد دغـزوی شـهيدان همغلتـه خـښ کـړل چيرتـه چـی شهيدان شوی وو ، حال دا چی دمدينی منوری قبرستان (جنت البقيع) ورته نژدی وو ، او کوم صحابه چی د دمشق د فتحی په وخت کی شهيدان شوی وو هغوی يی د دمشـق دښار دروازی ته نژدی خښ کړل .
له تدفين نه وړاندی د يو يا دوميلو په فاصله د مړي وړل څه پروا نه لري يو قول دا هـم دی چی پکی حرج نشته او يو قول دا هم دی چی له شرعي سفر نه کمه فاصلـه وي نـو په منتقلولو کی څه حرج نشته ، امـام احمـد رحمـه الله دميـل او دوه ميلـو فاصلـه قيـد لګولی دی ، ځکه چی دښارونو قبرستان زياتره په همدومره فاصله کی پروت وي ، که له دی نه زيات وي نو مکروه دي ، د نهر مصنف له عقد الفرائد څخه نقـل کـړی دي چـی همدغه ظاهر دی ، درمختار شامي ج ۱ ص ۸۴۰
په کبيری کی دي : "ويستحب فی القتيل والميت دفنه فی المکان الذی مات فيـه فی مقابر اولئك القوم وان نقل قبل الدفن قدر ميل او ميلين فلا بأس به قيـل هـذا التقدير من محمد يدل علی ان نقله من بلد الی بلد لايجوز او مکروه ولان مقـابر

بعض البلدان ربما بلغت هذه المسافة ففيه ضرورة فی النقل الی بلد آخر وقيل يجوز ذلك مادون السفر لما روی ان سعد بن ابي وقاص مات قرية على اربعة فراسخ من المدينة فحمل على اعناق الرجال اليها وقيل لا يكون فی مدة السفر . ايضاً" .

يعنې د شهيد او پخپل مرګ مړ شوي لپاره دا مستحب دي چې په هغه قبرستان کې خښ کړي چيرته چې وفات شوی وي او که له خښولو وروسته يو دوه ميله لرې منتقل کړی شي نو په دی څه حرج نشته .

ځينو حضراتو ويلي دي چې له امام محمد څخه د يو دوه ميله په فاصله کې د مړي د انتقالولو کوم روايت منقول دی لدينه دا ثابتيږي چې له يو ښار نه بل ښار ته انتقالول يا جائز نه دي او يا هم مکروه دي ځکه چې د ځينو ښارونو قبرستان يوه دو ميله په فاصله کې وي نو په دی کې ضرورت متحقق دی او لدينه په زياته فاصله کې ضرورت نشته . او يو قول دا دی چې که له شرعي سفر نه کمه فاصله وي نو د وړلو اجازه ورته شته . حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په يوه قريه کې چې د مدينې منورې څخه څلور فرسخه (۱۲ ميله) لرې وه وفات شو ، خلکو هغه مدينې منورې ته راوړ ، او يو قول دا هم دی چې مطلقاً اجازه ده .

(کبيری شرح منيه ص ۵٦۳ فصل الجنائز الثامن فی مسائل متفرقة من الجنائز) .

په رسائل الارکان کې دي :

"ولاينتقل الميت من بلد مات فيه الى بلد اخرى لما روی عن جابر رضی الله عنه قال لما كان يوم احد جاءت عمتی بابي لتدفنه فی مقابرنا فنادی منادی رسول الله صلى الله عليه وسلم ردو القتلى الى مضاجعهم رواه الترمذی وابوداؤد .الی قوله. واما قبل النبش فمكروه الافضل ان لاينقل .... فعلم من النقل مكروه والافضل عدم النقل وايضاً فی النقل تاخير الدفن وفی النقل ايضاً احتمال التفسخ والنتن المنفر للناس فيجد عنه الناس فيخوف تكريم الميت و هذا بخلاف نقل يوسف يعقوب عليه السلام لان اجساد الانبياء لاتنفسخ وهم طيبون حياً وميتاً فلا خلل

فی نقلهم فیجوز . وبالجملة ان عدم کراهة نقل اجساد الانبیاء لعله من خصائصهم لهذه العلة والله اعلم"

د عبارت خلاصه او لنډیز دا دی چې مړی دی له یو ښار نه بل ښار ته انتقال نه کړی شي ، ترمذي او ابوداؤد له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې هغه وايي د احد په غزوه کې زما ترور غوښتل چې زما پلار یعنی خپل ورور په قبرستان کې خاورو ته وسپاري ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم منادي (آواز کوونکي) اعلان وکړ چې شهیدان په هغه ځای کې ښخ کړئ چیرته چې شهیدان شوی دي الی قوله

همدغه راز په انتقالولو سره په دفن کې تاخیر راځي ، مړی خرابیږي او بدبوی پکی راځي ، د خلکو کرکه ترینه کیږي او ورته څوک نه نژدی کیږي ، په دی ترتیب دمړي احترام ختمیږي ، دا چې حضرت یوسف علیه السلام د حضرت یعقوب علیه السلام مبارک لاش له یو ځای نه بل ځای ته منتقل کړ نو د دی وجه دا ده چې د انبیاؤ په بدن کې تغیر نه راځي یعنی مړي یې نه خرابیږي ، هغوی پخپله ژوندی او له ژوند نه وروسته طیب او پاک وي لهذا د هغوی په انتقالولو کی څه حرج نشته بلکی جائز دي دا یواځی د هغوی لپاره خاص دي (رسائل الارکان ص ۱۵۹ ، ۱٦۰ کتاب الجنائز قبیل سجود التلاوه) .

په مراقی الفلاح کی دي :

"(ویستحب الدفن فی) مقربة (محل مات به او قتل) لما روی عن عائشة رضی الله عنها انها قالت حین زارت قبر اخیها عبد الرحمن وکان مات بالشام وحمل منها لوکان الامر فیك ما نقلتك ولدفنتك حیث مت (فان نقل قبل الدفن قدر میل او میلین) ونحو ذلك (لا بأس به) لان المسافة الی المقابر قد تبلغ هذا المقدار (وکره نقله لاکثر منه) ای اکثر من المیلین کذا فی الظهیریة وقال شمس الائمة السرخسی وقول محمد فی الکتاب لابأس ان ینقل المیت قدر میل او میلین بیان ان النقل من البلد الی بلد مکروه قاله قاضی خان وقد قال قبله لومات فی غیر بلده یستحب ترکه فان نقل الی مصر آخر لابأس به لما روی ان یعقوب صلوات الله مات بمصر ونقل الی الشام وسعد بن ابی وقاص مات فی ضیعة علی اربعة فراسخ من المدینة

ونقل علی اعناق الرجال الی المدینة قلت یمکن بان الزیادة مکروهة فی تغیر الرائحة او خشیتها وتنتفی بانتفائها لمن هو مثل یعقوب علیه السلام او سعد رضی الله عنه لانهما من احیاء الدارین" .

د مذکوره عبارت خلاصه او لنډیز دا دی چې یو مسلمان هر چیرته وفات یا شهید شوی وي همغه ځای ته نژدی دی قبرستان کی خښول مستحب دي ځکه چې له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی چې کله هغی رضی الله عنها په یو سفر کی د خپل ورور عبد الرحمان بن ابی بکر رضی الله عنهما د قبر زیارت وکړ چې په شام کی وفات شوی و او له هغه ځای نه یې بل ځای ته راوړی و نو عائشه رضی الله عنها وویل که ستا واک زما په اختیار کی وای نو ما به ستا مړی دلته نه و راوړی او چیرته چې وفات شوی وي هغلته به می خاورو ته سپارلی وی .

که چیرته له خښولو نه وړاندی میل دوه میله منتقل کړی شي نو په دی کی څه حرج نشته ځکه چې ځینی قبرستانونه له ښار نه په همدومره فاصله کی وي ، له دوه میلونه زیاته فاصله کی وړل مکروه دي ، "کذا فی الظهیریة ، شمس الائمة سرخسی فرمایي چې امام احمد رحمه الله میل دو میل وړلو ته لا بأس ویلی دي ، لدینه ثابتیږي چې له یو ښار نه بل ښار ته د مړي انتقالول مکروه دي ، قاضي خان لدینه وړاندینی قاضي خان کی لیکلي دي چې که چیرته یو تن په بل ښار کی وفات شي نو په هغه ښار کی خښول یی مستحب دي ،او که بل ښار ته یی منتقل کړي نو څه حرج پکی نشته ځکه چې حضرت یعقوب علیه السلام په مصر کی وفات شوی و خو مړی یی شام ته راوستی شو ، همدغه راز سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه له مدینی نه دولس میله لری وفات شو خو خلکو هغه مدینی منوری ته زاوړ .

د مراقی الفلاح مصنف لیکي :

دا خبره ممکنه ده چې له دوه میلو نه زیات انتقالول په هغه صورت کی مکروه وي چې د مړي په بدن کی د بوی او تغیر د پیدا کیدو احتمال وي ، او که چیرته دا ویره نه وي نو دا کراهت منتفي کیږي ، لهذا کوم شخص چې د حضرت یعقوب علیه السلام یا د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په څیر وي نو د هغه لپاره دا کراهت نه پاتی کیږي ، حضرت یعقوب علیه السلام او حضرت سعد رضی الله عنه دنیا او آخرت په لحاظ ژوندي دي .

(مراقی الفلاح ص ۳۳۷ کتاب الجنائز فصل فی حملها ودفنها)

د مراقی الفلاح مصنف چی د فقهاء کرامو په اقوالو کی کوم تطبیق کړی دی د هغه په نظر کی نیولو سره د عوامو او خواصو تر منځ فرق کیدای شي ، لهذا که ځینی بزرګان له یو ځای نه بل ځای ته منتقل شوي دي نو پر هغوی دی قیاس ونه کړی شي او دلیل دی ترینه ونه نیول شي ، مونږ د ګناه په سیند کی ډوب یو مګر د الله دوستان د هغه جل جلاله په عشق کی فنا دي ، چی نسبت خاک رابا عالم پاک ، یو چا خومره ښه ویلی دي

شهیدان محبت کو کبھی مرتے نهین دیکھا
حیات جاودانی ملتی هے تو فنا هو کر

د محبت شهیدان کله هم نه مړ کیږي ، هغوی ته خو په فنا کی جاویدانی ژوند په نصیب کیږي .

د بزرګانو بدنونه ژر نه خرابیږي بلکی ډیر ځل له ښنولو نه وروسته هم د هغوی په جسم کی تغیر او تبدیلي نه راځي ، واقعات ګواه دي چی اتفاقاً د ډیرو کلونو له تیریدو نه وروسته کوم قبر پرانستل شوی دي نو بدن یی بالکل صحیح سلامت موندل شوی دی بلکی کپړی هم پخپل حالت کی پاتی شوی او داسی ښکاره شوی چی همدا اوس تازه ښخ شوی دی ، سبحن الله .

موتٌ التقی حیاةٌ لانفاد لها
قدمات قوم وهم فی الناس احیاء

فقط والله اعلم بالصواب

په قبرستان کی د چوکی (کرسی) ایښودل څنګه دي ؟

(۱۲۷ سوال) زمونږ د کلي ځینی خلک په قبرستان څوکی ایښودل غواړي تر څو بوډاګان د قبرونو د زیارت په وخت وربانذی کیني او د مړي لپاره تلاوت او دعا وکړی شي . ایا د دغه مقصد لپاره د څوکیو ایښودل جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که څه هم په ظاهره خو دا مقصد ښکاره کولی شي چی بوډاګانو ته تکلیف ونشي ، لیکن په تدریج سره لدینه د غلطو نتیجو د پیدا کیدو خطره ده .

غافل خلک له قبرستان نه یو تفریح ګاه جوړوي هلته فضول او بیکاره ګپ شپ لګوي .

د قبرونو د زیارت چی کوم مقصد دی هغه منځه ځي .

لهذا قبرستان دی همداسی د پخوا پشان ساده پرینسودی شي او هلته دی خوکی او کرسی کینسودلی شي ، که بوډاګانو ته تکلیف وي نو هغوی دی پر زمکه کیني . فقط والله اعلم بالصواب .

د قبرستان په مفاد کی د قبرستان په زمکه کی دوکانونه جوړول

(۱۲۸ سوال) زمونږ په علاقه کی یوه پخوانی قبرستان دی او هغه ډیر پوخ او لوی دی ، د هغه یو طرف ته عمومي لاره ده ، د همدغی لاری په طرف د قبرستان دیوال دی ، نور دری طرفونو ته دیوال نشته ، د هغوی د تعمیر او جوړولو لپاره د ډیرو پیسو ضرورت دی چی پیدا کول یی ډیر ګران دي سړک ته نژدی قبرستان کی تر خلورو مترو پوری قبرونه نشته ، مونږ غواړو په دغه ځای کی دکانونه جوړ کړو تر څو ددغو دکانونو کرایه په پیسو د قبرستان دیوالونه جوړ کړو ، ایا د دی مقصد لپاره دوکانونه جوړول جائز دي او که نه ؟ که دیوالونه جوړ نکړی شي نو د دی ویره ده چی خلک د قبرستان پر زمکه په کلاره کلاره قبضه وکړي څه خلکو قبضه کړی هم ده خو په وخت قانوني چاره جوني په وجه هغوی کامیاب نه شول ، امید دی چی تاسی ځواب راکړئ ، بینوا توجروا

ځواب : قبرستان دی مقصد لپاره وقف کیږي چی دمسلمانانو مړي پکی خښ کړی شي نو ځکه د قبرستان پر زمکه د دوکانونو د جوړولو شرعي اجازه نشي ورکول کیدای اګر چی له قبرستان نه د دیوالونو د جوړلو په مقصد ولی نه وي ، دی لپاره دی چنده راغونده کړی شي که چیرته د دغه ځای دخلکو په چنده کار نه کیږي نو له نورو ځایونو خلکو څخه دی چنده راغونده کړي ، کوشش شرط دی ، که چیرته د کوشش باوجود چنده جمع نشي نو د قطعی مایوسي په صورت کی دی د دومره مودی لپاره دکانونه جوړ کړی شي چی دیوالونه یی جوړ شي او قبرونه له بی حرمتی نه محفوظ پاتی شي ، بیا وروسته دی دکانونه خراب کړي او ځای دی په قبرستان کی شامل کړي تر څو مړي پکی خښ کړی شي ځکه چی د قبرستان اصل مقصد هم دا دی چی مړي پکی خښ کړی شي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د کفارو په جنازه کی شرکت کول څنګه دي ؟

(۱۲۹ سوال) زمونږ په کلي کی یو کافر ماشوم مړ شو یو مسلمان دهغه په جنازه کی شریک شو د هغه مړی یی پخپلو لاسونو کی اوچت کړ او یو یی وړ ، د هغه په متعلق څه حکم دی ؟ ایا دهغه په ایمان او نکاح باندی څه اثر پړی اوځي او که نه ؟ بینوا توجروا

ځواب د څه مصلحت یا ضرورت په وجه له کفارو سره لیدنه کتنه کول د هغوی په غم او تکلیف کی شریکیدل او د انسانیت په خاطر له هغوی سره مرسته کول خصوصاً کله چی ګاوندي وي شرعاً جائز دي ، په دی کی باید نیت صفا او ښه وسائل شي ، د مداهنت او سستی صورت دی پکی نه وي ، البته د هغوی مذهبي رسمونو او مذهبي معاملو کی شرکت کول جائز نه دي ، لهذا که کوم کافر ناروغ شو یا دهغه په کور کی څوک مړ شي نو دهغه عیادت او تغریت کول جائز دي ، مګر د هغوی مړي وړل او دهغوی د جنازی په رسوماتو کی ګډون کول جائز نه دي ، په مسئوله صورت کی شاید دغه سړی د مروت یا لحاظ په وجه شرکت کړی وي لهذا هغه ته پکار دي چی د زړه له کومی توبه وباسي او د خلکو په وړاندی دی خپله توبه ښکاره کړي ، راتلونکي لپاره دی له داسی کولو نه اجتناب وکړي ، ایمان او نکاح یی خپل ځای پاتی دي په دی کی باید څه شک او شبهه ونکړی شي .

په درمختار کی دي :

"وجاز عيادة (الذمى) بالاجماع وفى عيادة المجوسى قولان ...." رد المختار (شامي) کی دي : "(قوله وفى عيادة المجوسى قولان) قال فى العناية فيه اختلاف المشائخ فمنهم من قال به لانهم من اهل الذمة . الى قوله . قلت وظاهر المتن كالملتقى وغيره اختيار الاول ...... وفى النوادرجار يهودى او مجوسى مات ابن له او قريب ينبغى ان يعزيه ويقول اخلف الله عليك خيراً منه واصلحك وكان معناه اصلحك الله بالاسلام يعنى رزقك الاسلام ورزقك ولداً مسلماً كفاية" (رد المختار ج ٥ ص ٣٤١ كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع) .

په امداد الفتاوی کی دي :

(سوال) د کوم شیعه په جنازه کی په دی خاطر شریکیدل چی په دی کی دنیاوي مصلحت دی یا په دی وجه چی د هغه کورنی زمونږ په جنازو کی شرکت کوي جائز دي او که نه؟

ځواب: فی نفسه منع دي، لیکن که کوم ضرورت وي نو بیا جائز دي د ضرورت حقیقت د ضرو دفع کول دي نه د ګټی تر لاسه کول.

(امداد الفتاوی ج ۱ ص ۵۳۱ باب الجنائز مطبوعه کراچي ج ۱ ص ۷۸۲، مطبوعه تالیفات اولیاء دیوبند).

(سوال) د دین علماء رحمهم الله په دی باره کی څه فرمايي چی مسلمان د کفارو تعزیت کولی شي او که نه؟ خصوصاً له هغوی سره د دوستی او دنیاوي ګټی په وجه، مفصل ځواب راکړئ.

ځواب: که چیرته په دی خاطر له کفارو سره تعزیت کوي چی کلیوال یا ګاونډي دی نو دا جائز دی، په درمختار کی دي: "وجاز عیادة الذمی".

بالاجماع فی نفسه دوستي کول مذموم دي لهذا د هغوی له عیادت او تعزیت نه اجتناب ضروري دي، امداد الفتاوی ج ۱ ص ۵۰۰ باب الجنائز مطبوعه پاکستان، فقط والله اعلم بالصواب.

بلډوزر یا ټریکټر سره د زوړ قبرستان صفا کول څنګه دي؟

(۱۳۰ سوال) زمونږ په علاقه کی یو زوړ قبرستان دی، په دی کی دځو کالو راهسی تازه مړي نه دي خښ شوي، په دی کی لوی لوی د اغزي بوټي نیالګي او نور کنډی کپری دي، هواره زمکه پکی نشته، د کلي خلک غواړي چی دا قبرستان د بلډوزر یا ټریکټر په ذریعه هواره کړي، ایا داسی کول جائز دي او که نه؟ که چیرته په بلډوزر سره د دی هوارول شرعاً جائز نه وي نو په ټریکټر سره د دی هوارول څنګه دي جائز دي او که ناجائز؟ که دواړه صورتونه جائز نه وي نو ایا د مزدورانو په ذریعه د دی کار کول جائز دي؟

(۲) که په قبرستان کی د زائرینو د سهولت لپاره پخی لاری جوړی کړی شي نو د دی څه حکم دی؟

(۳) که دا ټول صورتونه جائز نه وي نو د قبرستان د صفایي لپاره دی کومه لاره خپله کړی شي؟ بینوا توجروا

خواب دا چی ستاسی د علاقی قبرستان ډیر پخوانی دی او تاسـی د هغـه صفایی او هوارول غواړئ نو دی لپاره دی داسی طریقه غوره کړی شي چی د هغی سره د مړو او د قبرونو احترام ته نقصان ونه رسیږي ،د قبرونو بی حرمتي او بی ادبي کـول ، د قبرونـو لپاسه ګرځیدل ، کیښناستیدل او تکیه ورته لګول جائز نه دي ، په حدیث کی دي :

(۱) "عن جابر رضی الله عنه قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبر وان یبنی علیه وان یقعد علیه" رواه مسلم (مشکواة ص ۱٤۸ بـــاب دفـــن المیت) .

له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیـه وسلم د قبرونو له پخولو او د قبرونو له پاسه د عمارت جوړولو او د قبرونو له پاسه لـه کیښناستیدو نه منع فرمایلی دی .

(۲) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وســـلم لان یجلس احدکم علی جمرة فتحرق ثیابه فتخلص الی جلده خیرا له من ان یجلس علی قبر" رواه مسلم (مشکواة شریف ص ۱٤۸ باب دفن المیت) .

ترجمه : له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چـی رسـول الله صـلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : کـه څـوک لـه تاسـو نـه د اور پـه سـکروټو کینـي جـامی یی وسوځیږي او د اور اثر د هغه بدن ته ورسیږي نو دا هغه لپاره په قبر باندی لـه کیښناسـتو نه بهتر دي .

تاسی غور وکړئ چی محمد صلی الله علیه وسلم پـه قبـر بانـدی لـه کیښناسـتلو څخـه څومره په کلکه ممانعت کړی دی .

(۳) "عن ابی مرثد الغنوی رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تجلسوا علی القبور ولاتصلوا الیها" رواه مسلم (مشـــکواة شـــریف ج ۱ ص ۱٤۸) .

ترجمه : له حضرت ابو مرثد غنوي رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صـلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : پر قبرونو مه کینئ او د قبرونو په طرف په مخ کولـو سـره لمونځ مه لولئ ، رواه مسلم .

(۴) "عن عمرو بن حزم رضی الله عنه قال رأنی النبی صلی الله علیه وسلم متکئاً علی قبر فقال لاتؤذ صاحب هذا القبر" مشکواة شریف ص ۱۴۹ .
ترجمه له حضرت عمرو بن حزام رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم زه قبر ته تکیه لګولی ناست ولیدم نو راته یی وفرمایل : ته د دغه قبر مړي ته تکلیف مه رسوه .

(۵) "عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : کسر عظم المیت ککسره حیاً" مشکواة شریف ص ۱۴۹ باب دفن المیت .
ترجمه : له حضرت عائشی رضی الله عنها څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د مړي هډوکي ماتول د ژوندي سړي د هډوکو د ماتولو په شان دي .

له پورتنیو احادیثو څخه معلومیږي چی په اسلام کی د مړو او د هغوی قبرونو ته څومره عزت ورکول شوی دی ، په بلډوزر او ټریکټر سره د قبرونو صفائي کول د قبرونو غټ اهانت دی ، په قبرونو باندې ګرځیدل او هغه ته تکیه لګول ممنوع دي ، نو د بلډوزر او ټریکټر ګرځولو اجازه څنګه ورکول کیدای شي ؟ په دی خیال چی قبرستان ډیر زوړ دی او په دی کی به قبرونه نه وي په بلډوزر یا ټریکټر سره د قبرستان د صفا کولو اراده دی ونه کړی شي څکه چی په زوړ قبرستان کی هم د قبرونو د باقي پاتی کیدو قوي امکان دی ، لهذا اراده دی بالکل ترک کړی شي .

قبرستان د عبرت د تر لاسه کولو ځای دی تفریح ګاه یا باغ نه دی چی هلته دی پخی لاری جوړ کړی شي ، د قبرستان تازه ګیاه او بوټو په تسبیح سر مړو ته ګټه رسیږي ،لهذا د شنه ګیاه او شنو بوټو ریبدل منع دي ، خو که ګیاه او بوټي وچ شوی وي نو د هغوی ریبدل او غوځول جائز دي ، په نور الایضاح کی دي :

"وقلع الحشیش والشجر من المقبرة ولابأس بقلع الیابس منهما" .

یعنی د قبرستان شنه ګیاه ریبدل او د ونو بوټو غوځول مکروه دي او که وچ شوی نه وي نو مکروه نه دي (نور الایضاح ص ۱۴۲ فصل فی زیارت القبور) .

په کبیری کې دي : "ویکره قطع النبات الراطبة من اعلاه دون الیابس" یعنی د قبر لپاسه د شنه ګیاه ریبدل مکروه دي خو د وچې ګیاه ریبدل مکروه نه دي (کبیری ص ۵٦۳ فصل فی الجنائز) .

البته که چیرته د قبرونو د زیارت لپاره راتلونکو خلکو لپاره تکلیف وي نو د قبرونو شاخوا ځایونو نه د ګیاه د ریبدلو ګنجائش موجود دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

د چا په کور کې چې مړی وشي په هغه ورځ د مړي کورنۍ لپاره ډوډۍ وړل

(۱۳۱ سوال) زمونږ په علاقه کې دا رواج شوی دی چې کله د چا په کور کې مړی وشي نو د هغه نژدې خپلوان او ګاونډیان د مړي کورنۍ لپاره د ډوډۍ انتظام کوي ، ایا دا جائز دي، او که بدعت ؟

ځواب : د چا په کور کې چې مړی وشي نو د هغوی خپلوانو او ګاونډیانو لپاره مستحب دي چې په دی ورځ دمړي کورنۍ لپاره د ډوډۍ انتظام وکړي ، له هغوی سره دی کینني او خوراک څښاک ته راغب کړي غم او پریشاني ، تجهیز او تکفین کې د مشغولت په وجه د ډوډۍ او ترکاری پخولو لپاره وخت نه پیدا کیږي ، محمد صلی الله علیه وسلم د دی حکم کړی دی .

په حدیث شریف کې دي :

"عن عبد الله بن جعفر رضی الله عنه قال لما جاء نعي جعفر (ای خبر شهادته) قال النبی صلی الله علیه وسلم اصنعوا لآل جعفر طعاماً فقد اتاهم ما یشغلهم" رواه الترمذی وابوداؤد وابن ماجة (مشکواة شریف ص ۱۵۱ ، باب البکاء علی المیت) .

ترجمه : له حضرت عبد الله بن جعفر رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله زما د پلار جعفر رضی الله عنه دشهادت خبر ورسید نو محمد صلی الله علیه وسلم خلکو ته وفرمایل: تاسی د جعفر رضی الله عنه د کورنۍ لپاره د ډوډۍ انتظام وکړئ ، هغوی ته داسی غمناک خبر رسیدلی دی چې هغوی یی مشغول کړی دي .

د مشکواة شریف په حاشیه کې د لمعات په حواله نقل کړی دي چې :

"قوله (٤) اصنعوا لآل جعفر طعاماً فی الحدیث دلیل علی انه یستحب للجیر ان والاقارب تهیئة الطعام لاهل المیت واختلفوا فی اکل غیر اهل المصیبة ذلك الطعام وقال ابوالقاسم لا بأس لمن کان مشغولا لاتجهاز المیت کذا فی وصایا جامع الفقه۱۲" (حاشیه مشکواة شریف ص ۱۵۱) .

یعنی په مذکوره حدیث کی د دی خبری دلیل دی چی گاوندیانو او خپلوانو لپاره مستحب دي چی هغوی دمړي کورنۍ لپاره دخوراک څښاک انتظام وکړي دا چی د مړي له کورنۍ نه علاوه دغه ډوډۍ خوړلی شي او که نه په دی کی د علماو تر منځ اختلاف دی ، علامه ابو القاسم فرمايي :

کوم خلک چی د مړي له کورنۍ سره په مرسته کی لګیا وي او د مړي په تجهیز او تکفین کی مشغول وي نو هغوی لپاره لدی ډوډۍ نه په خوړلو کی هیڅ حرج نشته .

د مشکواة شرح مرقات کی دي :

"قال الطیبی دل علی انه یستحب للاقارب والجیر ان تهیئة الطعام لاهل المیت انتهی والمراد طعام یشبعهم ولیلتهم فان الغالب ان الحزن الشاغل عن تناول الطعم لایستمر اکثر من یوم . الی قوله . ثم اذا صنع لهم ما ذکر سن ان یلح علیهم فی الاکل لئلا یضعفوا بترکه استحیاناً بفرط جزع الخ" .... (مرقاة شرح مشکواة ص ۹٦ ج ٤ باب البکاء علی المیت) .

ترجمه : یعنی دا حدیث په دی خبره دلالت کوي چی خپلوانو او گاوندیانو لپاره مستحب دی چی د مړي کورنۍ لپاره د طعام او خوراک څښاک انتظام وکړي ،او لدی حدیث نه مراد د یوی ورځی او شپی طعام دی ځکه چی په عمومي توګه د غم او حزن په وجه د یوی ورځی خوراک څښاک له تیارولو نه قاصر وي ، بیا څرنګه چی د ډوډۍ انتظام کول مستحب دي نو دا هم سنت دي چی هغوی ډوډۍ خوړلو ته اماده او راغب کړي تر څو د غم او پریشانی یا د حیا په وجه د ډوډۍ د نه خوړلو له کبله کمزور نشي .

په شامي کی دي :

"قوله وباتخاد طعام لهم) قال فی الفتح ویستحب لجیر ان اهل المیت والاقرباء الا باعد تهنیة طعام لهم یشبعهم یومهم ولیلتهم لقوله صلی الله علیه وسلم اصنعوا الال جعفر طعاما فقد اتاهم ما یشغلهم حسنه الترمذی وصححه الحاکم ولانه بر معروف ویلح علیهم فی الاکل لان الحزن یمنعهم من ذلك فیضعفون اه" (شامی ج ۱ ص ۸٤ کراهة الضیافة من اهل المیت) (غایة الاوطار ج ۱ ص ٤۲۲) .

لهذا په مسئوله صورت کی په حدیث باندی دعمل کولو په نیت د مړي کورنی ته د خوراک څښاک انتظام کول مستحب او د اجر باعث دي ، همدغه راز د مړي له کورنی سره همدردي او غمخواري هم دي مګر دا کار صرف الهي رضا او په حدیث باندی د عمل کولو په نیت دی وشي نه د ریا او ځان ښودنی لپاره ، د محققینو په نزد د دی وخت یوه ورځ او یوه شپه ده .

حضرت شاه محمد اسحاق محدث دهلوي رحمه الله لیکي :

دمړي کور والاو ته د یو شپی او ورځی لپاره په مړه ګیده ډوډی لیږل مستحب دي لکه چی برهان شرح مواهب الرحمان کی دي : "ویستحب للجیر ان واهل البیت والاقرباء الا باعدتهیأ طعام لهم یشبعهم یومهم ولیلهم انتهی وعن عبد الله بن جعفر رضی الله عنه قال لما جاء نعی جعفر قال النبی صلی الله علیه وسلم اصنعوا لاهل جعفر طعاماً فانه قد جاءهم مایشغلهم" رواه الترمذی وهکذا فی المشکواة مع فرق بعض الالفاظ.

لکه چی برهان شرح برهان کی دي : د مړي د کور ګاونډیانو ، خپلوانو او نورو مسلمانانو ته مستحب دي چی دمړي د کورنی خلکو ته د یوی شپی ورځی ډوډی انتظام وکړي .

او له عبد الله بن جعفر رضی الله عنه څخه روایت دی چی کله محمد صلی الله علیه وسلم ته د جعفر رضی الله عنه د وفات خبر ورسید نو هغه صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل چی د جعفر کور والاو ته د ډوډی انتظام وکړئ ځکه چی هغوی ته د غم او خفګان داسی خبر رسیدلی دی چی د ډوډی له تیارولو نه مشغول کړی دي ، دا حدیث ترمذي روایت کړی دی ، او په جامع البرکات کیدي چی دا حدیث دلیل دی په دی

خبره چې د مړي خپلوانو او دوستانو لپاره دا مستحب دي چې د مړي کور والاو ته د ډوډۍ انتظام وکړي ، ځینو ویلي دي چې د مصیبت زده کورنۍ خلکو ته په لومړۍ ورځ ډوډۍ خوړل مکروه نه دي ځکه چې هغوی د تجهیز او تکفین په کارونو کې مصروف وي . او په دویم ورځ ډوډۍ لیږل ورته مکروه دي هله چې ژړا کوونکي ښځې د مړي په کور کې راجمع شوی وي ځکه چې په دی سره له ګناه کوونکو سره مرسته کیږي . او علماوء په دی خبره کې اختلاف لري چې ایا دغه ډوډۍ د غمجنې کورنۍ له خلکو نه علاوه نور خلک هم خوړلی شي او که نه ؟ ابوالقاسم وایي چې کوم خلک د مړي د تجهیز او تکفین په کارو کې مشغول وي هغوی لدی ډوډۍ نه خوړلی شي ، همدغه خبره په مطالب المومنین کې هم لیکل شوی دی ، مسائل اربعین فی سنت سید المرسلین ص ۴۹۴۸ فقط والله اعلم بالصواب .

په قبر باندی کتبه او بورډ لګول څنګه دي ؟

(۱۳۲ سوال) په قبر باندی د داسی بورډ لګول څنګه دي چې په هغه کې د مړي نوم او د وفات تاریخ لیکل شوی وي ایا د دی جواز شته او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که چیرته څه خاص ضرورت وي مثلاً دا چې د قبر نښه پاتی شي د قبر بی حرمتي ونشي خلک هغه پښو لاندی نه کړي ، د دغه ضرورت په نظر کې نیولو سره خصوصاً د بزرګانو او صالحانو په قبرونو باندی د ضرورت په مطابق د نوم او د وفات د تاریخ لیکلو ګنجائش موجود دی له ضرورت نه زیات لیکل جائز نه دي ، د قرآن کریم آیت ، کلمه او نور څه دی بالکل ونه لیکل شي ، که څه هم فقهاء کرامو د ضرورت صورتونه مستثنی کړی دي مګر ښه او بهتر صورت دا دی چې قبر بالکل ساده وساتل شي او هیڅ څیز دی ورباندی ونه لیکل شي ، که د قبر نښه پاتی کیدو ضرورت وي نو کوم کاڼی دی ورته ودرول شي یا داسی نیالګي نیال کړی شي چې په هغه کې کوم ځناور وریښ نشي لکه د نکریزو ونه .

په حدیث کې دي :

"عن جابر رضی الله عنه قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبور وان یکتب علیها وان توطاء" رواه الترمذی .

له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چـی رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم لدینه منع کړیده چی قبر پوخ جوړ کړی شي او وربانـدی دی څـه ولیکـل شـي او پښـو لاندی دی کړی شي (ترمذي ، مشکواة شریف ص ۱٤۷ باب الدفن المیت) .

په مرقات شرح مشکواة کی دي :

"(وان یکتب علیها) قال المظهر یکره کتاب اسم الله ورسوله والقرآن علی القبر لئلا یهان بالجلوس علیه ویداس بالانهدام وقال بعض علمائنا وکذا یکره کتابة اسم الله والقرآن علی جدار السماجد وغیرها قال ابن حجر واخذ ائمتنا انــه یکــره الکتابة علی القبر سواء اسم صاحبه وغیره فی لوح عند رأسه او غیر قیل ویســن کتابة اسم المیت لاسیما الصالح لیعرف عند تقادم الزمان لان النهی عن الکتابــة منسوخ کما قاله الحاکم او محمول علی الزائد علی ما یعرف به حال المیت اه وفی قوله یسن محل بحث والصحیح ان یقال انه یجوز" (مرقاة ص ۷٦ ج ٤ باب دفن المیت مطبوعه ملتان) .

په اشعة اللمعات کی دي : " وان یکتب علیها " ونهی کرد از آنکه نوشـته شـود بـر قبـور یعنی نام خدائی تعالی یا قرآن ونام رسول تا خوار و پائمال نگرد دو بـول نکنـد بروئـی حیوان ونیز گفته اند که مکروه است بر پاکردن الواح مکتوبه که بی فائـده اسـت مگـر آنکه دران غرض صحیح باشد (اشعة اللمعات ص ٦٩٥ ج ۱ باب دفن المیت) .

په مظاهر حق کی دي :

(وان یکتب علیها) مکروه دی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسـلم نومونـه او د قرآن کریم آیتونه لیکل تر څو خوار او پائمال نشي او حیوانات وربانـدی متیـازی ونکـړي ، زمونږ څینو علماو ویلي دي چی همدارنګـه د مسجد پـه دیوالونـو بانـدی هـم د الله تعالی د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم نومونه او د قرآن کریم د آیتونو لیکـل مکـروه دي ، همدغه راز په کاڼي یا بورډ باندی د مړي نوم او د هغه د وفات تـاریخ لیکـل هـم مکروه دي ، خو څینو علماو ویلی دي چی د صالح او نیک سړي نوم لیکل جائز دي تـر

څو د زیات وخت له تیریدو نه وروسته وپیژندل شي (مظاهر حق ص ٦٢ ج ٢ بـاب دفـن المیت).

د یو بل حدیث په تشریح کی د مرقات مصنف لیکلی دي :

"فی الازهار یستحب اما یجعل علی القبر علامة یعرف بها لقوله علیـــه الصـــلواة والسلام اعلم بها قبر اخی" مرقات شرح مشکواة ص ٧٨ ج ٤ باب دفن المیـــت مطبوعه ملتان.

په مظاهر حق کی دي چی ازهار لیکلي دي : لدینه دا معلوم شو چی د پیژنـدلو لپـاره دی قبر باندی نښه ودرول شي (مظاهر حق ص ٦٣ ج ٢) .

په درمختار کی دي :

"ولابأس بالکتابة ان احتیج الیها حتی لا یذهب الاثر ولا یمتهن" (درمختار مع رد المختار ج ١ ص ٨٣٩) .

طحطاوی علی الدر المختار کی دي :

"(قوله ولابأس بالکتابة) هذا لتفضیل لصاحب المحیط فحمل النهی فی الحدیث علی غیر حالة الاحتیاج" (مطلب فی دفن المیت طحطاوی علی الدر المختـــار ج ١ ص ٦١٠) .

رد المختار (شامي) کی دي :

"(قوله ولابأس بالکتابة) لان النهی عنها وان صح فقد وجد الاجماع العملی بهـــا فقد اخرج ا لحاکم النهی عنها من إطرق ثم قال هذه الاسانید صـــحیحة ولـــیس العمل علیها فان ائمة المسلمین من المشرق الی المغرب مکتوب علی قبورهم وهـــو عمل اخذ به الخلف عن السلف اه ویتقوی بما اخرجه ابوداؤد باســـناد جیـــد ان رسول الله صلی الله علیه وسلم حمل حجراً فوضعه عند رأس عثمان بن معظـــون وقال اعلم به قبر اخی وادفن الیه من مات من اهلی فان الکتابة طریق الی تعرف القبر بها نعم یظهر ان محل هذا اللاجماع العملی علی الرخصة فیها ما اذا کانـــت

الحاجة داعية اليه فى الجملة كما اشار اليه فى المحيط بقوله وان احتيج الى الكتابة حتى لايذهب الاثر ولايمتهن فلابأس به فاما الكتابة بغير عذر فلا . الخ" (مطلب فى دفن الميت شامى ص ۸۳۹ ج ۱) .

په غاية الاوطار کی دي : "ولابأس بالكتابة ان احتيج اليها حتى لايذهب الاثر ولايمتهن" .

او د سراجيه باب الجنائز کی دي : که چيرته په دی غرض قبر باندی څه وليکل شي چی د دی قبر نښه پته پاتی شي او خلک يی تر پښو لاندی نه کړي نو بياورباندی ليکل منع نه دي او څه بدي پکی نشته ، معلم له جابر رضی الله عنه نه روايت کړی دی چی محمد صلی الله عليه وسلم د قبرونو د پخولو پر هغوی له ليکلو او وربانـدی ګنبد او کوټی جوړولو نه ممانعت کړی دی .

لدينه معلوميږي چی دا ممانعت هله دی چی ضرورت نه وي ، او د لا بأس په ويلو سره اشاره وشوه چی د حاجت باوجود نه ليکل بهتر دي (غاية الاوطار ص ۴۲۱ ج ۱)

.

کچه ساده او پائمال قبر د الهي رحمت او انوارو زيات مستحق دی ، له مړي سره د مينی او.محبت لپاره دا ضروري نه دي چی د هغه په قبر باندی بورډ (کتبه) ودرول شي ، قبر يی ښکلی کړی شي ، البته کوم خلک چی له وطن نه د باندی هيوادو او وطنو کی اوسيږي ، او کله چی وطن ته راځي نو د خپلوانو د قبرونو د پيژندلو لپاره چی په اسانه يی وپيژني او کوم مشکل مخی ته رانشي ، د کتبی او بورډ لګولو څه بدي نشته ، که څه هم دا دومره سخت ضرورت هم نه دی خو بيا هم له نظره نشي غورځول کيدای ، خصوصاً کله چی داسی يو صالح او عالِم شخص چی خلکو ورسره ډيره مينه وي د هغه نوم او تاريخ وفات د ليکلو ګنجائش شته ، قرآني آيات القاب او اشعار دی ونه ليکل شي ، ففط والله اعلم بالصواب .

کتاب الـــزکواۃ

د زکات په اړه معلومات

غریبانو ته د زکات پیسی د قرض په توګه ورکول څنګه دي ؟

(۱۳۳ سوال) زمونږ په علاقه کی یو خدایی خدمتګار په نوم دفتر دی ، د علاقی خوانانو د دغه دفتر لپاره کافي چنده جمع کړی ده ، په دی کی زیاتره پیسی د زکات دي ، اوس مونږ لدینه غریبو خلکو ته قرض ورکوو تر څو په دغو پیسو خپلو ځانو ته کار او بار برابر کړي او له ګټی نه وروسته اصلي پیسی بیرته دفتر ته ورکړي ، غریبو خلکو ته دا پیسی ورکول شرعاً څنګه دی ؟ که چیرته له هغوی نه واپس نه شوو اخستلی نو که له هغوی نه د تر لاسه کولو کوم جائز صورت وي نو هغه مونږ ته بیان کړئ ، بینوا توجروا

ځواب : د زکات پیسی دی د زکات په مصرف کی خرچ کړی شي کوم غریب ته دی دقرض په توګه ورنکړی شي ، که د زکات ورکوونکي له طرف نه هم اجازه وي بیا هم د قرض په توګه ورکول جائز نه دي ، تر څو پوری چی د هغه په ملکیت کی تملیکا ورنکړی شي ، یعنی تر څو پوری چی دغه ضرورت مند غریب چی ورته زکات ورکول کیږي د دغو پیسو مالک ونه ګرځول شي زکات نه ادا کیږي .

لهذا د زکات حقدار ته د قرض په توګه نه بلکی همداسی دی ورکړي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

که قرضدار د قرض پیسی په زکات کی ورکړي نو زکات یی ادا کیږي او که نه ؟

(۱۳۴ سوال) څه فرمایي د دین علماء او مفتیان په دی مسئله کی چی زید نومی یو سړی بکر ته زر کلداری د قرض په توګه ورکړی ، بیا د دواړو په رضامندی سره د کال په آخره کی بکر دغه روپۍ د زید له طرف نه په زکات کی ورکړی نو ایا د زید له طرف نه زکات ادا شو او که نه ؟ بینوا توجروا .

---

[1] ــ وشرعاً تملیك جزء مال عینه الشاع من مسلم فقیر ولو منعوها غیر هاشمی ولامولاه ، مع قطع لمنفعة عن المملك من كل وجه الله تعالى ، قوله لله تعالى متعلق بتمليك اى لاجل امتثال امره تعالى درمختار مع الشامی باب المصرف ج ۲ ص ۲۵۸ .

خواب . که چیرته دویم سړی له هغه اجازه واخلي او دهغه له طرف نه زکات ادا کړي نو زکات ادا کیږي[1] مګر بکر له زید نه پیسی د قرض حسنه په نوم اخستی دي نو څکه د هغوی ادا کول سود کی حسابیږي لهذا زکات یی نه ادا کیږي ، دزید په ذمه زکات پاتی کیږي[2] ، فقط والله اعلم بالصواب .

د سرو زرو زکات دی د موجوده قیمت په لحاظ سره ورکړي:

(۱۳۵ سوال) له ماسره څوار لس تولی سره زر دي ما هغه فی توله ۶۰۰ کلداری په حساب سره اخستی و ، نن سبا دهغه قیمت زر کلداری فی توله دي ، نو د دی زکات دی د شپږسوه کلدارو په حساب سره ورکړی شي او که د زر روپی په حساب سره ؟ بینوا توجروا .

خواب : په دی وخت موجوده قیمت یعنی د زر روپو په حساب سره زکات ورکول ضروري دي د اخستلو د وخت قیمت ته اعتبار نشته ، په درمختار کی دي :

"(وجاز دفع القیمة فی زکواة وعشر وخراج وصدقة فطر ونذور کفارة غیر الاعتاق) وتعتبر القیمة یوم الوجوب ویقوم فی البلد الذی المال فیه الخ" (درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۲۹ باب زکواة الغنم) فقط والله اعلم بالصواب .

د کال له تیریدو نه وړاندی د زکات پیسی بل ځای ته لیږل

(۱۳۶ سوال) د زکات پیسی بل ځای ته لیږل له شرعي وجی نه بغیر مکروه دي که چیرته کوم سړي د زکات له واجب کیدو نه مخکی ، یعنی د کال له تیریدو نه وړاندی د زکات پیسی بل چیرته ولیږي نو ایا دا هم مکروه دي ؟ بینوا توجروا .

خواب : حولان حول یعنی د کال تیریدو نه مخکی د زکات پیسی بل ځای ته لیږل مکروه نه دي ، په فتاوی خیریه کی دي . "انما تکره نقلها اذا کان فی حینها بان

---

[1] ـ رجل ادی زکاة غیره عن مال ذلك الغیر فاجازه المالك فان کان المال قائما فی ید الفقیر جاز والا لا کذا فی السراجیة ، فتاوی عالگیری کتاب الزکاة ج ۱ ص ۱۷۱ .

[2] ـ وفی الخلاصة القرض بالشرط حرام والشرط لغو بالقرض علی ان یکتب به الی بلد کذا لهو فی دینه . درمختار مع الشامی فصل فی القرض .

اخرجها بعد الحول اما اذا کان الاخراج قبل حینها فلابأس بالنقل کما ف الجوهرة" (فتاوی خیریة ج ۱ ص ۱٦ کتاب الزکواة) فقط واللہ اعلم .

په نابالغ سړي باندی زکات واجب دی او که نه ؟

(۱۳۷ سوال) یو وړه جلۍ ده ، د هغې د میراث پیسې دي ایا د هغې په دغو پیسو کی زکات واجب دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د نابالغ په مال کی ځواب واجب نه دی "(وشروط وجوبها) ای افتراضها (العقل والبلوغ والاسلام والحریة الخ)" مجمع الانهر ج ۱ ص ۱۹۱ کتاب الزکاة ، فقط واللہ اعلم بالصواب .

د زکات پیسی بل ځای ته لیږل :

(۱۳۸ سوال) ایا د زکات پیسی بل ځای ته لیږلی شو او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : کله چې د نورو ځایونو خلک غریب او محتاج دی ، یا دهغه خپلوان اوسیږي او ضرورت مند وي ، یا دهغه ځای خلک په دیني تعلیم کی مشغول وي نو داسی خلکو ته د زکات پیسو په لیږلو کی څه مضائقه نشته ، بلکی په ځینو ځایونو کی ثواب هم زیات ترلاسه کیږي ، خو شرط دا دی چې نیت یی صفا وي ، په هدایه کی دي :

"ویکره نقل الزکات من بلدٍ الی بلدٍ وانما تفرق صدقة کل فریق فیهم الا ان ینقلها الانسان الی قرابته اوالی قوم هم احوج من اهل بلده لما فیه من الصلة او زیادة دفع الحاجة" (هدایه اولین ص ۱۸۸ باب من یجوز دفع الصدقات الیه وما لایجوز) فقط واللہ اعلم .

پیشګي زکات ورکول :

(۱۳۹ سوال) حولان حول یعنی د کال له تیریدو نه وړاندی زکات ادا کول جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

خواب : د نصاب خاوند جوړیدو سره سم مطلقاً زکات وربانـدی واجبیـږي او د یو کال تیریدو نه وروسته د زکات ورکول وربانـدی واجـب ګرځـي کـه چیرتـه خـوک د زکـات واجبیدو سره سم د کال له تیریدو نه وړاندی د خپل مال زکات ورکړي نو زکـات یی ادا

کیږي ، بیا وروسته ادا کول ضروري نه دي "(ولو عجل ذونصاب) زکاته (لسنين او لنصب صح) لو جود السبب (درمختار) (قوله لوجود السبب) ای سبب الوجوب وهو ملك النصاب النامى فيجوز التعجيل لسنة او اكثر الخ" (درمختار مع الشامى ج ۲ ص ۳٦ كتاب الزكواة بعد مطلب استحلال المعصية القطعية كفر) (مراقى الفلاح مع طحطاوى ص ٤١٥) فقط والله اعلم .

د زکات د پیسو بدلول :

(۱۴۰ سوال) زید په بمبئ کی د یوی مدرسی له پاره چنده کوي او په چنده کی زکات او د سرمایه پیسی ورته جمع کیږي ، مثلاً زید پنځه زره روپۍ راجمع کړی دي ، هغه خپل ورور ته ولیکل چی په مدرسه کی زما په نوم پنځه زره روپۍ ورکړی ایا دا صورت جائز دی او که نه ؟

ځواب : د دی پر ځای چی په چنده کی جمع شوی د زکات پیسی مدرسی ته واستوي خپل ورور ته په خط کی ووېل چی پنځه زره روپۍ په مدرسه کی ورکړه نو دا صورت جائز دی[1] کله چی د مدرسی مهتمم د زکات پیسی د زکات په مد کی مصرفوي نو زکات ادا کیږي .

نوټ : په مدرسه کی د پیسو له جمع کولو نه وروسته که زید د مدرسی په نوم جمع شوي پیسی پخپل ذاتي مصرف کی استعمالول غواړي نو استعمالولی شي ، په مدرسه کی له جمع کولو نه وړاندی د استعمالولو اجازه ورته نشته . فقط والله اعلم بالصواب .

د زکات ادائیګي لپاره تملیک ضروري دي :

(۱۴۱ سوال) زمونږ وطن برما کی د دیني تعلیماتو زیاتي اداری دي هلته د غریبو ماشومانو لپاره خوراک ځښاک اوسیدو او د کتابونو انتظام هم کیږي ، د مدرسی چلوونکي په ټول هیواد کی ګرځي او چندی ټولوي چی په هغه کی د سرسایه او زکات پیسی هم وی ، دغه پیسی له یو خزانه دار سره جمع شوی وي له هغه نه د مدرسی چلوونکی په طالبانو باندی مصرفونه کوي ، دلته یو عالِم دی هغه وایي چی تر

---

[1] ـ ان الدراهم لاتتعين بالتعين فهى وان كانت لاينتفع بها مع بقاء عينها لكن بدلها قائم مقامها لعدم تعينها كانها باقية درمختار مع الشامى كتاب الوقف مطلب فى وقف الدراهم والدنانير .

خو پوری د زکات په مال کی تملیک نه وي شوی نو زکات نه ادا کیږي . لهذا که چیرته د ماشومانو له تملیک نه پرته پر هغوی دا د زکات پیسی خرچ کړی شي نو زکات نه ادا کیږي ، ایا د هغه دا خبره صحیح دی ؟ بینوا توجروا .

خواب : د عالِم خبره صحیح ده ، د زکات د ادا کیدو لپاره تملیک شرط دی ماشومانو ته ډوډی او ترکاري ورکولو کی تملیک نشته .

په درمختار کی دي :

"(هی تملیك) خرج الاباحة فلو اطعم یتیماً ناویاً الزکاة لایجز به الا اذا دفع الیه المطعوم کمالوا کساه" (درمختار ج ۳ ص ۳ کتاب الزکواة) .

لهذا مستحقو لپاره دی د زکات پیسی ورکړی شي او ورته هدایت دی وکړی شي چی د دغه خوراک څښاک فیس ادا کړئ ، بیا دی دغه پیسی دهغوی په ډوډی او نورو ضروریاتو کی ولګول شي ، په دی ترتیب زکات هم ادا کیږي او طالبانو ته ډوډی او نور ضرورتونه هم مهیا کیږي ،لکه چی په دیوبند او سهارنپور کی کیږي ، په بل صورت کی دا هم کیږي چی د زکات په پیسو دی څیلی لباس کتابونه قلم کتابچی او داسی د ژوند نور ضرورتونه واخلي او طالبانو ته دی ورکړی شي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د زکات پیسی د چیک لا لاری لیږل :

(۱۴۲ سوال) په چنده کی د زکات پیسی جمع کیږي ، له دغو پیسو سره سفر کول له خطری نه ډک وي لهذا چانده جمع کوونکي کسان دغه پیسی د چیک له لاری لیږي ، په دی ترتیب هغه نوټونه چی په زکات کی ورکول شوی دي هغه بدلیږي ، دلته د یو عالِم صاحب وینا ده چی کوم لوټونه په زکات کی ورکول شوی وي هغه دی تبدیل نه کړی شي ، ایا په داسی صورت کی مونږ د چیک په ذریعه پیسی لیږلی شو او که نه ؟ بینوا توجروا .

خواب : د چیک په ذریعه د زکات پیسی استول جائز دي ، ځکه چی دا مجبوریت دی لهذا په دا قسم تبدیلي سره د زکات په ادائیګي باندی اثر نه راځي[1] ، دچیک او مني آرډر په فیس کی د زکات پیسی نشي استعمالیدلی ، فقط والله اعلم بالصواب .

[1] د چیک او مني آرډر په ذریعه د زکات د پیسو د لیږلو په مسله کی مفتی عزیز الرحمن په عزیز الفتاوی کی فتوه هم همدا ده چی جائز دی ، کوم وخت چی مدرسی ته ورسیږي نو زکات یی ادا کیږي .

د زکات څه پیسی په تاخیر سره ادا کول :

(۱۴۳ سوال) یو سړی د زکات پیسی د روژی په میاشت کی تقسیموي او په دی کی څه پیسی په دی نیت له ځانه سره وساتي چی آئنده کوم ضرورت مند راشي نو هغه ته به په کار راشي ، ایا داسی کول جائز دي ځواب راکړئ ، بینوا توجروا .

ځواب : د نصاب پر مال باندی د کال تیریدو نه وروسته زکات ورکول فرض ګرځـي او د مفتي به قول په مطابق د زکات ادائیګي فوراً واجب دی ، نـو څرنګـه چـی د زکـات د مستحقینو څه کمی نشته نو څومره چی ژر کیدای شي له دغی فریضی نه دی خپله غاړه آزاده کړي ، څومره چی وروسته کوي همغومره په ادائیګي کی تاخیر راځي .

په طحطاوی کـی دي : "وهی واجبةٌ علی الفور وعلیه الفتویِ فیأثم بتاخیرها بلاعذر وترد شهادته" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۸۸ کتاب الزکواة) .

په درمختار کی دي :

"(وافتراضها عمری) ای علی التراخی وصححه الباقانی وغیره (وقیل فوری) ای واجب علی الفور (وعلیه الفتوی) کما فی شرح الوهبانیة (فیأثم بتاخیرها) (بـلا عذر (وترد شهادته) لان الامر بالصرف الی الفقیر معه قرینة الفور" (درمختار) .

په شامي کی دي : "(قوله فیأثم بتاخیرها) ظاهره الاثم بالتاخیر ولو قـل کیـوم او یومین لانهم فسروا الفور باول اوقات الامکان وقد یقال ان لا یـؤخر الی العـام القابل لما وافی البدائع عن المنتقی اذا لم یؤد حتی مضی حولا فقـد اسـاء واثم اه فتامل" (درمختار وشامی ص ۱۷ ج ۲ کتاب الزکـواة) کـه چیرتـه کـوم شـرعي مصلحت وي نو د ځینو فقهاو په نزد د معمولي تاخیر ګنجائش پکی شته ، فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته وکیل دزکات پیسی مصرف کړي او له خپلو پیسو څخه زکات ادا کړي نو ایا په دی صورت کی د موکل زکات ادا کیږي او که نه ؟

(۱۴۴ سوال) یو سړی د خپلو پیسو د زکات پیسی بل تن ته ورکړي او ورته یی وویل چی کله زما له طرف نه څوک راشي یا زه چا ته خط ورکړم او یا ته پخپله څوک د زکات مستحق وګوري نو ته له دغو پیسو نه ورته ورکړه ، هغه سړي د زکات دغه پیسی پخپل کار کی ولګولی ، او بیا وروسته خپلی پیسی د هغه پیسو پر ځای ورکړي ، دا صورت جائز دی یا نه ؟ ایا د موکل زکات ادا کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : دا طریقه غلطه ده په داسی طریقه سره د موکل زکات نه ادا کیږي ، کوم سړی ته چی د زکات پیسی د تقسیمولو لپاره ورکړی دی هغه ته پکار دی چی همغه پیسی دی وساتي او همغه پیسی دی تقسیم کړي ، البته که کوم وخت مستحق پیدا شي او د زکات پیسی ورسره نه وي او هغه خپلی پیسی په دی نیت ورکړي چی د زکات له ساتل شویو پیسو نه واخلي نو دا صورت جائز دی ، او که د اخستلو له نیت نه پرته خپلی پیسی ورکړی نو په دی صورت کی هم زکات نه ادا کیږي او هغه سړي ته متبرع ویل کیږي ، هغه ته د هغه ثواب رسیږي .

په درمختار کی دي :

"ولو تصدق (الوكيل) بدراهم نفسه اجزأ ان كان على نية الرجوع وكانت دراهم المؤكل قائمة" .

درمختار شامي کی دي :

"ولو تصدق (الخ) اى الوكيل بدفع الزكاة اذا امسك دراهم المؤكل ودفع من ماله ليرجع ببدلها فى دراهم المؤكل صح بخلاف ما اذا انفقها اولاً على نفسه مثلاً ثم دفع من ماله فهو متبرع الخ" (درمختار وشامی ص ۱۵ ج ۲ ، کتاب الزکواة) .

په بهشتي زیور کی دي :

مسئله : تا کوم غریب سړي ته د ورکولو لپاره چاته دوه روپۍ ورکړي لیکن هغه بعینه همغه دوه روپۍ فقیر ته ورنکړي چی تا ورته ورکړی وي بلکی له خپل جیب نه دوه

روپۍ ورکړي او دا خیال یې وکړه چې هغه دوه روپۍ به زه پخپله واخلم نو بیا هم زکات ادا شو . په دې شرط چې ستا روپۍ له هغه سره موجود وي او اوس هغه سړی د خپلو دوه روپیو په بدله کې ستا هغه ده روپۍ واخلي . البته که ستا له لوری ورکول شوی دوه روپۍ هغه له وړاندینه خرچه کړې وي او بیا وروسته له خپل جیب نه دوه روپۍ ورکړی نو زکات ادا نه شو یا دا چې ستا روپۍ له هغه سره خو موجودی دي لیکن د خپلو پیسو ورکولو په وخت یې دا نیت نه درلود چې زه به د دې پر ځای هغه روپۍ اخلم نو بیا هم زکات ادا نه شو ، اوس هغه دواړه روپۍ دې هم په زکات کې ورکړي (بهشتي زیور ص ۳۳ دریمه حصه د زکات ورکولو بیان) فقط والله اعلم بالصواب

د خو کلو راهسې د سرو زرو زکات ورکول پاتې دي نو د دې زکات څنګه ورکړی شي ؟

(۱۴۵ سوال ، له یو سړي سره دیرش تولې سره زر دي ، د اووه کلو راهسی د هغه زکات نه دی ورکړی ، اوس هغه سړې د دی زکات ورکول غواړي نو څنګه یې ادا کړي ؟ بینوا توجروا

ځواب: په مذکوره سړي باندی دتیرو کلونو زکات اداکول واجب دی دهر کال دسروزرو دقیمت اندازه دی ولګوي اودهغه زکات دی ورکړي په لوړی کال کې خو دی دپوره مال زکات اداکړي ، لدینه وروسته دی دواجب په اندازه له وضع کولو نه وروسته دی اداکړي .

دقرض له معافي نه دزکات اداکول

۱۴۶_ سوال یو مسلمان سړی له مونږ سره ملازم دی چې پرهغه تقریباً اووه زره روپۍ قرض دي ، او هغه دنورو هم قرضدار دی ، هغه دقرض داداکولو طاقت نه لري نو څکه زمونږ خیال دادی چې دقرض پیسې په زکات کې حساب کړي او هغه له قرض نه خلاص کړي ، ایا په داسې کولو سره دقرض په اندازه زکات اداکیدای شي او که نه ؟

ځواب: دقرض په معافولو سره زکات نه اداکیږي ، دزکات داداکولو صحیح طریقه داده چې هغه ته (په دې شرط چې صاحب دنصاب نه وي اودزکات مستحق وي) نو دزکات

پیسې دی هغه ته دتمليک په توګه ورکړي بيا دی له دغو پيسو نه خپل قرض ترلاسه کړي . په دی طريقې سره زکات اداکيږي اوله قرض نه بري کيږي هم .
واعلم ان اداء الدين عن المال الذی عنده لا يصح والحيلة ان يعطی المديون زکاته ثم ياخدها عن دينه (طحطاوي ص۳۹۰ کتاب الزکاة) فقط والله اعلم بالصواب.

که دروژې په مياشت کی زکات ورنکړی شي نو زکات ترينه ساقطيږي ؟!

۱۴۷_ سوال يو سړی دروژې په مياشت کی دناخبری له کبله په روژه زکات ورنکړی شوه ايا له روژې مياشتې نه وروسته دزکات اداکول ضروري دي او که نه ؟ بينوا توجروا.
ځواب: که دروژې په مياشت کی زکات ورنکړ نو ترينه نه ساقطيږي بلکې له روژې نه وروسته يې ورکول ضروري دي اوکه ورنکړي نو ګنهګاريږي.[1]

دخاله (ترور) په ذريعه دزکات حيله

۱۴۸_ سوال زما خاله چی سيده نه ده غريبه او کمزورې ده ، په سترګو کی ګل دی همدغه راز هغه دنصاب خاونده هم نده ، که هغی ته دزکات پيسې ورکړی شي او ورته وويل شي چی لدينه دومره روپی پخپله واخله او دومره زما خو رته ورکړه ، ايا داسې کول صحيح دی ؟ بينوا توجروا.
ځواب: که چېرته ستا خاله دنصاب خاونده نه وي نو هغی ته زکات ورکولې شي مګر دزکات روپی په داسې طريقه ورکول چی دومره ته واخله او دومره زما خورته ورکړه دادشرعي حيلې صورت نه دی ، په دی سره وکات نه اداکيږي دزکات مستحق په

[1]_ لانه اذا انفق المستاجر لدار الوقف على عمارتها الضرورية بأمر القاضي للضرورة الداعية اليه ليكون بمنزلة استقراض المتولی من المستاجر فاذا قبض كله اواربعين درهما منه ولو بانقطاع ذلك من اجرة الدار تجب زكاته لما مضى من السنين شامی مطلب فی وجوب الزكاة فی دين المرصد . فقط والله اعلم بالصواب.

مکمل دول دمالک اودمختار گرځولو نه پرته حیله نه صحیح نه کیږي .[۱] فقط والله اعلم بالصواب.

دزکات له مال ځخه دحیلې په کولو روژه ماتې کول

۱۴۹_ سوال یو سړي دزکات له پیو ځخه پنځه سوه روپۍ په دی خاطردمسجد خادم ته ورکړی چې دروژی په میاشت کی دروژه ماتې لپاره حلیم جوړ کړي .
اوبیا هغه دحیلې په کولو سره په مسجد کی ورکړي، ایا له دغو پیسو نه حلیم جوړول جائز دي ؟ همدغه راز که چېرته دمحلې له نورو خلکو نه چنده وکړي شي اوهغه په دغو پیسو کې واچول شي اوپه دغو پیسو حلیم جوړ کړی شي ایا داسې کول صحیح دي؟ داطریقه له ډیروخت را روانه ده .
ځواب: که دزکات له پیسو نه علیحده پیسو نه حلیم جوړ کړی شي او دزکات مستحقینو ته تملیکاً ورکړی شي نو داجائز دي خو مالدار سړي ته ورکول جائز نه دی . دزکات ټولې پیسې دمستحقینو په ملکیت کی له ورکولو نه وروسته که هغوی پخپله خوښه دثواب په غرض ورکړي نو جائز دی په دې سره زکات اداکیږي خادم ته دامانت یادوکالت په توګه ورکولو سره حیله نه صحیح کیږي او زکات هم نه اداکیږي.
نظیره وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما (طحطاوي ص۳۹۳ شامي کتاب الزکات ۲/ ۸۶) فقط.

دتجارت له مال نه پخپله دتجارت مال ورکول یادهغه قیمت اداکول دواړه صحیح دي

۱۵۰_ سوال دتجارت په مال کی دخریداري په اصل قیمت باندی منافع زیات کړی شي اوبیا دی زکات وویستل شي او که دمال اصلي قیمت نه زکات وویستل شي ؟ بینوا توجروا.

[۱]_ وقد منا ان الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یامره بفعل هذه الاشیاء . قال فی الشامیة تحت قوله ثم یامره الخ

خواب حامداً ومصلیاً وسلماً ! دیو کال له پوره کیدونه وروسته چی څومره دتجارت دمال قیمت وي په همغه حساب سره دی زکات اداکړې شي . دتجارت د مال زکات پخپله دتجارت له مال نه ورکول هم جائز دی او دهغه قیمت یعنی نقدی روپۍ ورکول هم دغریبانو لپاره چی کوم یو صورت ګټور وي همغه باندی دی عمل وکړی شي یواځي خپل مفاد دی په نظر کی ونه نیول شي . په هدایه کی دي :

ویجوز دفع القیمة فی الزکات عندنا وکذا فی الکفارات وصدقة الفطر والعشر والنذر .... الخ (هدایه اولین ص ۱۷۵ فصل فی الغنم).

که چېرته دزکات په مال کی داسې شیان وي چی هغه دمدرسې طالبانو لپاره څه ګټه نه لري لکه پتلون نو په زکات کی دپتلون ورکولو هیڅ ګټه نشته ،لهذا پکار دي چې دپتلونونو پرځای دی دهغه قیمت ورکړی شي یا دی داسې شي ورکړې چې دطالبانو پکار راځي اوهغوی ترینه فائده اوچتوی .

په کوم سړي باندی چی زکات اداکول ضروري وي او هغه دزکات په نیت سره پیسې جداکړي وي نو همغه پیسې اداکول ضروري نه دي ، که چېرته په کوم وخت کی دزکات په نیت چاته ورکړي نوداهم جائز دی ، زکات یې اداکیږي ، بیا وروسته دی همدومره پیسې دزکات له پیسو نه واخلي فقط والله اعلم بالصواب .

دتجارتي مال په زکات کی موجوده قیمت اعتبار لري

۱۵۱ـ سوال : فقهاو لیکي دي چی له تجارتي مال نه دزکات اداکولو په وخت دی ګټه هم شامله کړی شي . مثلاً دسلو روپو په مال کی دی پنځوس روپۍ ګټه ورسره شامله کړي او بیا دی ترینه زکات وباسي ، خو ګټه هر وخت یو شانته نه وي ، همغه مال چې دیو نیم سل روپیو زکات ترینه ورکول کیږي هغه مونږ په سل روپۍ هم اخستلې شوو.

خواب: له تجارتي مال نه دزکات ورکولو طریقه داسې پکار ده چی دزکات ورکولو په وخت کی چی هغه مال په څومره روپۍ خرڅیږي دهمغو روپو په حساب سره دی زکات ورکړي ، که چېرته دګټې دډېریدو او کمیدو احتمال وي نو په اندازې سره دی درمیانې ګټه په نظر کې ونیسي او دهمغه په حساب سره دی زکات ورکړي په همدی کی احتیاط دی ، ددی خبرې دی پوره پوره خیال وساتل شي چی دمال کم قیمت ونه لګوي .

په فتاوی رحیمیه کی دیوې پوښتنې ځواب داسې ورکول شوی دی چی که چېرته یو کور دتجارت لپاره جوړیږي نو دهغه زکات دی دکور دموجوده قیمت په حساب سره ورکړي فتاوی رحمیه ج٦ ص ۳۷۰.[۱]

باب مایوجب فیه الزکاة ومالا یوجب

په شیرز (سهم) باندی زکات شته او که نه ؟

۱۵۲ـ سوال ایا په شیرز (سهم) باندی زکات شته او که نه او که شته نو په اصلي مال باندی دی او که دګټې په مال باندی په تفصیل سره یې ولیکئ.

ځواب: په شیرز (سهم) باندی زکات دی ، په شیرز (سهم) باندی چی کومه کمپنی تجارت کوي لکه دوربینمو او رختونو کارخانې ، همدغه راز داوسپنې او سامان جوړوونکې کارخانې او نورې کمپنیانې نو په اصلي پیسو اودهغه په ګټه دواړو کې زکات واجب دی .[۲]

اوکوم کمپني چی تجارت نه کوي بلکې یواځې کرایه اخلي لکه دریلوې کمیټي وغیره نو زکات یواځې په نفع باندی واجب دی په اصلي پیسو باندی زکات واجب نه دی .[۳]

فقط والله اعلم بالصواب.

ایادکور په ضروري سامان او ځیزونو باندی زکات شته اوکه نه ؟

۱۵۳ـ سوال : زه چی کوم شیان لیکم په هغو کی په کوم یو ځیز باندی زکات واجب دی ؟ کرسی ، میز ، صندوق ، فرنیچر، زری او ساده لباس ، دګرمی او یخنی جامی داوسیدو او کرایه کور ، دشیشې ګلاسونه او داسې نور ځیزونه چی دکور زینت

---

[۱]ـ کما فی البحر وان ادی قیمتها فعنده تعتبر یوم الوجوب فی الزیادة والنقصان وعندهما فی الفصلین یعتبر یوم الاداء بحر الرائق فصل فی الغنم تحت قوله او دفع القیمةي . م

[۲]ـ ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الی ماله وزکا سواء کان المستفاد من نمائه اولا الخ (فتاوی عالمگیري کتاب الزکاة)

[۳]ـ ولو اشتری قدوراً من صفرٍ یمکسها ویواجر ها لاتجب فیها الزکاة کما لاتجب فی بیوت الغلة فتاوی عالمگیري الفصل الثاني فی العروض ج ۱ص۱۸۰.

لپاره وي ، دجامو گنډلو مشینونه ، داستعمال لپاره موټر ساعت، راديو تلويزون ، پکي او دجامو وينځلو مشين وغیره .

ځواب: که چېرته په زري جامو کی دومره سپين زر يا سره لګيدلي وي چې نصاب ته رسيږي يا ددواړو په يوځای کولو سره له دواړونه نصاب جوړيږي نو په دی باندی زکات واجب دی ، لدينه علاوه دکور په نور سامان باندی زکات نه واجبيږي . فقط والله اعلم بالصواب.[1]

دزکات نصاب څو روپۍ دی

۱۵۴ـ سوال : ددين علماء په لاندينی مسئله کی څه وايي ؟

(۱) دسرو زرو اوسپين زورو مقرر کرده نصاب له چاسره موجود نه دی ، نو پدی زمانه کې په څومره نقدي پيسو باندی زکات فرض دی .

(۲) له اووه نيم تولې سره زر وزکات نه به دموجوده ګرام په اعتبار سره څومره ګرام زکات ويستل کيږي ؟ بينوا توجروا .

ځواب: په څومره روپۍ سره چې يو سړی دوه پنځوس نيم تولې سپين زر اخستلی شي نو همدومره پيسو لرونکي سړي ته دنصاب خاوند ويلی شي .

۲ـ خلويښتمه حصه دی په زکات کی وباسي . فقط والله اعلم بالصواب.

۱ـ پرو ويډنړ فنډ باندی زکات نشته ؟ (۲) که پخپلې خوښې سره پيسې ترينه کټ کړي نو په دغو پيسو باندی زکات واجب دی او که نه ؟

۱۵۵ـ سوال : زه سرکاري ملازم يم حکومت زماله تنخوا نه هره مياشت ۹ روپۍ کټ کوي ، ليکن زه پخپله خوښه ورته وايم چې زما له تنخوا نه ۴۱ روپۍ نور هم کټ کړي ، لازما پنځوس روپۍ زماله تنخوانه هره مياشت کټ کوي ، نور په دی کی دکمي او زياتي څه ګنجائش نشته، په دغو زائدو پيسو باندی هم همغه قانون لاګو کيږي چې پرو

---

[1] ـ فليس في دور السكنى وثياب البدن واثاث المنزل ودواب الركوب وعبيد للخدمة وسلاح الا ستعمال زكاة (فتاوى عالمگيري كتاب الزكاة ج۱ص۱۷۲)

ویډنېډ فنډ باندی لاګو دی چی له تقاعد او ریټائر کیدونه وړاندې ماته نه راکول کیږي، نو زه چی ۳۱ روپۍ زیاتې پیسې دحکومت په فنډ کی پرېږدم ایا فی الحال له دغو پیسو نه زکات ویستل پرماضروري دي او که نه . بینوا توجروا.

ځواب: کومې ۹ روپۍ چی هره میاشت لازماً حکومت یې کټ کوي اوبیا لـه تقاعد نـه ، وروسته لدینه زیاتې پیسې درکوي داټول سرکاري انعام دی ، پردغو پیسو باندی هلـه زکات واجبیږي چی کله تاته درکړي .

البته کی ۴۱ روپۍ چی ستاپه خوښه حکومت له تانه کټ کـوي . پـه هغـه کـی دزکـات حکم جاري کیږي اګر چی هغه ستا په قبضه کې نه دي ، لکه څرنګه چـی مونـږ پخپلـه خوښه چاته قرض ورکوو پرهغه هم زمونږ قبضه نه وې مګرزکات وړباندی واجب کیـږي ، همدغه راز کومې پیسې چی مونږ له چاسره امانت ایښې وي پرهغه هم زمونـږ قبضـه نـه وي لیکن هغه زمونږ ملیکت دی او مونږ پخپله خوښه له چاسره امانت ایښې وي نو ځکه وړباندی زکات واجب دی ، همدغه راز په مذکوره صورت کی هـم زکـات واجـب دی (دویم) اوپه دی پیسو باندی چی دسود کومې پیسې درکـول کیـږي هغـه بـه سـود وي ځکه چی هغه ستا له ذاتي پسو نه یې ورکړي دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

که چېرته څه نقدی پیسې وي او څه دتجارت مال وي نو په دی دواړو باندی زکات واجب دی او که نه ؟

۱۵۶_ سوال : له یو سړي سره زر اوسپین زر نشته صرف پنځه سوه روپۍ ورسره دي نو پردغو پیسو باندی دکال له تیریدو نه وروسته زکات واجب دی او که نه ؟

یاله چاسره دوکان دی چی په هغه کـی اتـه نهـه سـیکلونه او دهغـه دضـرورت څـه لـږ غوندی سامان دی نو په داسې سړي باندی زکات واجب دی او که نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب: دنن سبا په حساب سره چی له کوم سـړي سـره ددوه پنځـوس تولـو نیمـو تولـو سپین زرو دقیمت په انـدازه نقـدې پیسـې موجـودی وي نـو زکـات وړبانـدی کیـږي ، همدغه راز که سایکلونه او نور تجارتي سامان ورسره وي اودهغوی قیمـت دوه پنځـوس

---

[1]_فتجب زکاتها اذا تم نصاباً وحال الحول لکن لا فورا بل عند قبض الربعین درهما من الدین القـوی کقـرض وبدل مال تجارة .... ویعتبر مامضی من الحول قبل القبض فی الاصح درمختار مع الشامی مطلب فی وجوب الزکاة فی دین المرصد.

نیمي تولې سپین زرو ته رسیږي نو پرهغه مال هم زکات واجب دی.[1] که چېرته سیکلونه اودوکان سامان په کرایه ورکول کیږي نو دهغه په آمدني باندی زکات واجبیږي.[2] فقط والله اعلم بالصواب.

که له چاسره یو نیم توله سره زر او څلور تولې سپین زر وي نو پرهغه زکات واجب دی او که نه ؟

۱۵۷ـ سوال له یوې ښځې سره یوه نیمیه توله سره زر او څلور تولې سپین زر دي ورسره پنځوس روپې هم موجو دی دي ، ایا پردغه ښځې زکات واجب دی او که نه ؟ نن سبا دیوې تولې سره زر قیمت ۷۰۰ روپې دی اودسپینو زرو دیوې تولې قیمت ۱٦ روپې دی ، نو په دی حساب سره دیوې نیمې تولې سره زر قیمت ۱۰۵۰ اوددوه پنځوس نیمې تولې سپین زر قیمت مبلغ ۸۴۸ روپې دی نو په ده باندی زکات واجب دی او که نه؟ بینوا توجروا.

ځواب: داچې له دی ښځې سره له خپل ضرورت نه زیات یوه نیمه توله سره زر او څلور تولې سپین زر موجود دي او پنځوس روپې هم نقدې ورسره پرتې دي دچاقرضداره هم نه ده نودادنصاب خاونده ده داله بل چانه زکات نشي اخستلې او دکال په تیریدو سره وروباندی زکات واجب دی.

په مراقي الفلاح کې دي : وتضیم قیمة العروض الی الثمنین والذهب الی الفضة قیمة ص٤١٦ کتاب الزکاة . په هدایه کی دي :

ویضم الذهب الی الفضة للمجانسة من حیث الثمنیة ومن هذا الوجه صارسبباً ثم تضم باقیمة عند ابی حنیفة رحمه الله الخ (هدایه اولین ج۱ص۱۷٦ باب زکوة المال فصل فی العروض) فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] ـاوفی عرض تجارةقیمته ، نصاب الجملة من ذهب او ورق مقوماباء، حد هما ان استویا الخ درمختار مع الشامی باب زکاة المال ج۲ص ۲۹۸.

[2] ـولو اشتری قدوراً من صفر یمسکها ویؤاجرها لاتجب فیها الزکاة کما لاتجب فی بیوت الغلة ، فتاوی عالمگیري الفصل الثانی فی العروض ج۱ص۱۸۰.

داستعمالولو لوښي او دلباس دزكات حكم

۱۵۸_ سوال زمایه کور کی داسې لوښي دي چې په کور کې استعماليږي يواځې دميلمنو په وخت کې استعماليږي ، ددغو لوښو قيمت تقريباً زر روپۍ دی ايا په دغو لوښو باندی زكات كيږ ي؟ همدغه شان جامې او لباس دی چې په كال كې چېرته دوه اخترونو او نورو خوشالي وختونو کې اغوستل كيږي ، ددی قيمت هم تقريباً زر روپو ته رسيږي ، ايا په دی کی هم زكات واجب دی؟ ، بینوا توجروا .

ځواب: كومى لوښي او جامې چې استعماليږي پرهغه زكات نه واجبيږي، البته كه په جامو کې دسروزرو كارشوی وي نو په هغه کی زكات واجبيږي .(ولا ف ثياب البدن) المحتاج اليها لدفع الحرود والبرد . واثاث المنـزل ودور السكنى ونحوها) درمختار مع الشامى ج۲ص۱۰ كتاب الزكاة) .

په تجارتي لباس او سامان کی زكات واجب دی ، فقط والله اعلم بالصواب.

دورثاو لپاره مې پيسې جمع كړي دي ايا په دغو پيسو باندی زكات واجب دی او كه نه ؟

۱۵۹ _ سوال : يوسړي خپل جائداد پخپل ژوند کی خرڅ كړی دی او پیسې یې دخپلو وارثانو لپاره جمع كړي دي ، نوپه دغو پيسو باندی زكات واجب دی او كه نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب: فى الحال دغه سړی ددغو پيسو مالک دی نو ځکه پرهغه له دغو پيسو نه زكات ويستل واجب دي . فقط والله اعلم بالصواب.

كه له قرضدار سړي سره سره زر وي نو په هغه زكات واجب دی او كه نه ؟

۱٦۰_ سوال : يو سړی قرضدار دی خوله هغه سره سره زر دي ايا پرهغه زكات واجب دی او كه نه ؟ بينوا توجروا.

خواب دقرض پیسو له وضع کولو نه وروسته چې له هغه سره څومره سره زر یادسرو زرو ګانه وي، نو هغه سره زر که استعمالوي او که نه که هغه اووه نیم تولې وي یالدینه کمه وي مګر له هغه سره سپین زر یادسپینو زرو ګانه یانقدې پیسې وي یا ورسره تجارتي مال وي ، سره زر اوسپین زر یانقدې پیسې ټول دومره قیمت برابر کړي چې دسپینو زرو نصاب برابر شي نو ورباندی زکات واجب دی او که ونه رسیدنو زکات ورباندی واجب نه دی . په هدایه کې دي :

"ومن کان علیه دین یحیط بما له فلا زکواة علیه وان کان ماله اکثر من دینه زکی الفاضل اذا بلغ نصاباً لفراغه عن الحاجة" (هدایة اولین ص ۱٦٦ کتاب الزکواة)

په بل ځای کې دي : "وتضم قیمة العروض الذهب والفضة حتی یتم النصاب ویضم الذهب الی الفضة للمجانسة من حیث الثمنیة الخ" (هدایه اولین ص ۱۷٦ باب زکواة المال فی فی العروض) والله اعلم بالصواب ۱٦شوال المکرم ۱۳۹۹ه .

د نکاح په وخت کې چې ښځې ته کوم سره زره ورکړی شي د هغه د زکات حکم

(۱٦۱ سوال) زما د ورور د واده یو کال کیږي هغه د واده په وخت کې خپلی ښځې ته اته تولې سره زر ورکړي و او دوه تولې د هغې پلار ورته ورکړي دي نو په چا باندی زکات واجبیږي ؟ بینوا توجروا .

خواب : ستا د ورور ښځې ته چې د سروزرو کومه ګانه چې په مهر کې یا بخششي ورکړی ده د هغه مالکه همدغه ښځه ده او زکات هم په همدی باندی واجب دی ، که چیرته دغه ګانه عاریتاً صرف د اغوستلو لپاره ورکړی وي نو د هغې مالک هغه څوک دی چې چا ورکړیده او چا چې ورکړیده هغه د ده مالکه نه ده ، هر څوک چې مالک وي پر همغه زکوات ورکول واجبیږي ، په دې شرط چې هغه د نصاب خاوند ي د مور او پلار له طرف نه چې هغې ته کوم سره زر ورکول شوی ښکاره ده چې هغه ورته د بخشش په

توګه ورکړیدي نوځکه د هغه مالکه ستا د ورور ښځه ده ، که هغه دنصاب خاونده وي نـو وربانـدی زکات واجب دی[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

د فتاوی رحیمیه اووم جلد ۱۴۷ صفحی دعبارت تصحیح :

(۱٦۲ سوال) مخدوم و مکرم حضرت مفتي صاحب ادام الله ظلکم ، له مسنون سلام نـه وروسته عرض دا دی چی زه ستا د کتاب فتاوی رحیمیه جلد ۷ صفحه ۱۴۷ په یو عبـارت باندی نه یم پوه شوی مهرباني وکړئ د هغه حل راوباسئ .

تاسی د یو سوال په ځواب کی لیکلی دي :

ځواب : د ګروه ایښودل شوی څیز زکات په هغه باندی دی چـی چـا دغـه څیـز ګـروه کړی وي نه ګروه اخستونکي باندی (شامي ج ۲ ص ۹) ....

لومړی خو ما داسی کوم عبارت پیدا نه کړ چی په دی مفهوم باندی دلالت وکړي چـی مرهونه څیز باندی هم زکات شته ، بلکی له نورو عبـاراتو څخـه د دی خـلاف خبـره تـر لاسه کیږي ، لکه چی په بحر الرائق کی دي : "ومن موانع الوجوب الرهن اذا کـــان فی یدالمرتهن" (بحر الرائق ج ۲ ص ۲۱۸ مطبوعه مطبع علمیه) .

او په عالمګیري کی دي :

"ولا علی الرهن اذا کان ا لرهن فی ید المرتهن" (عالمگیری ج ۱ ص ۱٦۲) او پـه درمختار کی دي : "ولا فی مرهون بعد قبضة دور علی هامش" رد المختار ج ۲ ص ۷ مطبوعه مکتبه نعمانیه .

علامه شامي فرمـايي : "ای علی المرتهن لعدم ملك الرقة ولا علی الراهن لعدم الید" (رد المختار ج ۲ ص ۷) .

له دغو ټولو عباراتو څخه ښکاره معلومیږي چی په مرهونه څیز کی بالکـل زکـات نشته ، خو ستاسی له ځواب نه معلومیږي چی په مرهونه څیز باندی زکات شته ، زمـا خیـال دا

---

[1] _ لو جهز ابنته وسلمه الیها لیس له فی الاستحسان استرداد منها وعلیه الفتوی .... واذا بعـث الزوج الی اهل زوجته اشیاء عند زفافها منها دیباج فلما زفت الیه اراد ان یسترد من المراة الدیباج لیس له ذلك اذا بعث الیها علی جهة التملیك کذا فی فصول العمادیة ، فتاوی عالمگیری الفصل السادس عشر فی جهاز البنت ج ۱ ص ۳۲۷ .

دی چې زه ستاسی د عبارت په مطلب نه پوهیږم ، لهذا تاسی مهرباني وکړئ ما ته تسلي بخښونکی ځواب راکړئ ، زما ګستاخي معاف ، او په نیک دعا ګانو کی می په یاد وساتئ . فقط والسلام مع الاحترام احقر عبد الله کان الله له .

ځواب عزیز مولوي عبد الله خالد سلمه الله تعالی وعافاه ، له مسنون سلام نه وروسته ستاسی د مینی نه ډک خط راورسید او په ټولو احوالو پوه شوم ، ستاسی اشکال په ځای دی ، حواله او د شامي عبارت لا علی المرتهن ولا علی الـــراهن د عبارت پـه مطابق ځواب لیکلی و خو دا د کاتب مهرباني دی چې پـه دی کـی بـل لفـظ یی لیکلـی دی چې د هغه په وجه د مسئلی صورت بدل شو عبارت څه داسی و : ګروه ورکـول شـوی څیز کی زکات نه په ګروه ورکونکی دی او نه هم پر هغه چا چې ګرو یې اخستی دی ، یعنی په دواړو باندی واجب نه دی .

که چیرته له یو سړي سره دری تولی سره زر او څه نقدی پیسی وي د هغه حکم

(۱٦۳ سوال) که چیرته له یو سړي سره له اووه نیمی تـولی نـه کـم سـره زر وي ، مـثلاً دری یا څلور تولی وي نو پر هغه زکات واجب دی او که نه ؟ د زکات د واجبیـدو لپـاره له هغه سره د څومره نقدو روپو ضرورت دی ، زمونږ ملک برمـا کـی ځینـی علمـاء کـرام وايي چې که چیرته له چاسره سره زر له نصاب نه په کمه اندازه کی وي مثلاً دری تولی سره زر ورسره وي او ورسره نقد پنځه سوه روپۍ نور هم وي او پر هغه یو کال تیر شي نو دهغه شمارپه هغه خلکو کی کیږي چې د نصاب خاوندان دي او پر هغـه زکـات واجـب ګرځي ، د دی برعکس له یو سړي سره شپږ تولی سره زر دي خـو لـه هغـه سـره نقدی پیسی بالکل نشته نو هغه د نصاب خاوند نه دی او زکات وربانـدی نشـته ، دا خبـره پـه ذهن کی نه راځي چې که د دریو تولو سرو زرو مالک صرف پنځـه سـوه نقـدو روپـو پـه وجه د نصاب خاوند کیدای شي نو د شپږو تولو سروزرو مالـک چـې ورسـره پنځـه سـوه روپۍ نقدی نشته څنګه د نصاب خاونـد نشـي کیـدای ؟ تاسـی مهربـاني وکـړئ د دی ځواب راکړئ . بینوا توجروا .

ځواب : علماء کرامو چې کومه خبره کړی ده هغه صحیح ده که له چا سره لـه ضـرورت نه علاوه نقد پنځه سوه روپۍ وي او دری تولی سره زر هم ولري نو پر هغـه زکـات څکـه

واجبیږي ځکه چې نقدی پیسې د سرو زرو او سپینو زرو حکم لري ، کـه دری تولـو سـره زر او پنځه سوه روپې دواړه یوځای کړی شي نو له دواړو نـه د دوه پنځـوس نیمـو تولـو سپینو زرو قیمت جوړیږي نو ځکه زکات وربادی واجبیږي ، مګـر پـه دویم صـورت کـی ځکه زکات نه واجبیږي چې له هغه سره صرف سره زر دي ، لدی نه عـلاوه نـه سـپین زر شرته او نه هم تجارتي مال ، نو ځکه نه د سرو زرو نصاب جوړیـږي او نـه هـم د سـپینو زرو ، لهذا په دی صورت کې زکات واجب نه دی[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

(۱) په کوم ګانه کی چې جس یو ځای شوی وي د هغی د زکات حکم (۲) په کومه ګانه کی چې لعل جواهر او ملغلری لګیدلی وي د هغی د زکات حکم (۳) د زرګر مزدوري په ګانه کی شامل دی او که نه ؟

(۱٦٤ سوال) یوی ښځی په اویا ګرامه خالص سره زر کی دیرش ګرامه جـس (مـس) یـا بل څه ګډه کړی او ځان لپاره یی ګانه جوړه کړی ده ، ایا دا ټول د سـروزرو پـه حکـم راځي او که مس یا جس ترینه جدا ګڼل کیږي او لدینه دې زکات څنګـه ورکـړی شـي ؟ (۲) په ګانه کی چې کوم لعل جواهرات او ملغلری لګیدلی وي د هغه چې کـوم قیمـت دی د هغه زکات ورکول هم واجب دي او که نـه ؟ (۳) زرګـر تـه دګـانی جوړولـو کـوم مزدوري ورکول شوی دی په هغه اجرت باندی زکات واجب دی او که نه ؟

(۴) له دغی ښځی سره صرف سل ګرامه خالص سره زر موجود دي ، نقـدی پیسـی چـی ورته په لاس ورځي هغه په کور کی لګیږي نو د هغی په دغه سره زر زکـات واجـب دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که چیرته سره زر او مس یی دواړه ویلي کولو نـه وروسـته یوځـای کـړی وي او سره زر ترینه نه جدا کیږي نو کوم څیز چی غالب وي نو د هغه حکـم لـري کـه سـره زر غالب وي نو ټول د سرو زرو حکم لري او که مس پکی غالب وي نو د مسو حکـم لـري ،

[1] ـــ فافاد ان التقويم انما يكون بالمسكوك عملاً بالعرف مقوما بأحدهما ان استويا فلو احدهما اروج تعـين التقويم به ولو بلغ باحدهما نصاباً دون الاخر تعين ما يبلغ به . درمختار مع الشامی كتاب الزكـواة ج ۲ ص ۲۹۹ .

په در مختار کی دي : "وغالب الفضة والذهب فضة وذهب وما غلب غشه) منها (يقوم كالعروض)" په شامي کی دي : "(قوله وغالب الفضة الخ) لان الدراهم لاتخلوا من قليل غش لانها لاتنطبع الابه فجعلت الغلبة فاصلة نهر ، ومثلها الذهب (قوله فضة وذهب) اى فتجب زكواتهما لا زكواة العروض" (درمختار وشامی ص ٤٢ ج ٢ باب زكواة المال) .

په مسئوله صورت کی چون سره او مس دواړه له ویلی کیدو نه وروسته یو کړی شوی دي او جدا کیدی نشي نو ټول د سرو زرو په حکم کی دي ، د دغه سره زر نه د زکات په وخت کی چی ددی خومره قیمت وي د همغه په اعتبار سره دی زکات ورکړي ، فقط .

(۲) کوم لعل جواهرات او قیمتي ملغلری چی په ګانه کی لګول شوي دي که چیرته دا ګانه د استعمال لپاره وي نه د تجارت لپاره ، نو په دغو قیمتي ګانو کی زکات نشته ، که څه هم دا د سرو زرو په ګانه کی لګول شوی دي خو دا دواړه جدا کیدای شي نو ځکه دغو قیمتي ګانو ته د سرو زرو حکم نشي ورکول کیدای لکه چی د حضرت مولانان تهانوي رحمه الله له فتوی نه ثابتیږي ، البته که کوم شخص قیمتي ګانی او ملغلری د سرو زرو تابع ګڼي د سرو زرو مجموعی قیمت په أعتبار سره زکات ورکړي نو دا غوره ده او د سرو زرو د زکات په ادائیګي کی څه شک نه پاتی کیږي او غریبانو ته هم په دی کی ګټه ده ، مفتي عزیز الرحمان رحمه الله د سرو زرو د مجموعي قیمت په اعتبار سره د زکات ورکولو فتوه ورکړیده ، او دا احتیاطي صورت دی .

په فتاوی عالمګیري کی دي :

"واما اليواقيت و الجواهر فلا زكواة فيهما وان كانت حليا الا ان تكون للتجارة ، كذا فى الجوهر النيرة" (عالمگيری ج ١ ص ١٨٠ كتاب الزكواة باب نمبر ٣ فصل نمبر ٢) په درمختار کی دي : "(لا زكواة فى الالى والجواهر) وان ساوت الفاً (الا ان تكون للتجارة)" (درمختار ج ٢ ص ١٨ قبيل باب السائمة) .

په عمدة الفقه کی دي : یاقوتو ، ملغلرو او جواهراتو کی زکات نشته ، اګر چی لـه هغـه نه ګانه جوړ کړی شوی وي ، لیکن که هغه تجارت لپاره وي نو په هغـه کـی هـم زکـات واجب دی (عمدة الفقه ج ۳ ص ۷۹ ، ۷۸) .

په کفایت المفتي کی د دی سوال په ځواب کی چی د سرو زرو یا سپینو زرو پـه هغـه ګانه (کالي) کی چی جواهرات لګیدلی وي پر هغه زکات شته او کـه نـه ؟ لیکلـي دي : کوم کالي یا ګانه چی د سرو زرو او سپینو زرو وي او په هغه کی جـواهرات لګیـدلی وي پـر هغـه زکـات فـرض نـه دی ، صـرف د سـرو زرو او سـپینو زرو پـه قیمـت بانـدی زکات فرض دی (کفایت المفتی ج ۴ ص ۲۴۲) .

په فتاوی دار العلوم کی دي :

(سوال ۲) کوم کالي یا ګانه چی له طلا نه جوړه شوی وي او پـه هغـه کـی جـواهرات لګول شوی وي نو د هغه زکات دی په کومه طریقه ادا کړی شي ؟

خواب : صرف، د طـلا د قیمـت زکـات دی ادا کـړي (فتـاوی دار العلـوم ج ٦ ص ۱۳۰ مدلل و مکمل) فقط .

(۳) د زکات د ادا کولو په وخت کی چی د طلا څومره قیمـت وي د همغـه زکـات دی ورکړي ، په فتاوی عالمګیري کی دي :

"ولو کان له ابریق فضة وزنه مائتان وقیمته لصیاغته ثلث مأته ان ادی من العـین یؤدی ربع عشره وهو خمسة قیمتها سبعة ونصف وان ادی قیمتها خمسة جاز ولو ادی من خلاف جنسه یعتبر القیمة بالاجماع کذا فی التبیین" (فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۱۷۸ باب نمبر ۲ فصل نمبر ۲) (امداد الفتاوی ج ۲ ص ٤۳) فقط .

(۴) له لومړي خواب نه څرګند شو چی که سره زر غالب وي او مس پکی مغلوب وي نـو دا ټول د سرو زرو په حکم دي ، لهذا دا ټول د سلو ګرامو سرو زرو په حکـم کـی دي او د سرو زرو نصاب اووه نیم تولی دی چی تقریباً اووه اتیا نیم ګرام جوړیږي نو سـل ګـرام د نصاب له مقدار نه زیات دی لهذا مذکوره ښځـه د نصـاب خاونـده ګڼـل کیـږي ، کـه نقدی پیسی ونلري نو بیا هم زکات ورباندی فرض دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

یوه ټوټه زمکه یی د تجارت په نیت واخست نو په دی باندی د زکات څه حکم دی ؟

(۱۶۵ سوال) زید د نصاب خاوند دی ، هغه یوه ټوټه زمکه پـه دی نیـت واخسـت چـی کله د دی قیمت زیات شي نو خرخ یی کړي ، پـه دی صـورت کـی د زمکـی پـه دغـی ټوټی باندی زکات واجب دی او که نه ؟ که زکات فرض دی ، نـو د زمکـی پـه قیمت باندی دی یا د زکات ورکولو په وخت کی د بازار نرخ ته اعتبار ورکولی شـي ، د زکـات، واجب کیدو په صورت کی به هر کال زکات ادا کولی شي او که کله هغه خرخ شي بیه به ترینه زکات ورکولی شي ؟ بینوا توجروا .

(۲) اوس د زید نیت دا دی چی د زمکی د دغی ټـوټی لـه خرخیـدلو نـه وروسـته بـه د خپلو اولادو لپاره کوم کار اخلي ، د زید د دغه نیت د بدلیدو په صورت د زمکی په دغه ټوټه باندی زکات واجب دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : له سوال نه واضح کیږي چی دزمکی دا قطعه د تجارت په نیت یی اخستی ده نو دغه زمکی ته د تجارت مال ویل کیږي ، لهذا د تجارت مال د کیدو په وجه تـر څـو پوری چی دغه زمکه له زید سره وي نو هر کـال د هغـی زکـات ورکـول واجـب دي زکات د ورکولو په وخت کی چی د زمکی کوم قیمت رائج وي د همغو پـه اعتبـار سره زکات ورکول پکار دي .

په اولین هدایه کـی دي : "وان اشترى شيئاً ونواه للتجارة كان للتجارة لانتصال النية بالعمل" (هدایه اولین ص ۱٦٧ ج ۱ کتاب الزکاة) .

په درمختار کـی دي : "(وما اشتراه لها) ای للتجارة (كان لها) لمقارنة النيـة بعقد التجارة" (درمختار ص ۱۷ ج ۲ کتاب الزکاة) ..

په فتاوی دار العلوم کی دي :

(۳) زکات به په دی حساب سره ورکوي چی په بازار کی د هغه څـه قیمـت وي ، لدینه هغه بازار مراد دي چی په هغه کی دا زمکـه ده ، کما فى الدر المختار ويقوم فى البلد الذى المال فى در مختار على هامش رد المختار ج ۲ ص ۳۰ (فتاوی دار العلوم ص ۳۱ ج ٦ مدلل و مکمل) .

په فتاوی محمودیه کې دي

(سوال) د تجارتي مال زکات به څنګه ورکول کيږي . د کال په اخر کې دی د مال قیمت لګولو سره ورکړي او که په بله طريقه ؟

(جواب) حامدا ومصليا . د کال پوره کيدو په وخت کې چې څومره مال موجود وي د هغه قيمت په حساب دی زکات ورکړي . فقط والله سبحانه وتعالی اعلم

(دويم جواب) اوس هم نيت د زمکې د خرڅولو دی لهذا په دی وخت کې هم مذکوره زمکه د تجارت مال دی او ورباندی زکات واجب دی ، البته که دقيمت د تر لاسه کيدو نه وروسته په همدغو پيسو سره د اوسيدو لپاره کور واخست نو هغه کور به د اوسيدو په کور کې شمار کيږي او زکات ورباندی نشته ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۱۹ جمادی الثانيه ۱۴۰۱ھ کال .

د تجارت په نيت کور جوړوم نو د دی زکات حکم څه دی ؟

(۱٦٦ سوال) يو سړي زمکه واخستله او پر هغه باندی کور جوړوي نيت يی دا دی چې بيا دغه کور خرڅ کړي . تعميري کارونه تر اوسه سر ته نه دي رسيدلي . نو ايا د دغه کور زکات ورکول لازم دي او که نه ؟ بينوا توجروا .

(جواب) کور د تجارت په نيت جوړولی شي نو څکه هغه د تجارت په مال کې شمارل کيږي ، د زمکې د موجوده حالت په اعتبار سره دی قيمت ورباندی کيږدي او له هغه نه دی زکات ورکړي . فقط والله اعلم بالصواب .

د سرو زرو ګاڼه استعمال کړي او که نه په هر حالت کې ورباندی زکات فرض دی

(۱٦۷ سوال) له يوی ښځی سره لس تولې سره زر دي هغه دغه د سرو زرو ګاڼه نه اچوي بلکې همداسې امانت يی ايښی دي . نو ايا په دی باندی زکات ورکول ضروري دي او که نه ؟ بينوا توجروا .

د سرو زرو ګاڼه که په غاړه او لاسو کې آچوي يا نه په هر حالت کې د هغه زکات ورکول فرض دي ، لهذا په مسئوله صورت کې چې سره زر د نصاب نه هم زيات دي نو لدينه زکات ورکول فرض دی . په درمختار کې دي :

"(وللازم) مبتداء (فی مضروب کل) منها او معموله ولو تبرا او حلیا مطلقاً) مباح الاستعمال اولا ولو لتجمل والنفقة لانهما اثماناً فیزکیهما کیف کانا" (درمختار ج ۲ ص ۴۱ ، باب زکواة المال) فقط والله اعلم .

که څوک د شیدو د خرڅولو په نیت میښی وساتي نو د هغی زکات ورکول ضروري دي او که نه ؟

(۱۶۸ سوال) یو سړي د شیدو خرڅولو په نیت میښی اخستی دي نو ایا په دغو میښو باندی زکات واجب دی او که له شیدو نه تر لاسه شویو پیسو بانندی ؟ میښی په طبیله کی ولاړی دي او همغلته ورته ګیاه ورکول کیږي . بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کی چی کله میښو ته پخپلو پیسو ګیاه ورکوي په ځنګل کی نه څري یا څري خو ګذاره یی نه کیږي نو دغو میښو ته سائمه څریدونکي نشي ویل کیدای او له دغو میښو نه زکات ویستل نه دي فرض ، بلکی د شیدو د خرڅولو په صورت کی چی څومره پیسی تر لاسه کیږي له هغو نه زکات ویستل واجب دی .

په درمختار کی دي :

"باب السائمة هی الراعیة وشرعاً (المکتفیة بالرعی المباح) ذکره الثمنی (فی اکثر العام لقصد الدر والنسل) الی قوله (فلو علفها نصفه لاتکون سائمة فلا زکواة فیها للشك فی الموجب الخ)" درمختار مع رد المختار باب السائمة ج ۲ ص ۱۹ ، ۲۰ ، فقط والله اعلم بالصواب .

تر څو کلو پوری یی زکات نه دی ورکړی ، بیا هغه مال هم هلاک شو ، نو د دی څه حکم دی ؟

(۱۶۹ سوال) یو سړي سپیغول په دی نیت واخست چی هغه خرڅ کړي او ګټه ورباندی وزکړي ، هغه یی له یو غیر مسلم سړي سره کینبود تر څو قیمت شي او په ګرانه خرڅ کړي ، په دی انتظار کی څو کاله تیر شول ، له کوم غیر مسلم سړي سره چی دغه سپیغول ایښی و هغه مړ شو ، د هغه له وارثانو څخه یی دغه سپیغول وغوښت ، د هغه وارث وایي چی ستا سپیغول زمونږ په کور کی نشته او مونږ ته دهغه په باره کی هیڅ

معلومات نشته ، هغه ډیر زیات کوشش وکړ چی اسپغول یا د هغه قیمت واخلي مګر تر اوسه پوری نه دی کامیاب شوی او په ظاهره څه امید هم نشته ، له هغه سره کوم ګواه او شاهد هم نشته ، نو په دی صورت کی د څومره کلونو زکات پاتی و هغه به ادا کوي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : دغیر مسلم وارثان دی په دی قانع کړي چی دِ هغوی حق ومني او اسپغول ورته واپس کړي ، په دی لاره کی دی ټول وسائل په کار واچوي که سپغول یا د هغه پیسی تر لاسه کړي نو د تیرو کلو زکات دی ورکړي او که د ټول کوشش باوجود نه سپغول تر لاسه کړي او نه هم د هغه قیمت او د تر لاسه کیدو ټول امید ختم شي نو د تیرو ټولو کلونو زکات ساقطیږي او ورباندی زکات نشته ، په فتاوی عالمګیري کی دي :

"وان هلك المال بعد وجوب الزكات سقطت الزكواة وفى هلاك البعض يسقط بقدره ، كذا فى الهدايه ، ولو استهلك النصاب لا يسقط هكذا فى السراجية" (عالمگيرى ج ۱ ص ۱۱٦ كتاب الزكاة ، مسائل شتى) .

په شامي کی دي :

"(قوله ولا فى هالك) اى لا تجب الزكواة فى نصاب هلك بعد الوجوب اى بعد مضى الحول بل تسقط وان طلبها الساعى منه فامتنع حتى هلك النصاب على الصحيح وفى الفتح انه الا شبه الخ" (شامى ص ۲۷ ج ۳ باب زكاة الغنم) فقط والله اعلم بالصواب .

د اوسیدو لپاره یی کور جوړ کړی و بیا یی د خرڅولو اراده وکړه نو لدینه زکات ورکول ضروري دي او که نه ؟

(۱۷۰ سوال) یو سړي د اوسیدو لپاره کور جوړ کړ او په هغه کی څه وخت لپاره هستوګنه هم وکړه ، بیا د حالاتو د خرابیدو په وجه بل ځای ته لاړ ، هغه کور د غیر مسلمو په علاقه کی دی ، نو ځکه هلته د اوسیدو اراده نه لري ، هغه غواړي چی دغه کور خرڅ کړي خو تر اوسه لا خرڅ شوی نه دی بلکی بند پروت دی ، په مسئوله صورت کی د دغه کور زکات ورکول ضروري دي او که نه ؟

جواب خرنګه چې دا کور یې د اوسیدو لپاره جوړ کړی و بیا وروسته د څه وخت اوسیدو نه بعد د خرڅولو نیت یې وکړه ، نو یواځې په نیت کولو سره هغه مال د تجارت په مال کې نه شمارل کیږي . فی الحال د هغه زکات ورکول ضروري نه دي کله چې کور خرڅ شي نو د هغه چې څومره قیمت تر لاسه کړي نو له خپل مال سره دې یوځای کړي او ترینه زکات دې وباسي

په لومړی هدایه کې دي

"ومن اشتری جاریة للتجارة ونواها للخدمة بطلت عنها الزکواة لاتصال النیة بالعمل وهو ترك التجارة وان نواها للتجارة بعد ذلك لم تکن للتجارة حتی یبیعها فیکون فی ثمنها زکواة لان النیة لم تتصل بالعمل اذ هو لم یتجر فلم تعتبر" (هدایه اولین ص ۱۶۷ کتاب الزکواة) فقط والله اعلم بالصواب .

زکات په چرګانو باندې دی او که د هغوی په هګیو باندې ؟

(۱۷۱ سوال) زه چرګې ساتم له ماسره خلور سوه چرګې دي . په دی کار مې ۸۰۰۰ روپې لګولی دي . زه د چرګو په هګیو تجارت کوم پر ما باندې د چرګو زکات واجب دی او که د هغوی پر هګو ؟ بینوا توجروا . .

خواب که چیرته تاسې د چرګو تجارت نه کوئ بلکې د هغوی د هګیو تجارت کوئ نو په اصل سرمایه باندې زکات نشته بلکې د هګیو په آمدني باندې زکات دی هله چې دنصاب حد ته رسیدلی وي (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۰۰) .

د کرایه په ټرک باندې زکات شته او که نه ؟

(۱۷۲ سوال) زما ټرک په ټرانسپورټ کې چلیږي . زکات د ټرک په قیمت باندې کیږي او که د ټرک له ګټې نه تر لاسه شویو پیسو باندې ؟

خواب ټرک چې کومه ګټه کوي په هغې باندې دی نه د ټرک په قیمت باندې ، "فارغ عن الدین وعن حاجته الاصلیة کثیاب المحتاج الیها لدفع الحر والبرد وکالنفقة دور السکنی والآة الحرب والحرفة" (طحطاوی ص ۳۸۹ کتاب الزکـواة) (شامی کتاب الزکواة ج ۲ ص ۸۷۷) فقط والله اعلم بالصواب .

د برقی ټرانسپارمر په ګټه باندې زکات :

(۱۷۳ سوال) زما د ویلډنګ دکان دی د ویلډنګ لپاره د برقي ټرانس فارمر ساتل ضروري دي نو زکات په ټرانسفارمر باندی دی او که له هغه نه تر لاسه شوی ګټې باندی؟
خواب د ټرانسفارمر د مشین په قیمت باندی زکات نشته بلکي د هغه په ګټې باندی زکات دی (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۴۴).

مهر مؤجل د زکات د وجوب لپاره مانع نه دی :

(۱۷۴ سوال) زموږ په علاقه کي د مهر موجل رواج دی . یعني طلاق یا له وفات نه وروسته د مهر د ادا کولو دستور دی ، سوال دا دی چي په داسي صورت کي که کوم شخص د نصاب خاوند وي او له هغه نه خپل قرض وباسي نو که بیا د نصاب خاوند نه و نو زکات ورباندی شته او که نه ؟
خواب : په مسئوله صورت کي زکات لازم دی ، موجل مهر د زکات د وجوب لپاره مانع نه دی . په شامي کي دي : "والصحیح انه غیر مانع" صحیح خبره دا ده چي مهر موجل د زکات مانع نه دی (شامي ج ۲ ص ۷ کتاب الزکات) .

ښځو لپاره د زکات ورکولو طریقه :

(۱۷۵ سوال) له ښځو سره په عمومي ډول دری یا څلور تولی سره زر وي او د آمدني هیڅ لاره نه لري ، د یو عالِم وینا ده چي که کومي ښځي سره د دری څلورو تولو طلا سره ۵۰ روپۍ نوری هم وي نو پر هغې زکات واجبیږي ، نن سبا روپۍ ډیره ارزانه او کمزوری ده ، یو معمولي غوندی فقیر سړی هم له ځان سره پنځوس روپۍ لري ، لهذا که ښځي د زکات ورکولو یا قرباني کولو لپاره د خپلی طلا نه څه حصه خرڅ کړي نو په کلاره کلاره طلا کمیږي او ورسره هیڅ نه پاتی کیږي نو ځکه تفصیلي ځواب درنه غواړم.
خواب : که چیرته ښځي یواځي د دری یا څلورو تولو سرو زرو مالکه وي او لدینه علاوه سپین زر یا نقدی پیسی او تجارت مال نه لري نو پر هغې زکات او قرباني واجب نه دي، "نصاب الذهب عشرون مثقالاً قال الشامی فما دون ذلك لا زکواة فیه ولو کان نقصاناً یسیرا" شامی ج ۲ ص ۳۸ باب زکواة المال .

او که له سرو زرو نه علاوه څه سپین زر، نقدی روپۍ یا د تجارت مال هـم ورسـره وي او تول مال په یوځای کولو سره د هغه مجموعي قیمت دوه پنځوس نیمی تولی ته رسیږي نو زکات وربانـدی واجـب دی ، "وقیمة العروض للتجارة تضم الی الثمنین" درمختار مع الشامی ج ۲ ص ٤٥ باب زکواة المال .

د ښځو خپله خوښه ده چې په زکات کی بعینه سره زر ورکوي او که د هغـه قیمـت ، کـه چیرته په دی وخت کی ورسره نقدی پیسی نه وي نـو لـه چـا نـه دی قـرض واخلـي او زکات دی ورکړي او بیا دی دغه قرض پیسی ادا کړي ، که چیرته له سرو زرو نه د زکـات ورکولو په صورت کی سره زر دومره کم پاتي شي چی د نصـاب خاونـد پـاتی نشـي نـو وربانـدی زکات ، قرباني او نور واجب نه دي .

دا خیال غلط دی چی له مال نه د زکات ورکولو په وجه مال کمیږي بلکی د زکـات پـه ورکولو سره مال صفا او ستره کیږي ، د الله تعالی ارشاد دی :

"یمحق الله الربوا ویربی الصدقات" الله تعالی سود ختموي او خیرات زیـاتوي (بقـزه)

د دی اهمیت له دی نه واضح کیږي چی زکات د اسلام له پنځـو ارکـانو څخـه دی ، د دی په ادا کولو سره انسان مسلمان شمارل کیږي ، همدغه راز پـه دی سـره د غریبـانو ، مسکینانو او محتاجو مرسته کیږي لهذا که له مال نه دزکات ورکولو په وجه چا تـه پخپـل مال کی د کمي احساس پیدا کیږي نو هغه دی زړه نه غورځوي بلکـی پـه پـوره شـوق دی ادا کړي .

که چیرته ښځی ته د آمدني او ګټی وټی څه ذریعه نه وي او د هغی خاوند د هغوی پـه اجازه له خپل طرف نه زکات ورکړي نو دا جائز دي .

"قال فی البحر ولو تصدق عنه بامره جاز" (شامي ج ۲ ص ۱۱ کتاب الزکواة) .

که چیرته له چاسره صرف دومره روپۍ موجودی وي چی په هغـی دوه پنځـوس نیمـی تولی سپین زر یا اووه نیمی تولی سره زر اخستلی شي نو پر هغـه زکـات لازم دی او کـه لدینه کمی وي نو زکات وربانذی نشته ، فقط والله اعلم بالصواب .

باب العشر والخراج

د عشر او خراج په اړه معلومات

زمونږ د ملک په حاصلاتو کی پر مسلمان باندی عشر دی او که نه ؟ او د دی ضروري مسائل

(۱۷٦ سوال) په اوسني وخت کی پر مسلمانانو باندی د هغوی د زمکه په حاصلاتو کـی عشر ورکول واجب دي او که نه ؟ که عشر ورکول وِرباندی واجب وي نو مهرباني وکړئ د عشر ضروري مسائل هم ولیکئ ، بینوا توجروا .

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم حامدً ومصلیاً ومسلماً وهو الموفق .

مسئله مختلف فیه ده دواړو طرف ته د علماو اقـوال دي : خـو احتیـاط پـدی کـیٰ دی چی داسی زمکی چی له مسلمانانو څخه نسل در نسل وراثتـاً را روانـی دي ، یـا یی لـه مسلمانانو نه په پیسو اخستی وي ، یا ورته د هبی په توګه ورکـول شـوی وي او پـه مـنځ کی د کوم غیر مسلم ملکیت ثابت نه وي نو داسی زمکی دی عشری وګڼل شي او عشـر دی ترینه ورکړی شي ، په عشر ورکولو کـی د عبـادت اړخ غالـب دی او پـه دی کـی د مسکینانو ګټه ده ، پر کومو زمکو چی د کفارو ملکیـت ثابـت وي هغـه عشری نـه بلکـی خراجي دي ، او د کومو زمکو چی صحیح حال معلوم نه وي نو د استصحاب حـال پـه دلیل دغسی زمکو ته هم عشری ویل کیږي .

که چیرته حکومت د خپل کوم قانون لانـدی پـه کومـو زمکـو قبضه کـړی وي ، یـا یی زمکی چاته حواله کړی وي نو په داسی زمکو عشر نشته ، او هغه زمکی چی د حکـومتي قانون باوجود حسب سابق د مسلمانانو په ملکیت کی پاتی شوي وي نو د داسی زمکـی عشر دی ورکړی شي ، په دی صورت کی د حکومتي قانون مطلـب بـه صرف منتظمانـه قبضه وي ، کما حدره الشیخ التهانوی رحمه الله .

د قطب عالِم حضرت مولانا رشید احمد گنگوهي رحمه الله فتوه

(۱) زمونږ د ملک زمکی عشر دي او که خراجي :

ځواب د هندوستان زمکی ځینی عشر دي او ځینی خراجي . فقط والله اعلم (فتاوی رشیدیه ص ۵۵ ج ۳) .

(۲) د عشري زمکو څه شناخت او پیژندګلوي ده ؟

ځواب عشري زمکه هغه ده چی له پخوا نه د مسلمانانو سره وي او په عشري اوبو خړوبیږي . فقط (فتاوی رشیدیه ص ۵۴ ج ۳)

حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمايي :

(۱) یوه مسئله د غور وړ ده هغه دا چی عشر به له کومی زمکی نه ورکول کیږي ؟

نو په یاد وساته چی عشر په هغه زمکه کی ده چی هغه عشري وي ، عشري زمکه هغه ده چی مسلمانانو فتح کړی وي او هغه د کفارو په قبضه کی نه وي راغلی ، اوس د زمکی دری حالتونه دي :

لومړی دا باید معلوم نشي چی زمکه د مسلمانانو په لاس او ملکیت کی دی په وی کی به ضرور عشر ورکول کیږي .

دویم دا معلوم شي چی دا زمکه د کفارو له لاسه مونږ ته راغلی ده نو په دی کی عشر نشته ، دریم دا معلوم شي چی دا د کفارو د لاسه مسلمانانو ته پاتی شوی او که د کفارو د لاسه ، خو په دی وخت له مسلمانانو سره ده نو دا هم عشري ده (التبلیغ وعظ العشر ص ۲۰) .

۲ ـ (۸۹ سوال) د عشری زمکی په باره کی چی د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله کوم تحقیق وي هغه دی ولیکل شي .

ځواب : کومی زمکې چی په دی وخت د مسلمانانو په ملکیت کی دي او هغوی ته له مسلمانانو نه ارثاً پاتی شوی دي هغه زمکی عشري دي او کومی زمکی چی په منځ کی کافر وربادندی مالک شوی وي هغه عشري نه دي او کومی زمکی چی حال یی معلوم نه وي او په دی وخت له مسلمانانو سره دي نو هغه داسی ګڼل کیږي چی له مسلمانانو نه ورته پاتی دي نو هغه عشري دي او د عشر اندازه معلومه ده ، فقط ۱۸ محرم الحرام کال ۱۳۲۶ھ ، امداد الفتاوی ص ۵۲ ج ۲ کراچي) جواهر الفقه ص ۲۶۰ ج ۲ .

۳ ـ ۹۰ سوال ، د هندوستان زمکه په دی وخت (د انګریزانو په حکومت کی) خراجي دی او که عشري . کله چی د انګلستان حکومت له غدر نه وروسته د سلطنت اقتدار پخپل لاس کی نیولی و نو هغه وخت عمومي اعلان یی کړی و چی تولی زمکی یی ضطبی کړی دی او د چا حق پکی نشته نو که د زمکی مالک ثبوت وړاندی کړي چی دا زما زمکه ده نو هغه ته د حاکم د تجویز په اندازه ورته زمکه ورکول کیږي ، کومو خلکو چی ثبوتونه او ګواهیانی پیش کړل هغوی ته همغه زمکی یا په مقابل کی نوری زمکی ورکړي او ځینو ته د کوم خدمت په عوض کی زمکی ورکړی دي ، له هغوی نه مالیه هم آخلي خو ځینو ته یی معاف کړی دي .

ځواب : د ضبطولو دوه معناګانې دي یوه مالکانه قبضه ده که چیرته مالکانه قبضه یی کړی وي نو په دغه زمکه کی عشر نشته ، بل قسم قبضه منتظمانه ده ، زما په نزد له قوي قرائنو نه همدیته ترجیح ده ، که داسی قبضه شوي وي نو عشري زمکه اوس هم عشري ده ، البته که له مخکی نه هغه زمکه عشري نه وي یا سرکار د دغی زمکی پر ځای په بل ځای کی زمکه ورکړی ده نو څرنګه چی د هغه له ورکولو نه وړاندی د استیلا په وجه سرکاري ملکیت شوی و لهذا دا عشري زمکه نه ده .

(امداد الفتاوی ص ۵۲ ص ۵۳ ج ۲) (جواهر الفقه ص ۲٦۰ ، ۲٦۱ ج ۲) .

حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله لیکي :

د هندوستاني زمکی د عشری یا خراجي کیدو تحقیق :

د ملک له تقسیمیدو نه وروسته چی کومه حصه د هندوستان په نوم مخصوصه شوه د هندو ا کثریت اقتدار لاندی راغی ، هلته چی کومی زمکی له پخوا نه دمسلمانانو په ملکیت کی دي او په هیڅ یوه زمانه کی د کوم کافر په ملکیت کی د پاتی کیدو ثبوت نشته ، نو څرنګه چی د برطانیه د اقتدار په وخت کی عشري وه نن هم عشري دی ، البته کومی زمکی چی د هندوستان مسلمانانو پریښودلی او هغوی ترینه پاکستان ته راغلل ، نو د هغوی متروک زمکی حکومت عموماً له پاکستان نه راغلي هندوانو او سکانو باندی تقسیم کړه ، که چیرته کوم یو مسلمان دغه زمکه په بیعه واخلي یا په بله کومه طریقه تر لاسه کړي ، که هغه زمکی له مخکی نه عشري هم وي نو اوس د غیر مسلم د استیلا په وجه خراجي کیږي .

كه چيرته همدغسې په كوم ځاى كې د مسلمانانو متروكه زمكه د هندوستان حكومت كوم مسلمان نه له مخكې نه وركړې وي نو هغه هم د استيلا په وجه عشري نه پاتې كيږي بلكې خراجي كيږي د هندوستان د ټولو زمكو احكام همغه پاتې كيږي چې د برطانويانو د حكومت په وخت كې يا له هغو نه مخكې د مسلمانانو په زمكه كې وو چې تفصيل بره بيان شوى دى چې كومې زمكې نسل در نسل د مسلمانانو په ملكيت كې وى او په هيڅ وخت كې پر هغه د كفارو ملكيت ثابت نه دي نو هغه د استصحاب حال په توګه له ابتداء نه د مسلمانانو ملكيت دى او عشري زمكه ده ، او پر كومو زمكو چې كوم وخت د غير مسلمو مالكانه قبضه وه بيا يې له هغوى په پيسو واخستله يا په بلې كومې جائزې طريقې سره تر لاسه كړه نو هغه زمكه خراجي ده (جواهر الفقه ج ۲ ص ۲٦۲) .

د اسلامي فقه اكاډومي شپږمه فقهي سيمينار تجويز هم چې د عشري او خراجي زمكې په باره كې وړاندى شوى دى هم ولولئ .

د عشر ضروري مسائل

حكيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي :

عشر دهغه چاسردى چې له چاسره فصل پوخ ولاړ وي او دريبلو لپاره تياروي همدغه راز هغه باغ چې ميوې يې پخې شوي وي . او كه چېرته په فصل باندى افت راغې يادباغ ميوه برباده شوه نوپرهغه عشر واجب نه دى . دويم داچې ځينې خلك خپله زمكه خپله كري ياكرلو لپاره بل چاته وركوي ، كوم خلك چې خپله زمكه كري پرهغوى خو عشر واجب دى او كوم خلك چې بل چاته دكرلو لپاره وركوي نودهغه څو صورتونه دي .

يوداچې زمكه په نيمايې وركړي نو په دى صورت كې دهريو په ذمه دخپلې خپلې برخې دفصل عشر دى ، دويم صورت يې دادى چې زمكه په ټيكه وركړى شي مثلاً دجريب په سر لس منه غنم به وركوي ، نو په دى صورت كې دعلماو ترمنځ اختلاف دى چې عشر دچاپه سر دى ؟ مګر مونږ په دى فتوه وركوو چې عشر دكاشتكار (كرونده ګر) په سر دى ځكه چې دكركيلې همغه مالك دى ، په يوه بله خبره هم غور كول پكار دى هغه داچې دعشر اندازه او مقدار څومره دى ؟ نو ددى دار او مدار په اوبو باندى دى .

نو کومې زمکې ته چې له کوهي (ارټ) نه اوبه ورکول کيږي ياله سرکاري نهر نه اوبه ورکوي نوپه دی کی دزمکې په حاصلاتو کی شلمه حصه ده . مثلاً که لس کيلو حاصلات وي نو دهغه دی نميه کيلو عشر ورکړي او کومه زمکه چې باراني وي نو له هغه نه په لسمه حصه ورکوي، مثلاً په لسو کيلو کی پوره يوه کيلو عشر به ورکوي. همدغه راز په باغونو کی هم عشر دی هله چې زمکه عشري وي ، ددی دمقدار دار او مدارهم پراوبو دی ، دعشر مصارف همغه دی کوم چې دزکات دی يعنې په دی کی دفقير تمليک واجب دی الخ التبليغ (وعظ العشر ص۱۰_ ۲۰).

دفقه په علم کی دزکات او عشر ترمنځ اووه فرقونه دي :

لومړی : دعشر دواجب کيدو لپاره کوم نصاب شرط نه دی ، په لږ او ډير په هر څيز کی عشر واجب دی . په دی شرط چې له يو صاع (پيمانې) نه کم نه وي دويم په دی کی دا هم شرط نه دی چې دغه څيز تريو کال پورې پاتې شي کوم څيزونه چې تريوکال پورې نشي پاتې کيدلې پرهغه هم عشر واجب دی ، لکه ترکاري ، خربوزه ، بادرنګ هندوانه ليمو امروت اوداسې نورې ميوې ، دريم په دی کی ديو کال دتيريدو قيد هم نشته آن تردی چې که په يوه زمکه کی په کال کی دوکرته څه فصل وکرل شي نو په هريو فصل کی به عشر ورکوي ، په کال کی دوه کرته خو زياتره زمکې کرل کيږي ، ليکن په ونو کی له امروت نه پرته بل هيڅ يوه ونه په کال کی دوه ځله ميوه نه نيسي ، که بالفرض کومه ونه په کال کی دوه کرته ميوه نيسي يالدينه هم زيات نو په هريوه ميوه کی عشر ورکوي . څلورم دعشر دوجوب لپاره عاقل کيدل شرط نه دی دمجنون په مال کی هم عشر واجب دی ، پنځم بلوغت پکی هم شرط نه دی دنابالغ په مال باندی هم عشر واجب دی . شپږم آزادي پکې هم شرط نه دی ، دمکاتب او ماذون په مال کی هم عشر واجب دی .

خوپه دی کی شرط دادی چې داقصداً کرل شوي وي ، يا هغه دخريد او فروخت قابل وي ، که چيرته پخپله شنه شوي وي اويا هم قيمت نه لري لکه ګياه اوداسې نور نو په دی کې عشر نشته ، يو څيز په ځينو ځايونو کې دقدروړ وي او هغه خرڅيږي خو په ځينو ځايونو کی همدغه څيز بی قدره اوبی اهميته وي او څوک يې نه اخلي ، نو پرکوم ځای کی چې قابل قدر وي او خلک يې په پيسو اخلي نو هلته عشر وربانـدی واجب دی اوپه کوم ځای کی چې دقدر وړ نه وي نو هلته وربانډی عشر نشته ، داهم شرط دی چې په دغې زمکه باندی خراج نه وي ، که وربانډی خراج وي نو بيا وربانډی عشر

واجب نه دی ، څکه چې دوه حقه په یوه زمکه باندې واجب نه وي ، کومه زمکه چې خراجي نه وي او هغه دباران یاددریاب په اوبو اوبه خور کیږي یعني له څه قیمت نه پرته دغه اوبه ترلاسه کیږي نو دداسې زمکې په حاصلاتو کې عشر دی (مثلاً په لسو منو کې یو من) او کومه زمکه چې دارهټ یادبیع په اوبو خړوبیږي نو دهغې په حاصلاتو کې نیم عشر فرض دی یعني شلمه حصه مثلاً په لسو منو کې نیم من فرض دی ·
کومه زمکه چې په دواړو اوبو سره خړوب شوې وي نو په دی کې داکثرو اوبو اعتبار دی یعنې که چېرته زیاتره دباران په اوبه خړوب شوي وي نو په هغه کې به عشر ورکوي او که زیاتره دارهټ یا په پیسو اخستل شویو اوبو باندې خړوبه شوي وي نو نیم عشر به ورکوي خومره چې حاصلات لاس ته راغلي وي په ټولو کې دی عشر ورکړي ، له دینه دی له وړاندینه دی د تخم تریکتر او داسې نور مزدوري نه وباسي ، مثلاً له زمکې نه ۲۰ منه حاصلات ترلاسه شول نو هغه ته پکار دي چې په دی کی دوه منه عشر ضرور وباسي . داسې دی ونه کړي چې په دغه حاصلات باندې خومره تاوان کړی دی لومړی هغه ترینه کمه کړي او په پاتې حاصلات کی عشر وباسي . الخ علم الفقه ص ۴۲_ ۴۳ ، ۴۴ ج ۴، حضرت مولانا محمد عبدالشکور لکهنوي رحمه الله فقط والله اعلم بالصواب . احقر الانام سید عبدالرحیم لاجپوري غفرله راندیر . ۱۷ جمادي الثانی ۱۴۱۶ ه (۹۵_۱۱_۱۱).

د زکات مصارف

زکات دی په مدرسو کی ورکړې شي یاکالجونو کی ؟ کوم یو پکې غوره دی؟

۱۷۷ سوال ددین علماو دمتین شرعي مفتیان په دغه مسئله کی څه وایي چی دزکات څه پیسې غریبانو او مسکینو خپلوانو ته ورکوم او څه پیسې په دیني مدرسو کی زما یو دوست ماته وایي چی په مدرسو کی دورکولو پرځای په سکولونو او کالجونو ښونځینو او لیسو کی ورکول زیات اجر او ثواب لري زه هم دزکات پیسې مکتب او کالجونو کی ورکوم . ایا زما ددوست دغه خبره صحیح ده؟)

خواب: هر مسلمان ډیر ښه پوهیږي چی دیني تعلم له تولو نه زیات بهتر او ضروري دی . او داهم هرچا ته ښکاره ده چی نن زمانه کی دنیاوي تعلیم له شیږ کلنی عمر نه فرض کړی شوې دي . دیني تعلم او اسلامي احکامو باندی دپوهیدو او زده کولو خومره ضرورت دی اوپه نه زده کولو سره څه اثرات مرتب کیږي ددی په باره کی لاندیني شهادت ته ولولی .

یونه رد کیدونکی شهادت :

مسلم لیګي اخبار "منثور ډهلي " مدیر حسن ریاض پخپل اداریه کی لیکي : دتیرو دریو کلو راهیسي دمسلمانانو ماشومان بالعموم صرف په انګلیسي سکولونو سبقونه وایي ددی نتیجه داووت چی ددی زمانې خومره تعلیم یافته خلک دي هغوی له اسلامي ثقافت او اسلامي تصوراتو څخه بالکل نابلد دي . (منثور ۹ جون ۱۹۶۲).

حسن ریاض صاحب ددغی اداریې په نظر کی نیولو سره دحضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله علیه ارشاد ولولی

هغه رحمه الله فرمایي په دی کی خو هیڅ شک نشته چی په دی وخت کی ددیني مدرسو موجودیت داسې لوی نعمت دی چی لدینه اوچت بل نعمت نشته ، په دنیا کی چی په اوس وخت کی ددین دبقاء کوم صورت دی هغه دغه مدرسې دي ، (حقوق العلم ص ۵۱) که چیرته تاسې دیني مدرسې او سرکاري کالجونو ترمنځ مقابله وکړئ نو تاسې به حیران شئ چی حضرت شیخ احمد سرهندي رحمه الله علیه چی مجدد الف ثاني په نوم پیژندل شوی دی هغه ددیني علم طالبانوته دتصوف پر طالبانو او درویشانو

باندی فوقیت او ترجیح ورکوي چی دمشائخو بـه خانقاګـانو کـی دسلوک مراتـب زده کوي او اولیاء الله ورته ویل کیږي ، په فارس کی دهغه یو مفصل مکتوب دی چی خپل خاص معتقد شیخ فرید رحمه الله ته لیکلي دي ، دامکتوب دقیمتي فوائـدو ذخـیره ده نو ځکه دهغه مکمل ترجمه ستاسې په خدمت کی وړاندې کوو .

حضرت مجدد صاحب فرمایي :

تاسو چی ماته کوم له محبت نه ډک خط استولې و هغه می ولوست .

طاب العلم او صوفیای کرامو دخرچ لپاره لږ غوښتی پیسې لیږل شوي دي ، هغه دطالـب العلم لفظ له صوفیای کراموته مخکې لیکلی دي ، لدینه معلومیږي چی دهغه په نظر کی دصوفیای کرامو په مقابله کی په طالب العلمانو باندی خـرچ کـول زیـات مقـدم دی ، داخبره می ډیره خوښه شوه ، ظاهر دباطن ننداره وي امید دی چی ستاسې باطن (قلـب مبارک) کی هم دطالب العلمانو دمقدم کولو جذبه موجوده وي ، له لوښي نه هغـه څـه په کاسه کی اچول کیږي څه چی په لوښي کې وي .

کل اناء یترشح بما فیه ع .

ازکوزه همان بیرون تراود که دروست .

واقعیت دادی چی ددین طلبه و مقدم کول دشریعت ترویج او اشاعت دی ، ځکه چـی دشریعت حاملان همدغـه طالبـان دي ، دهمـدغو پـه ذریعـه مصـطفوي دیـن غالبیږي دقیامت په ورځ یواځې دشریعت په باره کی پوښتنه کیږي نـه دتصـوف پـه بـاره کـی . انبیاء علیهم السلام چی په ټـول کائنـات کـی لـه ټولـو نـه غـوره مخلـوق دی خلکوتـه دشریعت دعوت ورکړی دی اوپه شرعي احکامو عمل کـول یـې دنجـات یـواځینې لاره ګرځولې ده ، پس له ټولو نه لوی خـیرات دادی چـی دشـریعت درائـج کولـو کوشـش وکړی شي ، او دشریعت په کومو احکامو باندی چی عمل نه کیږي او خلکوله ذهـن نـه ویستلې دي هغه دی ژوندی کړی شي ، خصوصاً په داسې زمانه کی چی داسـلام شـعار او داسلام روایات نړیږي ، دالله تعالی په لاره کې په کروړونو خرچ کول هغه درجـه نـه لري کوم چی دشریعت دکوم حکم درائج کولو او نافذولو لپاره لري .

دلیل: انبیاء علیهم السلام په ټولو مخلوقاتو کی افضل او بهترین مخلوق دي ، که چیرتـه د کومی مسئلی د رائج کولو او نافذلو کوشش کیږي نو دا د انبیاواقتداء د هغوی اتبـاع او د هغوی د بعثت په لوی مقصد کی شرک کیږي .

دا خبره فیصله شوی ده چی انبیاء علیهم السلام ته هغه کار سپارل شوی دی چـی بشپړ نیکی او په ټولو کارونو کی له ټولو نه غوره دی ، نو کوم شرعي احکام چی انبیاء کرامـو علیهم السلام ته سپارل شوی دا د هغوی مخصـوص امتیـاز دی ، پـه لکونـو او کروړونـو روپی خرچول له انبیاو سره مخصوص نه دي ، بلکی ډیر زیـات دنیـا دار خلـک هـم پـه لکونو او کروړونو روپی خرچوي ، پس د شریعت کوم حکم یادول او بل چاته زده کـول ، د هغه رائجول او خوریدل داسی یو کار دی چی دهغه تعلق د نبوت له فرائضو څخـه دي او داسی یو مخصوص نیکی دی چی دهغه په ذریعه تاسی د انبیاو کار او د هغـوی د بعثت په مقصد کی شریکیږي .

ښکاره خبره ده چی د دی په برابر بل هیڅ نیکی او غوره کار نشته دی ، لدینـه عـلاوه دا هم د پاملرنی وړ دی چی دشریعت احکام چون د نفسـاني خواهشـاتو خـلاف دي ، لهذا پر هغه عمل کول له خپل نفس سره جهاد کول دي ، او په خـرچ کولـو کـی زیـاتره وخت د نفس د خواهش متابعت کیږي ، البته کوم مال چـی د شـریعت تائیـد او تـرویج لپاره جوړ کړی شي ، نو بیشکه د هغه درجه ډیـر زیـات اوچتـه ده او پـه دی نیـت یـوه روپی خرچ کول د لکونو روپو په برابر بلکی لدینه هم زیات دی .

دلته دا سوال کول پکار نه دي چی کوم طالب العلمان د دنیا پـه کـارونو کـی مشـغول دي له هغه صوفیانو نه څنګه مقدم کیدای شي چی هغوی دنیا پریښـی ده ، ځکـه چـی دا سوال هغه خوک کولی شي چی دخبری بنیاد ته نـه وي رسـیدلی او حقیقـت یی نـه دی پیژندلی ، حقیقت دا دی چی طالب العلم د دنیا په کارونو کـی مشـغولیدو بـاوجود دمخلوق دنجات سبب دی ، ځکه چی د شـرعي احکـامو تبلیـغ د همـدوی پـه ذریعـه ممکن دی ، که چیرته هغوی بالفرض له دینه ګټه اوچته نه کړي مګر مخلوقات خو لدینه ګټه خامخا اوچتوي ، پاتی شول صوفیاء کرام هغوی خو د دنیا په پریښودلـو سـره خپلـو خانو لپاره د نجات لاره تر لاسه کړی ، مګر د مخلوق له نجات سره هیڅ تعلق نـه لـري ، پس د چا په ذریعه چی اکثر مخلوق ته نجات تر لاسه کیږي نو دا فیصله شـوی خبـره ده چی له هغه خلکو نه بهتر دی چی صرف د خپل ځان دنجات په فکر کی لګیا وي .

خو بیشکه هغه صوفي چی دفنا او بقاء سیر عن الله او سیر بالله مراتب سـرته رسـولی وي او دخلق د دعوت په مواقف باندی ولاړ وي نو بیشکه د هغه شان ډیر اوچت دی هغه د نبوت له مقام نه یوه خاص حصه له ځان سره لري او دشریعت د مبلغینـو پـه شـمار کـی دخل دی ، مکتوبات امام رباني مکتوب نمبر ۴۸ ص ٦٦ ، ٦٧ ج ۱ .

د پاملرنی وړ :

لدینه علاوه دا هم د توجه وړ ده چی سکولونو او کالجونو سره حکومت هم مرسته کوي خو برعکس دیني مدارس ستاسی پشان دنیکو خلکو په مدد او مرسته چلیږي اوس معمولي غوندی عقل لرونکی انسان هم د دې خبری فیصله کولی شي چی چیرته او چاته په مدد ورکولو کی زیات اجر او ثواب دی ، لنډه دا چی د دینی مدارسو چی په حقیقت کی د اسلام قلاګانې دي د هغوی مضبوطول او مرسته ورسره کول نهایت ضروري دي ، لهذا ستا فکر اوعمل د هغه له فکر نه بهتر دی ، ستا د دوست خبره غلطه او ګمراه کوونکی ده ، دیني مدارسو پر ځای د مکتبونو او کالجونو مرسته کول نه یواځی دا چی ښه کار نه دی بلکی د الله تعالی له ګرفت نه هم خالي نه دی .

په احیاء العلوم کی دي چی زکات ورکولو لپاره دی داسی دیندار خلک ولټولی شي چی د دنیا طمع او طلب پرینبی وي او د آخرت په تجارت کی مشغول وي ، د محمد صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی چی تاسی پاک غذا وخورئ او پاک آدم زاد باندی وخورئ همدغه راز د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی خپل غذا په هغه خلکو وخورئ چی هغوی د خیر کارونه کوي ، ځکه چی هغوی د الله په طرف متوجه دي ، کله چی داسی خلک تنګلاسي شي نو دهغوی توجه بل طرف ته اوړي ، لهذا د یو تن توجه د الله په طرف کول ډیر زیات بهتر دي هغو زرګونو کسانو ته له ورکولو نه چی دهغوی توجه یواځی د دنیا په طرف وي ، په پرهیز ګارانو کی دی هم داسی عالمان ولټول شي چی هغوی خپل علم دالله رضا لپاره خوروي او د دین تبلیغ کوي ، ځکه چی علم له ټولو عبادتونو څخه افضل عبادت دی .

حضرت عبد الله ابن مبارک او د زکات استعمال :

حضرت عبد الله ابن مبارک به همیشه خپل زکات او خیرات په علماو باندی خرچ کولو او فرمایل به یی چی زه د نبوت له درجی نه وروسته د علماو له درجی زیات د بل چا درجه نه وینم. معصیة الحق عز وجل فیرجع شره الیك .

له محمد صلی الله علیه وسلم نه روایت دی چی هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : خپل خوراک او څښاک په پرهیز ګارانو باندی وخوروئ او خپل لباس ایماندارو خلکو ته ورکړئ .

کله چې تا خپل غذا کوم پرهیز ګار باندی وخوړله او د هغه په دنیاوي کارونو کی دی مرسته وکړه نو کوم نیک عملونه چې هغه کوي په هغه کی ته هم شریک یی او د هغه په اجر کی هیڅ کمی نه راځي . خکه چې تا دهغه عبادت په پوره کولو کی له هغه سره مرسته کړی ده او دهغه سالي ضرورت دی پوره کړی دی او هغه ته دی د الله تعالی د عبادت لپاره لاره هواره کړی ده . د دی برعکس کله چې ته خپل غذا منافقو . ریاکارانو او نافرمانو خلکو باندی خوری او د هغه د بدعملیو مرسته دی وکړه نو هغه چې څومره د ګناه کارونه کوي نو ته هم د هغه په ګناه کی شریک یی او د هغه په سزا کی هم څه کمی نه کیږي . خکه چې تا هغه ته د ډوډی په مهیا کولو سره د هغه نافرماني ته تقویت ورکړی دی نو خکه د هغه بد اثر په تا هم کیږي (الفتح الرباني م ۳۷ ص ۲۵۰ . ۲۵۱) .

دا دی اسلامي تعلیم او صراط مستقیم . الله تعالی دی مسلمانانو ته سلیم عقل او نیک توفیق ورکړي . فقط والله اعلم بالصواب سید عبد الرحیم لاجپوري غفر له .

(خواب صحیح دی) (دستخط) حضرت مولانا عبد الرحیم غلام محمد صادق صاحب صدر جمیعت علماء صوبه ګجرات .

(۲) حضرت مولانا محمد رضا اجمیزي صاحب شیخ الحدیث دار العلوم اشرفیه راندیر .

(۳) حضرت مولانا محمد سعید راندیري صاحب مهتمم مدرسه جامعه حسینیه راندیر .

(۴) حضرت مولانا محمد اسماعیل ګورا صاحب مفتي رنګون ، راندیر .

(۵) حضرت مولانا احمد الله صاحب راندیري شیخ الحدیث جامع حسینیه راندیر .

(٦) بیشکه چې د دیني علم حاصلول ضروري او افضل دي او په دی کی له مشغولو خلکو سره اعانت کول د ثواب باعث دي . واقعاً چې د زکات او خیرات صحیح حقدار دیني مدارس ، طلبه او د دین مبلغین دي .

امام غزالي رحمه الله په کاشفت القلوب باب فضیلت العلم کی همداسی فرمایلی دي ، همدغه راز د حضرت عبد الله بن مبارک قول هم همداسی دی ، حضرت مولانا احمد اشرف راندیري مهتمم دار العلوم اشرفیه راندیر .

د آمدني لپاره د زکات مال ذریعه ګرځول څنګه دي ؟

(۱۷۸ سوال) په لاندینی مسئله کی علماء کرام څه فرمایي؟ هغه دا چې له زید سره د زکات ډیری پیسی راجمع شوی دي ، که چیرته دا پیسی ټول یوځای غریبانو ته

ورنکري او په دغو پیسو چیرته زمکه راواخلي او دهغه له آمدني او کتې څخه د مدرسو له شاګردانو سره مرسته وکړي . آیا زید داسې کار کولی شي او که نه ؟ بینوا توجروا

ځواب　د زکات ورکولو لپاره تملیک یعنی مستحق بلاعوض مالک ګرځول شرط دی که چیرته د آمدني لپاره پراپرتي جوړه کړی شوه یا زمکه یی ورباندی واخستله نو دا شرط پوره نه شو نو ځکه زکات ادا نه شو . لهذا د زکات په پیسو سره د آمدني جائیداد تر لاسه کول جائز نه دي . بلکې د حقدارانو بلا عوض مالک ګرځول ضروري دي[1] . فقط والله اعلم بالصواب

په زکات کې حیله کول او د مصرف له اصل ځای نه بغیر په بل ځای کې ورکول څنګه دي ؟

(۱۷۹ سوال) که چیرته یو سړی داسې کار وکړي چې د زکات پیسې د هغه اصل حقدار ته ورکړي او هغه د دغو پیسو مالک وګرځي . بیا د هغه په خوښه په دغو پیسو یوکاروبار روان کړي او له هغه نه چې کومه ګټه کیږي له مستحقینو او غیر مستحقینو طلبه و سره مرسته وکړي یا د مسجد لپاره ضروري شیزونه واخلي ، آیا داسې کول جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا

ځواب　که چیرته کوم سړی حیلی جوړولو لپاره مجبور وي او هغه زکات حقدار له مخکې نه د څه ویلو نه پرته مالک وګرځوي . بیا په دغه خیر کار کې د خرچ کولو ترغیب ورکړي او هغه د دی خبره پخپله خوښه قبوله کړي نو پر هغه څه ګناه نشته ځکه چې د زکات حقدار پخپله د دغو پیسو مالک ګرځیدلی دی ، نیت او طریقه کار صحیح کیدل پکار دي ، که هغه صحیح وي نو زکات هم ادا کیږي ، خو تملیک لپاره ظاهري رد او بدل کافي نه دی .

له الله سره تدبیر او حیله کول کله روا دي

فقط والله اعلم بالصواب .

(۱۸۰ سوال) که د زکات پیسې غریبانو ته په داسې الفاظو سره ورکړی شي چې دا قبولی کړه او په فلانکي مدرسه کې ورکړه ، ایا په دی سره زکات ادا کیږي یا نه ؟

---

[1] وشرعا تمليك جزء مال خرج المنفعة فلو اسكن فقيرا داره سنة ناولاً لايجز به عند الشارع من مسلم فقير ولو معتوها غير هاشمي ولا مولاه من كل وجه الله تعالى . درمختار مع الشامي كتاب الزكـواة ج ۲ ص ۳

خواب د ټولو عملونو دار و مدار په نيت باندی دی که هغه صحيح وي نو زکات يې ادا کيږي ، په مسئوله صورت کی د ادائيګي په سلسله کـی شـبهه دی . کـه کـوم سړي حيلی کولو ته مجبور وي نو د زکات پرپيسو حقدارو ته د ورکولو پـه وخـت کـی لـه څـه ويلو نه پرته هغه مالک وګرځوي او بيا دی په مدرسه کی د ورکولو ترغيب ورتـه ورکـړي که هغه په خوشالی سره ومني او پخپله خوښه مدرسی ته ورکړي نو ډير ښه که نه نو پـر هغه هيڅ ګناه نشته ، په درمختار کـی دي "ان الحلية ان يتصدق على الفقير ثم يأمره بفعل هذه الاشياء" (درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۷۶ باب المصرف) فقــط والله اعلم بالصواب.

ايا د مړي له مال نه دی زکات ورکړی شي او که نه ؟

(۱۸۱ سوال) په زيد باندی زکات واجب و ليکن ادا يې نه کړ او مړ شـو نـو د هغـه لـه مال نه دی زکات ادا کړی شي او که نه ؟

خواب : په دی حالت کي دی زکات ادا نه کړی شي خو که وصيت يې کړی وي نو لـه دريمی حصی مال نه دی ادا کړی شي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

په هغه صورت کی زکات ادا کيږي چی طالب العلم ته په لاس کی ورکړی شي ؟

(۱۸۲ سوال) يو سړی د نصاب خاوند دی ، هغه غواړي چـی غريبـو طالبعلمـانو تـه د تعليمي مصرف لپاره زکات ورکړي ځکه چی د هغوی سورو پلار د هغوی تعليمي مصارف نشي پوره کولی که د پوره کولو لپاره ملا وتړي نو د کور ټـول سـامان يې هـم نـه پـوره کيږي او تعليم يې نيمګړی پاتی کيږي . په داسی حالت کی کـه طالـب العلـم تـه هـره مياشت يکمشت د تعليم خرچه ورکړي نو زکات يې ادا کيږي او که نه ؟ بينوا توجروا .

خواب : په مسئوله صورت کی غريب طالب العلم بالغ وي يـا نـه وي لـيکن د هغـه پـلار غريب وي نو زکات ادا کيږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1] ـ واما دين الله تعالى فان اوصى به وجب تنفيذه من ثلث الباقی والا لا قال فی الشامية تحت قوله واما دين الله تعالى ۱ لخ محترز قوله من جهة العباد وذلك كالزكواة والكفارات قال الزيلعی فانها تسقط بالموت فلا يلزم الورثة اداؤها الا اذ اوصى بها . درمختار مع الشامی كتاب الفرائض ج ٦ ص ۷٦۰ .

"ولایجوز دفعها الی ولد الغنی الصغیر کذا فی التبیین ولو کان کبیرا جاز" (فتاوی عالمگیری الباب السابع فی المصرف ص ۱۸۹).

که چیرته د جمع شویو روپیو زکات په یوه تاکلي میاشت کی وباسي نو ؟

(۱۸۳ سوال) یو سړی د نصاب مالک دی او هغه ته دا نه دي معلوم چی څومره روپی په کوم وخت کی کتلي یا تر لاسه کړی دي. لیکن همیشه د روژی په میاشت کی چی څومره روپی له هغه سره نقد موجود وي له هغو نه زکات ورکوي. برابره خبره ده چی دا پیسی د یو کال زاهسی ورسره جمع شوی وي. او یا د یوی میاشتی راهسی. ایا دا قسم زکات ورکول صحیح دي ؟

ځواب: هو دا قسم زکات ورکول صحیح دي. هدایه ج ۱ ص ۱۷۳[1]

د زکات له پیسو نه کمیشن ورکول څنګه دي ؟

(۱۸۴ سوال) یو سړی خپلو خپلوانو ته هندوستان ته د زکات پیسی لیږي. نن سبا د پیسو په لیږلو کی کمیشن ورکول کیږي. ایا دغه کمیشن د زکات له پیسو نه ادا کړی شي او که نه ؟ مثلاً د زکات لپاره یی زر کلداری ولیږلی نو مرسل الیه ته ۸۰۰ کلداری رسیږي نو ایا دغه دوه سوه روپی د زکات دي او که د مرسل په اصل پیسو کی حسابیږي ؟

ځواب مذکوره دوه سوه روپی په زکات کی نه حسابیږيْ لهذا مرسل به دوه سوه روپی نور هم ادا کوي[2]

ایا د زکات په پیسو سره د هسپتال مصارف پوره کولی شوو ؟

(۱۸۵ سوال) د زکات په پیسو هسپتال چلولی شو ؟ چی د هغی نه کارکنانو ته تنخواه او دوایی وغیره واخلو او د غریبو خلکو د علاج لپاره یی وقف کړو، داسی یو کس یا څو کسان راجمع شي او هسپتال جاري وساتي نو څنګه دي ؟

---

[1] ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثنا الحول من جنسه ضمه الیه وزکاه به (فصل فی الغنم).

[2] ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کمامر لا یصرف الی ابناء نحو مسجد ولا الی کفن میت وقضاء مت وقضاء دینه. درمختار مع الشامی باب المصرف ج ۲ ص ۸۵.

ځواب د زکات په پيسو سره د هسپتال چلول صحيح نه دي ، زکات نه ادا کيږي ، ځکه چې د زکات د ادائيگي لپاره تمليک شرط دی يعنی د حقدار مالک گرځول ، او هغه په دی صورت کی موجود نه دي . "ولايجوز ان يبنى بالزكاة المسجد وكذا القناطر والسقايات واصلاح الطرقات وكرى الانهار والحج والجهاد وكل ما لا تمليك فيه" فتاوى عالمگيرى فى المصرف ج ١ ص ٨٨ .

ايا د زكات په پيسو د مكتب او اسكول سامان اخستی شو او كه نه ؟

(١٨٦ سوال) يو سړی غواړي چې د خپل زکات په پيسو دسکول ماشومانو لپاره ځوکی او ميزونه واخلي ، هغه دا د زکات پيسی څنگه استعمال کړي ؟ که پخپله بذات خود خرچ نه کړی شي نو داسی کوم صورت شته چې دغه د زکات پيسی په سکول کی خرچ کړي ؟

ځواب د زکات د ادا کيدو لپاره تمليک شرط دی ، يعنی د زکات حقدار ته د زکات پيسی ورکول او هغه د دی مالک گرځول ضروري شرط دی ، او دا کار د مدرسی او اسکول لپاره په سازومان جوړولو کی نه موندل کيږي ، لهذا زکات نه ادا کيږي[1] ، ځو که د زکات مستحق بلاعوض مالک وگرځوي او بيا هغه له خپل طرف نه پخپله خوښه د سامان جوړولو لپاره پيسی ورکړي نو زکات يی ادا کيږي او هغه ته ثواب حاصليږي ، ليکن شرط دا دی چې له مخکی نه د پيسو واپس اخستلو يا د سامان د جوړولو په باره کی دی خبری نه کوي ځکه چې په ظاهري اخستلو او ورکولو سره زکات نه ادا کيږي[2] بلکی حقيقي تمليک شرط دی ، درمختار وغيره فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1] ويشترط ان يكون الصرف تمليكاً لا اجابة الخ درمختار مع الشامى باب المصرف ص ٨٥ ج ٢ .

[2] قوله ان الحيلة اى فى الدفع الى هذه الاشياء مع صحة الزكاة ثم يأمره الخ فيكون له ثواب الزكاة وللفقير ثواب هذه القرب . بحر وفى التغير بثم اشارة الى انه لو امره او لا لايجزى لانه يكون وكيلا عنه فى

د خيرات حقدار څوک دی ؟

(۱۸۷ سوال) مونږ خپل خيراتونه چاته ورکولی شو ؟
ځواب نفلي خيرات او صدقات ټولو محتاجو او مسکينانو ته ورکولی شئ ، په دی کی خپل خپلوان زيات حقدار دي خو له ټولو نه زيات حقدار ديندار خلک دي .

په مدرسو او انجمنونو کی خيرات او صدقات ورکول ښکه دي ؟

(۱۸۸ سوال) په مسجدونو ، دار العلومو او انجمونونو کی د خيرات ورکولو فضيلت بيان کړی ، د نورو ځايونو پر ځای دغو ځايونو ته په ورکولو کی څه فضيلت دی ؟
ځواب په مدرسو ، مسجدونو او دار العلومونو کی د خيرات ورکولو لوی فضيلت دی ، حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمايي : له ټولو نه لوی او ښه نيکی دا ده چی د شريعت د اشاعت او د هغه د احکامو دژوندي کولو لپاره کوشش وکړي خصوصاً په داسی زمانه کی چی د اسلام شعائر ختم شوی وي ، د الله تعالی په لاره کی يو لک روپۍ مصرفول له هغه کروړونو روپو څخه زيات ثواب لري چی د نورو کارو لپاره مصرفوي (مکتوبات ، مکتوب نمبر ۴۸ ج ۱ ص ٦٦) فقط والله اعلم بالصواب .

د ګانه شوی طلا زکات به څوک ورکوي ؟

(۱۸۹ سوال) له ماسره دولس تولی امبيل و ، هغه می له بل چا سره ګروی کړی او په مقابل کی می ترينه پيسی اخستی دي ، څلور کاله وروسته می هغه بيرته تر لاسه کړی دی ، ايا د تيرو څلور کلونو زکات پر ما باندی دی او که پر هغه ؟
ځواب : د ګرو کړی شوی څيز زکات په هغه چا دی چی چا ته ګرو ورکړی دی نه پر هغه چا چی په ګرو کی اخستی دی[1]

که قرض معاف کړي نو په دی سره زکات ادا کيږي او که نه ؟

(۱۹۰ سوال) په يو سړي باندی زما پنځه روپۍ قرض دي له زکات نه هغه ته ورکړم نو زکات ادا کيږي او که نه ؟

---

[1] قوله ولا فى مرهون اى على المرتهن لعدم ملك الرقبة ولا على الراهن لعدم اليه كتاب الزكواة .

ځواب په مسئوله صورت کی زکات نه ادا کیږي . د دی آسانه طریقه دا ده چی لومړی له خپل جیب نه پنځه روپی هغه ته ورکړه او هغه د دی مالک وګرځوه هغه دی دغه پنځه روپی د قرض په مد کی تا ته درکړي ، په دی شکل ستا زکات هم ادا کیږي او قرض دی هم ترلاسه کیږي[1] . فقط والله اعلم بالصواب

که د قرض پیسی له قرضدار نه په زکات کی ورکړی شي ؟

(۱۹۱ سوال) په یو سړي باندی زما څو روپی دي که زه یو داسی تن ته چی هغه د زکات حقدار وي ووایم چی له فلانکي سړي نه دومره روپی واخله ، هغه زما د وینا مطابق ورکړي ایا په دی سره زکات ادا کیږي او که نه ؟

ځواب : په مسئوله صورت کی زکات ادا کیږي ، په فتاوی سعیدیه کی دي :

(السوال) "فی رجلٍ له علی رجل اخر دینٌ فامر فقیر ایقبضه منه علی زکواته او امر ان یدفع الی فقیر عینه فهل یحتاج الی نیة مقارنة عند الدفع ام یکفی مجرد الامر ویسقط الزکواة اذا دفعها افتونا؟

(الجواب) نعم یسقط عنه بقبض الفقیر من المدیون قال فی المحیط الرضوی لو کان له دین علی رجل فامر فقیرا بقبضه عنه عن زکواة ماله فقبض اجزاء لان قبض المامور بمنزلة قبضة فکانه قبضه بنفسه ثم صرف الیه بنیة الزکواة فیکون مؤدیا العین عن الدین انتهی" (فتاوی اسعدیة ج ۱ ص ۱۵ بالمطبة الخیریة) .

---

[1] ـ واعلم ان اداء الدین عن الدین والعین وعن الدین یجوز و اداء الدین عن العین . وعن دین سیقبض لایجوز وحیلة الجواز ان یعطی مدیونه ، الفقیر زکاته ثم یأخذها عن دینه قال فی الشامیة تحت قوله واعلم الثانیة واداء دین عن دین سیقبض کما تقدم عن البحر وهو مالو ابرأ الفقیر عن بعض النصاب ناویا به الاداء عن الباقی ، درمختار مع الشامی کتاب الزکواة ج ۲ ص ۲۷۱ .

ایا د زکات د ادا کولو په وخت کې د زکات ښکاره کول ضروري دي ؟

(۱۹۲ سوال) ایا د زکات ورکولو په وخت کې دا ویل ضروري دي چې دا زکات دی ؟
خواب د زکات روپۍ ورکولو په وخت کې دا ویل ضروري نه دي چې دا زکات دی ، یواځې نیت هم کافي دی . که چیرته د زکات مستحق ته د زکات ورکولو په وخت دا ووایي چې دا ستا لپاره بخشش یا عطیه ده مګر په زړه کې یې د زکات نیت وي . بیا هم زکات ادا کیږي ، په شامي کې دي :
"لان المعتبر نية الدافع ولذا جازت وان سماها قرضاً او هبة فى الاصح" شامى جلد ۲ ص ۸٦ باب المصرف . فقط والله اعلم بالصواب .

که د زکات په ادا کولو کې شک یې وي نو څه وکړي ؟

(۱۹۳ سوال) یو سړی په دې شک کې پروت دی چې زکات یې ورکړی دی او که نه ؟ نو هغه دې څه وکړي ؟ دوباره دې ورکړي که څنګه ؟
خواب هو دوباره ورکول ضروري دي[1]

یو سړي ته د نصاب په برابر زکات ورکول :

(۱۹۴ سوال) که یو سړي ته دومره زکات ورکړی شي چې هغه پخپله د زکات د نصاب مالک وګرځي ، ایا دا صحیح ده ؟
خواب . یو تن ته دومره زکات ورکول چې هغه د نصاب مالک وګرځي مکروه دي ، البته قرضدار ته د هغه د قرض په برابر یا لدینه زیات هم ورکولی شي په دې کې هیڅ کراهت نشته مګر دا زیاتي پیسې دې د نصاب په برابر نه وي ، همدغه راز عیالدار ته دومره زکات ورکولی شي چې که په اولادو یې وویشي نو هر یو اولاد یې د نصاب مالک ونه ګرځي نو دومره پیسې ورکول بلاکراهت جائز دي ، خو که یو ځل د نصاب په برابر زکات ورکړی شي او هغه د نصاب مالک وګرځي نو بیا د نور زکات پیسې هغه ته نشي ورکول کیدی ، په در مختار کې دي :

---

[1] ولو شك رجل فى الزكاة فلم يدر ازكى او لم يزك فانه يعيدها كذا فى المحيط فتاوى عالمگيرى كتاب الزكاة مسائل شتى ج ۱ ص ۱۸

"(وکره اعطاء فقیر نصابا) او اکثر (الا اذا کان) المدفوع الیه (مدیونا او) کان صاحب عیال بحیث (لوفرقه علیهم لا یخص کلا) ولایفضل بعد دینه (نصاب) فلا یکره". (درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۹۳ باب المصرف).

که د زکات پیسی له جدا کولو نه وروسته او له ادا کولو نه مخکی ضائع شي نو ؟

(۱۹۵ سوال) د زکات پیسی می د ادا کولو لپاره په یوه بټوه کی کیښودلی مګر له ادا کولو نه مخکی ضائع شوی نو ایا زکات ادا شو او که نه ؟

ځواب: په مسئوله صورت کی زکات نه دی ادا شوی دوباره به ورکوي[1]

د زاني له حرامی نطفی نه پیدا شوي سړي ته زکات ورکولی شي او که نه ؟

(۱۹٦ سوال) د زید په نوم د یو سړی له یوی ښځی سره ناجائز تعلق و، له هغی نه ښځه حامله شوه بیا وروسته یی نکاح وکړه، خلور میاشتی وروسته هلک پیدا شو، اوس دا نه دی معلوم چی دا هلک له زید نه دی او که نه ؟ ایا زید دغه هلک ته زکات ورکولی شي او که نه ؟

ځواب: که چیرته له واده نه شپږ میاشتی مخکی ماشوم پیدا شي نو هغه شرعاً حرامي دی لیکن د چا له نطفی نه چی دا هلک دی هغه ورته زکات نشي ورکولی او که ورکړي نو زکات یی نه ادا کیږي، په درمختار کی دي: "(کما لا یجوز دفع زکات الزانی لولده منه) ای من الزنا" درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۹۲ باب المصرف، فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] ـ رجل وجبت علیه زکاة الماتین فافرد خمسة ماله ثم ضاعت منه، تلك الخمسة لا تسقط عن الزکواة. فتاوی عالمگیری کتاب الزکواة مسائل شتی ج ۱ ص ۱۸۲.

که چیرته په بانک کی پراته پیسو باندی یو کال تیر شي نو د دی څه حکم دی ؟

(۱۹۷ سوال) په بانک کی می پیسی اچولی دي پر هغه یو کال تیر شوی دی ایا زکات به ترینه ورکوم او که نه ؟

خواب که د نصاب په برابر وي نو زکات دړباندی واجب دی[1]

(سوال) په شیرز (سهم) باندی زکات شته او که نه ؟ او که زکات دی نو په منافع باندی دی او که په اصل سرمایه باندی او یا په دواړو باندی ؟

خواب شیرز (سهم) باندی زکات دی ، که کمپني تجارت کوي مثلاً رخت ، اوسپنه ، دشین سامانونه او داسې نور شیان خرڅوي نو دشیرز (سهم) په اصل سرمایه او دشیرز (سهم) گټې یعنې دواړو باندی زکات دی ، او که کمپني تجارت نه کوي بلکې صرف کرایه آخلي لکه دریل گاډي ،کمپني بس کمپني نو ددی دشیرز (سهم) په گټه باندی زکات دی نه په اصل سرمایه باندی .[2]

دقرض په نوم زکات ورکول څنگه دي ؟

۱۹۸ـ سوال : یو سړی چی غریب دی یو زکات ورکوونکې شخص مصلحتاً هغه ته دزکات پیسي دقرض پیسو په نوم ورکوي ، مگر نیت یې دزکات وي او دوباره اخستلو نیت نه لري . ایا زکات یې اداکیږي او که نه ؟

خواب: په صورت مسئوله کی کله چی نیت یې دزکات وي اوبیا دوباره اخستلو اراده نه لري نو زکات یې اداکیږي . په فتاوی عالمگیري کې دي :

ومن اعطی مسکیناً دراهم وسماها هبة او قرضا ونوی الزکاة فانها تجزیه و هو الاصح.

---

[1] فان ادان النقوم انما یکون بالسکوك عملاً بالعرف مقوما باحدهما ان استویا..........ولو بلغ ای احدهما نصابا دون الآخر تعین ما یبلغ .... شامي باب زکاة المال ج ۲ ص ۲۹۹

[2] ددی حواله دی باب مایو جب فیه الزکات الخ- څه نقدی پیسي او څه دتجارت مال وي- ترعنوان لاندی وگورئ

او چاچې یو مسکین ته دقرض او هبې په نوم پیسې ورکړی او نیت یې دزکات ونوزکات یې اداکیږي همدغه صحیح دی ص۱۷۱ جلد کتاب الزکات فقط والله اعلم بالصواب

په مکتب (سکول) کی دزکات دپیسو استعمالولو یو صورت

۱۹۹ـ سوال : زمونږ دعلاقې په هر کلي کې یو یو مکتب دی چې په هغه کې دقران کریم ناظره ، اردو ، دینیات ، تعلیم الاسلام او نور کتابونه ښودل کیږي ، یو مکتب دنور الاسلام په نوم هم چلیږي چې په هغه کی پنځه سوه ځایې شاګردان سبق وایي . او دمدرسې آمدني چې دچندی دغونډولو له لاره ترلاسه کیږي ۶۰۰۰ روپۍ دی ، او هریو ماشوم دمیاشتې اته آنې فیس ورکوي چې په دی ترتیب ټول آمدني لس زره جوړیږي ، مګر خرچه ۱۸۰۰۰ روپۍ دی . که پاتې اته زره روپۍ دزکات له پیسو نه خرچ کړی شي نو داجائز دی او که نه ؟ یعنې په مذکوره صورت کی زکات صحیح کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا . (۱۱ ذی قعده ۱۳۹۶ ھ).

ځواب: په مسئوله صورت کی دزکات پیسې دمدرسې په تعمیر ، دمدرسو داستاذانو په تنخوا کی استعمالول صحیح نه دی ، او زکات نه اداکیږي.[1]

دجوازصورت دادی چې فیس زیات کړی شي او دزکات مستحق طلبه و ته دمیاشتې په حساب دامداد په توګه پیسې ورکړی شي اوبیا دی ترینه فیس واخستلې شي نو پدې صورت کی زکات اداکیږي اولدینه وروسته دغه پیسې په تنخوا او نورو کارونو کې خرچول جائز دی . فقط والله اعلم بالصواب .

دهوایي جهاز په کرایه کی دزکات د پیسو استعمالول

۲۰۰ ـ سوال : یو سړی له کاناډانه خبر ورکوي چې زه څه مستعمل لباس په غریبانو باندی دویشلو لپاره په هوائي جهاز کی لیږم او ددی په کرایه کی دزکات پیسې ورکول

---

[1] ـ ولا یجوز ان یبنی بالزکات المسجد وکذا القناطر وکل ماتملیك فیه (فتاوی عالمگیري فی المصرف ج۱ص۱۸۸).

غوارم ابا ره كولي شم چي دجهاد په كرايه كې دزكات پيسې وركړم . ايا په دى صورت كې زما زكات اداكيږي او كه نه ؟ بينوا توجروا.
جواب دجهاز په كرايه كې دزكات پيسې وركول صحيح نه دى او زكات نه اداكيږي حكه چې په زكوات كې تمليک شرط دى او هغه شرط په دى كې مفقود دى . فقط والله اعلم بالصواب

دزكات په پيسو كورونه جوړول او غريبانانو ته داوسيدو لپاره وركول

۲۰۱ سوال : مونږ خلكو يوه ټوټه زمكه په كرايه باندى اختسې ده ، غواړو چې په دى مكه كې كورونه جوړ كړو او بيا غريبانو ته داوسيدو لپاره وركړو، داكورونه به دزكات په پيسو جوړوو او دزمكې كرايه به مونږ پخپله وركوو . نوداقسم كورونو كې دزكات پيسې استعمالول جائز دى او كه نه ؟ بينوا توجروا.
جواب په مسئوله صورت كې دزكات په پيسو دكورونو جوړول صحيح كار نه دى . زكات نه اداكيږي ، ځكه چې دزكات دادائيګي لپاره داشرط دې چې دزكات حقداران له څه عوض نه بغير مالک وګرځول شي او هغه شرط دلته مفقود دى .
واخرج بالتمليك الا باحة فلا تكفى فيهافلو اطعم يتيماً نا ويابه الزكوة لاتجزيه . الى قوله . وخرج بالمال المنفعة فلو اسكن فقيراً داره سنة ناوياً للزكوة لايجزيه .(طحطاوي على مراقي الفلاح ج۱ص۴۱۴ كتاب الزكوة .[1] فقط والله اعلم بالصواب.)

دچا آمدني چې كم وي هغه ته زكات وركول

۲۰۲ سوال . زما ورور عيا لدار دى تنخواه يې ايله دومره ده چې ګذاره وربانـدى په ګرانه كوي . كله كله له بل چانه قرض پيسې هم اخلي. ايا په داسې حالت كې هغه

---

[1] ولو دفع اليه دارا يسكنها عن الزكاة لايجوز كذافى الذاهدى فتاوى عالمگيري . باب المصرف

دزکات مستحق دی او که نه ؟ که زه په پټه هغه ته زکات ورکړم نو زما زکات اداکیږي اوکه نه بینوا توجروا.

جواب که سنا ورور غریب وي او دنصاب مالک نه وي یعني اووه نیم تولې سره زر یا ۵۲ نیم تولې سپین زر اویا هم ددی قیمت په اندازه نقدې پیسې ونلري نو هغه ته زکات ورکولې شي په شامي کی دي: وقید بالولاد لجوازه لبقیة الا قارب کالا خوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولیٰ لانه صلة وصدقة شامي ج۲ص۸۶ باب المصرف.

که دزکات پیسې په نیت هبه . تحفه او انعام په توګه خپل ورور . ورینداراو دهغوی ماشومانوته ورکړی شي نو زکات اداکیږي.

ومن اعطی مسکیناً دراهم وسما ها هبة او قرضا ونوی الزکوة فانها تجزیه وهو الاصح . ولو دفعها الی صبیان اقربانه برسم عید اوالی مبشر او مهدی الباکورة جاز الخ . (طحطاوي علی مراقي الفلاح ص۴۱۵ کتاب الزکوة) فقط والله اعلم بالصواب.

دچا آمدني چی لږه وي هغه ته زکات ورکول

۲۰۳ سوال : دسورت ښار ته نژدی دمسلمانانو یوه کلې جوړ شوی دی ، زیاتره پکې نادار او غریبان دي ، دعبادت لپاره مو یوه جونګړه جوړه کړی ده . په دی کی الحمد لله پنځه وخته لمونځ اداکیږي او مدرسه پکې هم چلیږي ، ددی خای خلک مدرس ته دتنخوا ورکولو طاقت نه لري ، که دالله په نامه چنده کوو نو بیا هم دومره څه نه پوره کیږي چی دمسجد او دمدرسې خرچه پوره کړي اویا په داسې حالت کی دزکات پیسې په چنده کی اخستلې شوو او که نه ؟ که واخلو دهغه دخرچ کولو طریقه به څنګه وي ؟ بینوا توجروا

جواب دزکات اصل حقدار فقراء او مساکین دي . په مدرسو کی باید لله في الله چنده ورکړی شي . غریبو طالبانو ته ورکول زیات بهتر دی ، مګر په عمومي توګه خلک په مدرسو کی دزکات پیسې ورکوي . که مهتمم وانخلي نو دمدرسې چلول اودمدرسینو ته

تنخواه ورکول کران تماميږي ، نو څکه دداسې مجبوريت په صورت کې دضرورت په اندازه دزکات پيسې اخستل اوپه شرعي حيلې کولو سره دمدرسينو په معاشاتو کې ورکول جائز دی [1] خوپه تعميري کارونو کې دی نه استعماليږي ، دی لپاره دی لله في الله چنده له خلکو نه واخلي.

دسلو بيګو زمکې مالک زکات اخستلې شي او که نه ؟

۲۰۴_ سوال : يو مسلمان زميندار چې دسلو بيګو زمکې مالک دی . او ورسره دزراعت ضروري سامان لکه غوايان اونور سامان ورسره موجود دی، مګر دعيالداري په وجه دزمکې له امدنی نه دخپلو ماشومانو خرچه نشي پوره کولې . په داسې حالت کې ايا هغه ددی مستحق کيدلې شي چې له خيراتي اداري نه چې هغه خلکو ته دزکات پيسې ورکوي دزکات پيسې واخلي ، داخبره دی په ياد وي چې کله کله دباران دزيادت په وجه هغه زميندار قرضدار کيږي هم او کله چې بنه حاصلت ورکړي نو بيا دهغه پيسو دقرض پيسې خلاصوي.

ځواب: کله چې زميندار سره څه زياتې نه پاتې کيږي او دنصاب خاوند هم نه دی نو پرهغه زکات واجب نه دی [2] هغه لپاره مناسب نه دي چې زکات لاس ونيسي بلکې هغه دی يوه دوه بيګې زمکې خرڅه کړي او پخپل ضرورت کې دی استعمال کړي . والله اعلم بالصواب.

قرضدار يازيات عيال دارسړي ته له نصاب نه زيات زکات ورکول

۲۰۵_ سوال : زه دلته په مسجد کې امام يم دمسجد په تنخوا دکور ګوزاره ډيره مشکله ده ، کثير العيال او قرضدار هم يم ، يو سړی ماته دزکات بنه ډير مال راکول غواړي ره يې اخستلې شم او که نه ؟ بينوا توجورا.

---

[1] وقد منا ان الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يامره بفعل هذه الاشياء درمختار مع الشامی بـاب المصرف ج۲ص۸۶.

[2] وكذا لو كان له حوانيت او دار غلةتساوي ثلاثة الاف درهم وغلتها لاتكفـي لـه ولعيالـه اختلفوا فيه قال محمد بن مقاتل يجوز له اخذ الزكاة فتاوى عالمگيري باب المصرف ج۱ص۱۸۹.

خواب مسئله داده چی یونادار انسان ته د ومره دزکات پیسې ورکړی شي چی له نصاب نه کم وي . دومره ورکول چی غریب مالدار شي مکروه دی خوکه یو سړی دومره قرضدار یا عیال دار وي هغه ته دومره پیسې ورکول چی دقرض له اداکولو نه وروسته له هغه سره دنصاب په برابر پیسې پاتې نشي او که دخپل اهل او عیال په کسانو تقسیم کړي نو هریو ته له نصاب نه کمې پیسې ورسیږي نو داسې شخص ته له نصاب نه زیات ورکول بلاکراهت جائز دی . (وکره دفع نصاب او اکثر الی فقید غیر مدیون) الا ان یکون ذاعیال لو فرقه علیهم لا یصیب کلا نصاب (مجمع الانهر شرح ملتقی الا بحر ج ۱ ص ۲۲۵ کتبا الزکاة)(طحطاوي علی مراقي الفلاح ص ۴۱۶ کتاب الزکاة).

لهذا تاسې دومره روپۍ اخستلې شئ چی دقرض له ادائیگي نه وروسته له تاسره دنصاب په اندازه پیسې پاتې نشي. فقط والله اعلم بالصواب.

په مکتب کی دزکات داستعمالولو طریقه

۲۰۶ـ سوال . زمونږ په کلي کی دمسلمانانو پنځلس کورونه دي ، ټول په زمینداري باندی گوزاره کوي او دفصل دخرابیدو په وجه دټولو مالي او اقتصادي حالت ډیر زیات کمزورې شوی دی. په کلي کې یو مسجد او یو مکتب دی ، دمکتب، دمعلم تنخواه مجلس خدام الدین له طرف نه راځي او څه پیسې دکلي خلک دچندې په توگه ورکوي مگر اوس هغه هم مشکل شوي دي ، په داسې حالت کی یو سړي دزکات څه پیسې مونږ ته راکړي دي ، ایا دهغه دغه د زکات پیسې په تنخوا کی ورکولې شوو او که نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب: که دزکات له پیسو نه دزکات ورکوونکی په اجازه زکات مستحق مدرس ته میاشت په میاشت دامداد په توگه لږې لږې پیسې ورکوي نوداجائز دی ، اوبه دی صورت کی زکات هم اداکیږي او دمدرس امداد هم کیږي ، خو دتنخواه په توگه ورکول ورته جائز نه دی ، او که په تنخواه کی ورکول غواړي نو دزکات داپیسې لومړی یو غریب او دزکات مستحق سړي ته له څه قسم عهد او پیمان نه بغیر دتملیک په توگه ورکړه بیا هغه ته مشوره ورکړه چی دکلي مدرسه ډیره غریبه ده ، که چېرته

داپیسي په مدرسه کی دالله تعالی درضا لپاره ورکړي نو داستاذ دتنخواه انتظام به وشي او تاته به لوی اجر او ثواب ورسیږي . که هغه دامشوره قبوله کړي او پیسې په مدرسه کی ورکړي نو لدینه وروسته هغه پیسې په تنخواه کی ورکول جائز دی .

د زکات دمال دتقسیمولو کار غیر مسلم ته سپارل او غیر مسلم ته دزکات او سود پیسو ورکول

۲۰۷ سوال : زمونږ په کلي کی دمسلمانو یوه کمیټه ده دهغی منتظمین ټول مسلمانان دي هغوی په چنده کی فی سبیل الله خیرات اودزکات پیسې غواړي . په دغو پیسوئی ترڼه پورې دغریبو مسلمانانو مفت علاج کړی دی او د تقسیم دغه کار مسلمانانو ته حواله شوی و مګر اوس دغه کار غیرمسلم ته حواله شوی دی ، هغه اوس پخپله خوښه هر چاته وغواړي مفت علاج کوي او دوایانی ورته ورکوي آن چی غیر مسلمو ته هم دوایانی ورکوي اوس سوال دا دی چی ایا د زکات مال غیر مسلم تقسیمولی شي او که نه ؟

(۲) که د زکات پیسی غیر مسلمو ته یواځي د هغوی د خوشالولو لپاره ورکړی شي نو جائز دي او که نه ؟ او دغه کمیټي ته چی کوم زکات ورکوي د هغوی زکات ادا کیږي او که نه ؟

(۳) د بانک سودي پیسی د غریبو مسلمانانو د موجودیت باوجود غیر مسلمو ته ورکول جائز دي او که نه ؟

ځواب غیرمسلم ته د زکات تقسیمولو کار سپارل جائز نه دي ، په دی کی د مسلمانانو اهانت دی او یو غیر مسلم د مسلمانانو سردار ګرځي ، همدغه راز د زکات مال هم په غلطی طریقی سره استعمالیږي او د زکات ورکوونکو زکات نه ادا کیږي او د دی ذمه دار د انجمن منتظمین دي .

درمختار باب العاشر کی دي : "(هو ای العاشر حر مسلم) بهذا یعلم حرمة تولیة الیهود علی الاعمال (قوله هو حر مسلم) ولا یصح ان یکون کافراً لانه لا یلی علی المسلم بالآیة بحر والمراد بالآیة قوله تعالی ولن یجعل الله للکافرین علی المؤمنین سبیلا" (شامی ج ۲ ص ۵۱ کتاب الزکواة باب العاشر) .

په غاية الاوطار کی دي : عاشر آزاد دی یعنی نه دی غلام وي او نه هم کافر . لدینه معلوم شو چې د یهودو عامل او د زکات مشر جوړول حرام دي . (غاية الاوطار ج ۱ ص ۴۵۵ باب العاشر)

(۲) دزکات مصرف غریب مسلمانان دي ، که په هر نیت سره غیر مسلم ته زکات ورکړی شي نو زکات نه ادا کیږي ، (ولا یصح دفعها لکافر) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۴۱۸ کتاب الزکواة) .

(۳) ورکولی ئې خو ښه کار نه دی دا د حاجت مند مسلمان د حق وهلو مثال لري ، فقط والله اعلم بالصواب .

خپل زوم ته زکات ورکول :

(۳۰۸ سوال) له ماسره د زکات او سود پیسی دي ، زما زوم زيات غريب او مقروض دی . زه هغه ته دا پیسی ورکولی شم او که نه ؟ د قرض له ادا کولو نه وروسته په پاتی شویو پیسو باندې د کور مرمت کول غواړي ، ایا دکور مرمت کولی شي او که نه ؟ که لدینه وروسته هغه مالدار شي نو هغه لپاره په هغه کور کی اوسیدل جائز دي او که نه چې د زکات په پیسو یی مرمت کړی دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که زوم غریب وي نو د زکات پیسی ورته ورکولی شی[1] ، او هغه په دغو پیسو د کور مرمت هم کولی شي ، که هغه لدینه وروسته مالدار شي نو په دی کور کی اوسیدلی شي ځکه چې هغه فی الحال خو غریب دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

(۱) د زکات په پیسو د غریبانو لپاره کورونه جوړول :
(۲) د زکات حقدار څوک دی ؟

(۳۰۹ سوال) څو دوستانو په ګډه دزکات پیسی راجمع کړی دي او دا فیصله یی کړیده چې په دغو پیسو هغه غریبو مسلمانانو لپاره د اوسیدو کورونه جوړ کړي چې د اوسیدو کورونه نه لري .ایا د زکات په پیسو د غریبانو لپاره کور جوړول جائز دي ؟

(۲) ددی خبری تشریح هم وکړئ چې دزکات مستحق څوک کیدای شي ؟

[1] ویجوز دفعها لزوجة ابیه وابنه وزوجة ابنته تاتار خانیه ، شامی باب المصرف ج ۲ ص ۸٦ .

ځواب د زکات کومو مستحقو خلکو لپاره چې د اوسیدو د کور واقعي ضرورت دی هغوی ته د کورونو د جوړولو لپاره د زکات پیسې ورکول جائز دي ، لیکن په یو ځای او یو مشت دی دومره د زکات پیسې ورنکړی شي چې که هغه دکور په کسانو تقسیم کړي نو تول دنصاب خاوندان جوړ شي ، د دی خبری خیال ساتلو سره لږی لږی د ضرورت په اندازه ورته پیسې ورکوئ ، که هغه پخپله کور جوړ کړي یا هغوی (غرباء) د کمیټی خلکو ته دغه پیسې ورکړي چې کورونه ورته جوړ کړي نو دا هم جائز دي ، که چیرته په کمیټی کی، کوم عالم سړی وي یا د کمیټی ارکان د عالِم په مشوره کار وکړي نو دا بهتر دي[1]

(۲) د زکات حقدار هغه ځوک دی چې له هغه سره له ضروري حاجت نه زیات دومره مال یعنی سره زر ، کور ، زمکه ، اسباب ، کتابونه وغیره نه وي چې د هغه قیمت د نصاب په برابر وي نو داسی سړی د زکات اخستلو لپاره مجبور وي نو اخستلی شي[2]

دا ویل چې دا د زکات پیسې دی مناسب نه دي ، په دی سره د خپلوانو سپکاوی کیږي او هغوی بد ګڼي په داسی وخت کی د هدیه او تحفی په نوم سره هم ورکولی شي ، البته د کوم شخص په متعلق چې تحقیق نه وي چې هغه د زکات حقدار دی او که نه ؟ نو له هغه نه دی پته او ځانله پوښتنه وکړی شي ، فقط والله اعلم بالصواب .

په مدرسه کی د زکات پیسې لګول :

(۲۱۰ سوال) یو سړی په مدرسه کی د ماشومانو لپاره ډوډی پخوي او بل سړی له بازار نه ماشومانو لپاره وریجې ،تیل ، لرګي او نور شیان راوړي ، ایا هغه ته د زکات له پیسو نه د اجرت په توګه ورکولی شي او که نه ؟ همدغه راز د مدرسی یو سفیر دی د هغه په مصارفو کی د زکات پیسې لګول څنګه دي ؟ همدغه رنګ د زکات په پیسو کتابونه اخستل ماشومانو ته د لوستلو لپاره ورکول او بیا د کال پوره کیدو نه وروسته له هغوی نه بیرته اخستل صحیح دي او که نه ؟ همدغه راز د اوبو او بجلی بل او د کور تیکس د زکات له پیسو نه ورکول جائز دي او که نه ؟ زکات ادا کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

---

[1] که چیرته د زکات په پیسو کور جوړ کړي او غریب ته ورکړي نو زکات ادا کیږي .

[2] هو فقیر وهو من له ادنی شيئ ای دون نصاب او قدر نصاب غیر نام مستغرق فی الحاجة . درمختار مع الشامی باب المصرف ج ۲ ص ۲۳۹ .

خواب : د زکات پیسی اجرت یعنی د کور کار په بدله کی ورکول صحیح نه دي ، د زکات له مال نه مزدوري او کرایه ورکول هم جائز نه دي ، د سفیر لپاره خوراک څښاک او نورو کارونو لپاره هم د زکات پیسی ورکول جائز نه دي ، زکات دی د زکات حقدار ته له څه عوض نه پرته ورکړی شي ، د زکات په پیسو د کتابخانی لپاره کتابونه اخستل هم جائز نه دي ، د اوبو ، بجلی او د کور په ټیکس کی دزکات پیسی ورکول جائز نه دي او په دی سره زکات نه ادا کیږي ، د زکات پیسی دی طالب العلمانو ته ورکړی شي او هغوی دی د دی مالک وګرځول شي او هغوی دی پخپله خوښه کتابونه واخلي او د واپس کولو شرط دی وربانذی نه ږدي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

په کومه مدرسه کی چی د زکات پیسی له مخکی نه جمع شوی وي هلته د زکات نوری پیسی ورکول

(۲۱۱ سوال) په ځینو مدرسو کی تقریباً دیرش خلویښت زره روپی جمع کیږي په داسی مدرسه کی په زکات ورکولو سره زکات ادا کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د مدرسی واکداران او مهتممین حضرات دی د زکات پیسی په همدی کال کی ولګوي ، که په مدرسه کی د زکات پیسی څومره ډیری جمع شوی وي بیا هم هغه مدرسی ته زکات ورکول منع نه دي ، البته کومه مدرسه چی د کلونو کلونو لپاره زکات جمع کوي او ساتي یی په داسی مدرسه کی دی باید د زکات پیسی ورنکړی شي هر هغه مدرسی ته ورکول پکار دي چی هغوی مصرفوي او ضرورت مند وي .

ایا سفیر د زکات پیسی استعمالولی شي ؟

(۲۱۲ سوال) د چندی جمع کولو لپاره څه سفیران داسی شته چی هغوی مالدار وي ، کله چی د هغوی ذاتي پیسی ختمی شي نو دزکات له پیسو نه مصرفوي او کله چی کورته راشي نو له خپل جیب نه د زکات دغه پیسی پوره کوي ، ایا هغه لپاره داسی کول جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

---

[1] ــ ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کما مرلا یصرف الی بناء نحو مسجد قال فی الشامیة تحت قوله نحو مسجد کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والح والجهاد وکل ما لا تملیك فیه . درمختار مع الشامی باب الصرف ج ۲ ص ۳٤٤ .

خواب سفیر د زکات پیسی نشي مصرفولی هغه ته پکار دي چی له کور نه وغواړي یا له چا نه قرض واخلي ،فقط والله اعلم بالصواب .

په موجوده زمانه کی سیدانو ته زکات ورکول :

(۲۱۳ سوال) یو سید دی ، هغه مقروض او پریشان دی ، له نوکری نه علاوه بل هیڅ آمدني نه لري ایا داسی سید ته صدقة الفطر اخستل جائز دي او که نه ؟

د خینو خلکو خیال دی چی په اوسنی زمانه کی بیت المال نشته او خلک په دی باره کی له غفلت نه کار آخلي نو ځکه سید لپاره زکات ورکول باید جائز شي . بینوا توجروا .

ځواب : سید ته زکات او صدقة الفطر ورکول د مجبوریت په حالت کی هم جائز نه دي او په دی باندی فتوی هم ده په حدیث کی دیته اوساخ الناس یعنی د خلکو خیره ویل شوی دی ، او محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چی زکات محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه آل لپاره حلال نه دی . "قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان هذه الصدقات انما هی اوساخ الناس وانها لاتحل لمحمد (صلی الله علیه وسلم) ولا لآل محمد (صلی الله علیه وسلم)" (رواه مسلم ، مشکواة شریف ص ۱۶۱ باب من لا تحل له الصدقة) .

په دی حدیث کی د ساداتو لپاره دزکات د حرمت علت او ساخ الناس بیان کړی دی ، هغوی لپاره له بیت المال نه د وظائفو مقررول نه دی بیان کړي او دا علت نن هم قائم دی نو ځکه د زکات دحرمت حکم نن هم باقي دی ، او په دی کی احتیاط هم دی او د ساداتو کرامو احترام هم دی .

په یو حدیث کی دي چی یو ځل حضرت حسن رضی الله عنه د وړوکتوب په زمانه کی د صدقی یوه کجوره په خوله کی واچوله محمد صلی الله علیه وسلم د هغه له خولی نه وویستله او ویې فرمایل : مونږ صدقه نه خورو .

"عن ابی هریرة رضی الله عنه قال اخذ الحسن بن علی رضی الله عنهما علی تمرة من تمر الصدقات فجعلها فی فیه فقال النبی صلی الله علیه وسلم کخ کخ لیطرحها ثم قال اما شعرت انا لا ناکل الصدقة" (مشکواة شریف ص ۱۶۱ باب من لا تحل له الصدقة)

په درمختار کی دي "(ولا الی بنی هاشم) ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع وقول العینی والهاشمی یجوز له دفع زکواته لمثله صوابه لایجوز" درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۹۱ کتاب الزکواة باب المصرف .

جائز نه ده بني هاشم ته زکات ورکول . الی قوله . بیا ظاهر مذاهب دا دی چی بني هاشم ته زکات ورکول مطلقاً ممنوع دي . اگر چی یو بني هاشم بل بني هاشم ته ورکړي یا بل څوک ورته ورکړي او دا په هره زمانه کی ممنوع دي دا چی عیني د جائز کیدو خبره کړی ده او ویلی یی دي : بني هاشم ته جائز دي چی بل بني هاشم ته زکات ورکړي ، نو په دی کی صحیح خبره دا ده چی دا هم جائز نه دي ، "کذا فی النهر غایة الاوطار ترجمه در مختار ج ۱ ص ۴۸۰ وهکذا فی کتب الفقه" .

لهذا مالدارو خلکو ته پکار دي چی هغوی له ساداتو سره لله فی الله کومک وکړي او هغوی له مصیبت او تکلیف نه وباسي ځکه چی دا ډیر لوی اجر دی او له محمد صلی الله علیه وسلم سره د رښتونی مینی دلیل دی ، که نه نو د مواخذی وړه ده .

په دی باره کی د دار العلوم دیوبند پخوانی مفتی مولانا عزیز الرحمن صاحب رحمه الله فتوه څه داسی ده :

سوال : که یو سید ماشوم داره او په سترگو وړوند وي نو هغه ته زکات ورکول جائز دي او که نه ؟

ځواب : د احنافو صحیح قول او ظاهر الروایت مطابق سید ته په هیڅ حالت کی هم زکات ورکول جائز نه دي ، "ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع" فقط فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ج ٦ ص ۲۱۲ .

(۲ سوال) په عمومي توگه مشهور ده چی زکات او صدقی مال د محمد صلی الله علیه وسلم په آل باندی حرام دي ، اوس اوس یو عالِم صاحب وویل چی زکات او صدقه خینی وخت د محمد صلی الله علیه وسلم آل لپاره هم مباح گرځي ، او په دی باره کی علماو هم فتوه ورکړیده ، اوس سوال دا دی چی په کومو حالاتو کی ساداتو لپاره زکات او صدقه حرامه ده او که مباح وي نو په کوم حالت کی ؟

څواب مفتی به مذهب دا دی چې سیدانو لپاره په دی زمانه کی هم زکات او واجبه صدقات لکه څرمن ، صدقة الفطر او د نورو څیزونه ورکول حرام دي او زکات یی نه ادا کیږي ، په حدیث کی دي :

"قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان هذه الصدقات اوساخ الناس وانها لا تحل لمحمد (صلی الله علیه وسلم) ولا لآل محمد (صلی الله علیه وسلم)" (رواه مسلم).

او په درمختار کی دي : "ولا الی بنی هاشم الخ ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع ، وهکذا فی الشامی" .

پس دا قول صحیح نه دی چې په څینو حالاتو کی په ساداتو باندی زکات مباح دی (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ج ٦ ص ۲۳۹) .

د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله فتوی :

بنی هاشم ته زکات ورکول جائز نه دي برابره خبره ده زکات ورکوونکی بنی هاشم وي یا بل څوک ، "لقوله علیه السلام لابی رافع مولی القوم من انفسهم وانها لا تحل لنا الصدقة اورده فی التیسر عن ابی داؤد والترمذی واللفظ لهما والنسائی وفی الهدایة ولا تدفع الی بنی هاشم الخ قلت ولا تغتر بما یذکر من جوازها لهم لسقوط عرضها وهو الخمس لانه قیاس فی مقابلة النص اولاً . ثم هذا القیاس نفسه لاتتم لانه علیه السلام علل حرمتها بکونها اوساخ الناس لا بتعویض الخمس فلما لم یکن علة لم یلزم من ارتفاع الخمس ارتفاع حرمة الزکواة فتأمل حق التأمل" .

او د ساداتو خدمت په هدیو او نفلي صدقاتو سره ممکن دی او دوی لپاره حلال هم دي ، "وفی الهدایة بعد الروایة المذکورة بخلاف التطوع فقط" (امداد ج ۱ ص ۱۷۰) (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۲۷ ، ۲۸ مطبوعه پاکستان ، ج ۲ ص ۲۹ مطبوعه دیوبند) .

د مفتي اعظم مولانا مفتي محمد کفایت الله رحمه الله فتوی :

راجح او قوي مذهب همدا دی چې بني هاشم ته زکات ورکول جائزنه دي ، د ابو عصمه هغه روایت چې له امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت کړی دی ، مفتی به نه دی ، سید ته باید زکات ورنکړی شي الخ . کفایت المفتی ج ۴ ص ۲۵۷ جلد چهارم .

سید ته زکات عشر یا غله دانه ورکول صحیح نه دي خو که د حیلی په کولو سره ورکړی شي نو مضائقه یکی نشته ، د حیلی صورت دا دی چې کوم غیر سید غریب سړي ته په دی ترتیب ورکړی شي چې دا د زکات پیسی می فلانکي سید ته ورکولی خو هغه سید دی هغه ته زکات اخستل جائز نه دي لهذا تا ته یی درکوم که چیرته ته دا ټول یاځه زکات له خپل طرف نه هغه ته ورکړی نو ډیر ښه کار دی ، هغه له تا نه واخلي او هغه سید ته یی ورکړي نو دا سید لپاره جائز دي (کفایت المفتي ص ۲۷۲ جلد چهارم) .

فقط والله اعلم بالصواب ، ۳ رجب المرجب ۱۴۰۲ه .

د زکات په پیسو د جامو د ګنډولو مزدوري ادا کول :

(۲۱۴ سوال) زه د زکات په پیسو کپړه (رخت) اخلم هغه په خیاطانو ګنډم او په دار الیتام کی په یتیمانو باندی تقسیموم ، ایا د جامو ګنډلو مزدوري له زکات نه ورکولی شم او که نه ؟ بینوا توجروا .

خواب : که چیرته د یتیمو ماشومانو ناپ (میچ) واخستلی شي او د هغوی د خوښی مطابق جامی وګنډلی شي او هغه لباس شرعاً ممنوع نه وي نو په دی صورت کی د زکات په پیسو د جامو ګنډلو مزدوري ورکولو ګنجائش موجود دی ، خو تر ټولو له خطر نه خالي صورت دا دی چې مستحق ته صرف کپړه (رخت) ورکړی شي چې هغه د خپلی خوښی مطابق وګنډي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د زکات پیسی جمع کول او بیا له هغه خلکو ته قرض ورکول :

(۲۱۵ سوال) زمونږ په علاقه کی مونږ یو کمیټي جوړه کړی ده د کمیټی ارکان د زکات پیسی جمع کوي ، بیا له دغو جمع شویو پیسو نه غریبانو ته له سود نه پاک قرضونه ورکوي تر څو د خپل ګذران لپاره څه کاروبار شروع کړي ، هغوی ته د قرض ورکولو مقصد دا وي چې کله له هغوی سره د قرض د ادا کولو فکر وي نوپه پوره محنت او توجه سره کار کوي ، اوس پوښتنه دا ده چې د کمیټی دا کار صحیح دی او که نه ؟

ځواب: ستاسي دا کار صحيح نه دی ، د زکات پيسې جمع کول او بيا له هغه نه خلکو ته قرض پيسې ورکول هرګز جائز نه دي ، کومو خلکو چې د زکات پيسې ورکړي د هغوی زکات نه ادا کيږي او د کميټي غړي د دی مسئول دي ، د زکات د ادائيګی لپاره دا شرط دی چې د زکات پيسې د زکات حقدار ته د څه عوض نه پرته ورکړی شي او هغه د دی مالک وګرځول شي .

په درمختار کی دي :

"(هي تمليك) خرج الاباحة فلو اطعم يتيماً ناوياً الزكاة لايجزيه الا اذا دفع اليه المطعوم كما لو كساه" (درمختار مع الشامي ص ٣ ج ٢ كتاب الزكوٰة) .

او دا خبره بالکل څرګند دی چې د قرض ورکولو په صورت کی تمليک نشته ، د کميټي غړي هم دا پيسې په دی نيت ورکوي چې وروسته به ترينه بيرته آخلي ، لهذا دا طريقه واجب الترک دی ، او دا خبره دی هم په ذهن کی وساتل شي چې د زکات پيسې دی د زکات په حقدار باندی ژر تر ژر وويشل شي تر څو د خلکو زکاتونه ادا شي ، د قرض ورکولو لپاره دی د لله فی الله د پيسو انتظام وکړی شي ، فقط والله اعلم بالصواب .

نابالغ ماشومانو ته زکات ورکولو سره زکات ادا کيږي او که نه ؟

(٢١٦ سوال) يو نابالغ هلک دی د هغه پلار غريب او د زکات مستحق دی که هغه ته د زکات پيسې ورکړی شي نو زکات ادا کيږي او که نه ؟ ايا نابالغ هلک مالک کيدای شي؟ بينوا توجروا

ځواب : که چيرته دا نابالغ هلک عقلمند او هوښيار وي ، په قبض کولو پوهيږي نو هغه ته زکات ورکول جائز دي ، او کوم هلک چې ډير وړوکی وي د زکات پيسې نشي قبضولی ، دلين دين قابل نه وي نو داسې ماشوم ته د زکات پيسې ورکولو په صورت کی زکات نه ادا کيږي خو که د ماشوم ولي دهغه له طرف نه واخلي او بيا هغه ته ورکړي نو ادا کيږي .

په درمختار کی دي :

"دفع الزكاة الى صبيان اقاربه برسمه عيد .... جاز (قوله الى صبيان قاربه) اى العقلاء والا فلا يصح ال بالدفع اى ولى الصغير" (درمختار وشامی ص ٩٦ ج ٢ باب المصرف قبيل باب صدقة الفطر) .

په شامي کی دي "(قوله تمليكاً) وفى التمليك اشارة الى انه لا يصرف الى مجنون وصبى غير مراهق الا اذا قبض لهما من يجوزله قبضه كالاب والوصى وغيرهما ويصرف الى مراهق يعقل الاخذ كما فى المحيط قهستانى وتقدم تمام الكلام على ذلك اول الزكواة" (شامى ص ۸۵ ج ۲ باب المصرف) .

په عمدة الفقه کی دي : که چیرته د زکات مال وړوکی ماشوم قبضه کړه او هغه بلوغت ته نژدی وي نو جائز دی ، او که يو داسی ماشوم ته ورکړه چی په اخستلو پوهيږي يعنې نه يې غورځوي ، ځوک يې ترينه په دوکه نشي اخستلی نو بيا هم ورکول ورته جائز دي ، که کم عقل فقير ته ورکړه نو بيا هم جائز دی (عمدة الفقه ج ۳ ص ۱۳۷) فقط والله اعلم بالصواب .

د مسجد او د مدرسی په تعمير کی د زکات پيسی ورکول :

(۲۱۷ سوال) ايا د مسجد او د مدرسی په تعمير کی د زکات پيسی اخستلی شو او که نه؟ که ځوک د مسجد په تعمير کی د زکات پيسی استعمالوي نو زکات ادا کيږي او که نه؟ بينوا توجروا .

ځواب : د زکات د ادائيګی لپاره د زکات مستحق د څه عوض نه بغير مالک ګرځول شرط دی له تمليک نه بغير زکات نه ادا کيږي ، په تعميري کارونو کی د استعمالولو په صورت کی زکات نه تمليک کيږي ، لهذا مسجد وي يا مدرسه دهغه په تعمير کی دی د زکات پيسی استعمال نکړی شي ځکه چی جائز نه دی ، په درمختار کی دي :

"لا يصرف (الى البناء) نحو (مسجد) ولا الى (كفن ميت وقضاء دينه)" (درمختار)

په شامي کی دي : "(قوله نحو مسجد) كبناء القناطير والسقايات واصلاح الطرقات وكرى الانهار والحج وكل ما لا تمليك فيه" (درمختار وشامى ص ۸۵ ج ۲ باب المصرف) .

په فتاوی عالمګيري کی دي :

"ولا يجوز ان يبنى بالزكواة المسجد وكذا القناطير والسقايات واصلاح الطرقات وكرى الانهار والحج والجهاد وكل ما لا تمليك فيه" (فتاوى عالمگيرى ص ۱۸۸ ج ۱ باب المصرف) فقط والله اعلم بالصواب .

د کپړو د پارسل د تر لاسه کولو لپاره په ډاک خانه کې دزکات پیسې ورکول

(۲۱۸ سوال) له بهرنیو هیوداو څخه په غریبانو او مسکینانو باندې د ویشلو لپاره مستعملې جامې او کپړې راځي ، د مستعملو جامو د پارسل د تر لاسه کولو لپاره ډاک خانې ته پیسې ورکول ضروري دي که چیرته په ډاکخانه کې د زکات پیسې ورکړی شي نو زکات ادا کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کې زکات نه ادا کیږي ځکه چې په زکات کې دمستحق تملیک بلا عوض شرط دی او هغه دلته مفقود دی ، لهذا دی لپاره دی بل کوم انتظام وکړی شي ، د زکات پیسې دی پکی ورنکړی شي ، فقط والله اعلم بالصواب .

که د زکات پیسې غیر مستحق کس ته ورکړی شي نو څه دی وکړی شي ؟

(۲۱۹ سوال) یو سړی د نصاب خاوند دی او زکات مستحق نه دی ، یو بل سړي هغه ته په دی خیال چې غریب دی زکات ورکړ ، هغه تحفه یا هدیه وګڼله او قبوله یې کړه ، وروسته پوه شوه چې دا د زکات پیسې دي ، اوس هغه څه وکړي ؟ ایا هغه لپاره د زکات پیسې استعمالول جائز دي او که نه ؟ او یا دی دوباره همغه چاته ورکړي چې چا ده ته ورکړی وي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : چا چې ورته پیسې ورکړی دي له هغه نه دی معلومات تر لاسه کړي چې دا د زکات پیسې دي او که دتحفې ؟ که هغه ووایي چې دا د زکات پیسې دي نو هغه ته دی صفا ووایي چې زه د زکات مستحق نه یم او پیسې دی ورته واپس ورکړي ، که چیرته له هغه نه معلومات تر لاسه کول مشکل وي ، مګر یقین یا غالب ګمان ولري چې دا د زکات پیسې دي نو هغه لپاره د دغو پیسو استعمالول جائز نه دي ، که ممکن وي نو ورکوونکي ته دی واپس ورکړي که نه نو بل چا ته دی صدقه کړي .

په شامي کې دي : "ولايسترد الولد والغنى وهل يطيب له فيه خلاف واذا لم يطب قيل يتصدق وقيل برد على المعطى اه" (شامی ص ۹۳ ج ۲ ، تحت قوله ولو دفع بلا تحر باب المصرف) فقط والله اعلم بالصواب .

مقروض ته زکات ورکول ښه دي او که غریب سړی ته ؟

(۲۲۰ سوال) یو سړی قرضدار دی د قرض د ادا کولو لپاره هیڅ لاره او مدرک نه لري خلک ترینه خپلې قرض پیسې غواړي او ډیر زیات یې تنګوي ، د ډیر کوشش باوجود نشي کولی چې خپل قرض ادا کړي ، ایا د زکات پیسې داسې قرضدار سړي ته ورکول بهتر دي او که غریب ته چې صرف د خپل رزق او ګیډې غم ورسره وي ، مګر مقروض په دوه غمونو کې اخته دی یو د خپل اهل و عیال نفقه او بل د قرض غوښتونکو خلکو غم او فکر ، امید دی چې په دې باره کې پوره وضاحت وړاندې کړئ . بینوا توجروا.

ځواب : په مسئوله صورت کې د قرضدار سړي د قرض له درونـد بـار نـه خلاصـول بهتـر دي ، که غریب ډیر محتاج نه وي نو د ضرورت په اندازه دی د هغه مرسته هم وکړی شي ، په عالمګیري کې دي : "ومنها الغارم وهو من لزمه او كان له مال على الناس لا يمكنه اخذه والدفع الى من عليه الدين اولى من الدفع الى الفقير" (عالمگیری ج ۱ ص ۱۸۸ باب فی المصارف) فقط والله اعلم بالصواب .

له زوی سره یې ښې ډیرې پیسې دي مګر مور یې غریبه ده نو هغې ته زکات ورکول څنګه دي ؟

(۲۲۱ سوال) یو تن له دنیا نه رخصت شو ، د هغه یوه کونډه دوه زامن او یوه لور ترینه پاتې دي ، له ښځې سره یوه ټوټه زمکه ده چې وربانـدې کـور جـوړول غـواړي ، مګـر غریبه او محتاجه ده پیسې ورسره نشته ، داسې قسم ښځـې تـه د زکـات پیسـې ورکـول څنګه دي ؟ یو سړی د هغې زوی ته د رکشا د اخستلو لپاره شل زره روپۍ ورکړې وی ، دغه پیسې د هغې له زوی سره موجودې دي نو پـه دې حالـت کـې د هغـه مـور تـه د زکات پیسې ورکولی شو او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کې که چیرته شل زره روپۍ د کونډې زوی ته ورکړې وی او هغه دا پیسې له خپل ځان سره ساتلې وي خپل مور یې مالکه نه وي ګرځولي ، د هغـه

مور غریبه او محتاجه وي . نو په داسې صورت کې دغه ښځې ته د زکات پیسې ورکول جائز دي[1] . البته دا دې په ذهن کې وساتل شي چې دومره پیسې دې یکمشت ورنکړې چې هغه ښځه د نصاب خاونده شي . د کور جوړولو لپاره ورته وخت په وخت لږې لږې دزکات پیسې ورکوه . فقط والله اعلم بالصواب

په کومه مدرسه کې د زکات دپیسو لګولو ضرورت نه وي په هغه کې د زکات پیسې ورکول څنګه دي ؟ بل دا چې دزکات په پیسو قرض ادا کول څنګه دي ؟

(۲۲۲ سوال) زمونږ په انګلستان کې څو دیني مدرسې جوړې شوې دي ، دلته ټول انتظام موجود دی . په دغو مدرسو کې طالب العلم حضرات له سبق سره سره هستوګن هم دي ، له باهر ملکونو نه راغلي شاګردان یکې هم سبقونه وایي ، خرنګه چې ټول طالبان خود کفیل او مالدار دي نوځکه خپل ټول مصارف له خپلو جیبونو نه ورکوي ، په مدرسه کې وربانډې هیڅ قسم بار او بوج نشته اوس پوښتنه دا ده چې په داسې مدرسو کې زکات او صدقات ورکول څنګه دي ؟ لدینه علاوه که د یوې ادارې خلک په دې خاطر د زکات پیسې راغونډوي چې هغه اداره قرضداره ده ایا هغوی ته زکات ورکول جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

خواب : که ستاسې په ملک کې غرباء او مسکینان وي نو هغوی ته دومره زکات اوصدقه ورکول صحیح دي چې هغوی د نصاب مالک ونه ګرځوي که په نورو ملکونو کې هم غریبان موجود وي نو هلته د زکات دپیسو لیږل جائز او صحیح دي کومه مدرسه چې دزکات پیسو ته ضرورت نه لري او پخپله خود کفا وي نو په دغه مدرسه کې دې زکات ورنکړې شي او د داسې مدرسې مالکانو ته هم نه دي پکار چې د زکات پیسې واخلي .

که کومه اداره مقروضه وي نو هغې ته دې د زکات پیسې ورنکړې شي بلکې لله فی الله پیسو نه دې ادا کړي ، که چیرته له خلکو نه زکات راغونډوي او بیا د زکات د پیسو قرض خلاصوي نو د زکات ورکوونکو زکات نه ادا کیږي ځکه چې د زکات د ادا کولو

[1] ویجوز صرفها الی الاب المعسر وان کان ابنه موسرا کذا فی شرح طحطاوی فتاوی عالمګیری بــاب

لپاره دا ضروري شرط دی چی دزکات حقدار مالک وګرځول شي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب

یو تن د کور اخستلو په وجه مقروض دی ایا هغه ته زکات ورکولی شو او که نه ؟

(۲۲۳ سوال) یو سړی د کرایی په کور کی اوسیږي ، د کور مالک هغه ته وایي چی کور ورته خالي کړي او ترینه لاړ شي هغه له دغه پریشانی نه د خلاصیدو په خاطر یو ورکوټی غوندی کور په قرض اخستی دی هغه چی په کور کی څه سره زر درلود هغه یی خرڅ کړ او په قرضه کی ورکړه مګر بیا هم د کور پیسی ورباندی باقي دي ، اوس له هغه سره داسی څه څیز نشته چی هغه خرڅ کړي او خپل قرض ادا کړي ، سوال دا دی چی ایا داسی سړي ته د زکات پیسی ورکول جائز دي تر څو هغه ژر تر ژره خپل قرض ادا کړي ، مهرباني وکړئ ځواب راکړئ .

ځواب : په مسئوله صورت کی داسی سړي ته زکات ورکول جائز دي[2] . فقط والله اعلم بالصواب .

یو سړي قرض پیسی وغوښتلی د زکات په نیت می ورته قرض ورکړ ، وروسته مقروض پیسی واپس راکړی نو د دغو پیسو څه حکم دی ؟

(۲۲۴ سوال) یو ضرورت مند او محتاج سړي له خپل دوست نه قرض واخست هغه ورته د زکات په نیت قرض پیسی ورکړی څه وخت وروسته مقروض هغه پیسی ورته واپس کړی ، قرض ورکونکي سړي ورته وویل چی ما تا ته په هدیه کی درکړی وی ، مقروض له اخستلو نه انکار وکړ اوس دی په دغو پیسو څه وکړي ؟ بینوا توجروا .

---

[1] ـ ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کما مر لا یصرف الی بناء مسجد والی الی کفن میت وقضا دینه . درمختار مع الشامی باب المصرف ج ۲ ص ۸۵ .

[2] ـ ومنها الغارم وهو من لزمه دین ولایملك نصابا فاضلاً عن دینه فتاوی عالمگیری باب المصرف ج ۱ ص ۱۸۸

خواب که چیرته هغه دا پیسی وانخلي او واپس یی کړي نو د هغه په اجازه دی بل کوم غریب او مسکین سړي ته ورکړي . فقط والله اعلم بالصواب .

(سوال) بکر نومی یو تن د زید خوا ته د قرض اخستلو لپاره راغی ، زید هغه وخت ورته د قرض په نوم پیسی ورکی مګر په حقیقت کی بکر د زکات مستحق و ، نو ځکه کله چی زید هغه ته پیسی ورکولی نو دزکات په نیت یی ورته ورکړلی ، څه وخت وروسته بکر ورته پیسی واپس ورکړی خو زید له اخستلو نه انکار وکړ ، مګر بکر پیسی د هغه په مخکی کینبودلی او ترینه روان شو ، بکر چی کومی پیسی واپس کړی دي دهغه څه حکم دی ؟ ایا واجب التصدق دي او که بکر ددغو پیسو مالک دی ؟ که زید دغه پیسی صدقه کړي نو له بکر نه اجازه اخستل ضروري دي یا نه ؟

ځواب : که مناسب وي نو زید دی بکر ته ښکاره ووایي چی کله ما تا ته پیسی درکولی نو ما د زکات په نیت درکړی دي لهذا دا پیسی واپس مه راکوه او که بیا هم واپس کوی نو بیا دی ورته وایي چی ته هرچا ته ورکول غواړی ور یی کړه ، که د دی باوجود بیا هم پیسی واپس ورکوي نو څرنګه چی د زید د نیت په مطابق همغه وخت زکات ادا شوی دی لهذا د هغه په اجازه دی دا پیسی غریب ته صدقه او خیرات کړي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د زکات یو مستحق کس ته څومره پیسی ورکول مکروه دي ؟

(۲۲٦ سوال) فقیر ته د زکات له پیسو نه د نصاب په اندازه یا لدینه هم زیات ورکول څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : یو فقیر او مسکین سړي ته دومره زکات ورکول مکروه دي چی د قرضونو له ورکولو نه وروسته دکور هر یو تن ته له نصاب نه د کمو پیسو ورکولو نه وروسته له فقیر سره دنصاب په برابر نوری پیسی هم پاتی شي ، په درمختار کی دي :

"(وكره اعطاء فقيراً نصاباً) او اكثر (الا اذا كان) المدفوع اليه (مديوناً او) كان (صاحب عيال) بحيث (لو فرقه عليهم لا يخص كلا) او لا يفضل بعد دينه (نصاب) فلا يكره فتح" (درمختار مع رد المختار ج ۲ ص ۹۳ باب المصرف)

فقط والله اعلم بالصواب .

ورور ته زکات ورکول :

(۲۲۷ سوال) زما یو ورور ماشوم داره او غریب دی د هغه تهوله تنخواه دری نیم سوه روپۍ دی، گذاره یی په مشکل سره کیږي، اکثر وخت قرضدار وي، په داسی حالت کی مونږ هغه ته په پټه د زکات پیسی لیږلی شو او که نه ؟ ایا ورور د زکات حقدار دی او که نه ؟ بینوا توجروا

خواب : که ورور غریب وي او د نصاب هومره پیسی ورسره نه وي، نو هغه ته زکات ورکولی شئ، د زکات پیسی د زکات په نیت سره د هدیه، تحفه او د اختر مبارکی په نوم ورکولو سره زکات ادا کیږي، او که ورور دی دومره مال لري چی پخپله د نصاب خاوند وي نو وربااندی زکات نه کیږي.

"ومن اعطی مسکیناً دراهم وسما هاهبة او قرضاً ونوی الزکواة فانها تجزیة وهو الاصح" (فتاوی عالمگیری مصری ج ۱ ص ۱۷۱ کتاب الزکواة) ولو دفعها الی صبیان اقر بائه برسم عید او الی مبشر او مهدی الباکورة جاز (طحطاوی ص ۳۹۰ کتاب الزکواة) فقط والله اعلم بالصواب .

د زکات پیسی فقیرانو ته ورکول ښه دي او که مدرسو ته ؟

(۲۲۸ سوال) د زکات پیسی دی غریبانو ته ورکړی شي او که مدرسو ته په کوم یو کی زیات ثواب دی ؟ بینوا توجروا .

خواب : په کوم ځای کی چی زیات ضرورت وي همغلته زیات ثواب لري .

"والافضل فی الزکاة والفطر والنذور الصرف اولاً الی الاخوة والاخوت ثم الی اولادهم" (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۹۰) وکره نقلها بعد تمام الحول لبلد آخر لغیر قریب واحوج و اورع وانفع للمسلمین بتعلیم (طحطاوی ص ۳۹٤ باب المصرف) فقط والله اعلم بالصواب .

نیکه ته زکات ورکول :

(۲۲۹ سوال) له یو تن سره ۲۰۰ ډالره د زکات پیسی دي، هغه غواړي چی دغه پیسی خپل نیکه ته ورکړي، ایا هغه دغه د زکات پیسی خپل نیکه ته ورکولی شي ؟ ایا د هغه

زکات ادا کیږي ؟ دا خبره دی په یاد وي چې دهغه نیکه قرضدار دی که دزکات پیسې هغه ته نشي ورکولی نو دقرض د ادا کولو یو بل تدبیر په گوته کړئ .

خواب هغه نشي کولی چې خپل نیکه ته د زکات پیسې ورکړي ، که ورکړي نو زکات يې نه ادا کیږي ، په هدایه کی دي چې خپل پلار ، نیکه ، نیا او آنې همدغه راز خپل اولاد ، نوسو او نورو ته زکات ورکول جائز نه دي .

"ولا يدفع المزكي زكاة ماله الىٰ ابيهخ او جده وان علا ولا الى ولده وولد ولده وان سفل" (هدايه ج ۱ ص ۱۸٦ باب من يجوز دفع الصدقات اليه ومن لا يجوز) -

لهذا د مالدار نوسی لپاره ضروري دي چې له خپل خالصي گټی نه له خپل نیکه سره کومک وکړي او د قرض له بار نه خلاص کړي ، په خپلوانو باندی خرچ کولو سره دوچند ثواب تر لاسه کیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

ساداتو ته زکات ورکول :

(۲۳۰ سوال) د سیدانو زامنو قاضي ، شیخ او پټهان کورنی کی ودونه کړی دي ایا هغوی اوس هم د ساداتو اولاد شمارل کیږي ، هغو ته زکات ورکول څنگه دي په داسی حال کی چې هغوی مسکین وي ؟ بینوا توجروا .

خواب د سید پلار هم سید دی له غیر سید سره د نکاح کولو په صورت کی سیادت نه ختمیږي ، هغوی ته زکات ورکول صحیح نه دي ، لیکن د ساداتو عزت او د هغوی قدر او منزلت په نظر کی نیولو سره ورته نفلي صدقات ، هدیه او تحفی ورکول ضروري دي،[1] والله اعلم بالصواب

د ساداتو مسي ته زکات ورکول :

(۲۳۱ سوال) یوی سیده جلی چې زما خور ده په شیخانو کی واده شوی ده ، د هغی خاوند مړ شوی دی او د هغی دری اولادونه دي ، له هغوی نه یو زوی چې زما خوری دی په دری سوه روپی باندی نوکري کوي ، په دغو پیسو ډیر په مشکله گوزاره کیږي ، ایا په داسی صورت کی زه خپل خور ته زکات ورکولی شم او که نه ؟

---

[1] وجازة التطوعات من الصدقات وغلة الاوقاف لهم ای لبنی هاشم ، درمختار مع الشامی باب مصرف ج ۲ ص ۹۱

خواب تاسی خپلی خور ته زکات نشی ورکولی . "والا الیٰ بنی هاشم (الیٰ قوله) ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع قال الشامی یعنی سواء فی ذلك کل الازمان سواء فی ذلك دفع بعضهم الیٰ بعض" شامی ج ۲ ص ۹۰ .
البته خپل خوری ته چی د شیخانو له نسب څخه دی زکات ورکولی شی په دی شرط چی غریب وي او د نصاب خاوند نه وي . "من کانت امها علویة مثلاً وابوها عجمی یکون العجمی کفوا لها وان کان لها شرف لان النسب لاباء ولهذا جاز دفع الزکاة الیها" ایضاً ج ۲ ص ٤۳۸ کتاب النکاح باب الکفاءة ، فقط والله اعلم بالصواب .

د سید زوم ته زکات ورکول :

(۲۳۲ سوال) د سیدی جلی نکاح د قاضي له خاندان سره شویده ، د هغه خاوند له وظیفی نه تقاعد شوی دی او د میاشتي سل روپۍ ورته په تقاعد کی ورکول کیږي ، د هغه یو زوی له دی ځای نه ۲۰۰ روپۍ نوری هم ورته لیږي ، ایا مونږ هغه ته زکات ورکولی شو ؟
خواب : ته د خپلی خور ته چی د ساداتو له کورنی څخه ده زکات نشي ورکولی ، د هغی خاوند او ستا خوری په ساداتو کی نه راځي لهذا هغوی ته زکات ورکولی شي په دی شرط چی د نصاب خاوند نه وی . فقط والله اعلم بالصواب .

خپلی ورینداری ته زکات ورکول :

(۲۳۳ سوال) زما تره زوی چی سید دی لیکن ښځه یی سیده نه ده ، د هغه ۸ اولادونه دي ، دهغه جائیداد گرو دی ، په ډیر مشکل سره گوزاره کوي ، ایا زه د خپل تره زوی ښځی ته چی سیده نه ده زکات ورکولی شم ؟ بینوا توجروا .
خواب : دا چی ستا د تره زوی ښځه سیده نه ده او دومره مال هم نه لري چی د نصاب خاونده وي نو هغه د زکات حقدار ده ته ورته بالکل زکات ورکولی شی ، فقط والله اعلم بالصواب .

که سادات پخپلو منځو کی زکات ورکړي نو ؟

(۲۳۴ سوال) زما همشیره (خور) چې سیده ده د پټان په خاندان کی واده شوی ده ، دهغی خاوند د هغی نان او نفقه نه ادا کوي ، د هغی دوه لورګانې دي چې یوه یې واده شوی ده ، زما خور په دوه دری قسمه ناروغی کی هم اخته ده ، ایا زه د هغی د علاج لپاره د زکات پیسی لګولی شم ؟

ځواب د زکات پیسی نه شي ورکولی بلکی نفلي صدقات او نوره مرسته ورسره کولی شی ، دا ستا مسئولیت او ذمه واري ده چې له هغی سره لله فی الله کومک وکړی .

"وجاز التطوعات من الصدقات وغلة الاوقاف لهم ای لبنی هاشم" درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۹۱ باب المصرف .

د زکات له پیسو نه زکات ورکول :

(۲۳۵ سوال) د کلي مکتبونه چې پکی د کلي واړه ماشومان سبق وایي د خوراک څښاک لپاره څه انتظام نشته ، استاذانو ته د چندی له لاری تر لاسه شویو پیسو نه تنخواه ورکول کیږي ، ایا په داسی مکتبونو کی د زکات او صدقی پیسی ورکول جائز دي ؟

ځواب : د کلي خلکو ته پکار دي چې د خپلو اولادونو د تعلیم خرچه پخپل سر واخلي، د عطیاتو له پیسو نه دی استاذانو ته معاشونه ورکړي ، د زکات له پیسو نه تنخواه ورکول جائز نه دي ، زکات نه ادا کیږي .

"(قوله لشخص مخصوص) هو ان یکون فقیراً ونحوه من بقیة المصارف غیر هاشمی ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملك من کل وجه لله تعالی" (طحطاوی ص ۲۸۹ کتاب الزکاة) .

د شرعي حیلی ګنجائش په هغه صورت کی جائز دی چې بله کومه چاره نه وي ، حال دا چې د کلي خلک د دی باوجود چې زمینداري هم کوي ګڼ کسان یی د مزدوری لپاره په باهر ملک کی هم اوسیږي ، که چیرته د کلي خلک هم د خپلو ماشومانو د تعلیم لپاره د شرعي حیلی په کار آچولو سره د فطرانی پیسی استعمالوي نو فقراء او مسکینان به څه کوي ؟ فقط والله اعلم بالصواب .

د زکات په مال سره د پلار قرض ادا کول :

(۲۳٦ سوال) زما پلار ۹ میاشتې وړاندې وفات شوی دی د هغه له مړ کیدو نه وړاندې په هغه د څلورو مختلفو کسانو دیرش زره روپۍ قرض و ، زما پلار په ترکه کې هیڅ مال نه دی پریښی ، له ماسره هم سره زر یا په بنک کې نقدې پیسې نشته . في الحال جماعت ما ته د اوسیدو لپاره یو کور راکړی دی او د کرایه یو دکان هم له ماسره دی چې دهغه په پیسو زما د کور خرچه په مشکله پوره کیږي ، زما مالي حالت ډیر کمزوری دی ، که چیرته زه له کوم مالدار نه د زکات پیسې واخلم او هغه د خپل پلار په قرض کې ورکړم نو دا زما لپاره جائز دي او که نه ؟

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً . په مسئوله صورت کې ستا په پلار باندې د خلکو قرضونه دي او د هغوی د ورکولو هیڅ انتظام هم له تاسره نشته ، ستا پلار هم په ترکه کې څه مال نه دی پریښی چې قرض یې ادا کړی شي ، ته هم د هغه د قرض د ادا کولو طاقت نه لرې ، نه درسره نقدې پیسې شته او نه هم سره زر او سپین زر لرې ، له تاسره صرف د تجارت لپاره عطرونه دي چې هغه له نصاب نه کم دي ، له اصلي حاجت نه زیات دومره سامان هم درسره نشته چې دنصاب مقدار پوره کړي ، قرض ورکوونکي حضرات هم له تانه په سختۍ سره خپلې پیسې غواړي ، که چیرته په داسې حالت کې د زکات یا د خیرات پیسې خوک تا ته درکړي نو ته کولی شې په هغو پیسو د خپل پلار قرض ادا کړې ، تا ته چې څومره پیسې په زکات کې څوک درکړي هغه فوراً په قرض کې ورکړه ....

په مذکوره حالت کې پر تا باندې ستا د مرحوم پلار قرض ادا کول په تا نه دي ، ځکه چې قرض په هغه و نه پر تا باندې ، پکار دي چې هغوی ستا د پلار قرض له تانه ونه غواړي لیکن که هغوی داسې نه کوي او له تا نه پیسې غواړي نو تاسې پورتنی صورت خپلولی شئ ، فقط والله اعلم بالصواب . .

میرنۍ مور ته زکات ورکول :

(۲۳۷ سوال) ایا میرنۍ مور ته زکات ورکولی شم او که نه ؟ن مهربانې وکړئ ځواب ولیکئ .

خواب میرنی مور نه په اصول کی داخله ده او نه په فروع کی او نه له هغی سره ستا د زوجیت رشته ده ، لهذا میرنی مور ته زکات ورکولو کی څه حرج نشته هغی ته زکات ورکولی شی په دی شرط چی هغه د زکات حقداره وي .

په شامي کی دي "ویجوز دفعها لزوجة ابیه وابنه وزوج ابنته تاتار خانیه" (شامی ص ۸٦ ج ۲ ، باب المصرف تحت قوله والی من بینهما ولاد) .

په عینی شرح کنز کی دي : "ولایدفع ایضاً الی اصل وهم الاباء والامهات وان علاوهم الاجداد والجدات من قبل الاب والام وکذا لایدفع الی فرعه وهم الا ولا وان سفل وهم اولاد الا ولاد وکذا الا یدفع الی زوجته بالاتفاق ، کذا لا تدفع الزوجة الی زوجها عند ابی حنیفة رحمه الله وبه قال احمد رحمه الله فی الاصح الخ" (عینی شرح کنز ص ۷۹ ج ۱ باب المصرف) فقط والله اعلم بالصواب .

باب ما یتعلق صدقة الفطر

د سرسایی په باره کی معلومات

له هندوستان نه بهر اوسیدونکو لپاره د فطرانه صدقی قیمت :

(۲۳۸ سوال) له هندوستان نه بهر په نورو هیوادو کی ځینی مسلمانان د خط له لاری مونږ ته لیکي چی زمونږ سرسایه همغلته په هندوستان کی ورکړئ ، مونږ دلته احتیاطاً څلورم کیلو غنم یا دهغه د قیمت په برابر پیسی ورکوو . اوس سوال دا دی چی کله مونږ د هغوئ سرسایه دلته ورکوو نو دهغه ځای د قیمت په مطابق به پیسی ورکوو او که د دی ځای دغلی په مطابق ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که د افریقایي مسلمانانو له طرف نه پاوکم دوسیره یعنی پوره دوه کیلو غنم په سرسایه کی ورکړی شي یا دهمغه ځای د غلی په حساب سره د دومره غنم قیمت ورکړی شي نو د باک خبره نه ده دواړه صحیح دي ، خو که چیرته دلته د غنمو قیمت زیات وي نو د دی ځای په حساب سره پیسی ورکول بهتر دي ، خو تر ټولو غوره دا ده چی په سرسایه کی غنم ورکړی شي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

ایا د کور او جائیداد مالک سرسایه اخستلی شي ؟

(۲۳۹ سوال) که یو سړی کور هم لري او جائیداد هم نو ایا هغه سرسایه اخستلی شي؟

ځواب : له کوم سړي سره چی خپل کور او د کرلوله زمکی نه علاوه بل کور او نوری زمکی ولري یا له اصلي حاجتونو نه علاوه سامان او جائیداد ولري چی قیمت یی نصاب ته رسیږي نو پر هغه سرسایه واجبه ده او پخپله هغه زکات او سرسایه اخستل جائز نه دي د اوسیدو کور او د کرلو زمکه په نصاب کی داخل نه دي[2] ، فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] قوله ویقوم فی البلد الذی المال فیه فلو بعث عبداللتجارة فی بلد آخر یقوم فی البلد الذی فیه العبد . شامی باب زکاة الغنم ج ۲ ص ۲۸۶ .

[2] هو فقیر وهو من له ادنی شیئ ای دون نصاب او قدر نصاب غیر نام مستغرق الحاجة قال فی الشامیة تحت قوله مستغرق الحاجة کدار السکنی وعبید للخدمة وثیاب البذلة وآلات الحرفة الخ . درمختار مع

که د کور او زمکی مالک تنګلاسی وي نو هغه سرسایه آخستلی شي ؟

۲۴۰ سوال) له یو سړي سره د اوسیدو کور او د کرلو زمکه په دومره اندازه کی ده چی د هغی په آمدني سره ګذاره یی نه کیږي د وړوکي اختر په ورځ زیات محتاج وي ، ایا داسی سړی سرسایه اخستلی شي او که نه ؟

ځواب : هو ! سرسایه اخستلی شي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

د سرسایه د ادا کولو صورت :

(۲۴۱ سوال) سرسایه دی له غنمو نه ورکړي ، د کنټرول نرخ په حساب دی پیسی ورکړي او که د بازار دنرخ په حساب سره ؟

ځواب : کومه غله دانه چی په کور کی خوري له همغه نه دی سرسایه ورکړي که د هغه قیمت ادا کول غواړي نو د بازار د قیمت په حساب دی پیسی ورکړي د کنټرول قیمت معتبر نه دی خو که څوک د کنټرول شوی ریټ په حساب غله خوري نو بیا دی د کنټرول قیمت په حساب پیسی ورکړي او داسی چاته دی ورکړي چی هغه کنټرول شوی غله اخلي[2] .

لنډه دا چی دومره پیسی دی ورکړي چی سرسایه ورکوونکی کومه غله خوري غریب هم که هغه غله اخستل غواړي نو په همدی قیمت په آسانی له بازار نه واخستلی شي ، لهذا له چا سره چی د کنټرول پرمټ نه وي هغه ته دی د بازاري قیمت په اندازه پیسی ورکړي ، خو بهتره دا ده چی غله ورکړي ، فقط والله اعلم بالصواب .

الشامی باب المصرف ج ۲ ص ۳۳۹ وصدقة الفطر کاالزکاة فی المصارف درمختار مع الشامی قبیل باب الصوم ج ۲ ص ۳۶۹ .

[1] ــ وکذا لو کان له حوانیت او دار غلة تساوی ثلاثة آلاف درهم وغلتها لا تکفی لقوته وقوت عیاله یجوز صرف الزکاة الیه من قول محمد رحمه الله تعالی . فتاوی عالمگیری باب المصرف ج ۱ ص ۱۸۹ .

[2] ــ وجاز دفع القیمة فی زکاة وعشر وخراج وفطرة ونذر . درمختار مع الشامی باب زکاة الغنم ج ۲ ص ۲۸۵

د سرسایه مستحق خلک څوک دي ؟

(۲۴۳ سوال) له څاسره څومره کورونه او زمکې وي چې د سرسایه د اخستلو حقدار ګرځي ؟

ځواب دقرض له وضع کولو نه وروسته د اوسیدو لپاره کور ، د ګذارې لپاره زمکه او د ضروري حوائجو نه علاوه چې کوم سامان وي که چیرته دهغه قیمت نصاب ته نه رسیږي نو هغه زکات یا سرسایه اخستلی شي[۱] ، فقط والله اعلم بالصواب .

سرسایه په کوم سړي واجبه ده او په کوم سړي نه ده ؟

(۲۴۴ سوال) سرسایه په چا واجبه ده ، چا چې روژې نه وي نیولي پر هغه هم واجب ده او که نه ؟

ځواب : د قرض له وضع کولو نه وروسته چې له چا سره اووه نیمې تولې سره زر ، یا دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر ، یا له اصلي ضرورت نه زیات بل کوم داسې څیز ولري چې قیمت یې د زکات نصاب ته رسیږي پر هغه سرسایه واجبه ده اګر که تجارتي اسباب نه وي او هغه روژې نه وي نیولي ، بیا هم پر هغه سرسایه ورکول واجب دي ، که ورکړې یې نه وي نو ور دې کړي ، تر څو پورې چې ورکړې نه وي تر هغه غاړه یې نه خلاصیږي .

د صدقه فطر داداکولو لپاره د بازار قیمت اعتبار لري :

(۲۴۵ سوال ، په صدقه الفطر (سرسایه) کې نیمه صاع تقریباً دوه کیلو غله ورکول کیږي که څوک د دې قیمت ورکول غواړي نو د دیسي غنم قیمت چې فی الحال شل کیلو په ۶۰ روپۍ خرڅیږي ، او د راشن غنم قیمت چې قیمت یې تقریباً ۱۸ روپۍ دی .

زما له نظره دا تیر شوي دي چې که څوک غنم ورکول غواړي نو دوه کیلو غنم به ورکوي برابره خبره ده چې ښه غنم وي یا ادنی ، لیکن که څوک قیمت ورکول غواړي نو دښه غنم قیمت به ورکوي ، نو په کوم حساب سره دې سرسایه ورکړې شي ؟ په بازار کې چې درمیانه غنم تر لاسه کیږي او قیمت یې ۳۶ روپۍ دی ، ایا د دغه غنم د قیمت

---

[۱] وصدقة الفطر کالزکاة فی المصارف وفی کل حال قال فی الشامیة تحت قوله فی المصارف ای المذکورة فی آیت الصدقات درمختار مع الشامی صدقة الفطر ص ۳۶۹ هو فقیر وهو من له ادنی شئ ای دون نصاب او قدر نصاب غیر نام مستغرق الحاجة قال فی الشامیة تحت قوله مستغرق الحاجة کذا لا لسکنی وعبید الخدمة وثیاب البذلة والات الحرفة . الخ . شامی باب المصرف ج ۲ ص ۳۳۹ .

په حساب سره سرسایه ورکړی شي او که د عمده او ښه غنم قیمت په حساب سره یا هم د راشني غنم دقیمت په حساب سره ؟ دا خبره دی په ذهن کی وي چی نن سبا زیاتره خلک دراشن غنم خوري ، که څوک له غنم نه علاوه نوره غله لکه جوار ، باجره ، وريجی ورکول غواړي نو هغه دی څومره ورکړي ؟ بینوا توجروا . ۲۰ رمضان المبارکي ۱۳۹۵ھ .

خواب . په صدقه فطر کی اصل دا دی چی غنم یا نوره غله ورکړی شي ، برابره خبره ده چی دغه غله دانه اعلی وي یا درمیانه او ادنا ، هر یو چی ورکړی شي سرسایه ادا کیږي . که څوک قیمت یی ورکول غواړي نو د بازار د نرخ په حساب سره دی ورکړي ، دا ضروري نه ده چی اعلی قسم غنمو قیمت دی ورکړی شي ، د اوسط او ادنا دغنمو قیمت هم معتبر دی ، مګر قیمت دی د بازار په نرخ ورکړی شي د راشني غنم قیمت معتبر نه دی . فقیر ته باید دومره پیسی ورکړی شي چی که هغه په دی سره غنم اخستل وغواړي نو دو کیلو غنم وربانذی واخستل شي[1]

که د راشني غنم په حساب سره پیسی ورکړی شي نو بیا په بازار کی په دغو پیسو دوه کیلو نشي اخستلی ، او د راشني غنم د اخستلو لپاره کنټرول کارت ضروري دي ، خو دا کارت له هر یو فقیر او مسکین سره نه وي ، نو ځکه د راشني غنم د قیمت په حساب سره د سرسایی پیسی ورکول صحیح نه دي .

ما دلته د بازار درمیاني قیمت په حساب سره پاوه باندی دری روپی لیکلی دي ، خو احتیاطاً لدینه زیات ورکول افضل دي .

که څوک له غنم نه علاوه بل کومه غله لکه جواز ، باجره ، وريجی او داسی نور ورکول غواړي نو په دی کی د غنمو د قیمت اعتبار دی یعنی څومره قیمت چی د نیمی صاع غنم کیږي د همدومره قمیت په اندازه دی نوره غله ورکړي ، فقط والله اعلم بالصواب .
۲۳ رمضان المبارک ۱۳۹۵ ھ .

---

[1] ودفع القیمة ای الدارهم افضل من دفع العین علی المذهب المفتی به جوهرة وبحر عن الظهیریة وهذا فی السعة اما فی الشدة فدفع العین افضل کما لایخفی قال فی الشامیة تحت قوله ودفع القیمة اطلقها فشمل قیمة الحنطة وغیرها الخ .... قوله علی المذهب المفتی به مقابله ما فی المضمرات من ان دفع الحنطة افضل فی احوال کلها سواء کانت الام شدة ام لا لان فی هذا موافقة السنة وعلیه الفتوی.درمختار مع الشامی باب صدقة الفطر ج ۲ ص ۳٦٦ .

که پلار د خپل بالغ اولاد سرسایه ورکړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۲۳۶ سوال) لکه څرنګه چی د بل چا زکات دهغه له اجازی او حکم نه پرته نه ادا کیږي ایا همدا حکم د صدقه فطر هم دی ؟ دلته په عمومي ډول پلار د خپل بالغ اولاد له لوری ، همدغه راز خاوند د ښځی له طرفه نه سرسایه ورکوي ایا دا سرسایه ادا کیږي او که نه ؟ که چیرته بالغ اولاد خپل پلار یا ښځه خپل خاوند وکیل وګرځوي چی زما له طرف نه سرسایه ورکړه نو دا صحیح دي او که نه ؟

ځواب : هو همدغه حکم د صدقه فطر هم دی چی اجازه ضروري دی لیکن څرنګه چی د صدقه فطر مقدار لږ او معلوم دی نو ځکه دخپلی ښځی او اولاد چی د دی تر کفالت لاندی وي ادا کوي او عادتاً د دی اجازه وي نو ځکه استحساناً جائز دي .

"ولو ادی عنهما بلا اذن ا جزأ استحساناً للاذن عادة ای لوفی عیاله والا فلا . قهستانی عن المحیط فلیحفظ" (درمختار ج ۲ ص ۱۰۳) (قوله ولو ادی عنهما) ای عن الزوجة والولد الکبیر وقال فی البحر وظاهر الظهیریة انه لو ادی عمن فی عیاله بغیر امره جاز مطلقاً بغیر تقیید بالزوجة والولد الخ (قوله اجزأ استحساناً) وعلیه الفتوی الخ" (شامی ص ۱۰۳ باب صدقة الفطر) .

خو زکات د دی برعکس دی ځکه چی ددی مقدار نامعلوم او ډیر وي ، له ویلو نه بغیر د ادا کولو عادت نشته نو ځکه په دی کی اجازت او وکالت ضروري دی ، والله اعلم بالصواب .

د صاع وزن او د صدقه فطر صحیح اندازه :

(۲۴۷ سوال) د صدقه فطر د مقدار په باره کی په حدیث کی "نصف صاع من بریا صاعاً من تمر" راځي د صاع مقدار د ګرام په اعتبار سره څومره دی ؟ د فیروز اللغات مصنف دصاع مقدار ۳۳۴ توله لیکلی دی (ص ۷۷۷) .

او حضرت مولانا عبد الشکور لکهنوي رحمه الله په علم الفقه څلورم جلد ص نمبر ۴۹۷ کی دا لیکلي دي چی د صاع مقدار تقریباً دو سیره او یو نیم پاو دی ، په دی اعتبار سره نیم صاع یو سیر او دری چټاکی شوه ، په عمومي توګه د صدقه فطر مقدار په

کتابونو کی پاوکم دو سیره اونیمه چټاکی لیکل شوی دی (بهشتي زيور) د لیکلو په حساب دوه کیلو کیږي خو د علم الفقه دلیک له مخی یو سیر او دری چټاکی کیږي ، د دغو دواړو تر منځ کافي فرق معلومیږي ، په احتیاطي پهلو باندی بحث نه دی ، بلکی حد فاصل معلومول مقصد دی ، بینوا توجروا .

خواب : په صدقه فطر کی باید پاو کم دو سیره ورکړی شي ، نیم صاع یو کیلو او پنځه سوه پنځه اویا ګرام کیږي .

د زکات فطر د نصاب مقدار پاوه باندی پنځه تولی سره زر یا شپږ دیرش نیم توله سپین زر معتبر نه دي ، دا تحقیق د حضرت مولانا عبد الشکور لکهنوي رحمه الله دی ، په علم الفقه کی همدی ته اولیت او غوره والی ورکول شوی دی ، د دی په متعلق حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب نور الله مرقده لیکي :

دسپینو زرو په نصاب کی د دی ځای له وزن نه چی کوم مقدار بیان شوی دی یعنی ۳۶ تولی ۵ ماشی او ۴ راتی ، دا د مولانا عبد الحی لکهنوي رحمه الله تحقیق دی زما په خیال په دی کی یو بنیادي سهوه شوی ده ، زما په نزد صحیح مقدار له څلور پنځوس تولی او دوه ،اشو نه کم نه دی ، همدغه راز د سروزرو نصاب او بیا د صاع په مقدار کی هم فرق راځي ، فقیر محمد کفایت الله کان الله له له ډهلي ۱۴ ذی الحجه کال ۱۳۶۱ھ (از کتاب العشر والزکات ص ۳ مصنفه مولانا عبد الصمد رحماني) .

د مفتي اعظم عارف بالله مولانا مفتي عزیز الرحمن صاحب رحمه الله فتوی :

مولانا عبد الحی او صاع :

(۲۸۴ سوال) مولوي عبد الحی صاحب رحمه الله محشي شرح وقایه د زکات په باب کی لیکلي دي چی مثقال دری ماشی او یو راتی کیږي ، په دی اعتباره سر د صاع وزن دوه سیره یولس تولی او شپږ ماشه کیږي ، او نصف صاع یو سیر پنځه تولی او ۹ ماشی کیږي ایا دا صحیح دی او که غلط ؟

خواب : مولانا عبد الحی صاحب چی د مثقال کوم وزن لیکلی دی دا درهم وزن دی او په دی کی د رتی کسر یی پریښی دی ، د مثقال وزن څلور نیمه ماشه وي ، لکه چی عموماً مشهور دي او د دهلي علماو همدغه وزن غوره کړی ، په غیاث اللغات کی هم دیته صحیح ویل شوی دي ، مثقال څلور نیمی ماشه کیږي الخ (ترجمه غیاث اللغات)

نو په دی بنا ، ۷۲۰ مثقال چې د صاع وزن دی له څلور نیمو ماشو سره د ضربولو په صورت کې دری زره دو سوه څلوېښت ماشه کیږي ، چې لدینه توله جوړ کړی شي نو ۲۷۰ توله جوړیږي دا چې په اتیاو باندی تقسیم کړی شي نو دری سیره یونیم پاو د صاع په حساب جوړ شو ، همدغه دلته معمول به او صحیح دی ، دسبعه په وزن سره له حسابولو نه هم همدومره جوړیږي ، او په صدقه فطر کی احتیاط په همدی کی دی ، فقط فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ج ٦ ص ۳۰۴ ج ٦ ص ۳۰۵ .

د زیات تفصیل او وضاحت لپاره وګورئ (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ج ٦ ص ۳۱۵ سوال نمبر ۵۷۳ ج ٦ ص ۳۱۹) همدغه راز مقادیر شرعیه (اوزان هندیه ص ۱۰ ـ ۱۳) فقط والله اعلم بالصواب .

له روژی نه مخکی د صدقه فطر ورکول :

(۲۴۹ سوال) د صدقه فطر د ادا کولو وخت کوم یو دی ؟ په عمومي توګه کتابونه کی لیکل شوي دي که له وړوکي اختر نه مخکی په روژه کی ادا کړی شي نو جائز دي ، سید الملت حضرت مولانا مفتي سید محمد میان صاحب رحمه الله پخپل رساله دیني تعلیم په ۸۱ صفحه کی د دی په باره کی دغه لاندیني الفاظ لیکلي دي :

که کوم سړی له اختر نه وړاندی صدقه فطر ورکړي نو دا هم جائز دي ، لیکن که د روژی میاشت نه مخکی شعبان کی ورکړي نو جائز نه دي ، او په حاشیه کی دي لکه چې د زکات په باره کی تیر شوی دي چې د نصاب مالک جوړیدو نه وروسته د کال له پوره کیدو نه مخکی کوم سړی زکات ادا کړي نو جائز دي ، لیکن اوس لا د نصاب مالک نه و جوړ شوی چې زکات یې ورکړه نو دا زکات کی نه منل کیږي بلکی د هغه له طرف نه خیرات وي .

مګر په علم الفقه څلورم جلد کی د دی برعکس عبارت دی ، هغه لیکي :

(۹) د روژی دمیاشتې له راتلو نه وړاندی هم صدقه فطر ورکول جائز دي ، او بل بنار ته لیږل هم جائز دي (علم الفقه ج ۴ ص ٦٦) .

همدغه راز په " الفقه علی المذهب الاربعه " کی می ولیدل چې د همدغی خبری تائید کوي ، عبارت داسی دی :

"ويصح اداءها مقدماً وموخراً لان وقت ادائها العمر فلو اخرجها فى اى وقت شاء كان مؤدياً لاقاضياً كما فى سائر الواجبات الموسعة" (الفقه على المذاهب الاربعة ص ٦٢١ جلد اول) .

همدغه راز له عالمگيري نه هم د دى تائيد كيږي ، هغه ليكي : كه د اختر له ورځى نه وړاندى صدقه فطر وركړي نو جائز دي او د مودى د اندازى په باره كى هيڅ نه دي ليكل شوي او همدغه صحيح دي (عالمگيري ج ١ ص ٣٠) .

تاسى مهرباني وكړئ په دى كى مفتى به قول وليكئ تر څو زما تشويش ختم شي ، فقط السائل مولانا موسى كرماډي ، انگلينډ .

ځواب : دا اختلافي مسئله ده د روژى له مياشتى نه وړاندى وركولو كى هم قول دى ، خو په دى باندى عمل كول له احتياط نه خلاف دي ، د روژى په مياشت كى وركولو كى هم اختلاف دى ، مگر قوي خبره دا ده چى جائز دى او صدقه فطر ادا كيږي ، په بحر الرائق كى دي :

"(وصح اداءها لو قدم او اخر) اى صح اداءها اذا قدمه على يوم الفطر او اخره الى قوله . فصار كتقديم الزكواة على الحول بعد ملك النصاب بمعنى انه لا فارق لا انه قياس فاندفع به مافى فتح القدير من ان حكم الاصل على خلاف القياس لكنه وجد فيه دليل وهوحديث البخارى وكانوا يعطون قبل الفطر بيوم او بيومين واطلق فى التقديم فثمل ما اذا دخل رمضان وقبله وصححه المصنف فى الكافى وفى الهداية والتبيين وشروح الهداية وفى فتاوى قاضى خان . وقال خلف بن ايوب يجوز التعجيل اذا دخل رمضان هكذا ذ كره الامام محمد بن الفضل وهو الصحيح وفى فتاوى الظهيرية والصحيح انه يجوز تعجيلها اذا دخل شهر رمضان وهو اختار الشيخ الامام ابى بكر محمد بن الفضل وعليه الفتوى الخ فقد أختلف التصحيح كما ترى لكن تايد التقييد بدخول رمضان بان الفتوى عليه فليكن العمل عليه اخر" (البحر الرائق ج ٢ ص ٢٥٥ باب صدقة الفطر) فقط والله اعلم بالصواب

١٨ رمضان المبارك ١٣٩٧هـ .

په صدقه فطر کی میده یا د هغه قیمت ورکول :

(۲۵۰ سوال) دلته په جزیره موریشش کی خلک د غنمو ډوډی نه خوري ، له باهر نه تیاره میده راځي ، او دهمغه ډوډی خوري ، دهغی د پنځه سوه ګرامو قیمت تقریباً پنځوس پیسی دی ، غنم صرف هغه خلک آخلي چی خاص ضرورت ورته ولري ، مونږ صدقه فطر د میدی له اوړو نه ورکوو یعنی دهغه قیمت ورکوو ایا زمونږ دا صدقه فطر ادا کیږي او که نه ؟

ځواب : کله چی اوړه خالص د غنمو وي او په دی کی بل څه نه وي ګډ شوي او مینه پاوکم دوه سیره ورکړی شي نو صدقه فطر ادا کیږي .

"(الفطرة نصف صاعٍ من بر او دقيق)" (هدایه اولین ج ۱ ص ۱۹۰ باب صدقة الفطر) همدغه راز که د هغه قیمت ورکړی شي نو بیاهم صدقه فطر ادا کیږي[1] ، خو که چیرته د میدی په اوړو کی بل څه ګډ شوی وي نو پاو کم دوه سیره ورکولو سره نه صدقه فطر ادا کیږي او نه هم د هغه قیمت کافي دی ،بلکی د خالص غنمونه دی صدقه فطر ادا کړی شي ،فقط والله اعلم بالصواب .

د صدقه فطر د ادا کولو وخت (۲) د فطرانی په پیسو د مدرسی لپاره زمکه اخستل :

(۲۵۱ سوال) " بر منګهم مسجد ترسټ " مسجد ته نژدی پر زمکه باندی د ماشومانو لپاره مسجد جوړول غواړي ، ځکه چی د ماشومانو د دیني تعلیم لپاره کوم معقول انتظام نشته ، که حالت همداسی پاتی شي نو آینده نسل به له دین نه پاتی شي ، له مونږ سره له پخوا نه د پیسو کمی دی لیکن د صدقه فطر په مد کی له مونږ سره کافي پیسی جمع شوی دي ، له تاسو نه پوښتنه دا ده چی ایا په دغو پیسو د مدرسی لپاره زمکه اخستلي شو او که نه ؟ بینوا توجروا (از انګلینډ) .

ځواب : د صدقه فطر حکم دا دی چی د اختر په ورځ له لمونځ نه مخکی ورکړی شي خو لدینه مخکی ورکول هم جائز دي که چا نه وي ورکړی نو ژر تر ژر دی د داد کولو

[1] ـ وجاز دفع القيمة فی زكات وعشر وخراج وفطرة . درمختار مع الشامی باب زكات الغنم ج ۱ ص ۲۸۵ .

کوشش کوي[١] ، ترینه ساقطیږي نه ، د دغه حکم باوجود له تاسو سره د صدقه فطر دومره ډیرې پیسې څنګه جمع شوی دي ؟ په دی باندی زما تعجب هم دی او افسوس هم . که چیرته واقعی ستاسی مالي حالت دومره کمزوری دی چی مدرسه نشي چورولی نو له دغو پیسو نه په شرعي حیلی کولو سره د مدرسی لپاره زمکه اخستلی شي ، له اضطراري حالت نه بغیر او له شرعي عذر نه پرته په حیله کولو سره دغه پیسی د زمکی د اخستلو لپاره استعمال جائز نه دي ، ځکه چی د صدقه فطر اصل حقدار فقراء او مساکین دي ، او په دی سره د هغوی حق تلفي کیږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

په زمیندار باندی صدقه فطر :

(۲۵۲ سوال) په صدقه فطر کی د زمکی اعتبار شته او که نه ؟ له یو سړي سره پنځوس هکتاره زمکه ده ، لدینه علاوه له هغه سره نه سره زر شته او نه هم سپین زر نو ایا په دی باندی صدقه فطر واجب ده او که نه ؟

ځواب : دا چی د هغه زمکه دخپل ځان او اهل او عیال له ګوزاری نه دومره زیاته ده چی قیمت یی نصاب ته رسیږي نو دغه زمکه دصدقه فطر په ورکولو لوی اعتبار لري یعنی صدقه فطرورباندی واجبه ده او که چیرته زمکه یی دومره وي چی ایله خپله ګذاره ورباندی کیږي نو بیا ورباندی صدقه فطر واجب نه ده ، البته د ثواب او فضیلت په خاطر د صدقه فطر ورکول ښه کار دی .

"تجب علی کل مسلم ذی نصابٍ فاضلٍ عن حاجته الاصلیة کدینه وحوائج عیاله وان لم یتم کمامر" (درمختار مع الشامی ملخصاً ج ۲ ص ۹۸ ، ۹۹ باب صدقة الفطر) فقط والله اعلم بالصواب .

که د موکل لیږل شوی پیسی له رسیدو نه مخکی وکیل له خپلو پیسو نه صدقه ورکړی نو ؟

(۲۵۳ سوال) له لندن نه یو سړي هندوستان ته دخپل ورور په نوم د صدقه فطر پیسی ولیږلی او دخط په ذریعه یی ورته خبر ورکړ چی دغه پیسی په غریبانانو وویشي ، مګر د

---

[١] وقت الوجوب عند طلوع فجر یوم الفطر .... والتاخیر مکروه . نور الایضاح ، باب صدقة الفطر ص ١٦٢

هغه ورور دپیسو له رسیدو نه مخکی له جیب نه صدقه فطر ورکړه ایا دهغه دا صدقه صحیح ده او که نه ؟

خواب دا چی د صدقه فطر دپیسو له رسیدو نه مخکی هغه له خپل جیب نه صدقه فطر ورکړی صحیح دي او صدقه فطر ادا شوی ده .

صدقه فطر نه معافیږي :

(۲۵۴ سوال) په کوم سړي باندی چی صدقه فطر واجب وي مګر هغه ادا نه کړي نو له اختر نه وروسته ترینه ساقطیږي او که ورکول یی لازم دي ؟

ځواب : د نصاب خاوند باندی صدقه فطر واجب ده برابره خبره چی سړی وي او که سته روژی یی نیولی وي او که نه وي نیولی ، په هر حال کی وربانـدی صـدقه فطر واجب ده ، سړی دی خپله صدقه او د خپلو نابالغو اولادو صدقه فطر ورکړي ، "(عن نفسه) متعلق یجب وان لم یصم لعذرٍ وطفله الفقیر" (شامی ج ۲ ص ۱۰۱ باب صدقة الفطر) .

په بڅی باندی د خپلو اولادو صدقه فطر واجب نه ده ، په کوم سړي باندی چی صدقه فطر واجب وي او هغه له اختر نه مخکی او وروسته ادا نکړي نو له هغه نه نه ساقطیږي ورکول یی ضروري دي که ورنکړي نو ګنهګاریږي : "(وان اخروها عن یوم الفطر لم تسقط وکان علیهم اخراجها)" (هدایة ج ۱ ص ۱۹۱ باب صدقة الفطر) .

دصدقه فطر مقدار دوه کیلو غنم او دری نیم کیلو اوربشی دي ، خوښه یی ده چی دا ورکوي او که د بازار قیمت په مطابق د هغه پیسی ورکوي د راشني قیمت اعتبار نه لري ، البته کوم ځلک چی له راشن دپو نه غنم تر لاسه کوي نو هغوی په صدقه الفطر کی دغه غنم ورکولی شي او که قمیت یی ورکوي نو د بازار د قیمت په حساب به پیسی ورکوي ، که چیرته د غنمو او له اوربشو نه علاوه نوره غله دانه لکه وریجی ، جوار ، مسور ، باجرا ، چنه ورکوي نو دومره دی ورکړي چی پاوه کم دوه کیلو غنم یا د دری نیمی کیلو اوربشی قیمت په برابر وي ، که پیسی ورکول غواړي نو پاوکم دو کیلو غنم یا دری نیمی کیلو اور بشی په برابر دی ورکړي ، "(نصف صاع) فاعل یجب من بر او دقیقه او سویقه او زبیب او صاع تمر او شعیر) ولو ردیئاً وما لم ینص علیه کذرة

وخبز یعتبر فیه القیمة (درمختار ملخصا) (قوله ولو ردیئا) قال فی البحـــر واطلـــق نصف الصاع والصاع ولم یقیده بالجید لانه لو ادی نصف صاع ردی جـــاز (الی قوله) وان ادی قیمة الردی ادی الفضل کذا فی الظهیریـــة اه" (شـــامی ج ۲ ص ۱۰۳ باب صدقة الفطر) (بهشتی زیور حصه ۳ ص ۳٦) .

یو فقیر ته یوه صدقه فطر ورکول اولی دي ، لدینه کم ورکول هم صحیح دي ، همدغه راز له یو نه زیات ورکول هم جائز دي .

مستحب ان است که یک فقیر را ان قدر دهد که دران زور محتاج سوال نباشـد (مالا بد منه ص ۸۱) .

"ویجوز دفع ما یجب علی جماعة الی مساکین واحد عالمگیری ج ۱ ص ۱۹۳ ایضاً

صدقه فطر یو عبادت دی چی باید ښه په خوشالی سره ورکړی شـي تـر څـو لـه غریبان سره مرسته وشي . او په روژه کی چی کوم کوتاهي شوی وي د هغه کفاره هم ګرځـي لدینه علاوه د مرګ په وخت کی آساني او دقبر له عذاب نه نجات هم په دی کی مضمر دی ، کوم سړی چی صاحب نصاب نه وي یعنی پر چا چی صـدقه فطـر واجـب نـه وي هغه هم د دی په ادا کولو سره ثواب او فضیلت تر لاسه کـولی شـي ، فقـط والله اعلم بالصواب .

ایا مالداری سړی نفلي صدقه اخستلی شي ؟

(۲۵۵ سوال) ایا دولت مند سړی نفلي صدقه آخستلی شي او که نه ؟

ځواب : هو مالدار سړی نفلي صدقه آخستلی شي ، "قوله علیه السلام لا تحل صـــدقة لغنی خرج النفل منها لان الصدقة علی الغنی هبة" کذا فی البدائع (بحر الرائق ج ۲ ص ۲٤٥ باب صدقة الفطر) .

د صدقه فطر حیله:

(۲۵٦ سوال) زمونږ په علاقه کی خلک وایي چی صدقه فطر پـه مالـدار او غریـب دواړو باندی واجب دی ، لدینه علاوه خلک دا هم وایي چی که یو سړی دصدقه فطر ورکولو طاقت نه لري نو خاوند دی خپلی ښځی ته صدقه فطر ورکړي او هغـه دی بیرتـه خپل خاوند ته ورکړي ، ایا په دا قسم حیلی کولو سره صدقه فطر ادا کیږي ؟

ځواب : صدقه فطر په هغه چا باندی واجب دی چی مالدار او صاحب د نصاب وي
"صدقة الفطر واجبة على الحر المسلم اذا كان مالكا لمقدار النصاب الخ" (هدايه ج ۱۰ ص ۱۸۸ باب المصرف) .

له چا سره چی په دی ورځ د نصاب په برابر مال موجود نه وي پر هغه صدقه فطر واجب نه دی ، لهذا د حيلی هيڅ ضرورت نشته . په کومو خلکو چې صدقه فطر واجب نه وي او هغه د زړه د تسلي لپاره په سوال کی ذکر شوی طريقی مطابق حيله وکړي نو هغه لپاره د دی جواز شته .

خپل صدقه فطر ، خپل اولاد ، لمسيانو او کړوسيانو . همدغه راز خپل مور او پلار نيکه او نيا ته ورکول جائز نه دي ، همدغه راز دا هم جائز نه دي چی خاوند خپلی ښځی ته او ښځه خپل خاوند ته صدقه فطر ورکړي .

"ولا الى من بينهما ولاد ولو مملوكا لفقير او بينهما زوجية الخ" درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۳٤٦ باب صدقة الفطر .

کتاب الصوم

د روژی په باره کی معلومات

د رمضان شریف د روژو نیت دی جدا جدا وکړی شي :

(۲۵۷ سوال) د رمضان شریف د روژو نیت دی له رمضان نه وکړی شي او که د هری ورځی جدا جدا نیت کول ضروري دي ؟

ځواب د هری ورځی جلا نیت[1] کول یعنی اراده کول ضروري دي ، د ټولو روژو لپاره د رمضان په شروع کی شوی نیت کافي نه دی ، په " ما لا بد منه " کی دي : " ونزد ائمه ثلاثه هرسی (۳۰) رمضان را هر شب نیت علیحده علیحده شرط است ، ونزد مالک برای تمام رمضان شب اول یک نیت کافی است " (ص ۹۲) فقط والله اعلم بالصواب .

د روژی حکمتونه او فایدې :

(۲۵۸ سوال) په روژه کی څه حکمتونه او فایدې دي ؟

ځواب د روژی بی حساب حکمتونه او فایدې دي ، له هغوی نه یوه خاص حکمت او فایده دا ده چی نفس اماره دهغه له تقاضو او خواهشاتو نه د منع کولو عادي ګرځوي او نفس په قابو کی راولي تر دی هغه شرعي احکام چی په نفس باندی ګران تمامیږي هغه نهایت آسان کیږي ، او د تقوی د اختیارولو استعداد پیدا کیږي . الله تعالی فرمایي: "یاایها الذین امنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون" (سورة بقرة رکوع ۲۳) .

ای مؤمنانو ! پر تاسو روژی فرض کړی شوی دي لکه څرنګه چی له تاسو نه مخکینو خلکو باندی فرض کړی شوی وی تر څو تاسوی متقي او پرهیزګاران شئ .

---

[1] له نیت نه مراد اراده ده ، یواځی اراده پکار ده او په ژبی سره د نیت کولو ضرورت نشته . مثلا کوم سړی د روژی په میاشت کی د شپی په وخت بیهوشه شو او تر څلورو ورځو بیهوش پروت و نو د لومړی ورځی روژه یی خو کیږي هله چی څه خوراک څښاک یی نه وي کړی خکه چی په لومړی ورځ که څه هم هغه په ژبه نیت نه دی کړی مګر ظاهر همدا دی چی د هغه اراده وه چی سهار ته به روژه نیسي لهذا دهغه روژه وشوه . خو لدینه وروسته د دریو ورځو روژی نه کیږي ځکه چی د هغه اراده نه وي (رد المختار جلد ۲ ص ۱۶۸).

روژه د روح غذا ده . په روژی سره روح قوي کیږي ، دنفساني غوښتنو دختمولو او د روح دصفايي لپاره له روژی نه زیات بل کوم څیز مفید نه دی دروژی په وجه د روحانیت دروازه خلاصیږي ، په عبادت کی نشاط او چستي تر لاسه کیږي نو څکه دیندار خلک وایي

"اندر از طعام خالی دار تادران نور معرفت بینی"

د روژی په وجه الهي قرب حاصلیږي ، په معتبرو کتابونو کی دي چی محمد صلی الله علیه وسلم الهي دربار کیعرض وکړ : یااله العلیمه ! بنده کله تا ته نژدی کیږي ؟ هغه جل جلاله ورته وفرمایل چی کله بنده وږی تږی شي او کله چی بنده په سجده کی وي . د روژی یو حکمت دا هم دی چی روژه دار د خدواندي صفاتو له جلوی نه منور کیږي څکه چی د الله تعالی ذات له خوراک څښاک او خواهشاتو نه پاک دی ، روژه دار هم د خوراک څښاک او خواهشاتو څخه بی نیازه کیږي ، لدینه علاوه یو حکمت دا هم دی ، چی روژه دار له پرښتو سره مشابه کیږي ، د پرښتو غذا د الله ذکر دی ، په روژی سره د الله تعالی د شکر د ادا کولو موقع تر لاسه کیږي . د روژی په وجه د وږو تږو خلکو قدر او د انسانی همدردی جذبه پیدا کیږي .

د روژی په وجه جسماني ناروغی ختمیږي بالخصوص بلغمي مزاج لروونکو لپاره خو اکسیر دی ، روژه د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د رضا او اخروي نجات لپاره حتمی ذریعه ده ، لکه چی الهي ارشاد دی : "الصوم لی وانا اجزی به" روژه خاص زما لپاره ده او زه پخپله دهغی بدله او عوض ورکوم (حجة الله البالغة ص ١٥٤ ج ١ باب اسرار الصوم) د زرګونو حکمتونو له جملی څخه یو حکمت دا هم دی چی د روژی په وجه د الهي حکم تعمیل او د هغه رضا او خوشالي تر لاسه کیږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د شوال د میاشتی شپږ ورځی :

(۲۵۹ سوال) د روژی له میاشتی نه وروسته په شوال کی شپږ ورځی روژی ساتل کیږي هغه دی مسلسل ونیول شي او که متفرق نیول هم صحیح دي ؟

ځواب : د شوال د میاشتی د شپږ روژو ډیر لوی فضیلت راغلی دی ، د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : هر چا چی د رمضان له روژو نه وروسته دشوال

شپږ ورځې روژې ونیسي نو د پوره کال د روژو نیولو په برابر دي . لیکن دا ضروري نه دي چې له اختر نه وروسته متصل په دویم ورځ ونیسي او دا هم ضروري نه دي چې مسلسل یې ونیسي . جلا جلا هم نیولی شي ، په درمختار کې دي :
"وندب تفریق صوم الست من شوال ولایکره التتابع علی المختار"(درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۱۷۱ مطلب فی صوم الست من شوال) وصوم ست من شوال ثم قیل الافضل وصلها وقیل تفریقها" (نور الایضاح ص ۱٤۵ کتاب الصوم فصل اقسام الصوم) .

د روژې په میاشت کې روژې نه نیول او بښکاره خوراک څښاک کول :

(۲٦۰ سوال) د روژې په میاشت کې له شرعي عذر نه پرته روژه نه نیول او په ښکاره د خلکو په مخکې خوراک څښاک کولو کې څه حکم دی ؟
ځواب : داسې سړی فاسق او د اسلامي شعار توهین کوونکی دی ، که چیرته خلیفه موجود وي نو هغه دی داسې بې باکه او بې حیا انسان ته د قتل سزا ورکړي . په درمختار کې دي : "ولو اکل عمداً شهرة بلاعذر یُقتل"
کوم سړی چې له څه شرعي عذر نه بغیر روژې ونه نیسي او قصداً ښکاره خوراک څښاک وکړي نو د اسلام د خلیفه په حکم دی هغه قتل کړی شي (شامي ص ۱۵۱ ج ۱۲) فقط والله اعلم بالصواب .

که یو سړی لمونځ او تراویح ولولي او روژه ونه نیسي دهغه حکم څه دی ؟

(۲٦۱ سوال) یو سړی لمونځ او تراویح ولوست مګر روژه یې له څه شرعي عذر نه پرته ونه نیوله . ایا د هغه دغه لمونځ او تراویح د الله په نزد مقبول دي او که نه ؟
ځواب دهغه لمونځ او تراویح دواړه مقبول دي او د ثواب حقدار دي ، لیکن د روژو د نه نیولو له کبله سخت ګنهګار او فاسق دی ، والله اعلم بالصواب .

د روژی په میاشت کی د ورځی هوټل خلاص ساتل

(۲٦۲ سوال) د روژی په ورځو کی هوټل خلاص ساتل څنګه دي ؟ هوټل ته له څه تفریق نه بغیر د هر مذهب او ملت خلک راځي ، که چیرته خلاص ساتل جائز وي نو ایا یواځی د غیر مسلمو لپاره خلاصولی شو ؟ بینوا توجروا

ځواب د روژی د میاشتی د احترام په خاطر د ورځی په وخت د خوراک څښاک هوټل بند ساتل ضروري دي ، اګر که خوراک څښاک کوونکي د هر مذهب وي . فقط والله اعلم بالصواب .

د روژی په حالت کی غسل کولو په وخت کی غړغړه کول او پوزه کی د اوبو خیژولو حکم

(۲٦۳ سوال) د یو سړي دروژی په حالت کی احتلام وشو ، د روژی په حالت کی د غسل کولو په وخت غړغړه ونه کړ او نه په پوزه کی بره اوبه وخیژولی ایا دهغه غسل وشو او که نه ؟ ایا له غسل نه وروسته چی کوم لمونځ یی کړی دی هغه ادا شوی دی او که نه ؟

ځواب : روژه دار لپاره غړغړه او پوزی ته اوبه خیژول نشته ځکه چی په دی سره د روژی دماتیدو ویره ده .

په مراقی الفلاح کی دي : "(ولیس المبالغة فی المضمضمة) وهی ایصال المـاء لرأس الحلق والمبالغة فی (الاستنشاق) وهی ایصاله الی مافوق المارن(الغیر الصائم) والصائم لایبالغ فیهما خشیة افساد الصوم لقوله علیه الصلواة والسلام بالغ فی المضمضة والاستنشاق الا ان تکون صائماً (مراقی الفلاح) (قوله والمبالغة) فیهما هی سنة فی الطهارتین علی المعتمد وقیل سنة فی الوضوء واجبة فی الغسل الا ان یکون صائماً" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۹ فصل فی سنن الوضوء) .

لهذا کوم لمونځ یی چی کړی دی هغه صحیح دی د بیا کولو ضرورت نشته ، فقط والله اعلم بالصواب .

د روژی په مبارک میاشت کی د ورځی په وخت کی هوټل خلاص ساتل

(۲٦۳ سوال) زما د دوست یو هوټل دی هغه د روژی په میاشت کی د ورځــی پــه وخت خلاص ساتل غواړي ، هغه وایي چی کوم خلک روژه دار نه دي هوټل ته د هغوی ضرورت پیدا کیږي ایا د روژو په ورځو کی د هوټل خلاص ساتل جائز دي ؟
ځواب د روژی د میاشتی د احترام په خاطر د ورځی په وخت د هوټل بندول ضروري دي ، په هوټل کی خوراک څښاک کوونکي که هر څوک وي ، بایـد هوټـل خلاص ونه ساتل شي . دامبارکه میاشت د الله تعالی له شعائرو څخـه دی او د الله تعالی د شعائرو احترام ضروري دی ، په قرآن کریم کی دي : ومن یعظم شعائر الله فانها من تقوی القلوب" لهذا که چیرتـه د روژی پـه میاشـت کـی هوټـل خـلاص پریښودلی شي نو د روژي د میاشت اهانت کیږي او حرمت یی باقي نه پاتی کیږي ، د هوټل خلاصوونکی سخت ګنهګاریږي ، البته ماښام د روژه ماتي نه لـږ غونـدی مخکی که څوک له هوټل نه د روژه ماتي لپاره حلیم ، فیرني ، سموسـی او داسـی نور شیان وړل غواړي نو خیر دی ځکه چی دا د افطاري لپـاره وړل کیـږي ، فقـط والله اعلم بالصواب .

که ملازمین د لمونځ او روژی پابندي ونکړي نو مالک یی ذمه وار دی او که نه ؟

(۲٦۵ سوال) په هوټل کی نوکران دي ، که هغوی لمونځ نه کـوي او د روژی پـه میاشت کی د روژو اهتمام نه کوي نو د هوټل مالک باندی په اُخـروي لحـاظ څـه ذمه واري شته او که نه ؟ دهغوی کار او ډیوټي د لمونځ په وخت کی وي ، که پـه دی وخت نوکر پخپله هم لمونځ ته لاړ نشي ، او مالک هم ورته څه ونه وایي نو په دی صورت کی مالک ذمه وار دی او که نه ؟
ځواب : که چیرته د هوټل د کار په وخت کی د لمونځ وخت راشـي نـو پـر مالـک باندی ضروري دي چی خپل ملازمین د لمونځ لپاره ولیږي ، که چیرته هغه د خپل مفاد په خاطر څه ورته نه وایي نو هغه هم په اُخروي لحاظ سره مسئول او ذمه وار دی

په حدیث کی دي "کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته" له تاسو نه هر یو تن راعي (شپونکی) دی او له هر یو نه د هغوی د ماتحت په باره کی پوښتنه کیږي . لهذا د هوټل مالک لپاره ضروري ده چی اخروي مسئولیت او ذمه واري په نظر کی ونیسي . پخپله هم دلمونځ پابندي وکړي او خپلو ماتحتو ته هم د لمونځ او روژی د پابندی تاکید وکړي . فقط والله اعلم بالصواب

د تعلیم د مشکلاتو په وجه د روژی د میاشتی روژی پریښودل:

(۲٦٦ سوال) مونږ مسلمانان ځوانان په کالج کی سبق وایو ، د روژی د میاشتی روژی پر مونږ فرض دي ، مونږ د روژو په نیولو قادر هم یو لیکن د روژه په وجه زمونږ تعلیم پر مونږ ګران تمامیږي ځکه چی د سهار له یولسو بجو نه د ماښام شپږو بجو پوری د تعلیم وخت وي او یو میاشت وروسته زمونږ د سند امتحان دی دی لپاره مکمل تیاري پکار دی ، خو دا روژی د میاشت نه علاوه له مونږ سره د تعلیم بل وخت نشته ، که چیرته مونږ په امتحان کی ناکام شو نو مونږ ته لوی نقصان رسیږي ، نو په داسی صورت حال کی مونږ د قضاء د نیولو په نیت د روژی د میاشتی نه نیسو ایا په محمدي (صلی الله علیه وسلم) شریعت کی د دی ګنجائش شته او که نه ؟

خواب . په مسئوله صورت کی د روژی د میاشتی پریښودلو اجازه نشته اګر چی د قضاء راوړلو نیت لرئ که له شرعي عذر نه پرته د روژی دمیاشتی روژو پریښودلو سره کوم نقصان کیږي د هغه تلافي ټول عمر روژو نیولو سره هم نه کیږي ، په حدیث شریف کی دي : "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من افطر یوماً من رمضان من غیر رخصةٍ ومرضٍ لم یقض عنه الصوم الدهر کله وان صامه" .

چا چی له شرعي رخصت او ناروغی نه پرته عمداً د رمضان شریف روژی ونه نیولی که دهغه په عوض ټول عمر هم روژی ونیسي بیا هم د هغه بدله نشي پوره کولی (مشکواة ص ۱۷۷) .

د روژی ماتولو عذرونه په لاندی ډول دي :

ناروغي يا د ناروغى د اوږديدو ويره وي .
(٢) مسافر كيدل
(٣) اكراه يعنى زبردستي
(٤) حامله دار ښځه يا شيدى وركونكى ښځه چى خپل ځانته يا په ګيډه كى حمل ته د نقصان رسيدو ويره وي .
(٥) د زياتى لوږى او تندى نه دهوش او حواس د ختميدو او د هلاكت ويره وي .
(٦) ډير بوډاتوب .
(٧) د حيض او نفاس په حالت كى روژه نيول ممنوع دي .
(٨) كه له كفارو سره د جنګ په وخت كى د كمزورى كيدو ويره وي نو هغه لپاره د روژى ماتولو كى ګنجائش شته دى .
"فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم وقد ذكر المصنف منها خمسةً وبقى الاكراه وخوف هلاك او نقصان عقل ولو بعطش او جوع شديد ولسعة حيه (لمسافر) سفراً شرعياً ولو بمعصية (او حامل او مرضع) اما كانت او ظئر اعلى الظاهر (خافت بغلبة الظن على نفسها او ولدها) او مريض خاف الزيادة) لمرضه وصحيح خاف المرض (درمختار) قال الشامى وفى الخلاصة الغازى اذا كان يعلم يقيناً انه يقاتل العدو فى رمضان ويخاف الضعف ان لم يفطر افطر هر" (درمختار مع الشامى فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ج ٢ ص ٤٢١ تا ص ٤٢٢) واذا حاضت المرأة او نفست افطرت وقضت (هدايه ج ١ ص ٢٢٤ فصل فى افطار الصوم) فقط والله اعلم بالصواب .

د روژى نيت دى په كومه ژبه وكړي ؟

(٢٦٧ سوال) د روژى نيت په خپلى مورنى ژبه كى لكه اردو ، ګجراتي ، او نورو ژبو كى كولى شو او كه نه ؟
خواب : د روژى په نيت كى په ژبى سره الفاظ ادا كول ضروري نه دي ، صرف د زړه اراده كافي ده ، پخپل ژبه يا په عربي كى په ژبه نيت وكړي نو بهتر دي منع

نه دي . "والسنة ان يتلفظ بها (اى النية) كذا فى النهر الفائق" فتاوى هنديه ج ۱ ص ۱۹۵ كتاب الصوم . فقط والله اعلم بالصواب .

دسپوږمۍ د ليدلو خبر ټيلګراف په ذريعه معتبر دی او که نه ؟

(۲٦۸ سوال) د خط او ټيلګراف په ذريعه معلوم شو چې په ځينو ځايونو کې خلکو په ۲۹ تاريخ د سپوږمۍ په حساب سره د هفتې په ورځ اختر کړی دی او زمونږ په علاقه کې د يکشنبې په ورځ اختر وشو ايا مونږ د اختر د فضيلت او ثواب حقدار ګرځو او که نه ؟

ځواب : په پورتني ذکر شوي صورت کې چې د خط او ټيلګراف په ذريعه کوم خبر رسيدلی دی هغه ناکافي دی ځکه چې دا شرعي حجت نه دی لهذا په داسې خبر سره اختر کول صحيح نه دي ، په ترمذي شريف کې دي :

"اخبرنى كريب ان ام الفضل بنت الحارث بعثته الى معاوية بالشام قال فقدمت الشام فقضيت حاجتها واستهل على هلال رمضان وانا بالشام فرأينا الهلال ليلة الجمعة ثم قدمت المدينة فى اخر الشهر فسألنى ابن عباس رضى الله عنه ثم ذكر الهلال فقال متى رأيتم الهلال فقلت رأيناه ليلة الجمعة فقال انت رأيته ليلة الجمعة فقلت رأه الناس فصاموا وصاما معاوية رضى الله عنه فقال لكن رأيناه ليلة السبت فلا نزول نصوم حتى نكمل ثلثين يوماً او نراه فقلت الا تكتفى برؤية معاوية وصيامه قال لا هكذا امرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم" باب ما جاء لكل اهل بلد رؤيتهم ج ۱ ص ۱٤۸ .

لنډه دا چې حضرت ابن عباس رضى الله عنه له حضرت کريب رضى الله عنه څخه د روژې په مياشت کې چې هغه له شام نه مدينې منورې ته راغی تپوس وکړ چې تاسې هلته کله سپوږمۍ وليدله ؟ هغه رضى الله عنه ورته وويل چې د جمعې په شپه، ابن عباس رضى الله عنه ترينه پوښتنه وکړه تا پخپله هم سپوږمۍ ليدلې وه ،

هغه وویل نورو هم ولید او روژه یې ونیوله او حضرت معاویه رضی الله عنه هم روژه ونیوله

حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل موږ د هفتې په شپه سپوږمۍ ولیدله اوپه همدې حساب سره دیرش روژې پوره کوو ، مګر دا چې سپوږمۍ ولیدل شي . حضرت کریب رضی الله عنه عرض وکړ ایا تاسې د حضرت معاویه رضی الله عنه روایت او دهغو په روژه باندې کفایت نه کوئ ، هغه رضی الله عنه وویل نه ، موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم همداسې حکم کړی دی (ترمذي شریف ج ۱ ص ۸۷)

په مذکوره واقعه کې دحضرت کریب رضی الله عنه بیان د رویت هلال په مسئله کې د شرعي قانون په چوکاټ کې پوره راتللو ، لهذا حضرت ابن عباس رضی الله عنه هغه قبول نه کړ همدغه راز ټیلفون ، یا د خط په ذریعه چې کوم خبر رسیدلی په شرعي نقطه نظر سره ناکافي دی . لهذا د یکشنبې په ورځ باید اختر وکړی شي ، په دې کې هیڅ نقصان او خرابي نشته ، ستاسې په علاقه کې چې په کوم ورځ اختر کیږي د اختر ثواب او فضیلت په همدې ورځ تاسو ته حاصلیږي .

"عن ابی هریرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال الصوم یوم تصومون والفطر یوم تفطرون والاضحی یوم تضحون" باب ماجاء ان الفطر یوم تفطرون الخ ترمذي ص ۱۵۰ .

له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د روژې عید الفطر او عید الاضحی ورځې همغه دي کوم چې تاسې د وروکي اختر یا لوی اختر وګرځوئ ، هغه هر چیرته مسلمانانو ته په هغه ورځو کې تر لاسه کیږي چې د هغوئ په علاقه کې له شرعي تحقیق نه وروسته فیصله شي ، لهذا دشک او شبهې کولو ضرورت نشته ، مګر احتیاطاً تر دوشنبې پورې له قربانۍ نه فارغیدل اولی او افضل دي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د محرم د میاشتې د لیدلو لپاره څومره ګواهان کافي دي :

(۲۶۹ سوال) دمحرم د میاشتې د ثبوت لپاره د څومره ګواهانو ضرورت دی ؟

ځواب . دوه عادل معتبر سړي یا یو عادل سړي او دوه ښځو ګواهي ضروري دي ، په نور الایضاح کې دي :

"ویشترط لبقیة الاهلة شهادة رجلین عدلین او حر و حرتین غیر محـــدودین فی قذف" نور الایضاح ص ۱۵۰ فصلٌ فیما یثبت به الهلال .

د لمر له پری وتلو نه مخکی چې سپوږمۍ ولیدل شي هغه معتبر نه دی

(۲۷۰ سوال) د لمر له ډوبیدو نه څلور دقیقی وړانـدی مـو سـپوږمۍ ولیدلـه زیـد وویل چې سپوږمۍ می ولیدله لهذا روژه دی ماته کړی شي ، نو بکر انکار وکړ خـو د زید په وینا پنځلس شلو کسانو روژه ماته کړه ، ایا دغو روژه ماتوونکو روژه وشـوه او که نه ؟ بکر وایي چی ستاسی روژه نه ده شوی قضایی یی راوړئ تاسـی مفصـل ځواب راکړئ .

ځواب : د لمر له پری وتلو نه مخکی د رویت هلال هیڅ اعتبار نشته هغه د روژی د میاشتی روژه ده نه د اختر ورځ [1] ، اوس چا چی په دی خیال روژه ماته کړی چـی لمر پری وتی دی نو څکه سپوږمۍ ولیدل شو نو پر هغوی صرف د یوی روژی قضاء لازم دی او کوم چی پوهیدل چی لمر نه دی پری وتی او روژه یی ماته کړه نو پـر هغوی له قضاء سره کفاره هم لازمه ده ، فقط والله اعلم بالصواب .

که یوازی یو سړی ۲۹ مه میاشت وګوري نو ؟

(۲۷۱ سوال) زمونږ د کلي پال قـدیم امـام لـه مـا لابـار علاقـی څخـه د ۲۹ مـی سپوږمۍ په حساب سره د دوشنبی په ورځ روژه نیولی او دلته راغلي دي ، زمونږ د دیرشمی سپوږمۍ په حساب سره ۲۹ روژی شوی دي او د هغـه پـوره دیـرش روژی شوی دي اوس دلته ، د اختر سپوږمۍ نه ده لیدل شوی نو هغه دی سبا څه وکړي ، روژه ونیسي او که نه ؟

ځواب : په مسئوله صورت کی که نن سپوږمۍ ونه لیدل شي نو هغه دی هم له ټولو سره سبا روژه ونیسي او له ټولو سره دی اختر وکړي ، شامي ج ۲ ص ۱۲۳ [2]

---

[1] ــ ولاعبرة برویة الهلال نهاراً سواء کان قبل الزوال او بعده وهو اللیلة المستقبلة فی المختار نور الایضاح

که د ورځې په وخت سپوږمۍ ولیدل شي ؟

(۲۷۲ سوال) په یو کتاب کې زما له نظره یوه مسئله تیره شوه چې څوک د لمر پرې وتو نه دوه ساعته مخکې سپوږمۍ ووینې نو هغه دې روژه ماته کړي . مهرباني وکړئ حواب راکړئ چې هغه روژه ماتولی شي او که نه ؟

خواب مذکوره مسئله صحیح نه ده که د لمر پرې وتو نه مخکې سپوږمۍ ولیدل شي نو روژه ماتول جائز نه دي . "ولاعبرة برویة الهلال نهارا سواء کان قبل الزوال او بعده وهو اللیلة المستقبلة فی المختار" نور الایضاح ص ۱۵۰ فصل فیما یثبت الهلال وفتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۹۷

د وړوکي اختر لپاره د ریډیو په ذریعه اطلاع ورکول :

(۲۷۳ سوال) که چیرته د وړوکي اختر خبر د ریډیو په ذریعه ورسید مګر په دې ورځ د خلکو نیت او پرک کیدو په وجه د اختر لمونځ ونه شو نو په بله ورځ د اختر لمونځ لوستلی شو او که نه ؟ زیاترو خلکو روژه ماته کړی ده ، ایاکومو خلکو چې د ریډیو په خبر سره روژه ماته کړی ده پر هغوی باندې قضاء لازم دی او که نه ؟ خواب یې ولیکئ؟

خواب : که چیرته ستاسې په علاقه کې مطلع (اسمان) پاک و او بیا هم سپوږمۍ ونه لیدل شو د رادیو په خبر مو روژه ولې ماته کړه ؟ په مسئوله صورت کې د دغې ورځې روژې به قضائي راوړي ، خو که په شرعي دلیل سره د سپوږمۍ د لیدلو ثبوت تر لاسه شي نو بیا قضا راوړل ورباندې نشته ، او بله ورځ دې د اختر لمونځ ولولي . که چیرته د لومړې په ورځ د عذر په وجه اختر لمونځ ترینه پاتې شو نو په دویم ورځ یې لوستلی شي ، خو د عید الاضحی لمونځ تر دریمې ورځ پورې کولی شي . د ریډیو او تلګراف په ذریعه راغلی خبر په وجه روژه ماتول او اختر لمونځ کول جائز نه دي ځکه چې دا شرعي دلیل نه دی .

په ترمذي شریف کې دي چې کله حضرت ابن عباس رضی الله عنه له کریب رضی الله عنه نه چې له شام نه د روژې په میاشت کې مدینې ته تشریف راوړی و نو تپوس یې ترینه وکړ چې تا پخپله سپوږمۍ لیدلې ده ؟ هغه ووېل نه مانه ده لیدلی ، نورو ولید او روژه یې ونیوله او حضرت معایه رضی الله عنه هم روژه ونیوله ، حضرت

ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل : مونږ سپوږمی د هفتی په شپه لیدلی ده او په همدی حساب سره به دیرش روژی پوره کوو مګر دا چی سپوږمی ووینو . حضرت کریب رضی الله عنه عرض وکړ چی ستا لپاره د حضرت معاویه رضی الله عنه سپوږمی لیدل کافي نه دي . هغه رضی الله عنه وفرمایل نه ! مونږ ته د الله رسول صلی الله علیه وسلم همداسی هدایت کړی دی . باب ما جاء لکل اهل بلد رویتهم ج ۱ ص ۱۷۸ فقط والله اعلم بالصواب

د رویت هلال په متعلق نور تحقیقات :

(۲۷۴ سوال) مونږ ته د اخبار په ذریعه خبر رسیدلی دی چی په بمبی کی د اختر سپوږمی لیدلی شوی ده ، د هغه ښار قاضي اعلان کړی دی چی سبا ته به اختر وي ، یو بل سړي خبر راوړ چی د مراچهاکي دوه دری کسانو سپوږمی لیدلی ده . په دی خبر باندی د کلي خلکو روژه ماته کړه او د اختر لمونځ یی ادا کړ ، سوال دا دی چی د دا قسم خبر په ذریعه روژه ماتول او اختر کول صحیح دي ؟ دوه کسان په اعتکاف کی ناست وو هغوی روژه ماته نه کړه او نه یی د اختر لمونځ ادا کړ . په کوم مسجد کی چی د اختر لمونځ ولوستل شو همغلته اعتکاف کوونکي حضرات په یو کونج کی ناست وو ، بیا په دویم ورځ چکلي نومی علاقی ته لاړل او هلته یی د اختر لمونځ ولوست هغوی لپاره څه حکم دی ؟ په تفصیل سره ځواب راکړئ . جزاکم الله عنا .

خواب هو الموفق للصواب . رمضان المبارک ، عید الفطر او عید الاضحی د نورو قومونو رسمونو په شان صرف رسمونه نه دي ، بلکی دا عبادات هم دي ، او د دی وختونه هم مقرر دي له وخت نه وړاندی ادا کول صحیح نه دي د وختونو دار مدار په رویت هلال (د سپوږمی لیدلو) پوری دی ، لکه چی نبوي (صلی الله علیه وسلم) فرمان دی :

"لاتصوموا حتی تروا الهلال ولاتفطروا حتی تروه فان غم علیکم فاقدروا" .

تر هغه روژه مه نیسئ تر څو مو چی سپوږمی نه وي لیدلي او تر هغه روژه مه ماتوئ تر څو پوری مو چی د شوال سپوږمی نه وي لیدلي ، که چیرته سپوږمی د وریځو او غبار په وجه نه لیدل کیده نو دیرش ورځی پوره کړئ ، صحیح بخاري شریف پ ۱۲۷ ص ۲۵٦ باب قول النبی صلی الله علیه وسلم اذا رایتم الهلال فصوموا . الخ .

د فقهي مسئله ده چې کله څو تنه له کوم نامعلوم ځای نه له قرائنو او فکر په ذریعه د کعبې شریفې سمت وټاکي ، له څلور کسانو څخه هر یو له خپلې خپلې ډلې سره مختلفو سمتونو په طرف لمونځ کوي او هر یو دا عقیده لري چې صحیح سمت همدا دی ، نو کوم طرف ته چې مخ کړي او لمونځ ولولي نو دڅلورو واړو لمونځ صحیح دی

"فاذا کان اربعة انفس یصلی کل واحد بطائفة الی اربع جهات لاعتقادهم ان الکعبة ذلك فان صلواة الاربعة صحیحة" الخ فتاوی ابن تیمیه ج ۲ ص ۲۰۲ . غرض دا چې د شرعي فیصلې په مطابق په کوم ورځ تاسې روژه نیسئ او اختر کوئ همغه ورځ ستاسې لپاره د رمضان او اختر ورځ ده ، الله تعالی چې د ثواب او برکتونه د روژې او د اختر په کومو ورځو کې ایښې دي هغه تاسو ته هم حاصلیږي او یوه ذره یکې هم نه کمیږي بیا نو په افواهاتو باندې د پریشان کیدو او بې صبرۍ څه ضرورت دی ؟

بنا په دی که چیرته په دی کال په سعودي عرب کې د جمعې په ورځ اختر وشو او په بغداد کې د هفتې په ورځ ، پاکستان کې د یکشنبې په ورځ او هندوستان کې د دوشنبې په ورځ نو دا ټول اخترونه صحیح او مقبول دي او کومو خلکو چې د شرعي ضابطې او ګواهۍ نه بغیر د شرعي حجت په خلاف اختر وکړ هغه مشکوک دی والعلم عند الله .

لدی مختصر تمهید نه وروسته ستا د سوال ځواب دا دی وېې ولولئ :

(۱) اخباري اطلاع او د یو نین له خوا خبر ورکول چې په دهمراچه کې دوه درې کسانو سپوږمۍ لیدلې ده دا په طریق موجب او شهادت په قسم کې داخل نه دي او نه هغه ته خبر مستفیض ویل کیدای شي .

"قال الرحمتی معنی الاستفاضة ان تأتی من تلك البلدة جماعات متعددون کلهم منهم یخبر عن تلك البلدة انهم صاموا عن رؤیة لامجرد الشیوع من غیر علم بمن اشاعه الخ" (شامی ج ۲ ص ۱۲۹ کتاب الصوم) .

د علامه رحمتي تحقیق دا دی چې د استفاضې مطلب دا دی چې په کوم ښار کې سپوږمۍ لیدل شوی دی له هغه ځای نه مختلفې ډلې راغلي او هر یوی ډلې دا

گواهي ورکړه چې د دی ښار مسلمانانو د سپوږمۍ په لیدلو سره اختر کړی دی محض د خبر خوریدل او دا هم پته نه وي چې د دی خبر راوي څوک دی استفاضه نه وي ، لهذا په داسی حالت کی چی آسمان صفا او شین وي مګر بیا هم څوک سپوږمۍ ونه ویني خو دغیر معتبر خبرونو په وجه روژه نه نیول او یا هم د روژی ماتول او اختر کول څنګه صحیح کیدای شي ؟

په داسی صورت کی د جم غفیر او کثیر مجمعي ګواهی ضروري دی چې د هغوی د ویلو په وجه قاضي یا مفتی ته د سپوږمۍ د لیدلو یقین یا غالب ګمان پیدا شي او قوي شبهه پکی پاتی نشي ، په هدایه کی دي :

"وان لم یکن بالسماء علة لم تقبل الاشهادة جماعة یقع العلم بخبرهم" .

یعنی د مطلع د صفا کیدو په صورت کی د یو داسی ډلی شهادت قبلیدلی شي چې دهغوی په ګواهی باندی اطمنان حاصل شي ، هدایه ج ۱ ص ۱۹٦ قبیل باب ما یوجب القضاء والکفاره) الجم الغفیر یقع به العلم فی هلال الصوم والفطر والاضحی (رسائل الارکان ص ۲۰۷ فصل یفترض علی المکلف الخ) .

او په ما لا بد منه کی دي :

" واګر مطلع صاف باشد در رمضان وشوال جماعت عظیم می باید "

که چیرته مطلع (آسمان) شین وي نو رمضان او عید الفطر سپوږمۍ لپاره د لوی ډلی ګواهي ته ضرورت دی چې هغوی لپاره په متفقه توګه دروغ ویل عقل ونه مني (ص ۹۳) .

په فتاوی عالمګیري کی دي :

"وان لم یکن بالسماء علة لم تقبل الا شهادة جمع عظیم یقع العلم بخبرهم الخ"

یعنی که مطلع غبار آلود او وریځی نه وي نو د یو داسی ډلی ګواهي مقبول دی چې د هغوی له بیانونو نه یقین تر لاسه شي .

ج ۱ ص ۱۹۸ الباب الثانی فی رویت الهلال

لهذا په مسئوله صورت کی د روژی قضاء لازمه ده ، که چیرته وروسته د موجب په طریقه دسپوږمۍ موجودیت ثابت شي نو بیا کومو دوه کسانو چې روژه نه ده ماته کړی او اعتکاف یې هم نه دی پریښی هغه د مبارکی حقدار دی ، تر څو پوری چې په شرعي حجت سره سپوږمۍ ثابت نشي د روژی او اعتکاف ماتول جائز نه دي

په حدیث شریف کی دي چی حضرت کریب رضی الله عنه د شام له سفر نه مدینی منوری ته تشریف راوړ ، ابن عباس رضی الله عنه له هغه رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چی هلته سپوږمی کله لیدل شوی ده ؟ حضرت کریب رضی الله عنه ورته وویل د جمعی په شپه ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه ورته وفرمایل : ایا تا هم سپوږمی لیدلی وه ؟ حضرت کریب رضی الله عنه ورته وویل خلکو ولیدله او روژه یی هم ونیوله او حضرت معاویه رضی الله عنه هم روژه ونیوله (په ځینو روایتونو کی دا روایت هم دی چی کریب رضی الله عنه هم پخپلو سترګو لیدلی وه) حضرت ابن عباس رضی الله عنه ورته وویل : مونږ د هفتی په ورځ لیدلی ده او په همدی حساب سره به روژی پوره کوو او یا هم د سپوږمی په لیدلو سره به ماتوو . حضرت کریب رضی الله عنه ورته وویل : ایا ستاسی لپاره د حضرت معاویه رضی الله عنه سپوږمی لیدل او روژه کافي نه دي ؟ هغه رضی الله عنه وفرمایل : نه ځکه چی مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم همداسی حکم راکړی دی (ترمذي شریف ج ۱ ص ۸۷ باب ما جاء لکل بلدٍ رؤیتهم) .

چونکه حضرت کریب رضی الله عنه د بل چا په ګواهی باندی ګواهی ورنکړ او نه هم د حاکم په حکم باندی ګواهی ورکړ او نه د اشهد په لفظ سره ګواهی ورکړ ، خو که دا هم قبول کړی شي نو څرنګه چی د یو شخص په ګواهی سره وجوب القاضی علی القضاء نه ثابتیږي نو ځکه حضرت ابن عباس رضی الله عنه د حضرت کریب رضی الله عنه په خبر باندی عمل ونه کړ .

"لانه لم یشهد علی شهادةٍ غیره ولا علی حکم الحاکم ولئن سلم فلانه لم یأت بلفظ الشهادة ولئن سلم فهو واحد لایثبت بشهادته وجوب القضاء علی القاضی" (بحر الرائق ج ۲ ص ۲۷ کتاب الصوم) فقط والله اعلم بالصواب .

د رادیو په خبر باندی روژه ماتول او اختر کول څنګه دي ؟

(۲۷٦ سوال) د شوال د میاشتی د لیدلو خبر د پاکستان رادیو خپور کړ ، د دغه خبر په بروسه دوه دری ځایونو کی څه خلکو دیرشمه روژه ونه نیوله خو ځینو ونیوه مګر وروسته ماته کړه او اختر یی وکړ ، ایا د هغوی دا اختر معتبر او صحیح دی ؟ او د روژی قضاء ورباندی ضروري ده او که نه ؟

خواب په مذکوره صورت کی اختر صحیح او معتبر نه دی . او د روژی قضاء ورباندی لازم ده په ځینو صورتونو کی د روژو کفاره هم ده ، دلته په هندوستان کی آسمان شین و ، که سپوږمی پوره شوی وای نو دلته به هم ښکاره کیده . په لویو لویو ښارونو کی سپوږمی نه ده لیدل شوی او نه هم د اختر کولو خبر رسیدلی دی ، لهذا د کلي خلکو دا کار جاهلانه او له قانون نه خلاف دی هغوی ته توبه او استغفار کول پکار دي ، د ریډیو خبر د رمضان او شوال لپاره په خومره شرطونو معتبر دی خو دا شرطونه په ریډیو کی نشته او موجود کیدل پکی هم مشکل دي لهذا د عام ریډیو په خبر سره نه اختر کول صحیح دي او نه د روژی ثبوت کیدای شي . فقط والله اعلم بالصواب .

د انګلستان لپاره د روژی د میاشتی او د وړوکي اختر د میاشتی د لیدلو تفصیل

(۲۷۷ سوال) زمونږ په انګلستان کی هر وخت وریځی او غبار وي لمر او سپوږمی پکی نه ښکاري نو ځکه ټول اسلامي میاشتی پوره دیرش ورځی شمارل کیږي ، په داسی حالت کی د روژی د میاشتی او د اختر د میاشتی دتعین او مقررولو لپاره څه وکړو ؟ عموماً اکثر خلک په کارخانو او فیکټریو کی کار کوي د رخصتي لپاره یوه هفته وړاندی رپورټ ورکولی شي .

یو مولوي صاحب راځي او له مراکو نه ټیلفون په ذریعه د سپوږمی خبر معلوموي ، په هغه باندی عمل کول څنګه دي ؟ او په دی کی شرعي حکم څه دی ؟ که چیرته داسی اتفاقاً سپوږمی ولیدل شي نو مونږ ته رخصتي نه راکوي ، هلته قانون څه داسی دی چی د میاشتی په آخري ورځ او د دویمی میاشتی په لومړیو ورځو کی یو ځای رخصتي نه ورکوي ، که رخصتي وکړو نو له نوکری نه مو وباسي ، کله چی سپوږمی ونه لیدل شي نو د دیرشو ورځو حکم دی ، نوځکه د ۲۹ ورځو په اعتبار سره د روژی میاشت ، عید الفطر او عید الاضحی معلوم کړی شي ، نو په دی کی څه حرج دی ؟

خواب : له بل ملک نه د سپوږمی د لیدلو خبر غوښتل او خپل ځان دهغه تابع ګرځول شرعاً ضروري نه دي ،که په دیرشم تاریخ سپوږمی ونه لیدل شي نو دیرش ورځی دی پوره کړی شي ، د محمد صلی الله علیه وسلم فرمان دی : تر څو پوری

چې سپوږمۍ ونه ګورئ روژه مه نیسئ او تر څو پورې مو چې د شوال دمیاشتې سپوږمۍ ونه ګورئ روژه مه خورئ ، که چیرته د وریځو او غبار په وجه سپوږمۍ ونه لیدل شي نو دیرش ورځې پوره کړئ ، "عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تصوموا حتی تروا الهلال ولا تفطروا حتی تروه فان غم علیکم فاقدروا له . وفی روایة قال الشهر تسع وعشرون لیلة فلا تصوموا حتی تروه فان غم علیکم فاکملوا العدة ثلثین" متفق علیه (مشکواة شریف ص ۱۷٤ باب رؤیة الهلال) .

که په ۲۹ مه ورځ سپوږمۍ ونه وینئ نو دیرش ورځې پوره کړئ که یوه ورځ کم شي نو په ثواب کې څه کمی نه راځي انشاء الله پوره اجر ، ثواب او برکت حقدار ګرځئ .

د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "الصوم یوم تصومون والفطر یوم تفطرون والاضحی یوم تضحون" .

مطلب دا چې د شرعي تحقیق په مطابق په کومه ورځ یا په کوم تاریخ روژه ونیسئ ، یا روژه پوره کړئ ، یا قرباني وکړئ نو د الله په نزد هم همغه تاریخ او د اختر همغه ورځ او دقرباني همغه تاریخ دی ، یعنی کامل ثواب ورته ورکول کیږي (ترمذي شریف ص ۸۸ ج ۱ باب ما جاء ان الفطر یوم تفطرون الخ) .

لیکن څرنګه چې دلته هره ورځ د وریځو او ګرد غبار په وجه سپوږمۍ نه لیدل کیږي او ټول سپوږمۍ دیرش ورځې حسابوئ نو په دی کې ډیر لوی تفاوت راځي ، کله چې له نورو ځایونو څخه خلک د ریډیو ، تلویزون او فون په ذریعه د سپوږمۍ د لیدلو خبر ترلاسه کړي نو هغوی پخپلو ارادو او خیالاتو کې مذبذب کیږي ، عبادت ، تراویح ، روژه ، اختر ، قرباني او نورو په باره کې پریشان او سودایي کیږي چې په نتیجه کې د هغوی تر منځ اختلاف سر اوچتوي ، په داسې وخت کې دی نژدی ممالکو سره هلته په طلوع او نورو شیانو کې زیات فرق نه وي او ۲۹ مه سپوږمۍ ېکی لیدل کیږي تعلق وساتل شي او دا زیات مناسب دي ، د دی صورت دا دی چې د روژی د سپوږمۍ د لیدلو په باره کې د هغه ځای دری دیندار او معتمدو کسانو د ټیلفون په خبر چې تاسې د هغوی آواز په صحیح ډول پیژندلی

شئ او تاسو ته د سپوږمۍ د لیدلو قوي یقین راشي نو د روژو د نیولو فیصله وکړئ لیکن داختر د میاشتی د لیدو لپاره د ګواهانو ګـواهي شـرط دی ، دی لپـاره دی داسی انتظام وکړی شي چی دهغه ځای دوه دیندار کسان پخپله سپوږمۍ وګـوري او د هوایي جهاز په ذریعه دلته راشي او ګواهي ورکـړي ، یـا لـدی ځـای نـه دوه معتمد دیندار کسان هلته لاړ شي او پخپله د سپوږمۍ لیدونکو ګـواهي واوري ، یـا دهغه ځای مفتي ، قاضي ، خطیب یا د هلال کمیټی صدر معتمد علیه سندي فرمان راوړي چی دلته د دی ځای معتمد علماء هغه قبول کړي ، نو تاسی په دی باندی عمل کولی شئ ، پاتی شوه د رخصتی مسئله نو له وړانـدی نـه د یـوی ورځـی پـر ځای د دوه ورځو رخصتي ورباندی ومنئ دا کوم مشکله خبره نه ده بلکی ممکـن دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

د سپوږمۍ د لیدلو له شرعي ثبوت نه بغیر د روژی او تـراویح حکم :

(۲۷۸ سوال) له مونږ سره یو مقلد سړی لمونځ کوي ، د سږ کال روژه کی هغه یـو هنګامه جوړه کړی ده ، د شعبان په ۲۹مه تاریخ په آسمان کی وریځه وه هغه ووېل چی نن سپوږمۍ ښکاره شي او که نه تـراویح دی ولوسـتل شـي او روژی دی هـم ونیول شي ، که سپوږمۍ ثابت شو نو د رمضان روژه به حساب شي که نه نفلي روژه به شي او تراویح به هم نفل وګرځي هغه دی لپاره دا دلیل وړاندی کوي چی یـو شخص ځانله لمونځ وکړ بیا چی مسجد ته راغی نو هلته جمع ولاړه وه ، پـه هغـی کی دا هم شریک شو ، نو په دی صورت کی له جمعی سره چی کوم لمونځ وکـړي هغه نفلي حسابیږي ، پس کله چی یو فرض لمـونځ پـه نفلـي لمـونځ بـدلیږي ، نـو تراویح خو سنت دي د دی په نفل کیدو څه شک کیدای شي ؟ څـه خلکـو د هغـه خبره ومنله ، مونږ چی هغوی ته د فتاوی رحیمیه او بهشتي زیور مسئله ښکاره کـړه نو هغه ووېل زه صحاح ستة نه علاوه بـل د هیڅـا نـه مـنم ، اوس لـه تاسـی نـه دا پوښتنه کوو چی له شرعي ثبوت نه بغیر تراویح لمونځ لوسـتل او روژه نیـول څنګـه دي ؟ او دا ویل چی که سپوږمۍ ثابت نه شو نـو زمونـږ روژه او تـراویح بـه نفلـي عبادت وګرځي څنګه دي ؟ د هغه په خبره باندی عمل کول جائز دي او کـه نـه ؟ بینوا توجروا .

خواب دا سړی کم علم او کج فهم معلومیږي ، په بخاري شریف کی حدیث دی :
"لاتصوموا حتی تروا الهلال ولاتفطروا حتی تروه فان غم علیکم فاقدروا لـــه الخ"

تر هغه روژه مه نیسئ تر څو پوری مو چـی د رمضـان د میاشـتی سپوږمی نـه وي لیدلي او تر هغه وخته اختر مه کوئ تر څو پوری مو چی د شوال سپوږمی نـه وي لیدلي ، پس کله چی د ګرد او غبار په وجه سپوږمی ښکـاره نـه شـوه ، نـو حسـاب ولګوئ یعنی دیرش ورځی پوره کړئ .

صحیح بخاري شریف ج ۱ ص ۲۵٦ باب قول النبی صلی الله علیه وسلم اذ رایـتـهم الهلال فصوموا) د هغه قول او عمل مردود دی څکه چی دا ښکاره له نبوي فرمان نه مخالفت دی ، همدغه راز په بخاري شریف کـی دي : "باب لایتقدم رمضــــان بصوم یوم او یومین ، عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیـــه وسلم قال لایتقد من احدکم رمضان بصوم یوم او یومین الا ان یکون رجل کان یصوم صومه فلیصم ذلك الیوم" .

یعنی محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چی هیڅوک دی له رمضـان نـه یـوه دوه ورځی مخکی روژی ونه نیسي ، البته که کوم سړی په خاص ټاکلي ورځ روژی نیسي او په دی ورځ دهغه روژه برابر شي نو روژه دی ونیسي ، بخاري شـریف ج ۱ ص ۲۵٦ ، له رمضان نه یوه ورځ وړاندی د روژی نیولو ممانعت لـه دی حـدیث نـه ثابت شو ، داسی ورځ ته یوم الشک ویلی شي ، په دی ورځ د روژی د میاشـتی پـه نیت روژه نیول ممنوع او مکروه دي ، "لقوله علیه السلام لایصام الیوم الـــذی یشك فیه (او کما قال علیه الصلواة والسلام) وهذه المسئلة علـــی وجـــوه احدها ان ینوی صوم رمضان مکروه لما رویناه لانه تشبه باهل الکتاب لانهم زادوا فی مدة صومهم" (هدایه اولین ص ۱۹۳ کتاب الصوم) .

او که په دی نیت یی روژه ونیوله چی که سپوږمی ولیدل شوه نو پـه روژه کـی بـه حساب شي او که ونه لیدل شوه نو نفل روژه دی شي ، نو دا هم د نیت د تردد په وجه مکروه دي البته که قطعي توګه دنفل روژی نیت یی کړی وي نو بیا ږکی څـه

مضائقه نشته ، مګر دا د علماو کار دی عوامو ته د دی اجازه نشته ، که بیا اتفاقا سپوږمی ولیدل شوه نو دغه نفلي روژه د فرضي روژی قائم مقام کیږي ، فقط والله اعلم بالصواب

یو سړي په جده کی روژه نیولی وه ، بیا راندیر ته راغی هغه دی څه وکړي ؟

(۲۷۹ سوال) یو سړي په جده کی کار کوي هغه په جده کی روژه نیولی هلته روژه د جمعی په ورځ وه خو زمونږ په هندوستان کی د هفتی په ورځ د روژی لمړی ورځ وه ، بیا هغه سړی راندیر ته راغی او دلته د هفتی په ورځ په ۲۹ مه تاریخ سپوږمی ونه لیدلی شوه او د هفتی په ورځ د هغه دیرش ورځی پوره شوی نو اوس د یکشنبی په ورځ هم پر هغه له ټولو سره یوځای روژه نیول دي او که ودی خوري ؟ په دی کی شرعي حکم څه دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : دغه سړی دی د یکشنبی په ورځ هم د دی ځای له خلکو سره یوځای روژه ونیسي اګر که دهغه روژی یو دیرش ورځی کیږي ، بالکل داسی لکه چی یو سړی یخپلو سترګو ځانله سپوږمی ولیدله خو د هغه ګواهي چا قبوله نکړه نو هغه ته پکار دي چی د خپل رویت په اعتبار سره د رمضان روژه ونیسي او که اتفاقاً د دیرشو ورځو د پوره کیدو نه وروسته سپوږمی ونه لیدل شي نو هغه ته افطار کول جائز نه دي ، بلکی هغه لپاره دا حکم دی چی له خلکو سره روژی ونیسي او له ټولو سره یوځای اختر ورکړي ، په شامي کی دي :

"(تنبیه) لوصام رائی هلال رمضان واکمل لعدة لم یفطر الامع الامام لقوله علیه الصلواة والسلام صومکم یوم تصومون وفطر کم یوم تفطرون" رواه الترمذی وعیره الناس لم یفطر وافی مثل هذا الیوم فوجب ان لا یفطر هـر (شامی ج ۲ ص ۱۲۳ کتاب الصوم) فقط والله اعلم بالصواب .

روژی یی په بمبی کی نیولی وي بیا مکی معظمی ته لاړم :

(۲۸۰ سوال) یو سړي په بمبی کی روژی ونیولی بیا هغه د عمری په نیت مکی معظمی ته لاړ هلته خلکو روژه دوه ورځی مخکی نیولی ده نو اوس دغه سړي د

هغه ځای له خلکو سره اختر وکړي او بیا دی وروسته خپلی روژی پوره کړي او که خپلی روژی پوره کړي او بیا دی اختر وکړي ؟ بینوا توجروا .

ځواب دغه سړی دی د هغه ځای له خلکو سره اختر وکړي ، بیا دی د پاتی روژو قضایي راوړي[1]

د سپوږمی د لیدلو معتبری طریقی :

(۲۸۱ سوال) د سپوږمی د لیدلو معتبری طریقی کوم یو دي مفصل یی ولیکئ ، مهرباني به مو وي .

ځواب : رویت عامه یعنی کله چی ډیر خلک سپوږمی ووینی او دا د روژی د میاشتی او د وړوکي اختر د سپوږمی د لیدو لپاره قطعي ثبوت او فیصله ده ، لدینه وروسته د قانوني شهادت هیڅ ضرورت نشته ، "وقبل بلا علة جمع عظیم یقع العلم الشرعی وهو غلبة الظن (بخبرهم وهو مفوض الی رأی الامام من غیر تقدیر بعدد) علی المذهب" درمختار ج ۲ ص ۱۲۶ کتاب الصوم .

(۲) شهادت (ګواهي) :

که چیرته آسمان شین نه وي او خړه پکی وي او پدی وجه عمومي رویت ونشي یعنی ډیر خلک یی ونهویني نو د رمضان د میاشتی فیصله د یو دیندار د شریعت پابند مسلمان سړی او یا ښځی په بیان باندی کیدلی شي ، "(وللصوم مع علة کغیم) وغبار (خبر عدل) ولو کان العدل قنا وانثی او محدوداً فی قذف تاب" درمختار ج ۲ ص ۱۲۳ ، ۱۲۴ کتاب الصوم.

وبرای شهادت ماه رمضان اګر آسمان ابر یا مانند آن دارد یک مرد یازن عادلي کافي است حر باشد یار قیق (ما لا بد منه ص ۹۳) (نور الایضاح ص ۱۴۹) .

---

[1] اهل مصر صاموا رمضان بغیر رؤیة فیهم رجل لهم یصم حتی رأی الهلال من الغد فصام اهل المصر ثلاثین یوما وهذا الرجل تسعة وعشرین ثم افطر واجمیعا فان کان اهل المصر رأو الهلال شعبان وعدوا شعبان ثلا'ین یوما کان علی هذا الرجال قضاء یوم الاول الخ (فتاوی تاتارخانیه ، الفصل الثانی فیما یتعلق برؤیة الهلال ج ۲ ص ۳۵۴) .

البته داختر لپاره دباقاعده گواهي ضرورت دی یعنې دوه سړي یایو سړی او دوه ښځې چی مسلمان او ظاهراً دشریعت پابند وي او د شرعي قاضي یامفتي په مخکې دسپوږمی دلیدلو گواهي ورکړي او هغه یې قبول کړي نو په دی سره هم دسپوږمی لیدل ثابتیږي (وشرط للفطر) مع العلة والعداله نصاب الشهادة ولفظ اشهد (درمختار ج ۲ص ۱۲٤ ایضاً).

(۳) شهادت على الشهادت :

(په گواهي باندی گواهي ورکول) کله چی اصلي گواهان په کومه وجه دقاضي اویاهم دکمیټي په وړاندې له حاضریدو قاصر وي نو اصلي گواه له خپل طرف نه دوه ثقه سړي گواه وگرځوي او دقاضي یامفتي په وړاندې ولیږي او هغوی داگواهي ورکړي چی زمونږ په وړاندی فلانکې سړی گواهي ورکړه چی هغه سپوږمی لیدلې ده او هغه مونږ گواه په توگه لیږلي یو چی مونږ ناسو ته دهغوی گواهي ورسوو، دادشهادت علي الشهادت یو صورت دی ، داثبوت د رمضان دمیاشتې او داختردمیاشتې دلیدلو لپاره معتبر دی ، اگر چی ددوه اصلي گواهانو لپاره ددوه جلاجلا گواهانو یعنې څلور گواهان شرط نه دي اودوه گواه ددواړو گواه جوړیدلې شي ، مگر بهتر دادی چی هر گواه له خپل طرف نه دوه جلا جلا گواه ونیسي یعنې اصل گواه دوه دي نو دهغوی قائم مقام دی څلور وي . په درمختار کې دي باب الشهادة على الشهادة (وهی مقبولة) لاكن لاتقبل الا بشرط تعذر حضور الاصل (درمختار) اشار الى ان المرادبالمرض مالا يستطيع معه الحضور الى مجلس القاضي كما قيده فى الهداية الخ (شامي ج٤ص٥٤٤ باب الشهادت على الشهادة) وكيفيتها ان يقول الاصل مخاطباً للفرع ولو ابنه بحر (اشهد على شهادتى انى اشهد بكذا ، الى قوله (ويقول الفرع اشهد ان فلاناً اشهدنى على شهادته بكذا وقال لى اشهد على شهادتي بذلك) (درمختار) (قوله وذالك) يعنى بان يكون لكل شاهد شاهدان متغاير ان بل

یکفی شاهدان علی کل اصل (شامي ج٤ص٥٤٥ باب الشهادتة علی الشهادة).

(۴) شهادت علی قضاء القاضي :

که د قاضي یا مفتي په مجلس کی شرعي شهادت پیش شي او په مجلس کی دوه دیندار د شرع پابند مسلمان له اول نه تر آخره پوری هلته حاضر وي او بیا د کوم ځای قاضي یا مفتي په وړاندی حاضر شي او ګواهي ورکړي چی د فلاني ځای قاضي یا مفتي په مجلس کی زمونږ په وړاندی د رویت هلال ګواهان پیش شوي دي او د هغوی له ګواهی نه وروسته قاضي یا مفتي د رویت هلال فیصله کړی ده نو دا ثبوت هم د سپوږمی د لیدلو لپاره معتبر دی او دهغوی په ګواهی باندی د رویت هلال فیصله کیدای شي.

"(شهدوا انه شهد عند قاضی مصر کذا شاهدان برویة الهلال) فی لیلة کذا وقضی القاضی (به ووجد استجماع شرائط الدعوی قضی) ای جاز لها (القاضی) ان یحکم (بشهادتهما) لان قضاء القاضی حجة وقد شهدوا به لو لا شهدوا برؤیة غیرهم لانه حکایة" درمختار ج ۲ ص ۱۲۸ کتاب الصوم .

(۵) کتاب القاضی الی القاضی :

د یوځای قاضي او مفتي په وړاندی شرعي شهادت وشو او هغه د رویت هلال فیصله وکړه اوس هغه د بل ځای قاضي یا مفتي په نوم ددوه دیندارو مسلمانانو په وړاندی خط ولیکي چی زما په وړاندی شرعي ګواهان تیر شول او دهغوی دګواهی په وجه می د رویت هلال فیصله وکړه او پر هغه خپل مهر ولګاو ، هغه خپل دا خط هغوی ته واوروي او ورباندی له مهر لګولو او بندلو نه وروسته هغوی ته حواله کړي ، هغه دواړه کسان دغه خط د بل ځای قاضي او مفتي خوا ته لاړ شي او ګواهي ورکړي چی دا د فلان قاضي یا مفتي خط دی هغه زمونږ په وړاندی لیکلی او لوستلی دی مونږ ته یی راکړی دی چی مونږ دا خط تاسو ته ورسوو ، نو دغه دویم قاضي یا مفتي هغه منظورولی او اعلانولی شي ، دا هم د هلال د ثبوت لپاره حجت دی ، مګر دا حجت همدومره دی چی کله هغه دواړه اشخاص ګواهي ورکړي چی فلان قاضي زمونږ په وړاندی دا خط لیکلی اورولی

اومونږ ته یی راکړی دی ، که چیرته دا قسم ګواهي نه ورکوي محض یو خط د رقعی په شکل کی ورسوي نو د دی حیثیت دیو معمولي خط پشان دی او کوم حکم چی د کوم عام مسلمان کیدای شي همدا به د دی خط وي (د رویت هلال مسائل او دلائل)

(٦) خبر مستفیض :

دا هم ثبوت هلال لپاره حجت دی ، د خبر مستفیض په متعلق علامه شامي رحمه الله فرمايي "اعلم ان المراد بالاستفاضة تواتر الخبر من ا لواردين من بلدة الثبوت الى البلدة التى لم يثبت بها لا مجرد الاستفاضة" .

یعنی پوه شه چی له استفاضی نه مراد هغه خبر دی چی له ښار نه راتلونکي ډیر خلک بیان کړي او ووايي چی په فلان ښار کی سپوږمی لیدل شوی ده او دا بیان په یو داسی ځای کی وکړي چی هلته سپوږمی نه ده لیدل شوی ، محض افواه کافي نه دی (حاشیه بحر الرائق ج ۲ ص ۲۷۰ قبیل باب ما یفسد الصوم الخ) .

علامه رحمتي د خبر مستفیض په باره کی فرمايي :

"(تنبيه) قال الرحمتى معنى الاستفاضة ان تأتى من تلك البلدة جماعات متعددون كل منهم يخبر عن اهل تلك البلدة انهم صاموا عن رؤية لا مجرد الشيوع من غير علم بمن اشاعه" .

د استفاضی مطلب دا دی چی چیرته سپوږمی لیدل شوي له هغه ځای نه ګڼی ډلی راشي او هره یوه ډله دا خبر ورکړي چی د فلانکي ښار مسلمانانو د سپوږمی په لیدلو سره د روژی د نیولو فیصله کړی ده ، هسی افواه چی دا لانه وي معلوم چی خبر چا راوړی دی اوخوک د دی راوي دی ، چا دا خبره خور کړی ده ؟ خبر مستفیض نه دی ، شامي جلد ۲ ص ۱۲۹ کتاب الصوم .

ریډیو :

شرعي قاضي یا د مستندو علماو کرامو مجلس یا د رویت هلال هغه کمیتي چی د هغوی فیصله ټول مسلمانان مني ، له مکمل ګواهی نه وروسته فیصله وکړي او دغه فیصله شرعي قاضي یا د علماو مجلس او یا د هلال کمیتی او یا دهغه نمائنده د رادیو له لاری اعلان کړي او د نورو ځایونو علماء کرام هغه منظور کړي نو پر هغه

باندی عمل کول صحیح دي ، پواخې د عوامو منظوري کافي نــه دی ، د هغــوی مداخلت او له علماو سره بحث او مباحثه کول روا نه دي .
حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي : نن سبا هر سړی مفسـر او مترجم دی او هر یو په شریعت کې خپل رای ورکوي ، گویا په شریعت باندی پوهیدل لـه ټولو فنونو څخه آسان کار دی ، حال دا چې دا خو الهي قانون دی ، کلـه چـې د دنیاوي بادشاهانو پـه قوانینـو بانـدی هرڅـوک نـه پوهیـږي او پـواخې وکـیلان ، بیرسټران او ججان پوهیږي نو د الله تعالی قانون یې څنګه دومره آسان گڼلـی دی چې هر یو سړی پکې خپلې رای ورکوي (وعظ الباب ص ۱۸) .

د راډیو د خبر په متعلق دهندوستان د مستندو علماو فیصله :

د راډیو خبر د اعلان حیثیت لري که چیرتـه دا اعـلان د رویـت هـلال دباضابطې کمیټې له طرف نه له خلکو نه د گواهي اخسـتلو نـه وروسـته د سـپوږمۍ د لیـدلو فیصله وکړي یا داسې شخص دا اعلان وکړي چې دهغه ځای خلکو باقاعده قاضي یا مفتي په توګه منلی وي او هغه له باقاعده گواهي اخستلو نه وروسته فیصله کوي او اعلان کوونکی پخپله قاضي ، مفتي یا د رویت هلال د کمیټې صدر او یا د هغـه معتمد وي نو مقامي کمیټې ، یا قاضي او مفتي لپاره جائز دي چې پر هغـه اعتمـاد وکړي او د رویت هلال فیصله اعلان کړي .
(رویت هلال رمضان او داختر مسائل او دلائل ص ۹٦) فقط والله اعلم بالصواب .

ټیلفون یا له خط نه د رویت هلال خبر :

(۲۸۲ سوال) بې له شکه چې په ټیلفون کې د رویت هلال گواهي غیر معتبـر او د قبول وړ نه دی لیکن په یوځای کې په پوره احتیاط ، د شرعي شهادت ټولو اصولو ، قیودو او شرائطو په رعایت کولو سره د رویـت هـلال فیصـله وکـړی شـوه اوس د دغې فیصلې خبره د ټیلفون په ذریعه راورسید ، یا د ټیلفون له لاری د همغه ځـای له خلکو څخه دری څلور کسانو له تحقیق نه وروسته هلتـه د رویـت هـلال شـرعي فیصلې معلومات تر لاسه شي او له چا سره چې خبر کیـږي دهغـه آواز هـم صـحیح وپیژندل شي چې یقیناً د فلانکي سړي آواز دی ، همدغـه راز کـه لـه دری څلـورو ځایونو نه د رویت هلال د فیصلې خبر د ټیلفون له لاری ورسیږي او په دی صورت کې هم په ټیلفون کې خبر ورکوونکی سړی آواز په صحیح توګه وپیژنـي چـې دا د

فلان صاحب آواز دی ، او هغه عادل مسلمان او مستور الحال دی او له نورو شواهدو او قرائنو څخه هم د دغو خبرونو په صحت باندی یقین راشي نو ایا په دی باندی سپوږمی د لیدلو د عام ثبوت فیصله او حکم کیدلی شي ؟

(۲) بعینه د مذکوره پورتنی فیصلی خبر د خط له لاری له یوځای او یا ههم دوه دریو ځایونو نه رارسیږي او چا ته چی خط لیږل شوی هغه خط بنه وپیژني چی دا د فلانکي شخص د لاس لیکل شوی خط دی او خط لیکونکی شخص مسلمان عادل یا مستور الحال دی ، همدغه راز له خارجي قرائنو او شواهدو څخه د دغو خبر صحت او صداقت غالب ګمان وشي نو ایا په دی صورت کی هم د رویت هلال دعام ثبوت حکم او فیصله آورولی شي او که نه ؟

(۳) ایا د مذکوره پورتینو ذرائعو له لاری تر لاسه شویو خبرو باندی د اختر لپاره هم د رویت هلال د ثبوت حکم او فیصله کیدلی شي او که نه ؟

ځواب : وبالله التوفیق . د محمد صلی الله علیه وسلم فرمان دی : صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته د سپوږمی په لیدلو سره روژه ونیسئ او د سپوږمی په لیدلو سره اختر وکړئ ، د دی ټول دار و مدار د سپوږمی لیدلو سره دی ، خو د عدم رویت په صورت کی د شهادت نصاب ته د رویت حکم ورکول شوی دی ، د اختر لپاره د سپوږمی د لیدلو ثبوت د شرعي ګواهانو په ګواهی سره کیږي ، او که آسمان شین وي نو د جم غفیر د ګواهی ضرورت دی .

که آسمان شین وي نو د یو دیندار مسلمان دسپوږمی دلیدلو ګواهي کول د روژی د میاشتی د روژو لپاره معتبر دی ، که چیرته د کوم دیندار مسلمان خط یا ټیلفون په ذریعه دا خبر ورکړي چی ما پخپله سپوږمی لیدلی ده ، یا ووای چی فلان معتبر او دیندار شخص ماته ویلی دي چی ما سپوږمی لیدلی ده ، یا زما په مخکی قاضي صاحب یا مفتي صاحب او یا هم د رویت هلال کمیټی صدر په شرعي توګه د سپوږمی د لیدلو فیصله کړی ده او په دی سره یقین یا غالب ګمان تر لاسه شي چی دا د فلان شخص آواز یا خط دی نو په دی باندی پخپله عمل کولی شي او که د نورو ګڼو خطلوطو یا ټیلفون په ذریعه د دغه خبر تصدیق وشي نو قاضي یا مفتي او یا هم د هلال کمیټی صدر یا معتمد علیه شخص ته داعلان کولو حق حاصلیږي ، او

که مطلع صفا ستره وي نو د ټول صورتونه د سپوږمی د لیدلو د ثبوت لپاره کافي نه دی . ترڅو چی شرعي شهادت یا د خبر استفاضه صورت مخی ته نه وي راغلی .
حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي :
ځواب په کومو احکامو کی چی حجاب د قبلولو په وړاندی مانع وي . په دی کی د ټیلفون واسطه هیڅ اعتبار نه لري او په کوم کی چی حجاب مانع نه دی که په هغه کی له قوي قرائنو څخه متکلم معلوم شي چی فلان سړی خبری کوي نو بیا معتبر دی . ١٦ محرم الحرام ١٣٣٧ هـ (امداد الفتاوی ج ٢ ص ٧٨) خوکه څو ځایونو یا له کوم ښار نه چی هلته نامتو علماء او مفتیان صاحبان موجود وي ، د مختلفو خلکو دا بیانات تر لاسه شي چی مونږ پخپله سپوږمی لیدلی ده یا زمونږ په وړاندی د فلان ښار قاضي یا د هلال کمیټی صدر یا مفتي یا معتمد علیه شخصیت د ګواهی له آوریدو نه وروسته د رویت هلال فیصله ورکړی ده او کله چی د داسی بیان کوونکو خلکو تعداد دومره ډیر شي چی عقلاً دهغوی ددروغ ویلو لپاره څه احتمال پاتی نشي او خبر مستفیض په درجه کی راشي او دهغوی دخبرو صحت باندی دقاضي ، مفتي یا دهلال کمیټی صدر یقین راشي نوهغوی ته داختر دسپوږمی د لیدو اعلان کولو حق هم حاصل دی ، یوه دوه ټیلفونونه کافي نه دي.
"وان لم تك فى السماء علة لايقبل الا شهادة جمع كثير يقع العلم بخبرهم واختلفوا فى مقدار ذلك فقيل لا بد من اهل محلة وقيل لا بد عن خمسين رجلاً وعن محمد لابد ان يتواتر الخبر من كل جانب والصحيح انه مفوض الى رأى الحاكم لان المراد بالعلم الحاصل بخبرهم العلم الشرعى الموجب للعمل وهو غلبة الظن لا العلم بمعنى التيقن" مجالس الابرار ص ٢٢١ مجلس نمبر ٣٢ ، همدغه حکم د خط هم دی ، فقط والله اعلم بالصواب ، ٢ ذی الحجه ١٣٩٩ هـ .

که له بل ځای نه د سپوږمی د لیدلو خبر راشي نو دهغه تحقیق کول ضروري دي او که نه ؟

(٢٨٣ سوال) پخپل علاقه کی سپوږمی نه ده لیدل شوی ، لیکن د دی ځای قاضي ، مفتي یا هلال کمیټی صدر ته له نورو ځایونو نه د خط یا فون له لاری د عام رویت یا د رویت د فیصلی او نور اطلاعات راځي ، یا دښار او قریی خلک پخپله

راخي او خبر ورته ورکوي چې له فلان ځای نه د خط یا ټیلفون په ذریعه د سپوږمۍ د لیدلو خبر رسیدلی دی ، اوس مونږ ته څه کول پکار دي ؟ یا روژه ونیسو او که نه ؟ یا اختر وکړو او که نه ؟ له خارجي قرائنو او شواهدو څخه د موصوله خبر د صحیح کیدو امکانات او ګمان هم وي نو ایا په دی صورت کی د دغه رویت هلال کمیټی ، یا مستند د دین عالم ، مفتي او قاضي چې د دوی د رویت په فیصله باندی د ښار او کلي خلک عموماً اعتماد کوي ، شرعاً د هغوی په ذمه د دی خبری تحقیق کول او عوام له صحیح فیصلی او حکم نه خبرول مناسب او بهتر دي او که نه ؟ او که غلی دی کیني او خلکو ته ووایي چې دلته پخپله سپوږمۍ نه ده لیدل شوی له باهر نه چې څومره ګواهي او معتبر خبر راشي مونږ دهغه د منلو او تحقیق لپاره هرګز تیار نه یو ، مقامي فیصله صحیح ده او په دی کی هیڅ قسم تبدیلي نه کیږي ، په دی سلسله کی شرعي حکم څه دی ؟ او په دی باره کی د امت د اکابرو څه معمول پاتی شوی دی ؟ مهرباني وکړئ مفصل ځواب راکړئ ، فقط والسلام بینوا توجروا .

ځواب : قاضي ، مفتي ، معتمد علیه شخصیت او د هلال کمیټی صدر باندی لازم دي چې پخپل ځای برقرار پاتی شي او پر خلکو لازم دي چې د هغوی دربار او مجلس ته لاړ شي او خپل رویت پیش کړي چې مونږ سپوږمۍ لیدلی ده .

په قاضي او مفتي باندی لازم نه دي چې د سپوږی په لټه کی ووځي ، ځکه چې په دی کی خرابي دی چې بیا ګواهان د چا په وړاندی ګواهي ورکړي ، او پخپل علاقه کی د عدم رویت په صورت کی خامخا نورو ځایونو ته د تحقیق لپاره تلل له تکلف نه خالي نه دي ، لیکن په دی زمانه کی رادیو ، ټیلفون او د فتنی پیدا کولو ویره سر اوچتوي ، که له دی نه د بچ کیدو په خاطر قاضي او مفتي خپل خپل نائبان هغو ځایونو ته د تحقیق لپاره ولیږي له کوم ځای نه چې د سپوږمۍ د لیدلو خبر راغلی دی ، نو دا ممنوع نه دي بلکی دا یو ښه اقدام دی او بعض حالاتو کی ضروري دي ، شهادت علی قضاء القاضی او د قاضي په نوم دقاضي خط د دی ښکاره دلیل دی او د دی تائید د اکابرینو له عمل څخه کیږي په دی باره کی تاسی وګورئ د مولانا سید محمد میان صاحب نور الله مرقه رساله " رویت هلال رمضان و عید کے مسائل و د لائل ص ۳۷ ، ۳۸ " فقط والله اعلم بالصواب ، ۲ ذی الحجه ۱۳۹۹ھ .

د رویت هلال خبر د ټیلفون په ذریعه ورکول صحیح دي او که نه ؟

(۲۸۴ سوال) سږ کال په دهلي کی د مطلع صاف نه کیدو په وجه د رمضان المبارک ۲۹مه سپوږمی ونه لیدل شوه ، له لکهنو نه د ټیلفون په ذریعه د راغلي خبر په وجه روژه ونیول شوه ، دا خبره په اخبار الجمیعه کی خپور شوی دی ، حال دا چې علماء ترننه پورې د ټیلفون خبر د من وراء الحجاب کیدو په سبب نه قبلاو او فرمایل به یې چې د شاهد حاضریدل ضروري دي ، لهذا په دی باره کی لنډ معلومات په کار دي بینوا توجروا.

ځواب : بلا شبه شهادت من وراء الحجاب معتبر نه دی ، د ګواه حاضریدل ضروري دي ، مګر دا شهادت نه بلکې خبر دی ، که د رمضان د هلال په وخت کی مطلع صفا نه وي او یو معتبر شخص که هغه سړی وي یابنځه د سپوږمی د لیدلو خبر ورکړي او قاضي یا د هغه نائب ته د سپوږمی د لیدلو یقین راشي نو د تراویح او روژی نیولو حکم ورکولی شي ، په درمختار کی دي :

"وقبل بلا دعوی وبلا لفظ اشهد وبلا حکم وبلا مجلس قضاء لانــه خــبر لا شهادة"

یعنی په آسمان کی ګرد او غبار یا وریځ وي نو د رمضان د هلال لپاره د یو معتبر سړی خبر بلا دعوی او د اشهد د لفظ له ویلو نه علاوه د قاضي دمجلس او حکم نه پرته قبلولی شي ځکه چې دا خبر دی نه شهادت (رد المختار ج ۲ ص ۱۲۳ کتاب الصوم) .

د دهلي واقعه هم څه همداسی وه ، په آسمان کی د وریځو له کبله سپوږمی ښکاره نه شوه ، د ریډیو له لاری له ډیرو ځایونو څخه د سپوږمی د لیدو خبر راورسید مګر یقین ورباندی رانغی بالاخر له لکهنو نه یومعتبر عالِم د ټیلفون په ذریعه خبر ورکړ ، مفتي صاحب او نورو علماو دهغه خبری واوریدلی او آواز یی هم وپیژندله ، له دینه پس په پوره اطمنان سره د روژی نیولو او د تراویح لمونځ د ادا کولو فیصله صادره کړه ، د هغوی دا فتوه صحیح ده ، څه نوی فیصله یا نوی فتوه نه ده له نن نه څلویښت کاله وړاندی حضرت تهانوي رحمه الله هم همداسی فتوه ورکړی ده ، چې په لاندی ډول ده :

سوال : د یو ښار مفتي یا دیندار عالِم په نزد د رویت هلال ثبوت دشرع شریعت په موجب وشوه ، او هغه د دغه رویت د ثبوت خبر د بل ښار مفتي یا دیندار عالِم ته د ټیلفون په ذریعه ورکړ او دواړو پخپلو کی وپیژندل د هغوی په پیژندلو کی هیڅ قسم شک او شبهه ورته پیدا نه شوه نو د هغه په دی خبر باندی عمل کول صحیح دي او که نه ؟ او په مسئوله صورت کی د نورو قابل اعتبار ټیلفونو ضرورت پاتی کیږي او که نه ؟

ځواب : په کومو احکامو کی چی حجاب مانع قبول دی په هغه کی د ټیلفون واسطه معتبره نه ده او په کوم کی چی حجاب مانع نه دی که په هغه کی له قوي قرائنو څخه د متکلم پیژندګلو وشي چی فلانکی شخص خبری کوي نو بیا معتبر دی ، ۱٦ محرم الحرام ۱۳۳۸ھ (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۷۸) .

غرض دا چی د ټیلفون په ذریعه د روژی د میاشتی د سپوږمی د لیدلو خبر معتبر دی په دی شرط چی خبر ورکونکی معتبر وي ، خبره په پوره توګه اوریدل شوی وي آواز او سړي پیژندل شوی وي او له قرائنو نه پوره یقین شوی وي چی سپوږمی لیدل شوی ده او مستند علماء هغه قبول کړي ، د دهلي واقعه د دغو شروطو په مطابق وه ، لیکن دا صرف د رمضان په متعلق دی ، د اختر د سپوږمی دا حکم نه دی .

د رادیو په خبر سره د رمضان او د اختر میاشتی ثبوت :

(۲۸۵ سوال) د عید الفطر د سپوږمی د لیدلو خبر رادیو پاکستان ورکړی و چی د هغه په وجه څو کلیو کی ځینو خلکو دیرشمه روژه ونه نیوله خو ځینو نیولی وه خو ماته یی کړه او اختر یی وکړ ایا د هغوی دا کار صحیح دی ، ایا د دغی ورځی به قضا راوړي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په دی صورت کی د هغوی اختر صحیح نه دی ، د روژی قضاء به ضرور راوړي، په ځینو صورتونو کی له قضاء سره کفاره هم لازمه ده ، دلته په هندوستان کی مطلع (اسمان) شین و ، که سپوږمی وای نو ضرور به لیدل کیده ، په لویو لویو ښارونو کی هم سپوږمی نه ده لیدل شوی او نه هم د اختر خبر تر لاسه شوی ، لهذا کلیوالو خلکو دا کار ناپوهی او غیر قانوني شمارل کیږي ، هغوی ته پکار دي چی توبه او استغفار وکړي ، د ریډیو خبر د رمضان او اختر لپاره په څو شرطونو معتبر دی ، مګر هغه شرائط په عام رادیو کی نه موندل کیږي ، لهذا د رادیو په

خبر باندی اختر کول صحیح نه دي او نه هم په دی سره د رمضان د میاشتی ثبوت ترلاسه کیږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

که د قمري میاشتو په اثبات کی د حساب دانانو په تحقیق باندی عمل وکړی شي نو د دی گنجائش شته او که نه ؟

(۲۸٦ سوال) زمونږ وطن جنوبي افریق کی له مصر نه یوه فتوه راغلی ده ، په هغه کی لیکل شوي دي چی که کوم وخت د ۲۹می شعبان رویت هلال ونشي ، نو حساب دان اشخاص په یقین سره دا ووایي چی سپوږمی به په ۲۹مه شعبان لیدل کیږي او په افق باندی د لمر له پری وتو نه وروسته دومره وخت پوری ودریږي چی رویت یی ممکن شي نو په دی صورت کی د حساب دانو په قول باندی عمل کیدای شي او رمضان داخلیږي ، ځینی فقها دا مني چی په داسی صورت کی د حساب دانو په قول باندی عمل کیدای شي هغه لیکي :

"امام اذا قطع الحساب بان الهلال یولد ۲۹ شعبان ویمکث فوق الافق بعد غروب الشمس هذا الیوم مدة یمکن رؤیته فیها فانه فی هذه الحالة یعمل بقول اهل الحساب ویثبت دخول شهر رمضان بناء علی قولهم طبقا لما ذهب الیه بعض الفقهاء من جواز العمل بحسابهم فی مثل هذا" ص ۲ .

اوس سوال دا دی چی که ۲۹ شعبان کی سپوږمی ونه لیدل شي نو ایا د حساب دانو په تحقیق په بنا باندی د رمضان د میاشتی د سپوږمی فیصله کیدای شي ؟ او د مذکوره فتوه د اقتباس په مطابق عمل کیدای شي ؟ په دی باره کی تفصیلی ځواب ضرورت دی .

(۲) زمونږ په جنوبي افریقا کي عموماً سپوږمی لیدل کیږي مگر مطلع صاف نه وي زمونږ ځینی خلک دا غواړي چی لوی اختر د سعودي عربستان سره وکړي ، په دی سلسله کی ستاسی فتوی ته ضرورت دی ، ذی الحجه ډیر نژدی ده امید دی چی ځواب ژر تر ژر راکړئ ، بینوا توجروا ، از ساؤتهه افریقا ٦ شوال المکرم ۱۴۰۹ھ .

ځواب : (۱-۲) د روژی او اخترونو دار مدار په رویت هلال باندی دی ، په حدیث کی دي : "لاتصوموا حتی تروا الهلال ولاتفطروا حتی تروه فان غم علیکم

فاقدروا له" بخاری شریف ص ۲۵٦ ج ۱ ، مسلم شریف ص ۳٤۷ ج ۱ ، مشکواة شریف ص ۱۷٤ ، باب رویة الهلال .

روژه تر هغه مه نیسئ تر څو پوری چی د روژی میاشت ونه ګورئ ، او تر څو پوری چی د شوال سپوږمی ونه وینئ اختر مه کوئ " روژی مه ختموئ " او که د غبار په وجه سپوږمی ونه لیدل شي روژی پوره کړئ .

او په یو روایت کی دي :

"الشهر تسع وعشرون لیلة فلا تصوموا حتیٰ تروه فان غم علیکم فاکملوا العدة ثلاثین" بخاری شریف ص ۲۵٦ ج ۱ ، مسلم شریف ص ۳٤۷ ج ۱ ، مشکواة شریف ص ۱۷٤ .

میاشت د ۲۹ شپو وي لهذا تر هغه مه ماتوئ تر څو پوری مو چی د رمضان د میاشتی سپوږمی ونه وینئ ، که چیرته پر تاسو سپوږمی پټه شي نو د شعبان د میاشتی دیرش ورځي پوره کړئ او وربسی روژی ونیسئ .

له پورتنیو دواړو احادیثو څخه دا ثابتیږي چی محمد صلی الله علیه وسلم د میاشتو زاتلل د سپوږمی په لیدلو پوری موقوف کړی دي ، د نوی سپوږمی د رابنکاریدو او موجودیت او یا هم د هغه نه لیدل یواځی په عقلي او حسابي امکان باندی موقوف نه دی ګرځولی ، بلکی ارشاد یی فرمایلی دی چی که چیرته د وریځو له کبله ۲۹مه سپوږمی له تاسو نه پټه شي نو بیا د شعبان میاشت دیرش ورځی پوره او وربسی د رمضان میاشت شروع کړئ .

حضرت مولانا محمد شفیع رحمه الله لیکي :

دا دواړه حدیثونه چی نره بیان شول د حدیث په نورو مستندو کتابونو کی موجود دي او هیڅ محدث ورباندی جرح نه دی کړی ، په دواړو حدیثونو کی د روژی نیولو او د اختر کولو مدار د سپوږمی لیدل ګرځولي دي ، د رویت لفظ معنی ده د یوځیز په خپلو سترګو لیدل ، لدینه علاوه که به بله معنی واخستل شي نو هغه حقیقت نه بلکی مجاز دی ، نو څکه د نبويّ صلی الله علیه وسلم ارشاد مطلب دا شو چی کوم شرعي احکام د سپوږمی د لیدو او نه لیدلو سره تعلق لري نو په دی کی د سپوږمی لیدل دا معنی لري چی په سترګو ولیدل شي .

لدینه معلوم شو چې د احکامو مدار په دی نه دی چې په افق باندی سپوږمۍ وي بلکې دا دی چې په سترګو ولیدل شي ، که چیرته سپوږمۍ په افق باندی موجود وي مګر په څه وجه د رویت " لیدو " قابل نه وي نو هغه د اعتبار وړ نه دی دغه مفهوم د حدیث له آخري جملې نه نور هم واضح شو هغه دا چې که له تاسو نه سپوږمۍ پټه او مستور شوی وي یعنې ستاسی سترګی هغه نه ویني نو بیا تاسی دا مکلفیت نه لرئ چې د ریاضي په حساب سره د سپوږمۍ وجود او پیدائش معلوم کړئ او وربانډی عمل وکړئ ، د رصدیه آلاتو او دور بینونو په ذریعه هغه وګورئ ، بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي :

"فان غم علیکم فاکملوا عدة ثلاثین" .

یعنې که له تاسو نه سپوږمۍ پټه شي نو دیرش ورځی له پوره کولو نه وروسته دا میاشت ختم کړئ[1] (رویت هلال ص ۱۵،۱۶ اداره المعارف کراچي) .

مولانا برهان الدین صاحب سنبهلي زاده مجده د ندوة العلماء د دار العلوم استاد پخپله مقاله[2] کې لیکي :

د حدیث له دغو الفاظو نه لدینه علاوه بل هیڅ مفهوم نه اووځي چې که سپوږمۍ په افق باندی موجود وي مګر د هغه د لیدو په وړاندی وریځی یا ګرد او غبار حائل وي او سپوږمۍ نه لیدل کیږي نو په دی صورت کې هم د شریعت حکم همدا دی چې دیرش ورځی پوره کړی شي ، لدینه دا خبره د ښکاره لمر پشان څرګندیږي چې د سپوږمۍ د تلو راتلو مدار شرعاً په رویت باندی دی ، په افق باندی د موجودیت یا دلیدو امکان پوری نه دی لدینه هم معلوم شو چې حسابي طریقه یا رصدیه آلاتو په ذریعه لیدل شوی نوی سپوږمۍ دشرعي احکامو لپاره بنیاد نشي جوړیدلی ، ځکه چې آلات او حسابي قواعدو په ذریعه زیات نه زیات د نوی سپوږمۍ امکان معلومیدای شي چې هغه لپاره د فقهي عمومي کتابونو کې تولید هلال یا ولادت قمر په خیر الفاظ استعمال شوی دي او په انګریزی کې دیته

---

[1] ـ ذا سیمینار له اووم جون نه تر لسم جون پوری د ملائشیا مشهور ښار پینانګ کې منعقد شوی و چې د ۲۵ ملکونو ۷۰ علماو ګډون کړی و او د موصوف دغه مقاله ډیره خوښه کړی شوی وه .

[2] ـ موصوف دا مقاله په هغه سیمینار کې ویلی و چې د ملائیزیا مشهور ښار پینانګ کې منعقد شوی وه په دی سیمینار کې د ۲۵ ملکونو ۷۰ علماو برخه اخستې وه .

نیومون ویل کیږي ، په اصل کی سپوږمی د خپل رفتار په خاصه مرحله کی بالکل د لمر په محاذ کی راځي او د سپوږمی ظاهري وجود قطعاً پټیږي ، ګویا هغه دلمر په روښانه جسماني دائره کی دننه پټیږي دا حالت دوه دری دقیقو پوری وي ، لدینه وروسته تدریجاً د دواړو تر منځ لری والی راځي او د سپوږمی ظاهري وجود ښکاره کیږي بیا تقریباً شل ساعته وروسته د لیدو قابل ګرځي ، ظاهره خبره ده چی د سپوږمی پوتنی حالتونه له ولادت نه نیولی د رویت تر قابل کیدو پوری د شرعي احکامو په لحاظ سره د التفات وړ نه دی ، البته کله چی رویت ثابت شي نو بیا د حکم مدار جوړیږي لدینه مخکی .

که څه هم دا خبره له پورتنیو احادیثو بدایتاً او صراحتاً ثابتیږي چی لدینه پس د بل تاکید ضرورت نشته ، لیکن د زیات اطمنان لپاره د یو مشهور شامي فقهي علامه ابن عابدین رحمه الله بیان دلته رانقلوم .

"صرح به علمائنا من عدم الاعتماد على قول اهل النجوم فى دخول رمضان لان ذلك مبنىٰ على ان وجوب الصوم معلق برویة الهلال لحدیث "صوموا لرویته" وتولید الهلال لیس مبنیاً على الرویة بل على قواعد فلکیة وهى ان کانت صحیحة فى نفسها لکن اذا کانت ولادته فى لیلة کذا فقد یرى فیها الهلال وقد لا یرى والشارع علق الوجوب على الرویة لا على الولادة" (ج ۱ ص ۲۸۹ مکتبه نعمانیة دیوبند) بحواله بحث و نظر (ص ۷۹، ۸۰ کتاب الصوم پهلواري شریف پټنه شمار نمبر ۴ جنوري ، فروري مارچ ۱۹۸۹ء) .

همدغسی د جمهورو علماو قول په مطابق حساب دار مدار ګرځول له صحیحو احادیثو نه خلاف دي ، لکه چی په حدیث کی دي :

"عن النبى صلى الله علیه وسلم انه قال انا امة امیة لانکتب ولانحسب الخ" بخاری شریف ص ۲۵٦ جلد ۱ ، مسلم شریف ص ۳٤۷ ج ۱ ، مشکواة شریف ص ۱۷٤ باب رویة الهلال .

علامه طیبي رحمه الله د دغه حدیث په شرح کی فرمایي :

"ان الاستقصاء فی معرفة الشهر لا الی الکتب والحساب کما علیه اهل النجامة" مرقاة شرح مشکواة ص ٢٤٤ ج ٤ باب روية الهلال .
د میاشتې په معرفت کی آخري مدار حساب او کتاب نه دی لکه چی د حساب پوهان فکر کوي .
علامه علی قاري رحمه الله فرمايي :
"ان الحمل علی ما يعتاده المنجمون ليس من هدينا وسنتنا بل علمها يتعلق برؤية الهلال فانا نراه تسعا وعشرين ومرة ثلثين" مرقاة شرح مشکواة ص ٢٤٤ ج ٤ ، باب روية الهلال مطبوعه ملتان .
د حساب پوهانو چی کوم عمل دی پر هغه عمل کول زمونږ د اسلام طريقه نه ده ، بلکی د نوی میاشتی د راتلو د علم تعلق رويت هلال سره دی لکه چی مونږ کله په ۲۹مه تاريخ سپوږمی وينو او کله په ديرشم تاريخ .
الفقه علی المذاهب الاربعه کی دي :
"هل يعتبر قول المنجم؟ لاعبرة بقول المنجمين فلا يجب عليهم ولاعلی من وثق بقولهم ، لان الشارع علق الصوم علی امارة ثابتة لاتتغير ابداً ، وهی رؤية الهلال او اکمال العدة ثلاثين يوماً اماقول المنجمين فهو ان کان مبنياً علی قواعد رقيقة فانا نراه غير منضبط بدليل اختلاف ارائهم فی اغلب الاحيان وهذا هو رأی ثلاثة من الائمة وخالف الشافعية فانظر مذهبهم تحت الخط . وهو هذا.
"الشافعية قالوا يعتبر قول المنجم فی حق نفسه وحق من صدقه ولايجب الصوم علی عموم الناس بقوله علی الراجح(الفقه علی مذاهب الاربعة ص٥١١ الجز الثانی کتاب الصيام) (تاليف عبدالرحمن الجزيري ، مطبوعه استنبول ترکی)"
دحساب پوهانو خبره معتبره نه ده پرهغوی دخپل حساب په مطابق روژه نيول واجب نه دي او نه پرهغه چاچی دهغوی پرخبر اعتماد کوي، نو ځکه شارع عليه السلام روژه له داسي نبي سره متعلق کړی دی چی کله هم نه بدليږي او هغه

ویت هلال دی ، یادیرش ورځې پوره کول دي ، پاتې شودحساب پوهانو خبره اګر چې دهغوی په نزد دهغوی حساب په دقیق قواعد باندی بنادی مګر هغه بیاهم منضبط نه دی ، ځکه چې زیاتره وختونه پخپله دهغوی ترمنځ اختلاف وي ، او همدغه ددریو امامانو یعنې امام ابوحنیفه ، امام مالک او امام احمد قول دی .
ځینو شوافعو ویلي دي چې دمنجم ذات پخپله دهغه ذات او څوک چې دهغه خبره تصدیق کړي دهغه په حق کی معتبردی، لاکن راجح او غوره قول دادی چې په عامو خلکو باندی دهغوی دحساب په وجه روژه نیول واجب نه دي .
په درمختار او شامي کې دي :
"ولاعبرة بقول الموقتين ولو عدولاً على المذهب (درمختار) (قوله ولا عبرة بقول الموقتين) اى فى وجوب الصوم على الناس بل فى المعراج لايعتبر قولهم بالاجماع ولايجوز للمنجم بحساب نفسه وفى النهر فلا يلزم بقول الموقتين انه اى الهلال يكون فى السماء ليلة كذا وان كانوا عدولاً فى الصحيح كما فى الصحيح وللامام السبكى الشافعي تاليف ما فيه الى اعتماد قولهم لان الحساب قطعى اه ومثله فى شرح الوهبانية قلت ما قاله السبكى رده متأخروا اهل مذهبه ومنهم ابن حجر والرملى فى شرح المنهاج . الى قوله . ووجه ما قلناه ان الشارع لم يتعتمد الحساب بل الغاه بالكلية بقوله نحن امة امية لانكتب ولانحسب الشهر هكذا هكذا" (درمختار وشامى ج ۲ ص ۱۲۵ ، ۱۲۶) (تحت قوله مطلب لاعبرة بقول الموقتين فى الصوم وتحت مطلب ما قاله السبكى من ان الاعتماد على قول الحساب مردود) .
د موقتين يعنى د حساب پوهانو خبره اعتبار نه لري ، د هغوی د حساب په وجه په عوامو باندی روژه نیول واجب نه دي ، په معراج کی خو تر دی پوری راغلی دي چې بالاجماع دهغوی خبره معتبره نه ده ، او نه هم پخپله په حساب پوهانو باندی روژه نیول جائز ده ، په نهر کی دي :
د حساب پوهانو له خبرو نه چې په فلانکي شپه کی به په آسمان کی سپوږمی وي ، مګر په سترګو ونه لیدل شي روژه نیول جائز نه دي ، اګر چې حساب پوه عادل

وي ، د صحیح قول په مطابق په ایضاح کی هم همداسی ویل شوی دي ، په دی مسئله کی د امام سبکي شافعي پخپل تصنیف کی دا میلان ښکاره کړی دی چی د حساب پوهانو خبره معتبره ده ، ځکه چی حساب قطعي وي همدغه راز په شرح وهبانیه کی دي ، علامه شامي فرمایي :
زه وایم کومه خبره چی سبکي رحمه الله کړی ده د هغه هم مذهبو ملګرو هغه خبره نه ده منلی له هغو نه علامه ابن حجر او علامه رملي هم دی ، لکه چی په شرح منهاج کی دي . الی قوله . مونږ چی کومه خبره کړی ده چی دحساب پوهانو خبره معتبره نه ده د دی دلیل دا دی چی شارع علیه السلام په دی باندی اعتماد نه دی کړی بلکی خپل لدی قول نحن امة الخ سره هغه بالکل لغوه ګرځولی ده (شامي ج ۲ ص ۱۲۵ ، ۱۲٦ کتاب الصوم) .

په فتاوی تاتارخانیه کی دي :
"وذکر السرخسی رحمه الله فی کتاب الصوم وقول من قال یرجع الی قول اهل الحساب عند الاشتباه بعید فان النبی صلی الله علیه وسلم قال من اتی کاهناً او عرافاً فصدقه بما یقول فقد کفر بما انزل علی محمد صلی الله علیه وسلم" .
علامه سرخسی په کتاب الصو م کی ویلی دي چی کوم سړی دا ووایي چی د اشتباه په وخت کی د حساب پوهانو قول ته دی رجوع وکړي نو دهغه دا قول له قیاس نه بعیده او لری ده ، ځکه چی محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی : کوم سړی چی کاهن یا نجومي ته لاړ او د هغه خبره یی ومنله نو هغه د هغو خبرو نه انکار وکړ چی پر محمد صلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی دي .
"ذکر فی النهذیب فی کتاب الصوم : یجب صوم رمضان برؤیة الهلال او باستکمال شعبان ثلاثین ولایجوز تقلید المنجم فی حسابه لا فی الصوم ولا فی افطار وهل للمنجم ان یعمل بحساب نفسه ، ففیه وجهان ا حدهما انه یجوز والثانی لایجوز" الفتاوی تاتار خانیه ص ۳۵٦ ج ۲ کتاب الصوم باب رویة الهلال . . .

د تهذیب په کتاب الصوم کی فرمایلی دي چی د رمضان روژه رویت هلال یا د شعبان د میاشتی دیرش ورځی له پوره کولو نه وروسته واجبیږي ، او د منجمینو خبره منل نه د روژی د نیولو لپاره جائز دي او نه د اختر کولو له پاره ، مګر دا چی منجم پخپله خبره عمل کولی شي او که نه ؟ نو په دی کی دوه اقواله دي یو د جواز قول دی او بل د عدم جواز .

همدغه راز له صحیح حدیث نه ثابتیږي چی میاشت به یا د ۲۹ ورځو وي یا به د دیرشو ورځو ،د ۲۸ او ۳۱ ورځو نشي کیدای .

د حدیث الفاظ دا دي :

"عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انا امة امیة لانکتب ولانحسب الشهر هکذا وهکذا وهکذا وعقد الابهام فی الثالثة ، ثم قال الشهر هکذا وهکذا وهکذا یعنی تمام الثلثین" .

له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل زمونږ امت نالوستی دی ، د دوی اکثریت نه په لیکلو پوهیږي او نه په حساب ، میاشت به کله د ۲۹ وي او کله د دیرشو او هغه صلی الله علیه وسلم د ګوتو په اشاره د دی تفصیل بیان کړ .

(بخاري شریف ص ۲۵٦ جلد اول ، مسلم شریف ص ۳۴۷ جلد اول ، مشکوات شریف ص ۱۷۴ باب رویت الهلال) .

د مطالعو اختلاف

ظاهر روایت دا دی چی د مطالعو اختلاف معتبر نه دی .
په فتاوی عالمگیري کی دي :
"ولاعبرة لاختلاف المطالع فى ظاهر الرواية كذا فى فتاوى قاضى خان وعليه الفتوى الفقيه ابى الليث وبه كان يفتى شمس الائمة الحلوانى قالو الو رأى اهل مغرب هلال رمضان يجب الصوم على اهل مشرق كذا فى الخلاصة" فتاوى عالمگيرى ج ۱ ص ۲۱۱ باب روية الهلال .
په فتح القدير کی دي :
"واذ ثبت فى مصر لزم سائر الناس فيلزم اهل المشرق برؤية اهل مغرب فى ظاهر المذهب . الى قوله . وجه الاول عموم الخطاب فى قوله عليه السلام صوموا لرؤيته الخ" فتح القدير ج ۲ ص ۳۱۳ ، ۳۱۴ باب روية الهلال .
په علم الفقه کی دي :
که د يو ښار خلک سپوږمی وګوري نو د بل ښار خلکو لپاره هم حجت دی ، که څه هم د دواړو ښارونو تر منځ فاصله څومره ډیره وي ، آن چی که چیرته په عربو کی سپوږمی ولیدل شي او د دی خبر په معتبری طریقی سره د مشرق اوسیدونکو ته ورسيږي نو پر هغوی هم په همدغه ورځ روژه فرض ګرځي (درمختار و رد المختار وغيره) (علم الفقه دريم جلد ص ۱۷ ، ۱۸) مفتی اعظم هند مولانا مفتی کفایت الله رحمه الله ليکي :
سوال : که چیرته له ډير لری ښار نه د سپوږمی د لیدلو خبر راورسيږي نو هغه به معتبر وي او که نه ؟
ځواب : که له څومره لری ځای نه هم خبر راورسيږي بيا هم معتبر دی مثلاً د برما خلکو سپوږمی نه ده لیدلی ، يو چا په بمبی کی د سپوږمی د لیدلو ګواهي ورکړ نو پر هغه د یوی ورځی روژه قضا لازميږي ، خو شرط دا دی چی خبر له داسی طریقی نه راورسيږي چی په شریعت کی دهغه اعتبار وي ، د ټیلفون خبر معتبر نه دی (تعليم الاسلام ص ۵۶ څلورم جلد) .

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمايي
د انبياو شان آسان دی ، د هغوی په کلام کی‌څه کسر نشته ، نو ځکه امام صاحب رحمه الله دمطالعو اختلاف ته غیر معتبر ويلی دي ، دهغه رحمه الله قول له عقل او نقل سره برابر دی ، د نقل مطابق ځکه دی چی له حدیث نه دا ثابت شوی دي چی نحن امة امية لانکتب ولانحسب لدینه معلوم شو چی دشرعي احکامو دار مدار داسی دقیق حساب او هیئت باندی مبني نه دی چی په هغه کی د فن مهارت ضروري دی ، لهذا پکار دي چی دا قسم دقیق رياضي چی هر څوک وباندی نه پوهیږي په شریعت کی معتبر ونه ګڼل شي ، او د عقل مطابق ځکه چی شرعي احکام ټول عالم لپاره عام دي ، چی په هغه کی عالِم او جاهل ،فلسفی او غبي ، محاسب او غیر محاسب ټول راجمع دي ، لهذا په شرعي احکامو کی داسی خبره نه ده پکار چی صرف فلسفي او محاسب پی معلوم کړی شي ، ظاهره خبره ده چی د مطالعو اختلاف په یو خاص مقدار او مسافه کی وي ، نه داسی چی لدی خای نه تر دهلي پوری په مطالعو کی اختلاف وشي ، بلکی دی لپاره خاص مقدار ټاکل شوی دی چی د حساب پوهان وباندی نه پوهیږي مګر رویت او ګواهي داسی څیز دی چی هر څوک وباندی پوهیږي ، لهذا د رویت هلال دار او مدار باید په شهادت باندی وي نه د مطالعو په اختلاف باندی ، نو د امام ابوحنیفه قول له اصول شرعیت سره هم موافق دی او اصول عقل سره هم (وعظ العشر ص ۸۷۷) .

"نعم فینبغی ان یتعبر اختلافها ان لزم منه التفاوت بین البلدتین باکثر من یوم واحد لان النصوص مصرحة بکون الشهر تسعة وعشرین او ثلاثین فلا تقبل الشهادة ولایعمل بهما فیما دون اقل العدد ولا ازید من اکثره" .

یعنی د مطالعو د اختلاف اعتبار په هغه خای کی کیږي چی د دوه ښارونو تر منځ د یوی ورځی یا له دینه زیات فاصله وي ، ځکه چی په نصوصوکی تصریح دی چی‌میاشت به یا د ۲۹ ورځو وي یا هم د دیرشو ورځو ،که چیرته له ۲۹ ورځو نه کم ۲۸ ورځی یاله دیرشو ورځو نه زیات ۳۱ ورځی راځي نو په دی صورت کی نه شهادت قبلولی شي او نه هم پر هغه عمل کیږي (فتح الملهم شرح مسلم ج ۳ ص ۱۱۳) .

له پورتنیو تپولو رِوایاتو څخه دغه لاندینی دلائل ثابت شول :

(۱) د نوی میاشتی د راتلو مدار هلال یا ددیرشو ورځو تکمیل دی ، د نوی میاشتی د داخلیدو لپاره په افق باندی د سپوږمی پیدا کیدل کافي نه دي .

(۲) د منجمینو او حساب پوهانو حساب د منلو وړ نه دی .

(۳) میاشت ۲۹ او ۳۰ ورځي راځي ، ۲۸ یا ۳۱ ورځی نشي راتلی .

(۴) د ظاهر روایت مطابق د مطالعو اختلاف معتبر نه دی .

(۵) له یو ځای نه رسیدلی خبر هله مقبول کیدای شي چې میاشت د ۲۹ یا د دیرشو ورځو تر منځ وي ، که چیرته د دغه شهادت او خبر څخه د میاشتی ۲۸ یا ۳۱ ورځی ثابتیږي نو هغه قابل قبول نشي کیدلی .

د دغو امورو په نظر کی نیولو سره تاسي په خپل سوال کې دمصر له فتوی نه کوم اقتباس پیش کړی دی هغه له منقولو احادیثو او جمهورو فقهاو له اقوالو نه خلاف دی ،لهذا له هغی سره اتفاق نشي کیدی .

په مسئوله صورت کی څرنګه چي ستاسي ملک په جنوبي افریقا کې آسمان ګرد آلود نه وي او سپوږمي لیدل کیږي او تر ننه پورې د سپوږمي د لیدلو په اصولو عمل کیږي نو اوس دي هم هره میاشت دسپوږمي دلیدلو اهتمام دی وکړی شي ، که چیرته په کوم میاشت کې آسمان صاف نه وي او سپوږمی نه لیدل کیږي نو اقرب البلاد یا سعودي عربستان څخه د سپوږمي د لیدلو له شرعي ثبوت نه وروسته عمل وربانی کیدای شي ، په دی شرط چی سپوږمی د ۲۹ یا دیرشو ورځو وي ، او په دی شرط چی دا ثابت شي چی دسعودي عربستان حکومت دحساب پوهانو په حساب باندی عمل نه کوي بلکی له شرعي ثبوت نه وروسته دسپوږمی د لیدلو اعلان کوي (د سپوږمی دلیدلو لپاره شرعي طریقه لږ غوندی وړاندی تیره شویده) که چیرته په راډیو کی اعلان وشي چی په سعودي عربستان کی سپوږمی لیدل وشي نو دا صرف د یو اعلان حیثیت لري .

هغه ته شهادت یا شهادت علی الشهادت نه شي ویل کیدای ، کوم خلک چې د سعودي عرب په حدودو کی اوسیږي یا کومو خلکو چې خپل ځانونه دهغوی ماتحت ګرځولي دي نو هغوی دپورتنیو شرائطو په پابندي کولو سره وربانـدی عمل کولی شي ، او کوم خلک چي له سعودي نه د باندی په نورو ملکونو کی

اوسیږي نو دهغوی لپاره داخبر صرف د اعلان حیثیت لري ، د اعلان په وجه پر هغه عمل کول ضروري نه دي ، په فتح القدیر کی دي :

"لایقبل اخباره (القاضی) قاضیاً اخری فی غیر عمله او غیر عملها ولو کان علی قضائه لانه بالنسبة الی العمل الاخر کواحد من الرعایا ان الکتاب من ذلك بالاجماع" (فتح القدیر ص ۲۹۵ ج ۷ مطبوعه بیروت لبنان) هدایه اخیرین ص ۱۲٤ ج ۳ کتاب القاضی الی القاضی .

که چیرته یو قاضي بل قاضي ته د هغه دحدودو نه باهر په کوم ښار کی خبر ورکړي نو د هغه خبر دی قبول نه کړي ، اګر چی هغه د قضا په منصب فائز وي ، ځکه چی د بل قاضي په عمل ګاه کی د هغه حیثیت له عام سړي نه زیات نه دی . پاتی شو مکتوب القاضی الی القاضی مثل نو دا بالاجماع له دی حکم نه مستثنی دی .

که چیرته د ټیلفون له لاری خبر راشي نو د دی په متعلق په فتاوی رحیمیه کی حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي :

په کومو احکامو کی چی حجاب د قبول مانع دی په دی کی د ټیلفون واسطه معتبره نه ده ، اوپه کوم یو کی چی حجاب مانع نه دی که په هغه کی له قوي قرائنو څخه دمتکلم شخصیت وپیژندل شي چی فلانکی سړی خبری کوي ، نو دا معتبر دی ، ۱٦ محرم الحرام ۱۳۳۸ھ ، امداد الفتاوی ص ۷۸ ج ۲ .

خو که له ګڼو ځایونو څخه یا له یوښار نه چی هلته نامتو علماء او مفتیان حضرات وي او هغوی ته د مختلفو خلکو ګواهی ورسیږي چی مونږ پخپله سپوږمی لیدلی ده ، یا زمونږ په وړاندی دفلان ښار قاضي یا دهلال کمیټی صدر یا مفتي او معتمد علیه شخصیت ګواهي واوري او د سپوږی دلیدلو فیصله ورکړی ده ، او کله چی د داسی ګواهی ورکوونکو تعداد دومره ډیر شي چی عقلاً د هغوی د دروغژن کیدو احتمال پاتی نشي ، او د خبر مستفیض په درجه کی راشي او د دغو ګواهیو دصحیح کیدو یا غالب ظن مقامي قاضي یا دهلال کمیټی صدر او د هغه معتمد علیه شخص ته حاصل شي نو هغوی ته د اختر د سپوږمی دلیدلو اعلان کولو حق هم حاصل دی (فتاوی رحیمیه پنځم جلد) .

نوټ د سعودي حکومت په باره کی دا خبره مشهوره ده چی هغه د سپوږمی په معامله کی د شرعي ثبوت پروا نه کوي بلکی د رصدیه آلاتو او حساب په ذریعه د روژی میاشتی او اختر اعلان کوي ، که چیرته دا خبره رښتیا وي نو دا طریقه شرعاً معتبره نه ده
احقر الانام سید عبد الرحیم لاجپوري غفر له راندیر مورخه ۲۱ ذی قعده ، ۱۴۰۹ھ .

د ټیلفون له لاری خبر او افواه ګانو باندی د عید الفطر فیصله کول صحیح نه دي

(۲۸۷ سوال) په بهروچ او نورو ځایونو کی د ۲۹می سپوږمی په حساب سره وړوکی اختر وکړی شو ، مګر په راندیر سورت کی د دیرشو روژو له پوره کولو نه وروسته وړوکی اختر وکړی شو ،څه خلک وایي چی د راندیر علماو ته دسپوږمی د لیدلو خبر ورکړی شوی و مګر هغوی قبول نه کړ چی دهغه په وجه د راندیر په خلکوکی شکوک او شبهات پیدا شوی دي ، تاسو ته عرض دی چی ددی وضاحت وکړئ چی‌د سپوږمی خبر ولی قبول نه کړی شو تر څو دخلکو اطمنان وشي .

ځواب : د عید الفطر د سپوږمی د ثبوت لپاره چی کوم شرعي طریقی دي د هغوی په رڼا کی په یوه طریقه هم زمونږ په علاقه کی د سپوږمی لیدل نه و ثابت شوي ، زمونږ په وړاندی نه عیني ګواه وړاندی شوی نه د شهادت علی الشهادت کوم صورت زمونږ مخی ته راغلی دی ، او نه هم کتاب القاضي الی القاضي په اصولو کوم خط مونږ ته رسیدلی دی نه خبر مستفیض صورت و ، صرف د ټیلفون له لاری مونږ ته خبر رسیدلی و او لدینه علاوه افواه ګانی وی او بس ، دعید الفطر کولو لپاره صرف د خبر ترلاسه کیدل کافي نه دي لهذا مونږ د اختر کولو فیصله په کوم بنیاد کړی وای ؟ پکار دا دي چی هر کار د شرعي اصولو مطابق وکړی شي الحمد لله مونږ شرعي اصول په نظر کی نیولي وو، لهذا د خلکو شکوک او شبهات بی ځای دي ، دا کار باید علماو ته وسپارل شي او دهمغوی په فیصلو دی عمل وکړی شي ، په دی کی د عوامو مداخلت بالکل مناسب نه دی .

د سپوږمۍ د لیدلو او پر هغه دفیصلی کولو لپاره د زیات احتیاط ضرورت دی په دې کې باید هر وخت شرعي اصول په نظر کې ونیول شي ، د اطمنان لپاره د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب فتاوی هم وګوری .

لومړی فتوه :

شاهد لپاره ضروري ده چې د قاضي یا مفتي په مجلس کې پخپله حاضر شي او ګواهي ورکړي ،که د پردی تر شا یا له لری ځای نه د خط رادیو یا ټیلفون او وائرلس په ذریعه ګواهي ورکړي نو هغه ګواهي نه دی اګر چې آواز یې وپیژندل شي او خبری کوونکی ثقه او شهادت یې د منلو وړ وي (رویت هلال ص ۴۰) .

دویمه فتوه :

دروژی د میاشتی نه علاوه د لوی اختر یا د بل کوم میاشت لپاره د سپوږمۍ د لیدلو ثبوت د باقاعده شهادت او ګواهی نه پرته نشي تر لاسه کیدلی ، او شهادت نشي ادا کیدلی برابره خبره ده چې د قدیمی آلاتو په ذریعه خط او بل څه وي یا د جدید آلاتو له لاری لکه رادیو ، ټیلفون او داسی نور شیان (رویت هلال ص ۵۰).

دریمه فتوه :

د خبر صادق او شهادت تر منځ فرق :

که د کوم کار په متعلق یوه ثقه شخص په خپله ژبه خبر ورکړي یا په ټیلفون باندی ووایي او د هغه آواز وپیژندل شي یا خط ولیکي او خط یې وپیژندل شي نو مخاطب ته د هغه د خبر په رښتیا والي کې څه شبهه نه پاتې کیږي بلکې کامل یقین ورته پیدا کیږي ، هغه پخپله بذات خود په هغه عمل کولی شي او په ټولو کارونو کې په دې باندی خلک هم عمل کوي ، لیکن که هغه خپل دغه یقین په نورو باندی لازم او مسلط کول غواړي چې قبول یې کړي ، نوپه شریعت او په موجوده قانون کې هغه لپاره د شهادت ضابطه قائمیدل ضروري دي ، له دینه پرته هیڅ یوقاضي یا حاکم خپل یقین په بل چا باندی نشي مسلط کولی .

که چیرته یو قاضي او جج ته په ذاتي توګه د یوی مقدمی په متعلق ځومره یقین او مشاهده یی وشي مګر هغه د خپل د دغه یقین په بناء دغه مقدمه تر هغه نشي فیصله کولی تر څو پوری چی د باقاعده شهادت شرائط پوره نه کړي ، او خبره دخلکو په وړاندی اثبات ته ورسوي .

په یوعدالت کی هم د ټیلفون له لاری د چا خبر بیانول که هغه څومره هم ډیر د اعتماد وړ وي د ګواهی لپاره کافي نه دي .

په پاکستان کی چی اوس کوم واقعه تیره شوه د هلال کمیټی فیصله د علماو په نزد ځکه منظور نه شو چی مرکزي کمیټي صرف د ټیلفون په خبر باندی د اعتماد کولو په وجه اعلان کړی و ، د دی خبری کوښښ یی ونکړ چی ګواهان د کمیټی په وړاندی تیر شوی وای یا د کمیټی کوم معتمد عالِم هلته تلی وای او له هغوی نه مخامخ ګواهي آوریدلی وای او بیا د هغوی ګواهي مطابق فیصله کړی وای ، که داسی کړی وای نو هیڅ یو عالِم به له هغوی سره اختلاف نه و کړی ، جواهر الفقه ج ۱ ص ۳۹۸ ، ۳۹۹ ، دا د اسلامي حکومت حال دی .

چو کفر از کعبه بر خیزد کجا ماند مسلماني

څلورمه فتوه :

سرکاري حلقی دا یو خصوصي تهوار "رسم" او انتظامي معامله ګڼي چی د علماو مداخلت نشي زغملی ،بل دا چی هغوی په دی معامله کی صرف خبر صادق چی د هغه په آوریدلو سره آوریدونکي ته یقین راشي اعلان لپاره کافي ګڼي او د فرق له نظر نه غورځوي چی په بل چا باندی د خپل یقین مسلط کولو لپاره یواځی خبرصادق کافي نه وي بلکی شرعي شهادت ضروري دی چی هغه لپاره خاص شرائط او قواعد دي او علماء په دی خبره ښه پوهیږي چی د مسلمانانو اخترونه د نورو قومونو د رسم په شان یواځی یو رسم نه دی بلکی د یو عبادت ختمول او د بل عبادت شروع کول دي چی په هغه کی د شریعت له ښودل شویو اصولو څخه مختلف بل هیڅصورت جائز نه دی ، که یو ځیز څومره رښتونی او قابل اعتماد وي او دخلکو پر هغه یقین هم وي مګر هغه خپل دغه یقین په پوره ملک باندی تر هغه وخته پوری نشي مسلطولی تر څو پوری چی شرعي حجت او باقاعده ګواهي نه وي (ایضاً ص ۳۹۷) .

که د روژی د میاشتی دیرش ورځی پوره شي او سپوږمۍ ونه لیدل شي

(۲۸۸ سوال) د راندیر هلال کمیټی چی د رمضان المبارک سپوږمۍ لیدلی وه او د دوشنبی له ورځی نه د روژی نیولو اعلان کړی و صحیح دي ، مګر سوال دا دی چی د دیرشو ورځو روژو نیولو نه وروسته هم په آسمان کی د وریځو له کبله سپوږمۍ ونه لیدل شي نو څه دی وکړی شي ؟ اختر دی وکړی او که ۳۱مه روژه هم ونیسي ، حاجی رسول خان راندیري ۲۵ رمضان ۱۴۰۰ھ .

خواب : مسئله دا ده چی که چیرته آسمان شین نه وي نو د رمضان المبارک د سپوږمۍ ثبوت د یو دیندار یا مستور الحال سړي یا ښځی په ګواهی سره کیږي ، تراویح لوستل او روژه نیول لازمیږي .

"اذا کان بالسماء علة قبل الامام شهادة الواحد العدل فی رویة الهلال رجلاً کان او امرأة حراً کان او عبداً الی قوله وتاویل قول الطحاوی عدلا کان او غیر عدل ان یکون مستوراً" هدایه ج ۱ ص ۱۹۵ کتاب الصوم .

او که د دیرشو ورځو له پوره کولو نه وروسته بیا هم سپوږمۍ ښکاره نشي نو اختر دی وکړی شي ، د ۳۱ می روژی د نیولو ضرورت نشته .

"واذا شهد علی الهلال رمضان شاهدان والسماء متغیمة وقبل القاضی شهادتهما وصاموا ثلاثین یوما فلم یروا هلال شوال ان کانت السماء متغیمة یفطرون من الغد بالاتفاق وان کانت مصحیة یفطرون ایضا علی الصحیح کذا فی المحیط" فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۱۹۸ ، مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص ۳۵۹ الباب الثانی فی رویة الهلال ، شامي ج ۲ ص ۱۲۹ .

د رضا خانی مکتب فکر معتبر کتاب بهار شریعت کی هم دا لیکل شوي چی که چیرته د روژی د میاشتی د روژو نیولو لپاره د سپوږمۍ د لیدلو په وخت پر آسمان وریځ وي او یو کس د سپوږمۍ د لیدلو ګواهي ورکړی او د هغه په وجه د روژی حکم ورکړی شی ، نو اوس که د اختر سپوږمۍ د وریځو په وجه ونه لیدل شو نو

دیرش روژی، دی پوره کړي او اختر دی وکړي اګر که سپوږمۍ ونه ګوري ، د یو دیرشو ورځو روژه نیول ضروري نه دي ، فقط والله اعلم بالصواب .

رمضان او اختر نه علاوه د سپوږمۍ ثبوت څنګه وکړی شي؟

(۲۸۹ سوال) د رمضان المبارک او اخترونو نه علاوه د نورو میاشتو د لیدلو د ثبوت لپاره د څومره ګواهانو ضرورت دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : رمضان المبارک ، عید الفطر او عید الاضحی نه علاوه پاتی د ۹ میاشتو د ثبوت لپاره (مطلع صفا وي یا نه) دوه سړي یا یو سړی او دوه ښځو ګواهی کافي دی په شامي کی دي :

"(قوله وبقیة الاشهر التسعة) فلا یقبل فیها الا شهادة رجلین او رجل وامرأتین عدول احرار غیر محدودین کما فی سائر الاحکام ، وذکر فی الامداد انها فی الصحو کرمضان والفطرای فلا بد من الجمع العظیم ولم یغیره لاحد لکن قال الخیر الرملی الظاهر انه فی الاهلة التسعة لا فرق بین الغیم والصحو فی قبول الرجلین لفقد العلة الموجبة لاشتراط الجمع الکثیر وهی توجه الکل طالبین ویؤیده قوله کما فی سائر الاحکام" شامي ج ۲ ص ۱۳۰ قبیل مطلب فی رویة الهلال نهاراً ، فقط والله اعلم بالصواب .

د رادیو په اطلاع باندی روژه او اختر کول :

(۲۹۰ سوال) د ریدیو په ذریعه نشر شوی خبر چی سپوږمۍ لیدل شوی ده صحیح دی او که نه ؟ که معتبر دی نو څنګه خبر او تر څه وخته پوری ؟ سږکال زمونږ په علاقه کی هیڅچا میاشت نده لیدلی نو ځکه مونږ ټولو د شعبان دیرش ورځی له پوره کولو نه وروسته د سه شنبی په ورځ ونیوله ، سبا ته له بړودی نه راغلی یو سړي خبر راوړ چی په بړوده اوشاخوا علاقه کی سپوږمۍ لیدل شوی وه او د دوشنبی په ورځ روژه هم نیول شوی ده ، همدغسی له راندیر نه راغلي یو سړي هم وویل چی هلته سپوږمۍ لیدل شوی او خلکو روژی نیولی دي اوس پوښتنه دا ده چی د عدم ثبوت په وجه مونږ د دوشنبی په ورځ روژه نه وه نیولی ایا د دغی روژی قضا پر مونږ لازم ده او که نه ؟ او که لازم دی نو په څه وجه ؟

همدغه راز کوم تاریخ نه به د اعتکاف اعتبار کولی شي ؟ په تفصیل سره ځواب ولیکئ؟

ځواب : د ریډیو له لارې د سپوږمۍ د لیدلو داسې خبر خپریدل چې دلته په فلانکي ځای کی سپوږمۍ لیدل شوې ده یا دلته ډیرو خلکو سپوږمۍ لیدلې ده دا معتبر نه دی ، د رادیو له لارې د خپور شوي خبر لپاره زیات باریک شرائط دي چې د هغوی رعایت په عام رادیو کی مفقود دي او د دغو شرائط لحاظ ساتل هم زیات مشکل دي ځکه چې د حکومت له تعاون نه بغیر د هغه اجرا ناممکن دی . فقط والله اعلم بالصواب .

(ب) بیا وروسته چې د ۲۹ تاریخ سپوږمۍ ثابته شوه نو د روژې قضا ضروري ده خو د تراویح قضا نشته ، او په اعتکاف کی د ۲۹ تاریخ اعتبار دی ځکه چې په ۲۹ تاریخ کی روژه ثابته شوې ده . فقط والله اعلم بالصواب .

د ریډیو کوم یوه اعلان د اعتماد وړ دی ؟ د هغه تفصیل دا دی چې دهلال کمیټی ټول ارکان اهل السنت والجماعت وي ، بدعتي نه وي او د شرعي احکامو پوره پابند وي ، که ټول ارکان عالمان نه وي نو لږ تر لږه دوه ارکان یې باید مستند عالم یامفتي وي او له لومړۍ ورځې نه تر آخره پورې په ټولو کارونو کی شریک وي او همدغه حضرات په شرعي توګه له تحقیق او تفشیش نه وروسته د سپوږمۍ د لیدلو فیصله وکړي او د کمیټی یو رکن د ترجمان په توګه له ضروري تفصیلاتو سره په رادیو باندې د سپوږمۍ د ثبوت اعلان وکړي او معتبر علماء هغه منظو کړي نو په دې صورت کی وربانډې عمل کولی شوو د عوامو رای او منظوري معتبر نه دی .

له دیوبند نه د حضرت مفتي نظام الدین صاحب فتوه شائع شوې ده چې پر هغه د حضرت مفتي صاحب تصدیق دی ، د هغه ځینې اقتباسات تاسو په وړاندې پیش کوم .

دا خو صحیح ده چې د رادیو خبر یا اعلان شرعي شهادت نه دی ، لیکن مطلقاً په هر حالت کی ورته ناقابل عمل او ناقابل التفات ویل هم صحیح نه دي ، همدغه راز دا هم صحیح نه دي چې په ریډیو کی کوم خبر نشر شي هغه دې خامخا صحیح او رښتیا وي او پر هغه تحقیق او تفشیش کول ضروري نه وي او عمل وربانډې واجب شي ، بلکې په دې کی څه تفصیل او څه قیود او شرائط دي ، کله

چې دغه قیودات او شرائط پوره شي نو د راډیو نشر او اعلان معتبر او قابل عمل کیدای شي ، د دغو قیوداتو اجمالي نقشه په لاندې ډول وړاندې کولی شي .

(۱) چیرته چې د حکومت له طرف نه د شرعي قاعدې مطابق د رویت هلال ثبوت ترلاسه شي او د اعلان لپاره قانون او انتظام شوی وي او پر هغه عمل رائج او مشهور وي نو هلته په مقامي توګه د ټول ملک دننه عمل کولو لپاره دا مطلق اعلان هم د قاضي د اعلان په څیر معتبر دی ، برابره خبره ده چې حکومت مسلمان وي یا کافر او هلته په دغه اعلان او خبر باندې عمل کول لازم دي دا حکم ځکه دی چې په دې صورت کې له دې طریقې نه غالب ظن حاصلیږي او په دې صورت کې د مملکت له حدودو نه باهر هم ددغه اعلان او خبر باندې عمل کول ضروري دي په دې شرط چې میاشت د ۲۸ یا د ۳۱ ورځو پر ځای د ۲۹ یا ۳۰ ورځو وي .

دویمه مسئله :

چیرته چې د حکومت له طرف نه داسې انتظام نه وي هلته داسې مسلمان حاکم چې هغه ته د حکومت له طرف نه د شرعي ثبوت د تر لاسه کولو اختیار لري او هغه اعلان وکړي ، یا هلال کمیټې چې د هغه ټول افراد په شرع برابر مسلمان وي او په دې ټول کار کې کوم مستند او تجربه کار مفتي شریک وي یا د ښار مستند مفتي یا مقتداء او متدین عالِم موجود وي او دا خلک اعلان وکړي چې د شرعي ثبوت حاصلولو نه وروسته دا اعلان کیږي او له شرعي قرائنو څخه دصحت غالب ګمان وي نو په مقامي توګه دا اعلان هم معتبر دی (په دې شرط چې مقامي یا دقرب او جوار مستند علماء تصدیق وکړي ، عوام خلک دې عجلت او بیړه نه کوي .)

دریمه مسئله :

په کوم ځای کې چې د حکومت له طرف نه شرعي انتظام نه وي او نه کوم مسلمان حاکم د حکومت له طرف نه د شرعي قاعدې په مطابق د ثبوت تر لاسه کولو او د هغه د اعلانولو اختیار ولري او نه هم کوم شرعي هلال کمیټې موجود وي کله چې زمونږ د ملک اکثرو قریو او کلیوالو همدغه حال دی حال دا چې هلته هم مسلمان اباد دي او زیات شمیر کې اوسیږي ، هغوی باندې هم روژه نیول او د شوال لومړی تاریخ معلومول ضروري دي ، ځکه چې د شوال په لومړی ورخ

روژه نیول حرام دي ، او دا ضروري نه ده چې سپوږمی هر چیرته او همیشه ښکاره شي . رادیو په هر یو قریه او کلیوالو کی رائج شوی دی ، که چیرته د رادیو په ذریعه اعلان وشي او بیا اعلانیږي نو دی لپاره دا حکم دی چې دا خبر که څه هم د خپل ملک له کومی حصی نه راشي لیکن په دی الفاظ راشي چې دلته سپوږمی لیدل شوی دی ، یا فلان شخص لیدلی دی ، یا ډیرو خلکو لیدلی دی نو دا خبر اعتبار نه لري ، او زمونږ په ملک کی نن سبا د رادیو خبرونه او اعلان اکثر همداسی وي ، او په عوامو کی هم اکثر د شرائطو او قیوداتو لحاظ ساتلو نه بغیر دغه خبر اؤ اعلان قابل عمل ګرځوي ، د همدغو وجوهاتو له کبله ځینو علماو د رادیو اعلان او خبر مطلقاً ناقابل اعتبار او ناقابل عمل ګرځولی دی ، که نه راجح او محقق دا دی چې که په دی الفاظ اعلان یا خبر خپور شي چې زما په وړاندی فلان شرعي حاکم یا د هلال کمیټی چې ټول ارکان یې په شریعت برابر دي ، یا د فلانکي ښار مفتي او مستند عالِم ، یا فلان مسلمان حاکم یا وزیر چې د حکومت له طرف نه بااختیار ګرځولی شوی وي د شرعي ثبوت له ترلاسه کولو نه وروسته د سپوږمی د لیدلو فیصله کړی ده ، او د دغو الفاظو نشر کوونکی شخص هم معلوم مسلمان وي نو په دغه اعلان باندی عمل کول صحیح دي (نظام الفتاوی ص ۱٦_۲۳ ج ۱) رویت الهلال ص ۱۸_۲۰ .

لاندی یوه بله فتوه هم ستاسی په خدمت کی پیش کوم :

پوښتنه : زمونږ سورت ضلع کی ځای پر ځای له پخوا نه داسی سلسله روانه ده چې د رمضان په میاشت او د اختر د سپوږمی د خبر د تر لاسه کولو لپاره د قوم پیشوایان یو سړی اګر که هغه فاسق او فاجر هم وي په ۲۹ تاریخ سورت یا بل کوم مشهور ځای ته یو داسی مقتداء شخص ته لیږي چې شاخوا خلک د هغه خط پیژني ،هغه مقتداء شخص د سپوږمی د لیدلو خبر په کاغذ کی لیکي او هغه ته ورکوي ، د دغه خط له لوستلو نه وروسته د قوم مقتدی او مشران ځای پر ځای د روژی یا د اختر سپوږمی د لیدو اعلان کوي ، ایا د داسی خبر په ذریعه روژه نیول یا اختر کول صحیح دي ؟

ځواب : له بل ځای نه زباني یا تحریري خط په ذریعه د سپوږمی د لیدلو خبر راوړونکي کسان باید لږ تر لږه دوه متدین او معتبر کسان وي ، لدینه قطع نظر چې دا سپوږمی د روژی د میاشت وي او که د اختر د میاشت دغه دواړه کسان د هغه

ځای له قاضي صاحب نه ، په دی شرط چی له هغه سره لږ تر لږ د سپوږمۍ دلیدلو دوه ګواهانو نومونه لیکل شوی وي) یو خط په بنده لفافه کی کی په حفاظت سره راولي او د ځپل کلي قاضي صاحب په وړانـدی پـیش کـړي ، قاضـي صـاحب لـه لوستلو او تفتیش کولو نه وروسته د روژی یا د اختر اعلان وکړي ، دا خبره په ذهن کی وساتل شي چی قاضي صاحب باید عالم ، متدین او معتبر وي (محمد کفایـت الله کان الله له ، دهلي ، شوال ۱۳٦۹ھ دار الافتاء مدرسه امینیه دهلي) .

ځواب که د هغه ځای عام مسلمانان په قاضي صاحب باندی په دیني امورو کـی اعتماد او د هغه په اعلاناتو باندی عمل کوي نو د هغه یواځی لیـک "خـط" د دوه ثقه او معتبرو کسانو په مخکی ولیکي او هغوی ته واوروي ، بیا په محفوظه لفافه کی له بندولو نه وروسته هغوی ته حواله کړي ، نو په دی صـورت کـی د هغـه دا خـط کافي دی . دغه دواړه ثقه چی کله دا بیان کړي چی زمونـږ پـه وړانـدی یی خط لیکلی او په هغه کی دا دا خبرې کړی دي نو په دی اعتبار وکـړی ، یعنـی قاضـي صاحب دی دخط له لوستلو او تفتیش نه وروسته دی د روژی یا اختر اعلان وکړي په دی کی څه حرج نشته . فقط والله اعلم بالصواب ، محمد ګنګوهي عفی الله عنه ، معین مفتي مظاهر علوم ، سهارنپور ، ۱۷ شوال ۱۳٦۹ھ (فتاوی محمودیه ج ۳ ص ۱۵۷) الجواب صحیح ، سعید احمد مفتي مدرسه مظاهر علوم سهارن پور .

(سوال) مونږ د یو یا دخو تنو په ګواهی چی په شریعت کی د هغوی ګواهي معتبـر نه دی د میاشتی له ۲۹می نیټی نه وروسته روژه ونیوله او یـا مـو اختـر وکـړ ، بیـا وروسته له بل ځای نه هم دشرعي او یقیني شهادت نه هم ثابت شو چـی مونـږ پـه کوم تاریخ روژه نیولی وه هغه صحیح وه ، ایا د دغو خلکو روژه په رمضان شـریف کی حسابیږي او ایا د هغوی اختر صحیح دی او که نه ؟

ځواب : ستاسی دغه روژه درمضان شریف په روژو کـی حسـابیږي او اختـر مـو هـم حقیقي او صحیح دی ، لیکن څرنګه چی په ابتداء کی له څه شرعي ثبوت نه بغیر یعنی غیر شرعي شهادت له کبله د روژی نیولو او اختر کولو په وجـه ګنهګـار شـوی یاست لهذا تاسو ته توبه او استغفار ضروري دي ، په داسی حالت کی تاسو ته پکـار و چی روژه مو نه وای نیولی او یا مو اختر نه وای کړی که څه هـم وروسـته مـو د روژی قضا راوړی وای او یا مو اختر وروسته کړی وای ، فقط والله اعلم بالصواب .

الجواب صحيح بنده محمد شفيع عفي الله عنه ، ماضي مفتي دار العلوم ديوبند العبد محمد گنگوهي معين مدرسه مظاهر علوم سهارنپور ، ٢٧ شوال ١٣٦٦ھ ، عبد اللطيف ناظم مظاهر علوم سهارنپور سيد احمد مفتي مظاهر علوم سهارنپور ، ١٢ شوال ١٣٦٦ھ .

نوټ چيرته چې عالِم ، ديندار او قابل اعتماد مفتي صاحب موجود نه وي هلته د ګواهي معتبر کيدو يا نه کيدو کار دى تجربه کار او معتمد علماو ته وسپارل شي ، په دغه سلسلو کې د هغوى اتباع لازم دى .

"او كانوا ببلدة لاحاكم فيها صاموا بقول ثقة (قوله لاحاكم فيها) اى لاقاضى ولا والى كما فى الفتح (فقوله صاموا بقول ثقة) اى افتراضاً لقول المصنف فى شرحه وعليهم ان يصوموا بقوله اذا كان عدلاً" شامى ج ٢ ص ١٢٥ ، عمده الرعاية مع شرح الوقاية ج ١ ص ٢٤٦ .

آخري دواړه فتوى ١٩٥٠ء کې جماعتي اخبار کې شائع شوى دي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د جمع عظيم وضاحت :

(٢٩١ سوال) سږ کال د رانديز هلال کميټې له طرف نه دلوى اختر د مياشتى د ليدلو اعلان وشو ، اوريدلى مو دي چې په دى باندى د رضاخاني مکتبه فکر خه خلکو اطمنان نه دى شوى ځکه چې مطلع صفا وه او په دى کې د جمع عظيم ګواهي ضروري دي ، په داسى حال کې چې په اوسني صورت کې لس دولس ګواهان وو چې جمع عظيم ورته نشو ويلى ، تاسى مهرباني وکړئ په حوالو سره دجمع عظيم وضاحت وکړئ ، فقط بينوا توجروا .

ځواب : کله چې مطلع "آسمان" شين وي نو په دى صورت کې د صحيح قول په مطابق دى اپاره کوم خاص تعداد نه دى ټاکل شوى ، البته د دومره خلکو ګواهي کافي دى چې پر هغوى د قاضي او نورو اطمنان وشي ، په درمختار کې دي :

"(وقیل بلاعلة جمع عظیم یقع) (العلم) الشرعي وهو غلبة الظن (بخبرهم وهو مفوض الی رأی الامام من غیر تقدیر بعدد) علی المذاهب" درمختار رد المختار ج ۲ ص ۹۳ کتاب الصوم .

په فتاوی عالمکیري کی دي :

"وان لم یکن بالسماء علة لم تقبل الا شهادة جمع کثیر یقع العلم بخبرهم مفوض الی ردی الامام من غیر تقدیر هو الصحیح کذا فی الاختیار ، شرح المختـــار" فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۹۶ کتاب الصوم .

الاختیار لتعلیل المختار کی دي :

"(وان لم یکن بالسماء علة لم تقبل الا شهادة جمع کثیر یقع العلم بخبرهم) وهو مفوض الی رأی الامام من غیر تقدیر هو الصحیح" الاختیار ج ۱ ص ۱۲۹ .

د رضاخانی مکتبه فکر مشهور کتاب بهار شریعت کی دي :

مسئله :

که چیرته مطلع صفا سرته وي نو تر څو پوری چی زیات خلک ګواهي ورنکړي ، د سپوږمی د لیدلو ثبوت نشي کیدلی ، پاتی شوه دا خبره چی دی لپاره څومره خلک پکار دي دا قاضي پوری اړه لري ، په څومره ګواهانو سره چی دهغه غالب ګمان وشي حکم به ورکوي الخ (بهار شریعت ص ۱۰۵ حصه پنجم چاند دیکهنے کا بیان).

له پورتنیو حوالو څخه څرګند شو چی جمع عظیم لپاره هیڅ ټاکلی تعداد نـه دی معلوم . قاضي یا د هلال کمیټی مسئولو چی پـه څـومره ګواهـانو بانـدی اطمنـان وشي هغه کافي دي .

په مذکوره صورت کی له مونږ سـره د دار العلـوم اشـرفیه رانـدیر طلبـه ، د جـامع اسلامیه ډبیهل طالبان لدینه علاوه د وهارا سیمی ګواهان (چی یکی یو غلام هم و) او د بهروچ سیمی ګواهان هم وو ، ددغو ټولو ګواهانو د ګواهی په صـورت کـی چی له مختلفو خایونو څخه وو مونږ ته پوره اطمنان وشو ، نو ځکـه مـو د رویـت هلال اعلان مو کړی وه ، فقط والله اعلم بالصواب .

که د فیکس په ذریعه د سپوږمۍ د لیدلو خبر ترلاسه شي نو د دی څه حکم دی ؟

(۲۹۲ سوال) که چیرته د فیکس په ذریعه د سپوږمۍ د لیدلو خبر تر لاسه شي نو پر هغه عمل کول څنګه دي ؟ ایا فیکس ته کتاب القاضی الی القاضی ویلی شو او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب فیکس د خط حکم لري ، دا کتاب القاضی الی القاضی په حکم کی نه راځي ځکه چی په دی کی د کتاب القاضی الی القاضی ټول شرائط موجود نه دي ، لهذا کوم حکم چی د خط وي همغه حکم د فیکس هم دی ، فقط والله اعلم بالصواب .

د ګمراهی نوي نمونه :

(۲۹۳ سوال) دلته په انګلستان کی څه خلکو لس ورځی وړاندی اعلان کړی دی چی د رمضان لومړی روژه به د پنجشنبی په ورځ وي ، په داسی حال کی چی د اهل السنت والجماعت په حساب سره د پنجشنبی په ورځ به ۲۸ شعبان وي ، ایا له مخکی نه د روژی ورځ مقررول صحیح دي ؟

ځواب : له وړاندی نه د روژی ورځ مقررول جائز نه دي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم چی وربانـدی وحـي کیـده کلـه هـم لـس ورځـی وړاندی د روژی ورځ نه ده مقرره کړی چی په فلانکـی ورځ بـه روژه وي ، بلکـی هغه صلی الله علیه وسلم د شرعي ضابطی پابندی کړی دی .

لهذا په لندن کی چی کومو خلکو لس ورځی وړاندی د رمضان د میاشتی لومړی ورځ مقرره کړی ده هغه صحیح او جائز نه دی .

که لـــه لری ځای نه د سپوږمۍ د لیدلو خبر بطریق موجب ورسید نو پر هغه عمل وکړو او که نه ؟ د ابن عباس رضی الله عنه له حدیث نه دغیر مقلد عالِم استدلال کول څنګه دي ؟

(۲۹۴ سوال) که چیرته زمونږ د سورت اوسیدونکو ته له لری ځایونو نه د سـپوږمۍ د لیدلو خبر راشي ، ایا مونږ لپاره پر هغه عمل کول جـائز دي او کـه نـه ؟ پـه دی

باره کی د احنافو علماء څه وايي ؟ مولوي عبد الجليل سامرودي چې غير مقلد دی دیته ناجائز ویلی دي او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه له حدیث څخه یی استدلال کړی دی ؟

ځواب حامدا ومصليا ومسلما : د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "صوموا لرويته وافطروا لرويته" دا حدیث مطلق او عام دی ، په دی کی د قریب او بعید کوم قید او د کوم ملک او ښار هیڅ قسم تخصیص نشته ، نو ځکه د احنافو په نزد د ظاهر الروایت مفتی به ، معتمد او مختار مذهب موافق د صوم او فطر په هلال کی د مطالعو اختلاف معتبر نه دی ، لهذا که چیرته له شرق نه د رویت هلال خبر د غرب اوسیدونکو ته ورسیږي نو په هغه باندی عمل کول لازم دي ، لکه چی په فتاوی عالمګیري کی دي: "ولاعبرة لاختلاف المطالع فی ظاهر الرواية ، كذا فی فتاوی قاضی خان وعليه الفتوى الفقيه ابی الليث وبه كان يفتي شمس الائمة الحلوانی قال لو رأى اهل مغرب هلال رمضان يجب لی اهل مشرق كذا فی الخلاصة" ج ۱ ص ۱۹۹ الباب الثانی فی روية الهلال .

او په درمختار کی دي :

"واختلاف المطالع غير معتبر على ظاهر المذهب وعليه اكثر المشائخ وعليه الفتوى ، بحر عن الخلاصة" او په فتاوی شامي کی دي : "وهو المعتمد عندنا وعند المالكية والحنابلة لتعلق الخطاب عاما بمطلق الروية فی حديث صوموا الرويته الخ" ج ٤ ص ۱۳۲ قبيل باب ما يفسد الصوم الخ .

د دی په خلاف د مطالع د اختلاف د ثبوت لپاره دحضرت ابن عباس رضی الله عنه حدیث وړاندی کول کافي نه دي . ځکه چی په دی کی څو احتمالات دي اول دا چی کریب رضی الله عنه د بل چا په شهادت باندی شهادت نه دی ورکړی ، دویم دا چی د حاکم په حکم باندی هم ګواهي نه ده ورکړی ، دریم دا چی د اشهد په لفظ سره هم ګواهی نه ده ورکړی ، او که دا ټول ومنل شي نو بیا هم دیو تن په ګواهی سره وجوب القضاء على القاضی نه ثابتیږي ، نو ځکه ابن عباس رضی الله

عنه د کریب رضی الله عنه په شهادت باندی عمل ونه کړ لکه چی په بحر الرائق کی دي

"فلا دلیل فیه لانه لم یشهد علی شهادة غیره ولا علی حکم الحاکم ولئن سلم فلانه لم یأت بلفظ الشهادة ولئن سلم فهو واحد لایثبت بشهادته وجوب القضاء علی القضاء" (ج ۲ ص ۲۷۰ کتاب الصوم تحت قوله ولاعبرة باختلاف المطالع الخ) .

امام نووي شافعي رحمه الله د دغه حدیث لاندی لیکلي دي :

"قال بعض اصحابنا تعم الروية فی موضع جمیع اهل الارض فعلی هذا نقول انما لم یعمل ابن عباس رضی الله عنه بخبر کریب رضی الله عنه لانه شهادة فلا تثبت بواحد" شرح مسلم ج ۱ ص ۳٤۷ باب بیان ان لکل بلدة رویتهم الخ.

که دا وویل شي چی ابن عباس رضی الله عنه خو دا نه دي ویلي چی ته یواځی یی نو ځکه ستا ګواهي د منلو وړ نه دی ، نو دا یی کله ویلی دي چی څرنګه د شام ملک ډیر لرې واقع دی نو لهذا دهغه ځای رویت زمونږ لپاره حجت نه دی ، نو اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال په دی مسئله کی د احنافو علماء یواځی نه دي بلکی حنابله ، مالکیه او شوافع هم له احنافو سره ملګري دي ، لکه چی د شامي شرح مسلم له عبارت نه واضح کیږي او ځینی مشهور اهل حدیث حضرات هم ددغه مسلک موید دي ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۲۸ رمضان المبارک ۱۳٦۵هـ .

د شین آسمان په صورت کی د سپوږمی د لیدلو لپاره جم غفیر ضروري دي

(۲۹۵ سوال) د رویت هلال په متعلق د څومره کسانو ګواهی معتبر دی ؟

خواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً . سږ کال د وروکي اختر په وخت آسمان شین و نو ځکه په موقع باندی دوه څلور کسانو ګواهي کافي نه دی ، بلکی دجم غفیر او د لوی ډلی ګواهي ضروري دی تر څوقاضي یا دهلال کمیټی ارکانو ته دسپوږمی د

لیدلو اطمنان وشي ، او قوي شبهه پاتی شي ، عام وګړو ته په دی کـی د مـداخلی کولو هیڅ ضرورت نشته .

" واګر مطلع صاف باشد رمضان و شوال جماعتي عظیم می باید " ما لا بـد منـه ص ۹۳

"الجم الغفير يقع به العلم فى هلال الصوم والفطر والاضحى رسائل الاركان ص ۱۰۷ فصل يفترض على المكلف الخ) والعالم الثقة فى بلدة لا حاكم فيه قـائم مقامه (عمدة الرعاية على شرح الوقاية ج ۱ ص ۳۹ كتاب الصوم) فقط والله اعلم بالصواب .

باب ما يتعلق بالسحر والافطار

د پيشمني او روژه ماتي په باره کی معلومات

د پيشمني او روژه ماتي لپاره د داريې وهل څنګه دي ؟

(٢٩٦ سوال) ايا د روژی په مياشت کی د پيشمني او روژه ماتي په وخت داريه وهل جائز دي او که نه ؟

ځواب : څرنګه چی د نکاح او د جنګ د اعلان لپاره د داريی او نورو شيانو وهل له احاديثو نه ثابت دي ، همدغه راز د سپوږمی د ليدلو ، پيشمني او روژه ماتي په وخت کی ضرورتاً د اعلان په خاطر د داريی وهل جائز دي ، په دی شرط چی د باجی په طرز او طريقه نه وي ، درمختار .

"وعن الحسن لا بأس بالدف فى العروس ليشتهر وفى السراجية هذا اذا لم يكن لـه جلا جلّ ولم يضرب على هيئة التطرب الخ . اقول وينبغي ان يكون طبل السحر فى رمضان لايقار النائمين للسحور كبوق الحمام تامـل" ج ٥ ص ٣٠٧ شامي كتاب الحضر والاباحة .

ايا پيشمنی د نيت قائم مقام دی او که نه ؟

(٢٩٧ سوال) د پيشمني په وخت کی مې د روژی نيت له ياده ووت ، ايا زما روژه کيږي او که نه ؟

ځواب : که چيرته د پيشمني په وخت کی دا اراده نه وي چی زه روژه نيسم نو پيشمنی کول پخپله د روژی نيت دی ، په جوهره کی دي :

فالسحور فى شهر رمضان نية ذكرهُ نجم الدين نسفى وكذا اذا تسحر لصوم اخر كان نية له وان تسحر على انه لايصح صائما لايكون نية (جوهرة. ج١ص ١٤٠ كتاب الصوم).

نوټ: داخبره دی په ياد وساتل شي چی په روژه کی دروژې نيت دشرعي نصف النهار نه مخکې مخکې کولې شي هله چی څه خوراک څښاک مو نه وي کړی.فقط والله اعلم.

ایا دروژه ماتي لپاره دجمعې لمونځ وروسته کولې شوو او که نه ؟

۲۹۸ سوال دروژې په میاشت کې دروژې ماتي په وخت دماښام لمونځ خومره وروسته کولې شوو؟

ځواب: دروژې ماتې په خاطر تر اووه دقیقو پورې دماښام دلمونځ جمع وروسته کولې شئ، والاصح انه یکره الا من عذر کالسفر والکون علی الاکل ونحوهما اویکون التاخیر قلیلاً وفی التاخیر بتطویل القرأة خلاف انتهی (کبیري ص۲۳۳ فروع فی شرح الطحاوي) فقط.

له افطارنه وروسته دی اذان کله وکړی شي؟

۲۹۹_ سوال : له افطار نه وروسته دی څومره وخت وروسته اذان وکړی شي ؟ وضاحت وکړئ.

ځواب: دلمر پریوتلو نه وروسته دی افطار وکړي او بیا دی اذان وکړي، دافطار (روژه ماتي) په وجه دجمعی لمونځ ترمنځه اووه منتو (دقیقو) پورې دوروسته کولو ګنجائش موجود دی ، والا صح انه یکره الا من عذر کالسفر والکون علی الاکل ونحوهما اویکون التاخیر قلیلا(کبیري ص۲۳۳ کتاب الصوم.)

دپیشنمي په وخت اعلان کول څنګه دی؟

۳۰۰_سوال: زمونږ په کلي کی له اوږدی مودی نه دپیشنمي آخري وخت کی به السلام والسلام علیك یارسول الله صلی‌الله علیه وسلم لوستل کیده. غرض داچی دټولو انبیاء کرامو نوموړنه به یې اخستل اوپه دی سره به خلکو خپل پیشمنې بندول.

اوس دکلي مولانا صاحب وایې چی داد محمدصلی‌الله علیه وسلم له سنت نه خلاف دی.

صحیح سنت دادی چی دوه آذانه وویل شي . یودی لپاره چی دسحري پیشنمي آخري وخت معلوم شي او بل دسهار لمونځ لپاره . هغه د بخاري لومړی جلد نه استدلال کوي وی ګوری. محمدصلی‌الله علیه وسلم حضرت بلال رضی‌الله عنه دپیشنمي داذان لپاره مقرر کړی و او حضرت عبدالله بن مکتوم رضی‌الله عنه د سهار دآذان لپاره . له همدی وخت، نه په کلي کی دسلام ویلو طریقه بنده شوی ده اودمولانا صاحب په وینا دوه آذانونه ورکول کیږي ، یو آذان دسحر پیشنمي آخر وخت دښودلو لپاره اوبل دسهار لمونځ لپاره .

تاسې مهرباني وکړئ په دی باره کې مکمل اوتفصیلي ځواب راکړئ چی پکې دکتابونو حوالې هم لیکل شوي وي .

ځواب: دپیشمي دختمولو لپاره نه سلام کول سنت دی او نه آذان ویل خلک پخپله دپیشمني وخت معلومولې شي ، له ټولو سره ساعتونه دي خوکه په کوم وخت کی څه ضرورت وي نو آواز کول کافی دي چی دپیشمني وخت په ختمیدو دی ، لیکن دادی سنت ونه ګڼل شي، دحضرت بلال په روایت کی له صبح صادق نه وړاندې دآذان نه کولو صریح حکم موجود دی‌لهذا آذان متروک العمل دی .

په بحر الرائق کی دي : وعند ابی حنیفة رحمه الله ومحمد رحمه الله لایؤذن فی الفجر قبله کما رواه البیقي انه علیه الصلوة والسلام قال یابلال لاتؤذن حتی یطلع الفجر . قال فی الامام رجال اسناده ثقات .

یعنې حضرت امام ابو حنیفه او امام محمد په نزد دی له صبح صادق نه مخکې آذان ونه ویل شي، ځکه چی په سنن بیهقي کی روایت دی چی محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : ای بلاله! ترڅو پورې چی صبح صادق نه وي شوې دسهار آذان به نه کوې دحدیث روات معتبر دي ، (ص۲۶۳_ ۲۶۲ جلد۱ باب الاذان تحت قوله ولایؤذن قبل الوقت) فقط والله اعلم بالصواب.

روژه دی کله مات کړی شي؟

۳۰۱_سوال : زمونږ دمسجد په ګړی کی دریډیو په حساب سره ټایم (وخت) مقرر دی ، خودریډیو او جنتري وختونو ترمنځ پنځه دقیقې فرق دی، مثلاً په جنتري کی دلمر پرې

وتلو وخت پاوه باندی شپږ بجی دی او دراډیو دوخت په حساب لس باندی شپږ بجی دی نو آیا په دی سره روژه ماته کی څه حرج شته ؟

ځواب: دمغرب دآذان، لمونځ او روژه ماتې مدارلمر پرې وتلو پورې دی نه دساعت او جنتري پورې، ساعت او جنتري دلمر پرې وتلو تابع دی داغلط کیدای هم شي.[1] له دینه تریو حده پورې مدد اخستلې شوو خوپوره تکیه ورباندې نه شو کولې، که چیرته تاسې وګورئ چی لمر پرې وت یادنورو په وینا او قرائنو څه یقین راشي چی لمر پرې وت نو ضرور روژه ماتې وکړئ، احتیاط کولو ته هیڅ ضرورت نشته. ترڅو پورې چی دلمر پرې وتلو یقین تاسو ته نه وي شوې دجنتري اودساعت په تیم باندی روژه ماتول او لمونځ کول صحیح نه دی.

نوټ: دډهلي دجامع مسجد دروژه ماتې نظام دقابل تقلید کیدو په وجه ویل کیږي چی دجومات په پورتني حصه کې یو سړی دی لپاره ناست وي چی کله هم لمر پرې ووځي هغه خپل بیرغونه چی په لاس کې نیولي وي وخوځوي. کله چی هغه وګوري چی لمر پرې وت نو په خپل لاس کې نیولي بیرغونه خوځوي، په دی سره فوراً د مسجد مناره روښانه کیږي او دتوپ ډزی کیږي، لیکن کله چی اسمان وریځ وي او لمر نشي لیدلې نو څو دقیقې وروسته ډزی کوي. (خلاصة جمیعة تگائمز أهلي ۳رمضان المبارك ۱۳۸۹ ه.

په روژه ماتې کی دغوښې اوپلاو انتظام کول او دجمعې لمونځ وروسته کول

۲۰۳ ـ سوال: زمونږ په علاقه کی درمضان په میاشت کی دثواب دترلاسه کولو په خاطر په مسجد کی ډیر خلک په روژه ماتې کی ډوډی، غوښه، وریجی او دکراهي انتظام کوي. دافطار په وجه ۸ـ۱۰ منټه په لمونځ کی تاخیر راځي،یو شخص وایي چی داسې کول ګناه دی. ګویا دثواب پرځای ګناه دی لهذا داسې پروګرام باید ونکړی شي دډېر خبرو په وجه دکلي خلکو دافطار نظام بند کړ دی، دافطاري په بهانه چی

---

[1] ای وقت المغرب من غروب الشمس الی غروب الشفق لروایة مسلم صلاة المغرب مالم یسقط نور الشفق بحر الرائق کتاب الصلاة ج۱ص۲٤۵.

غربیانو ته کومه ډوډۍ او خوراک ترلاسه کیده هغه بند شوی دی ، اوس سوال دادی چی ایا په لمونځ کی تقریباً ۸_۱۰ منټه تاخیر کول ګناه ده ؟

ځواب: په روژه ماتي کی باید اختصار وکړی شي ، دغرباو لپاره ډوډۍ غوښې ، پلاو او کړاهي پروګرام دی له لمونځ نه وروسته وکړی شي ، انشاء الله .په دی سره هم پوره ثواب ترلاسه کوي ، له لمونځ نه وروسته دډوډۍ ، غوښې ، پلاو، کړاهي او نورو خوراکونو لپاره لس دقیقي هم کافی نه دي له ډیرو خلکو نه رکعتونه ځي او له ډیر ونه دجمعي لمونځ فوت کیږي او ګنهګاریږي لهذا ددی پروګرام له لمونځ وروسته مناسب دی . فقط والله اعلم بالصواب.

دافطاري (روژه ماتي) او لمونځ ترمنځ دفاصلې اندازه

۳۰۴_ سوال : که چیرته دروژې په میاشت کی دروژه دارانو په خاطر دماښام دآذان او جمعې ترمنځ لس دقیقي وقفه مقرر کړی شي نو ایا په دی کی څه حرج شته ؟

ځواب: دروژې ماتولو په خاطر دآذان او ماښام لمونځ ترمنځ پنځه یا اووه دقیقې وقفه او تاخیر کولو کی هیڅ حرج نشته بلاکراهت جائز دی .

که چیرته په کور کی روژه ماتوونکې خلک نشي رسیدلې نو لس دقیقې تاخیر کول هم جائز دی ، هنوی ته پکار دي چی له کور نه ژر راشي اویاهم په مسجد کی روژه ماتې وکړي او حاضرینو ته دانتظار زحمت ورنکړي . والا صح انه یکره الا من عذر کالسفر والکون علی الاکل ونحوها اویکون التاخیر قلیلا. (کبیري ص۲۳۳ شروع فی شرح الطحاوی.) فتاوی محمودیه ۱۳/ ۱۳٤ فقط والله اعلم بالصواب.

دافطاري (روژه ماتی) او ماښام لمونځ ترمنځ دفاصلې اندازه

۳۰۵_ سوال دروژې په میاشت کی دلمر پرې وتلو نه وروسته دجمعې لمونځ کولو لپاره څومره فاصله او وخت پکار دی ؟ ایا دلسو دقیقو وقفه جائزه ده .

ځواب: دروژې ماتي پروګرام باید مختصر وي ، یعنې په اووه دقیقو کی دی له افطاري نه ځان فارغ کړي او په تکبیر اولی کی خپل ځان شریک کړي، که چېرته په کور کې

روژه ماتوونکي کسان نه شي رسیدلې نو لس دقیقې وقفه هم جائز دی ، لیکن په کور کې روژه ماتې نه فارغ شوي دي هغوی ته دانتظار زحمت ورنکړي، ځکه چې حاضرینو لپاره انتظار کول او اودس ساتل ډیر ګران تماميږيلهذا دهغوی لحاظ بايد وساتل شي فقط والله اعلم بالصواب.

دروژه ماتي لپاره ورکول شويو پیسو باندی دی کور کی روژه ماتې وکړي او که په مسجد کی ؟

۳۰۶_ سوال : له نورو ملکونو څخه چې دروژې په میاشت کی په مسجد کی دروژه ماتي له پاره کومې پیسی راځي او په هغو پیسو سره خوراکي شیان پخوي ایا دا شیان په مسجد کی جمع شوي خلکو باندې وخوروي او که په کورونو کی تقسیم کړي ؟ مفصل ځواب راکړئ.

ځواب: کله چې پیسې دی لپاره رالیږل شوې وي چې په مسجد کی روژه ماتوونکو لپاره دروژه ماتې خوراک څښاک واخستل شي نو بیا پکار دي چې په مسجد کی موجوده روژه دارو باندی خوراک څښاک وکړی شي. که په کور کی تقسیمول غواړي نو بیا له هغه چانه اجازه غوښتل ضروري دي چې دغه پیسې يې لیږلې دي ، وګورئ فتاوی محمودیه ۸/ ۳۱۵ فقط والله اعلم بالصواب.

له افطار نه دپاتې شويو پیسو مصرف

۳۰۷_ سوال: افطار (روژه ماتي) لپاره چې کومې پیسې رالیږل شوې دي ایا هغه دی په همدې کال کی ټول مصرف کړې شي او که دبل کال له پاره ساتل يې هم جائز دي ، لدینه علاوه ایا ددی خبرې هم اجازه شته چې په دغو پیسو غریبانو ته دخوراک څښاک څیزونه واخلو او وربانذی وویشو؟

ځواب: دغه پیسې باید دلیږوونکي داجازې او هدایت په مطابق خرج کړی شي، دهغه له اجازې نه بغیر داسې کول صحیح نه دي ، (وګورئ تحقیق وقف بودن یانبودن چنده امداد الفتاوی ۲/ ۵۹۳).

دپیشنمي وخت

۳۰۸_ سوال : په رمضان المبارک کی چی دپیشمني او روژه ماتي لپاره کوم وخت او ټائم ټیبل شایع کیږي په دی کې خصوصاً دپیشمني په وخت کی لوی فرق وي ، موذن صاحب وایي چی دپیشنمي وخت ختم شوی دی مګر بل خواته اعلان کیږي چی نور وخت په ختمیدو دی ،لهذا په کوم ټائم ټیبل باندی عمل وکړی شي؟

ځواب: ټائم ټیبل یو حسابي او اټکلي څیز دی په هغه باندی داسې اعتبار کول چی دیو دقیقې فرق هم نه وي نه دی پکار ، اصل څیز دلمر پرې وتل او دصبح صادق پخپلو سترګو مشاهده اودزړه ګواهي ده . روژه مهم عبادت دی نو ځکه په دی کی احتیاط پکار دی .

په کوم ټائم ټیبل کی چی داحتیاطي پهلو زیات خیال ساتل شوې وي دهمغه په نظرکی نیولو سره دزړه په ګواهي باندی عمل وکړئ . که روژه دستمبر په میاشت کی راځي دحساب له مخې دستمبر په میاشت کی صبح صادق اودلمر ختلو ترمنځ تقریباً یو ساعت او پنځه ویشت دقیقي فاصله ده‌لهذا دلمر له ختلو نه یو نیم ساعت وړاندې له پیشنمي نه فارغیدل بهتر دی ، فقط والله اعلم بالصواب.

باب مایفسد الصوم ومایکره

په دی باره کی معلومات چی څه څیز سره روژه ماتیږي او له څه څیز سره مکروه کیږي

ایاپه رانجه او دوا سره روژه ماتیږي او که نه ؟

۳۰۹ سوال یو سړی وایي چی په سترګو کی درانجه یادوا اچولو سره روژه نه ماتیږي حال داچی په سترګو کی داچول شوي دوا او رانجه خوند په خوله او لاړو کی محسوسیږي یو ډاکټر وایي چی فقهاو دالیکلي دي چی په غوږ کی ددوا اچولو په وجه روژه ماتیږي ، حال داچی دغوږ اودماغ ترمنځ هیڅ قسم لاره نشته ، که چیرته وای نو دماغ ته ددوا په رسیدلو سره به روژه ماته شوی وه ، مهرباني وکړئ دسوال ځواب په تفصیل سره ولیکئ.

ځواب: خوله ، غوږ، پوزه ، مقعد، فرج ، ګیډه او دسر دداخلي زخم له لارې نه دروژې ماتوونکې څیزونه دمعدی جوف یادماغ ته ورسیږي نوروژه فاسدیږي.

وماصل الی الجوف او الی الدماغ من المخارق الا صلية كالانف والاذن والدبر بان استعط او احتقن او اقطر فی اذناه فوصل الی الجوف او الی الدماغ فسد صومه .
(بدائع ج۲ص۹۳ کتاب الصوم فصل رکنه الخ) .

په سترګو کی درانجه اودوا په اچولو سره روژه نه ماتیږي ، ځکه چی سترګه دماغ او د معدی تر منځ هیڅ لاره نشته ، او له سترګو نه چی کومه اوښکی اوځي هغه د خولو په شان له مساماتو نه اوځي ، په سترګو کی د اچول شوي دوا او رانجه رنګ او خوند په حلق ، لاړو او نورو کی محسوسیږي دا هم له مساماتو له لاری رسیږي دا روژه نه ماتوي ، لکه چی په سر کی د لګول شوي تیل جذب کیدو سره دماغ ته رسیږي نو په دی سره روژه نه ماتیږي ، البته په غوږ کی اچول شوي دوا او تیل دماغ ته رسیږي او دماغ ته فائده ورکوي لهذا روژه فاسدیږي .

"او اقطرفی اذنه دهنا اتفاقاً او اقطرفی اذنه ماء فی الاصح لوصول المفطر دماغه بفعله فلا عبرة بصلاح البدن وعدمه" مراقی الفلاح ص ۱۳۳ باب ما یفسد الصوم ویوجب القضاء .

د دماغ د قوي کیدو لپاره د هګۍ زیړ د غوږونو له لاری رسول یو محقق کار دی او څو معتبرو اشخاصو هم دا محسوسه کړی ده . کیدای شي په ډاکټری کی هم همداسی وي.

د لکهنو سند یافته حکیم او دوید د یو قدیم ماهر تحقیق دا دی چی په غوږونو کی اچول شوي دوا دماغ ته رسیږي او کله حلق ته هم خي .

لنډه دا چی په غوږ کی اچول شوي دوا او تیل دماغ ته براه راست یا بالواسطه ډول معدی ته په رسیدو سره روژه ماتیږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

له چارپای سره د صحبت په کولو سره روژه ماتیږي او که نه ؟

(۳۱۰ سوال) غیر مقلد مولوي عبد الجلیل صاحب سامرودي صاحب د حنفي مذهب په خلاف دوه رسالی لیکلي دي او له هغو نه ماته هم راکړی دی د یو نوم اظهار حقیقت از آئینه حقیقت دی ، د هغه نوم دی حضرت شیخ الاسلام مولانا مولوي ابو عبد الکبیر محمد عبد الجلیل صاحب امیر جماعت غربا اهل حدیث هند ، په بله رسالی باندی د مصنف نوم حضرت شیخ الهند مولانا مولوي عبد الجلیل صاحب محدث امیر جماعت دی . هغه په رساله کی په احناقو باندی طنز لیکلی دی هغه دا چی د روژی په حالت کی له چوپایه سره جماع کولو سره روژه نه ماتیږي برابره خبره ده چی انزال یی شوی وي او که نه ؟

په درمختار کی دي :

"اذا دخل ذکره فی بهیمة او میتة من غیر انزالٍ" شامي ص ۱۰۳ ج ۲ مصر قدیم ونقل فی البحر وکذا الزیلعی وغیره الاجماع علی عدم الفساد مع الانزال" بلکی غسل هم ورباندی نشته وا دی وریده د شیخ جی پنځه واړه ګوتی په غوړو کی دي ص ۱٦ .

ايا په مذكوره صورت كى د انزال باوجود روژه يى نه فاسديږي ؟ ايا په دى باندى دفقهاو اجماع ده ؟ ايا په مذكوره صورت كى غسل هم وربانـدى نشته ؟ پـه درمختـار او شامي كى همداسى دي ؟

ځواب په سوال كى چى كوم اردو عبارت نقل شوى دى ما هغه د اردو رسالى له اصل سره چى په كال ۱۹۵۴ء كى چاپ شوى دى وكوت ، په هغه كى چى د درمختار او نورو كتابونو كومى حوالى ليكلي دي هغه هم په غور وكتل ، د سامرودي صاحب درى واړه الزامونه او دعوى غلطى دي چى د هغهِ كوتافهمي او ناپوهي باندى دلالت كوي له ښاروي سره وطي كول او له هغه نه انزال كيدلو سره روژه فاسديږي او دغسل د وجوب سره سره د روژى قضاء هم وربانـدى لازميږي . په شامي كى صفا ليكل شوى دي . اما به فعليه القضاء يعنى كه انزال يى وشو نـو پـر هغـه د روژى قضا لازم دى د شامي پاتى عبارت الاجماع على عدم الفساد مع الانزال د دى تعلق لـه دى صورت سره نه دى بلكى له بل صورت سره يى تعلق دى ، چى درمختار هغه پـه دغـو الفاظو بيان كړى دى ، او مس فرج بهيمة او قبلها فانزل .

يعنى هغه خپل ذكر نه دى استعمال كړى بلكى د ښاروى شرمگاه يى پـه لاس باندى مسحه كړه او يا يى ښكل كړ او په دى سره انزال يى وكـړه نـو پـه دى صورت كـى د روژى په نه ماتيدو باندى اجماع ده ، سامرودي صاحب بل صورت چى خپل شرمگاه نه دى استعمال كړى د دغه صورت حكم پـه لومړى صورت بانـدى لگـولى دى او دا دهغه لويه دوكه ده ، او سامرودي صاحب ترجمه كړى ده چى انزال يى شوي وي يـا نه ، دا د هغه لوى جهالت او دوكه ده (معاذ الله) بيا دا چى دا بكـواس يى هـم كـړى دى چى غسل هم وربـاندى نه كيږي (انا لله) الله تعالى دى څوك كج فهم نه جوړوي.

بيشكه د فقهي مسئله دا ده چى كوم بـد ذات او بـدذوق لـه ښـاروي يـا لـه مـړي سـره بدفعلي وكړي او انزال يى هم وشي نو روژه هم فاسديږي او قضا هم وربـاندى لازميـږي ، داسى سړي ته عبرتناكه سزا وركول كيږي چـى هيـڅ حـد يى معلـوم نـه دى ، بلكـى قاضي ته اختيار دى چى څومره سزا مناسب وگڼي ورتـه دى وركـړي ، ترڅـو دى لپـاره هم درس وگرځي او نورو لپاره هم د عبرت درس جـوړ شـي ، يـواځى پـه دى بانـدى خبره نه خلاصيږي بلكى دښاروي په متعلق هم هدايت دى چى دغه ښاروى دى ذبـح كړى شي ، د بدكار سړي ته سزا وركولو لپاره انزال شرط نه دى ، په شامي كى دي :

"ویعذرو تذبح البهیمة وتحرق علی وجه الاستحباب ولایحرم اکل لحمها به" شامي جلد ۱ ص ٥٤ قبیل مطلب فی رطوبة الفرج کتاب الحدود .

ولایحد بوطی بهیمة بل یعزرو تذبح ثم تحرق ویکره الاشفاع بها حیة ومیة مجتبی . درمختار مع شامی ج ۳ ص ۱۳ مطلب فی رطوبة الدابة فتاوی سراجیه ص ٦۱ .

د مسئلی د یادلو ضرورت :

داسی واقعات شوی دي او نور هم کیږي نو ځکه د هغه احکام بیانول ضروري دي . بخپله سید الکائنات چی دشرم او حیاء مقدس پیکر و په دغه مسئله باندی رڼا اچولی ده .

"عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اتی بهیمةً فاقتلوا واقتلوها معه قیل لابن عباس رضی الله عنه ماشان البهیمة قال ما سمعت من رسول الله صلی الله علیه وسلم فی ذلك شیئاً ولکن اراه کره ان یؤکل لحمها او ینتفع بها الحدیث" .

ترجمه : له ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چی دالله رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کوم سړي چی له چارپایی سره لواطت وکړي نو هغه هم ووژنئ او هغه خاروی هم ورسره ووژنئ چی ورسره دا بدفعلي شوی ده ، له حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه پوښتنه وشوه چی په دی کی د خاروی څه ګناه ده ؟ حضرت ابن عباس رضی الله عنه وویل : ما د دی په متعلق له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه څه نه دي اوریدلي ، لیکن زه دا فکر کوم چی هغه صلی الله علیه وسلم له هغه نه کرکه کړی چی د هغه غوښه وخوړلی شي یا ترینه نور کار واخستلی شي (مشکوٰة ص ۳۱۲ کتاب الحدود) .

او په روایت کی دي : هرڅوک چی له چارپایی سره بدفعلي وکړي نو پر هغه تاکلي سزا نشته مګر تعزیر ورته شته یعنی داسی سزا چی سیاستاً مناسب وي تر څو خلک ترینه عبرت واخلي ، "وعنه انه قال من اتی بهیمةً فلا حد علیه" .

همدغه راز فرمايي الله تعالی د هغه چا په طرف د رحمت په نظر نه گوري چې له کوم نر او ښځې سره په دبر کې وطي وکري (مشکواة شريف كتاب الحدود) .

لکه څرنګه چې جسماني اطباء او د ډاکټرانو د علاج په سلسله کې د انسان او حیـوان د سړو او زنانه و شرمګاه او نورو خایونو معائنه کولی شي او دشرم او حیا لحاظ نشي سـاتل کیدی همدغسې روحاني اطباء د پیغمبر علیه السلام او دهغه جانشـین علمـاء ، فقهـاء او محدثینو هم ، عبادات ، معاملات او طهارت په متعلق کارونه مثلاً پاکي ، ناپاکي ، متیـازی اوبه ، خاوره ، حیض ، نفاس ، غسل ، تیمم ، ناستی ولاړی مسـائل او احکـام پـه تفصیل سره بیان کړی دي ، په دغو مسئلو کی خینی داسی مسائل هم شته چې دهغوی بیانول د شرم او حیا نه خلاف معلومیږي لیکن که د شرم او حیاء لفظ په نظر کی نیولـو سـره دا بیان نه کړی شي ، نو په دغو مسئلو باندی د پوهیدو لپاره بل څه صورت کیـدای شـي ، د مسئلی د تحقیق لپاره د شرم او حیاء گنجائش نشته ، پلار به له لور نه مسئله معلوموله ، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته د یوی ښځی په باره کي احساس وشـو چـی هغـه د خپل خاوند د جدایی له کبله خفه او پریشانه ده ، د هغی خاوند جهـاد تـه تللـی و ، نـو هغه رضی الله عنه د خپل لور حفصه رضی الله عنها نه پوښتنه وکـړه چـی ښځـه څـومره وخت له خاوند نه بغیر تیرولی شي ، حفصه رضی الله عنها ورته وویل څلور میاشتی ، عمر رضی الله عنه لدینه وروسته دا حکم جاري کړ چی هیڅ یو سپاهي دی له څلورو میاشـتو نه زیات په محاذ کی تیر نکړي . الفاروق صفحه ۹۱ حصه دوم .

که چیرته د شرم او حیاء خبره ممنوع وای نو دا خبری به الله په کلام قـرآن کـریم کـی هم نه وی بیان شوی ، اولدینه زیات واضح په احادیثو کی تر سـترګو کیـږي چـی هغـه دقرآن کریم تفسیر دی او بیا ورپسی د فقهی کتابونه د دغو دواړو تفسـیر او خلاصـه دی ، لهذا د فقهی په کتابونو کی هم د دغـو کتـابونو موجودیـت ضروري دی ، لهـذا د دغـو خبرو په وجه د فقهی په کتابونو تنقید کول او فقهاو ته بدرد ویل په حقیقت کی په قـرآن او حدیث باندی اعتراض کول دي ، په قرآن کریم کی دي :

"وراودته التي هو في بيتها عن نفسه وغلقت الابواب وقال هيت لك قال معاذ الله الخ" يوسف رکوع نمبر ۳ .

د عزیز مصر د ښځی په کور کی چی یوسف علیه السلام اوسیدو نو پر هغه عاشقه شـوه او له هغه نه د خپل خواهش د پوره کولو غوښتنـه وکـړه ، او د کـور ټـولی دروازې بنـدی

کړی او هغه نه یی وویل په بیره راشه همدا تاته وایم . یوسف علیه السلام وویل له الله تعالی نه پناه غواړم

په قرآن کریم کی دي :

"انکم لتاتون الرجال شهوة من دون النساء" تاسی د شهوت د څرولو لپاره د ښځو پر خای سړو ته راتله کوئ (نمل رکوع نمبر ۵) .

(٤) "ویسئلونك عن المحیض قل هو اذی فاعتزلوا النساء فی المحیض ولاتقربوهن حتی تطهرن فاتوهن من حیث امرکم الله ان الله یحب التوابین ویحب المتطهرین ○ نساؤکم حرث لکم فاتوا حرثکم انی شئتم" .

ترجمه : او کوم خلک چی له تانه د حیض په باره کی پوښتنه کوي ، هغوی ته ووایه چی دا ګنده څیز دی ، په حیض له خپلو ښځو سره له جماع کولو نه په ډډه واوسئ او تر څو پوری چی پاکی شوی نه وي له هغوی سره قربت مه کوئ ، بیا کله چی هغوی ښه پاکی شي نو دهغوی خوا ته لاړ شئ دکوم خای نه چی الله تعالی تاسو ته د ورتلو حکم کړی دی (یعنی له فرج نه) یقیناً چی الله تعالی د توبه کوونکو او پاک اوسیدونکو خلکو سره محبت کوي ، ستاسی ښځی ستاسی لپاره فصلونه دي نو خپل فصل ته چی له هر لوري نه راتلل غواړئ راشئ .

(سوره بقره رکوع ۲۷) (تفسیر جلالین وغیره)

د دغو ایتونو شان نزول چی بیان کړی شو نو دا نور هم برښند او لوڅ و ، مثلاً د ایت "نساءکم حرث لکم" د شان نزول په متعلق د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روایت دی .

"انما کان هذا الحی من الانصار وهم اهل وثن مع هذا الحی من یهود وهم اهل الکتاب وکانوا یرون لهم فضلاً علیهم فی العلم فکانوا یقتدون بکثیر من فعلهم کان من امر اهل الکتاب ان لا یأتوا النساء الا علی حرف وذلك استر ما تکون المرأة فکان هذا الحی من الانصار قد اخذوا بذلك من فعلهم وکان هذا الحی من قریش یشرحون النساء شرحاً منکراً ویتلذذون منهن مقبلات ومدبرات ومستلقیات فلما قدم المهاجرون المدینة تزوج رجل منهم امرأة من الانصار فذهب

يصنع بها ذلك فانكرته عليه وقالت انما كنا نؤتى على حرف فاصنع ذلك والا فاجتنبى حتى شرى امرهما فبلغ ذلك رسول الله صلى الله عليه وسلم فانزل الله عزوجل نساء كم حرث لكم فاتوا حرثكم انى شئتم اى مقبلات ومدبرات ومستلقيات يعنى بذلك موضع الولد" ابوداؤد ج ۱ ص ۳۰۱ باب فى جامع النكاح

ترجمه حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چې په مدينه کې کومو خلکو د الانصار خطاب ترلاسه کړ هغوی وړاندی مشرک وو ، له يهودانو سر به اوسيدل ، څرنګه چې له يهودانو سره آسماني کتاب تورات وو نو هغوی خيال کاو چې هغوی ته علمي فضيلت حاصل دی . نو ځکه هغوی به په ډيرو کارونو کې د يهودانو پيروي کاو ، د مجامعت او هم بستري په سلسله کې د يهودانو طريقه دا وه چې هغوی به صرف په سمه تخته ملاستې سره مجامعت کاو ، په دې سره د ښځې پردده ډيره کيدنه ، انصارو به هم د هغوی پشان کاو . خو د قريشو طريقه دا وه چې له خپلو ښځو سره به په مختلفو طريقه مجامعت کاو . کله چې له مکې نه مهاجرين مدينې ته لاړل نو يو مهاجر دمدينې له ښځې سره واده وکړه . هغه غوښتل چې پخپل طريقه ورسره مجامعت وکړي خو انصاری ښځې دا ونه منله او ورته يې وويل چې صرف په شاتخته به راسره مجامعت کوی . که داسې نه کوي نو بيا به زما خوا ته نه راځې ، دا خبره اوږده شوه آن تر دې چې محمد صلی الله عليه وسلم ته دا خبره ورسيدله نو الله تعالی آيت شريف نازل کړ "نساءکم حرث لکم الخ" ستاسې ښځې ستاسې پټې دي خپلو پټو ته چې څنګه ورتلل غواړئ لاړ شئ يعنې په هره طريقه چې ورسره مجامعت کول غواړئ ورسره کولی شئ په دې شرط چې په هغه ځای کې دخول وکړئ چې له کوم ځای نه ماشوم پيدا کيږي (ابوداؤد ج ۲ ص ۳۰۱) .

(۵) په حديث شريف کې دي

"عن ام سلمة ام المؤمنين رضى الله عنها انها قالت جاءت ام سليم امرأة ابى طلحة رضى الله عنه الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت يارسول الله ان الله لايستحيى من الحق هل على المرأة من غسل اذا هى احتملت" .

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم نعم اذا رأت الماء" (بخارى ج ۱ ص ۴۲ مطبع مجتبائى باب اذا حلمت المرأة) عن ام سلمة رضى الله عنها قالت قال ام سليم يارسول الله ان الله لايستحيى من الحق فهل على المرأة من غسل اذا احتلمت قال نعم اذا رأت الماء فغطت ام سلمة وجهها فقالت يارسول الله او تحتلم المرأة قال نعم تربت يمينك فبم يشبهها ولدها متفق عليه وزاد مسلم برواية ام سليم ان ماء الرجال غليظ ابيض وماء المرأة دقيق اصفر فمن ايهماعلا او سبق يكون منه الشبه (مشكواة شريف ج ۱ ص ۴۸ باب الغسل مطبع مجتبائى) .

حضرت ام سليم رضى الله عنها له محمد صلى الله عليه وسلم نه تپوس وكړ يارسول الله صلى الله عليه وسلم الله تعالى دحق خبرى له ويلو نه نه شرميږي ، ايا پر ښځى غسل ضروري دى كله چى ورباندى اختلام وشي په خوب كى ؟ محمد صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل هو درباندى غسل شته هله چى مني ووينى ، وګورئ ام سلمه رضى الله عنها خپل مخ له شرم نه پټ كړ او بيا يى پوښتنه وكړه ، چى اى د الله رسوله ! كله چى ښځى ته په خوب كى احتلام وشي او مني يى ووځي پر هغې غسل شته ؟ محمد صلى الله عليه وسلم ورته په خواب كى وفرمايل : ستاسى لاسونه دى په خاورو كى ككړ شي. درباندى غسل شته كه درباندى نه واى نو بيا ماشوم د خپل مور په شكل كى ولى وي ؟ د سړي مني كلك او سپين وي او دښځى مني نرى او زيړ وي ، په دى دواړو كى د هر چا مني غالب راشي او يا هم سبقت وكړي ماشوم د همغه په شكل كى پيدا كيږي .

(٦) عن ابن شهاب رضى الله عنه قال اخبرنى عروة بن الزبير رضى الله عنه ان عائشة رضى الله عنها ان امرأة رفاعة القرظى جاءت الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت يارسول الله صلى الله عليه وسلم ان رفاعة طلقنى فبت طلاقى وانى نكحت بعده عبد الرحمن بن الزبير القرظى وانما معه مثل الهدبة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لعلك تريدين ان ترجعى الى رفاعة لا حتى يذوق

عسیلتك وتذوقی عسیلته" بخاری ج ۲ ص ۷۹۱ پ ۲۲ مطبع مجتبائي باب من اجاز طلاق الثلاث .

ترجمه :

حضرت عایشه رضی الله عنها فرمايي چی د رفاعه قرظي ښځه د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضره شوه او عرض یی وکړ چی رفاعه ماته دری طلاقه راکړی دي . لدینه وروسته ما له عبد الرحمن سره نکاح وکړه مګر له هغه سره د کپړی په څیر نرم شی دی (یعنی نامرد دی) .

محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : ته شاید بیرته رفاعي سره واده کول غواړی ؟ د هغی په زړه کی وه چی هو ووايي ، محمد صلی الله علیه وسلم د هغی په مقصد پوه شو او ورته یی وفرمایل : نه تر هغه داسی نشي کیدلی تر څو پوری چی هغه ستا مزه ونڅکي او ته د هغه مزه ونڅکی ، یعنی تر څو پوری چی له دویم خاوند سره ستا جماع نه وي شوی له مخکینی خاوند سره ستا نکاح نه کیږي .

(۷) "عن جابر بن عبد الله رضی الله عنه قال کنا مع النبی صلی الله علیه وسلم فی غزوة فلما كنا قريباً من المدينة تعجلت علی بعیر لی قطوف فلحقنی راکب من خلفي فنخس بعیری بعنزة کانت معه فسار بعیری کاحسن ماانت راه من الابل فالتفت فاذا انا برسول الله صلی الله علیه وسلم فقلت يارسول الله صلی الله علیه وسلم انی حدیث عهد بعرس قال اتزوجت قلت نعم قال بكراً ام ثيبا قال قلت بل ثيباً قال فهلا بكرا تلاعبها وتلاعبك وقال فلما قدمنا ذهبنا لندخل فقال امهلوا حتى تدخلوا ليلاً ای عشاء لکی تمتشط الشعثة وتستحد المغيبة" .

له " اتزوجت الخ " نه وروسته ترجمه : محمد صلی الله علیه وسلم له حضرت جابر رضی الله عنه نه د سفر د واپسی په وخت کی پوښتنه وکړه چی تا له پیغلی سره واده کړی او که کونډی ښځی سره ، هغه وویل له کونډی ښځی سره ، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل تا له پیغلی سره ولی واده ونکړه چی هغی له تاسره ښه لوبی کولی او تا له هغی سره ، بیا کله چی مدینی ته ورسیدلو نو محمد صلی الله علیه وسلم

وفرمایل : تر ماسختن پوری هم دلته واوسی چی ښځی خپل خانونه سنبال کړي (بخاري شریف ج ۲ ص ۷۸۹ باب طلب الولد) .

له دغو پورتنیو ایتونو او احادیثو څخه ثابت شو چی د حق په خبره کی شرم او حیا نده پکار . الله تعالی پخپله فرمایي چی ان الله لایستحیی من الحق الله تعالی د حق په خبره حیاء نه کوي

اوس راځو د اصلي مسئلي په طرف . هغه دا چی د انزال باوجود روژه نه ماتیږي او په عدم فساد باندی اجماع ده ، دا بل صورت دی چی روژه یی نه ماتیږي هغه دا صورت دی چی صرف د چوپایه د فرج په مسحه کولو سره انزال یی وشي خو که ورسره جماع وکړي نو په دی سره روژه فاسدیږي ، شامي تصریح کړی او تفصیل یی لیکلی دی چی روژه په دغو څو صورتونو سره فاسدیږي .

(۱) الجماع صورة وهو ظاهرٌ (که ښځه بالغه وي نو وطي هم شرط نه دی) (۲) او معنی فقط وهو الانزال عن مباشرة بفرجه لا فی فرج (کالاستمناء بالید) (۳) او فی فرج غیر مشتهی عادة لکه څاروی او میته او نورو معدوم الشهوت سره (٤) او عن مباشرة بغیر فرجه فی محلٍ مشتهی عادةً لکه له ښځی سره مباشرت (٥) الانزال بعمل المرنتین فانها مباشرة فرج بفرج لا فی فرج لکه چی دښځی له ښځی سره مباشرت کول .

د کوم صورت په متعلق چی علامه شامي لیکلي دي چی د روژی په نه ماتیدو اجماع ده هغه له دغو صورتونو څخه په یوکی هم نه دي (یعنی د خپل شرمګاه له استعمالولو نه پرته په لاس سره د چوپایه فرج لمس کول یا دهغه ښکلول) په هیڅ صورت کی په جماع او وطي کی نه راځي ، نه صورتاً او نه معنیً ، لهذا روژه ورباندی نه فاسدیږي ، خو د انزال په صورت کی ورباندی غسل واجبیږي ، علامه شامي وایي :

"ام الانزال بمسٍ او تقبیل بهیمة ان لم یوجد فیه شیئ من معنی الجماع فصار کالانزال بنظر او تفکر فلذا لم یفسد الصوم اجماعاً" شامي ج ۲ ص ۱۳۷ باب ما یفسد الصوم وما لایفسده .

الله اکبر ! څومره ښه تحقیق دی د علامه شامي ، همدیته وایي علمیت او تفقه او همدا دی د فقهی د علم خوبي او غوره والی .

داستان عهد گل رابشنو از مرغ چمن
زاغ ها اشفته تر گفتند این فسانه را

که چیرته د پسرلی د موسم کیسه اوریدل غواړی نو د چمن له بلبلی نه واوره کارغانو خو دا په اوچت آواز سره اورولی دي .

محدث او شیخ الاسلام جوړیدل خو آسان کار دی ، مګر دغه رتبی ته رسیدل او دعلماو په خبرو پوهیدل ګران کار دی .

نه هرکز چهره بر افروخت دلبري داند
نه هر که آینه دارد سکندری داند
هزار نکته بتراشد زمو اینجا ست
نه هر که سر بتراشد قلندری داند

د صحیح مطلب او دمسئلي په حقیقت باندی پوهیدل او دهغه علت معلومول او له قرائنو نه مرسته ترلاسه کول ډیر ضروري خیز دی ، له ظاهري الفاظو نه چی کومه خبره په ذهن کی راځي ، هغه همیشه مقصود نه وي ، بلکی هغه خو پوټکی وي او مغز یی دننه وي .

د حدیثو مشهور کتاب کنز العمال کی دي ، حضرت مجاهد فرمایي چی زه ، عطاء ، طاؤس او عکرمه یوځای کی ناست و او حضرت ابن عباس رضی الله عنه په لمونځ ولاړ و ، په دی وخت یو سړی راغی او پوښتنه یی وکړه چی زه کله متیازی کوم نو ماء دافق اوځي ، ایا په دی سره پر ما غسل واجبیږي ؟ مونږ ورته وویل همغه ماء دافق چی ماشوم ترینه پیدا کیږي هغه وویل هو همغه ماء دافق ، مونږ ورته وویل هو پر تا غسل واجبیږي. هغه تن انا لله وانا الیه راجعون وویل او روان شو ، کله چی حضرت ابن عباس رضی الله عنه له لمونځ نه خپل ځان فارغ کړ نو عکرمه ته یی وویل چی هغه سړی راوغواړه ، هغه یی راوغوښت ،ابن عباس رضی الله عنه له مونږ نه پوښتنه وکړه چی ایا تاسی له قرآن نه خواب ورکړی دی ؟ مونږ وویل نه بیا یی وفرمایل ایا له حدیث نه مو خواب ورکړی دی؟ مونږ وویل نه ! بیا یی وفرمایل ایا د اصحابو رضی الله عنهم له اقوالو نه مو خواب ورکړی دی ؟ مونږ وویل نه ! بیا یی وویل دچا په قول

مو فتوه ورکړه ؟ مونږ وویل له خپلې رای نه ، زمونږ د دغې خبرې په آوریدو سره وفرمایل

"لذالك يقول رسول الله صلى الله عليه وسلم فقيهٌ واحدٌ اشدّ على الشيطان من الف عابدٍ" له همدی کبله محمد صلی الله علیه وسلم به فرمایل : یو فقیه په شیطان باندی له زرو عابدانو نه زیات سخت او درونډ دی .

بیا له هغه سړي نه پوښتنه وکړه چی له متیازو نه وروسته کوم څیز راوځي په دی وخت ستا په زړه کی د شهوت او یا د ښځی خواهش وي او که نه ؟ هغه وویل نه ! ورته یی وفرمایل په دی صورت کی ستا لپاره صرف اودس کافي دی ، غسل درباندی نشته (ج ۵ ص ۱۱۸) .

حضرت ابن عباس رضی الله عنه وکتل چې "ماء دافق" له لفظ څخه غلط فهمي پیدا شوی دی او په ظاهري معنی باندی فتوه ورکول شویده ، دغسل په علت باندی غور نه دی شوی ، هغه رضی الله عنه پوه شو چی په دغو محدثینو کی څوک فقیه نشته ، که فقیه وای نو د غسل په علت باندی به خامخا غور کړی و ، ابن عباس رضی الله عنه د هغه له بیان نه معلوم کړ چی دغسل سبب یعنی د مني د وتلو لوازم (خواهش) موجود نه دی ، لهذا فتوه یی ورکړه چی له متیازو نه وروسته وتونکی اوبه مني نه دي ، لهذا غسل هم واجب نه دی .

په مسائلو او شرعي احکامو باندی دپوهیدو لپاره صرف په حدیثو باندی پوهیدل یعنی یادول کافي نه دی ، بلکی تفقه فی الدین ډیر زیات ضروري دی ، علامه ابن جوزی رحمه الله له حضرت امام خطابي (محدث) رحمه الله څخه نقل کوي چی :

یو سړي حدیث بیان کړی دی چی نهى النبى عليه الصلواة والسلام عن الحلق قبل الصلواة يوم الجمعة او د دی مطلب دا واخست چی محمد صلی الله علیه وسلم د جمعې په ورځ ، له لمونځ نه وړاندی د سر له کلولو نه منع کړی ده او بیا په فاتحانه انداز کی وویل چی زه په مذکوره حدیث باندی له څلویښتو کلونو نه عمل کوم ، امام خطابي هغه ته وویل : جناب دا دحلق لفظ بفتح الحاء وسکون اللام سره نه دی ، بلکی بکسر الحاء وفتح اللام دی ، چی دحلقه جمع ده ، مطلب دا چی له جمعې نه وړاندی حلقه جوړول او کیناستل نه دي پکار ، په دی سره لمونځ او د خطبې په

تیاری کی خلل پیدا کیږي . د دی خبری په اوریدو سره ډیر زیات خوشاله شو او ویی ویل چی تاسی زما لپاره غټ اساني او سهولت پیدا کړ

"قال الخطابي وقال بعض مشائخنا یروی الحدیث عن النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن الحلق قبل الصلواة الجمعة (باسکان اللام) قال واخبرنی انه لقی اربعین سنة لایحلق رأسه قبل الصلواة قال فقلت انما هو الحلق جمع حلقة وانما کره الاجماع قبل الصلواة للعلم والمذاکرة وامر ان یشتغل بالصلواة وینصت للخطبة فقال قد فرجت عنی وکان من الصالحین" تلبیس ابلیس ص ۱٦٦

(۲) او په مذکوره کتاب کی دا هم دي :

"روینا ان بعض المحدثین روی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی ان یسقی الرجل ماءه زرع غیره فقال جماعة من حضر قد کنا اذا فضل ماء فی بساتیننا سرحناه الی جیراننا ونحن نستغفر الله فما فهم القاری ولا السامع ولاشعران المراد وطی الحبالی من السبایا" .

یعنی ابن جوزي رحمه الله فرمایي :

ځینو محدثینو دا روایت بیان کړی دی چی محمد صلی الله علیه وسلم لدینه منع فرمایلی دی چی سړی خپل اوبه د بل چا په فصل کی پریږدي ، هلته ناستو شاګردانو او نورو اوریدونکو وویل مونږ خو د خپلو باغونو پاتی شوی اوبه د نورو په باغونو کی پریږدو ، او اوس مونږ الله ته توبه وباسو او معافي غواړو چی لدینه وروسته داسی ونکړو، د دغه حدیث په مطلب باندی نه محدث پوه شو او نه هم د هغه شاګردان او نور ناست خلک . حال دا چی د دی حدیث معنی دا ده چی په جهاد کی کومی ښځی په غنیمت نیول کیږي له هغو نه چی کومه حامله وي له هغوی سره دی دماشوم تر پیدا کیدو پوری جماع ونکړی شي ، مګر دحدیث په دی معنی هیڅوک پوه نه شو .

(۳) په کشف بزودي کی دي چی یو اهل حدیث به له استنجا کولو نه وروسته وتر ادا کاو . له هغه نه د دی علت معلوم کړی شو ، نو هغه ځواب ورکړ چی په حدیث کی راغلی دي چی من استنجی فلیؤتر څوک چی استنجا وکړي هغه ته پکار دي چی

وتر وکړي ، ره په دی حدیث باندی عمل کوم حال دا چی د حدیث مطلب دا دی چی په طاق "وتر" لوټو باندی استنجاء وکړئ . یعنی دری ، پنځه او اووه لوټو باندی استنجا وکړی ، سبحن الله څومره ښه عقل دی ، له فقهی نه د ناخبری نتیجه دا ده چی په داسی عقل او پوهه باید ژړا وکړی شي .

برین عقل ودانش بباید گریست

"عن ابن مسعود رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم نضر الله عبداً سمع مقالتی فحفظها ووعاها فرب حامل فقه غیر فقیه ورب حامل فقه الی من هو افقه منه" الحدیث .

الله پاک دی تر او تازه کړي هغه بنده چی زما حدیث واوري او یاد یی کړي او بل چاته ورسوي ، ځکه چی زیات د فقه حامل فقیه نه وي ، او زیاتره د فقه د حاملینو په نسبت زیات فقیه وي یعنی چا ته چی حدیث رسول کیږي (مشکواة ص ۳۵) فقط والله اعلم بالصواب .

د روژی په میاشت کی امتحان :

(۳۱۱ سوال) د دنیاوي علوم د امتحان په وخت کی که چیرته د روژی له کبله په امتحان کی دخلل واقع کیدو ویره وي نو هغه دی څه وکړي ؟ روژه دی ونیسي او که وخوري او بیا دی قضا راوړي ؟

ځواب : په مسئوله صورت کی د روژی د ماتولو هیڅ جواز نشته ، له روژی سره دی امتحان ورکړي ، الله تعالی به ورسره مرسته کوي ، والله اعلم بالصواب .

په سفر کی د فوت شویو روژو قضاء :

(۳۱۲ سوال) د سفر په حالت کی دفوت شویو روژو قضا ضروري ده او که نه ؟

ځواب : هوا که د قضا د راوړلو وخت ورسره پیدا شي نو قضا راوړلورباندی ضروري دي ، که ونه نیسي نو د فدیی ورکولو وصیت واجب نه دي . که چیرته د څو ورځو د فوت شویو روژو قضا راوړلو وخت پیدا کړ نو پر هغه قضا لازم دی ، که قضائي روژی یی ونه نیولی شوی نو د دغو ورځو د فدیی ورکولو وصیت ضروري دی ، مثلاً د سفر په حالت کی لس ورځی روژی ترینه پاتی شوی او پنځه ورځی روژی یی ونیولی ، لیکن

د قضائي راوړلو وخت یې پیدا نکړ نو ددغو پنځو قضا شویو روژو د فدیې ورکولو وصیت لازمي دی نه لدینه د زیاتو روژو .
په شامي کی دي
"(فان ماتوا فيه) اى فى ذلك العذر (فلا تجب) عليهم (الوصية بالفدية) لعدم ادراكهم عدة ايام اخر (ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت) الوصية بقدر ادراكهم عدة من ايام اخر" درمختار شامي ج ۲ ص ۱۶۰ ، ۱۶۱ فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم .

د روژو په ورځو کی په شرمګاه کی دوا ایښودل :

(۳۱۳ سوال) که چیرته یوه ښځه د ناروغی په وجه څه دوا پخپل شرمګاه کی کیږدي او بیا په دویمه ورځ له افطار نه وروسته هغه دوا بیرته راوباسي ، یا د روژی په حالت کی د ورځی په وخت دوا کیږدي او بیا له افطار نه وروسته تړینه وباسي نو په دغو دواړو صورتونو کی په روژه باندی څه اثر پری وځي او که نه ؟

ځواب : که د روژی له شروع کیدو نه مخکی دوا په فرج کی دننه کیږدي نو په دی سره روژه نه فاسدیږي ، خو د روژی په حالت کی د دوا ایښودلو په صورت کی روژه ماتیږي ، په فتاوی رحیمیه کی دي :

"(مسئلة) فى امرأة تصنع معها دواء وقت المجامعة (الى قوله) **وهل اذا بقى ذلك الدواء معها بعد الجماع ولم يخرج يجوز لها الصلواة والصوم بعد الغسل ام لا .**
الجواب : اما صومها وصلاتها .فصحيحة وان كان ذلك الدواء فى جوفها" (ج ۱ ص ۶۰) فقط والله اعلم بالصواب .

د روژی په حالت کی د ستنی وهل څنګه دي ؟

(۳۱۴ سوال) که د روژی په حالت کی ستنه (پیچکاري) په غوښه کی ولګول شي نو روژهورباندی نه ماتیږي ، لیکن کوم انجکشن او پیچکاري چی په رګ کی ووهل شي نو په دی سره روژه ماتیږي او که نه ؟

خواب : د پیچکاری (انجکشن) په ذریعه جسم ته د دوا یاغذا رسولو سره روژه نه ماتیږي [1]

د تې بي (سل) ناروغ لپاره د روژو نیولو حکم :

(۳۱۵ سوال) زمونږ په کور کی د تي بي ناروغ دی ، د شپږو میاشتو راهسی علاج لاندی دی ، لدینه مخکی د هغه اکسری اخستل شوی وه چی په پرپوس کی خرابي بنودل شوی و بیا څلور میاشتي وروسته بل ایکسری (عکس) وویستل شو نو په هغه کی کافي فرق محسوس کیده ، د حکیم فرح الدین صاحب له خوا دوا جاري ده هغه وایي چی روژه دی نه نیسي اوس پنځلس ورځی بعد روژه راروانه ده ، نو په دی صورت کی شرعاً څه حکم دی ؟ دا خط می د حکیم صاحب په مشوره لیکلی دی .

ځواب : تي بي ناروغ ته د نقصان رسیدو له ویری نه حکیم صاحب د روژو نیولو اجازه نه ورکوي نو دهغه په مشوره باندی دی عمل وکړی شي ، حکیم صاحب پخپله عالم دی او حاذق حکیم هم دی لهذا د هغه رای صحیح ده ، فقط [2].

د روژی په حالت کی ماشوم ته په خوله کی ډودی ژوول او هغه ته ورکول

(۳۱٦ سوال) ماشوم وړوکی دی ، هغه ته لومړی په خوله کی ډودی ژوول کیږي او بیا ورته ورکول کیږي ، لدینه بغیر نشي خوړلی ، ایا د روژی په حالت کی مور کولی شي چی په خوله ډوډی وژوي او خپل وړوکي ماشوم ته ورکړي ؟

ځواب : کله چی ماشوم لدینه بغیر ډوډی نه شي خوړلی او بل کوم نرمه غذا هم نه وي نو په خوله کی د نوری ژوول او هغه ته ورکول مکروه نه دي ، خو بلاضرورت داسی کول مکروه دي ، همدغه راز که دښځی خاوند ، یا مالک یا مالکه ظالمه وي ، په ډوډی او ترکاري کی مالګه او مساله زیات یا کم شي نو وربانـدی غصه کیږي ،

---

[1] ـ وما يدخل من مسام البدن لايفطر هكذا فى شرح الجمع عالمگيرى فيما يفسد الصوم وما لايفسد .

[2] ـ ومنها المريض اذا خاف على نفسه التلف او ذهاب عضو يفطر بالاجماع وان خاف زيادة العلة وامتداده فكذلك عندنا وعليه القضاء اذا افطر كذا فى المحيط . عالمگيرى ، فى الاعذار التى تبيح الافطار

کنحلی ورته کوي او بدی ردی ورته وایي نو د مالکی معلومولو لپاره څکل جائز دي او په روژه کی یی څه فرق نه راځي . په ما لا بد منه کی دي :
" چشیدن چیزی یا خائیدن بے ضرورت روزه مکروه وطعام برای خائیدن درصورت ضرورت جائز باشد " ص ۹۸ . فقط

د روژی غلطي معاف دی خو د لمونځ او حج غلطي معاف نه دی

(۳۱۷ سوال) په حدیث کی دي چی چا د روژی په حالت کی سهواً خوراک څښاک وکړ نو هغه دی خپله روژه پوره کړي ځکه چی دا خوراک او څښاک الله تعالی ورباندی کړی دی ، مګر په لمونځ او حج کی سهوه او غلطي نه بخښل کیږي ، د دی څه وجه دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : ددی وجه دا ده چی په روژ کی داسی کوم هیئت او شکل نشته چی روژه ورته په یاد کړي نو ځکه په روژه کی سهوه ورته معاف شوی ده ، مګر په لمونځ کی قبلی ته مخ کول لمونځ ګذار ته د لمونځ د یادولو هیئت او شکل دی ، همدغه راز په حج کی احرام یعنی د ناګنډل شویو جامو اوغوستل یادوونکی هیئت دی ، نو ځکه په حج او لمونځ کی معذور نه دی ګڼل شوی ، فقط والله اعلم بالصواب .

د روژو په ورځو کی د طنبور وهلو څه حکم دی ؟

(۳۱۸ سوال) که چیرته یو سړی د روژی په حالت کی شپیلی ، طنبور او نور موسیقي آلات په زور ساه سره آخلي نو په دی سره روژه کی څه نقصان راځي او که نه ؟

ځواب : د روژی په حالت کی د طنبور او نورو موسیقی آلاتو غږول ګناه ده لیکن روژه ورباندی نه فاسدیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

ایا مور په روژه کی خپل وړوکي ماشوم لپاره په خوله کی ډودی ژوولی او هغه ته ورکولی شي ؟

(۳۱۹ سوال) ماشوم وړوکی دی که په خوله کی ډوډی وژوي او هغه ته ورکړي نو ایا په دی سره د هغی روژه مکروه کیږي او که نه ؟

ځواب : کله چی ماشوم لدینه بغیر ډوډی نه شي خوړلی او نه هم بله کومه نرمه غذا شته نو په خوله کی د نوړی ژوول او هغه ته ورکول روژه نه مکروه کوي ، همدغه راز

که دښځی خاوند ، یا مالک او مالکه غصه ناکه وي ، په غذا کی د مالګی د ډیر والي او یا کم والي، په وجه ورته بدی ردی ورته وایي نو له دغی پریشانی څخه د بچ کیدو په خاطر په ترکاری کی مالګه څکلی شي او په دی سره د هغی روژی ته نقصان نه رسیږي . په ما لا بد منه کی دي :

" چشیدن چیزی یا خائیدن بے ضرورت روزه مکروه وطعام برای خائیدن درضورت ضرورت جائز باشد " ص ۹۸ ، فقط

د غاښ وینه د روژی فاسدونکی ده او که نه ؟

(۳۲۰ سوال) که چیرته له غاښ نه وینه ووځي او حلق ته لاړ شي نو په دی سره روژه فاسدیږي او که نه ؟ ایا په دی سره دروژی قضا اوکفاره شته او که نه ؟

خواب : که چیرته وینه لږه وي او لاړی ترینه زیاتی وي نو روژه وربانـدی نه فاسدیږي ، خو که د وینی خوند په حلق کی محسوس کړي نو روژه یی ماتیږي همدغه راز که وینه له لاړو نه زیات یا برابر وي بیا هم روژه یی فاسدیږي فقط قضاء وربانـدی واجب دی

"الدم اذا خرج من الاسنان ودخل حلقه ان كانت الغلبة للبزاق لايضره وان كانت الغلبة للدم يفسد صومه وان كانا سواء افسد ايضا استحسانًا" فتاوى عالمگیری ص ۱۳۱ ج ۲) او خرج الدم بين اسنانه ودخل حلقه) يعنى ولم يصل الى جوفه اما اذا وصل فان غلب الدم او تساويا فسدوا لا اذا وجد طعمه بزازية" درمختار مع الشامی ص ۱۳٤ ج ۲ باب ما يفسد الصوم الخ) فقط والله اعلم بالصواب .

که یو سړی غاښ وویست نو روژه یی ماتیږي او که نه ؟

(۳۲۱ سوال) یو سړي د روژی په میاشت کی غاښ وویست او وینه جاري شوه او حلق ته هم لاړی ، په دی سره روژه فاسدیږي او که نه ؟

خواب : که چیرته وینه ګیډی ته لاړ شي نو د روژی قضاء وربانـدی لازمه ده .

"قلت ومن هذا يعلم حكم من قلع ضرسه فى رمضان ودخل الدم الى جوفه فى النهار ولو نائماً فيجب عليه القضاء الا ان يفرق بعدم امكان التحرز عن فيكون

كالقئ الذى عاد بنفسه فليراجع" شامى ص ١٣٤ ايضاً) فقط والله اعلم بالصواب.

د وريو د زخم په وجه روژه فاسديږي او که نه ؟

٣٢٢ سوال : د وريو د زخم په وجه له وريو نه ګندګي او پيپ راځي ، دا له لاړې سره له حلق نه لاندې تيريږي . ايا په دې سره روژه ماتيږي او که نه ؟ د سوال منشا او مقصد دا دې چې کوم څيز چې په خوله کې پيدا کيږي د هغه اجزا قصداً يا له قصد نه علاوه له لاړې سره حلق ته لاړ شي او بل هغه څيز چې له باهر نه په خوله کې ونيوله . بيا ويده شو او د ويده کيدو په وخت کې د هغه اجزا له لاړې سره يوځاى لاندې حلق نه لاړشي . مثلاً پان په خوله کې پاتې شو ، او ورباندې سهار شو ، په دغو دواړو کې فرق شته او که نه ؟ په دې باره کې د تحقيق ضرورت دى .

ځواب د وريو دزخم ګندګي په پان باندې قياس کول او د روژې فاسدونکې ورته ويل صحيح نه دي . پان له باهر نه په خوله کې ايښودل کيږي او د هغه مزه او مواد له لاړو نه زيات وي ، مګر د دې برعکس د وريو د زخم ګندګي له لاړو نه کم وي او بل دا چې دا يو مستقل ناروغى دى ، ګندګي او پيپ پخپله خوله کې پيدا کيږي لدينه ځان ساتل ناممکن دي لهذا روژه نه فاسديږي .

"رطبت شفتاه ببزاقه عند الكلام او غيره فابتلعه ، لايفسد للضرورة كذا فى الزاهدى ولو سال لعابه من فيه الى ذقنه من غير ان ينقطع من داخل فمه ثم روه الى فيه وابتلعه لايفطره لانه لايتم الخروج بخلاف ما اذا انقطع كذا فى الظهيرية فى المقطعات . فى الحجة رجل له علة يخرج الماء من فمه ثم يدخل ويذهب فى الحلق لايفسد صومه كذا فى التاتار خانية ولو بقى بلل بعد المضمضة فابتعلة مع البزاق لم يفطره ولو دخل المخاط انفه من رأسه ثم استشمه فادخل حلقه عمداً لم يفطره لانه بمنزلة ريقه كذا فى محيط السرخسى" فتاوى عالمگيرى ص ١٣١ ج ٢ الباب الرابع فى ما يفسد وما لايفسد ص ٢٠٣

"ابتلع ما بين اسنانه وهو دون الحمصة لانه تبع لريقه ولوقدرها افطر كما سيجيئ" درمختار (قوله لانه تبع لريقه) عبارة البحر لانه قليل لايمكن الاحتراز عنه فجعل بمنزلة الريق . شامي ص ١٣٤ ج ٢) او خرج الدم من بين اسنانه ودخل حلقه (تنوير الابصار) قوله يعنى ولم يصل الى جوفه) ظاهر اطلاق المتن انه لايفطر وان كان الدم غالبا على الريق صححه فى الوجيز كما فى السراج وقال وجهه انه لايمكن الاحتراز عنه عادةً فصار بمنزلة ما بين اسنانه ومايبقى من اثر المضمضة كذا فى ايضاح الصير فى اه" شامى ص ١٣٥ باب ما يفسد الصوم الخ) فقط والله اعلم بالصواب .

ايا په غيبت سره روژه فاسديږي او كه نه ؟

(٣٢٣ سوال) امام صاحب د جمعي لمونځ نه مخکی د تقرير په وخت کی دا حديث بيان کړ "عن ابن عباس رضى الله عنه ان رجلين صليا صلواة الظهر وكان صائمين فلما قضى النبى صلى الله عليه وسلم الصلواة قال اعيدوا وضوء كما وصلوتكما وامضيا فى صومكما واقضياه يوماً اخر قالا لم يارسول الله قال اغتبتم فلاناً" مشكواة شريف ص ٤١٥ باب حفظ اللسان والغيبة والشتم .

کله چی د دی له لوستلو نه فارغ شو نو ويی ويل کوم سړی چی ماسپښين يا مازيګر لمونځ محمد صلی الله عليه وسلم پسی لوستلی و محمد صلی الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل : ستا اودس او لمونځ نه دی شوی ځکه چی تا غيبت کړی و ، خپل روژه پوره کړه او بله ورځ د دی قضايي راوړه ، لدی حديث نه د امام صاحب مقصد صرف دومره و چی په خلکو کی کی د غيبت بدي او شناعت بيان کړي ،ليکن په خلکو کی دا پريشاني پيدا شو چی دغيبت کولو په وجه لمونځ او روژه نه کيږي قضا يی ضروري ده . دخلکو دا خيال څنګه دی ؟ ايا دا حديث په عامو احکامو کی داخل دی او که نه ؟ بينوا توجروا

خواب په حديث کی د اودس ، لمونځ او روژی د اعاده کولو حکم خواصو لپاره حقيقتاً او عوام لپاره زجراً او احتياطاً دی ، غيبت حرام دی ، په دی سره په عبادت

کی خلل او نقصاني واقع کیږي ، نو ځکه له غیبت نه باید پوره ډډه وکړی شي ، د دی دا مطلب نه دی چی اودس . لمونځ او روژه وربااندی فاسدیږي[1] ، علماو لیکلی دي چی د روژی دری درجی دي

لومړی دا چی یو سړی تُوله ورځ د روژی په نیت له خوراک څښاک او له جماع نه ځان وساتي ، دا د عوامو خلکو روژه ده . دویم سړی د خوراک څښاک او له جماع نه ځان ساتلو سره سره د سترګو . پوزی . ژبه . لاسونه . پښی او ټول اعضاء هم له ټولو کبیره او صغیره ګناهونو څخه وساتي ، دا د صالحینو او نیکانو خلکو روژه ده ، دریم دا چی د روژی په نیت سره له خوراک څښاک او له جماع نه ټوله ورځ له پرهیز کولو نه علاوه ټول اعضاء له ګناه نه وساتي او زړه هم له دنیوي خیالاتو او فکرونو څخه داسی وساتي چی د الله تعالی له ذکر او یاد نه پرته بل څه دهغه په زړه کی پاتی نشي

په یو حدیث کی دي :

"عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من لم یدع قول الزور والعمل به فلیس لله حاجة ان یدع طعامه وشرابه" مشکواة باب تنزیه الصوم ص ۱۷٦ .

له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل کوم سړی چی د روژی په حالت کی هم باطلی خبری او باطل کارونه پری نږدي یعنی غیبت او ګناه کوي ، نو هغه ته د وږی او تږی پاتی کیدو هیڅ ضرورت نشته ، لهذا معلوم شو چی د روژی مقبول کیدو لپاره ضروري دي چی سړی د خوراک څښاک او جماع پریښودو نه علاوه د ګناهونو او منکراتو مثلاً دروغ ، غیبت چغلي او نورو ګناهونو څخه هم ځان خانونه وساتي ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۱۵ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ .

---

[1] ولو اغتاب انساناً فظن ان ذلک یفطره ثم اکل بعد ذلک متعمداً فعلیه القضاء والکفارة الخ فتاوی عالمگیری کتاب الصوم . ومما یتصل بذلک مسائل .

د روژی په حالت کی دښځی او خاوند له یو بل سره مچو اخستلو او مینی کولو حکم

(۳۲۴ سوال) یو شخص د روژی په حالت کی له خپلی ښځی نه مچوکه واخستله او هغوی ته یی خان جوخت کړ . او په دی وجه د هغه انـزال وشـو . پـه دی سـره روژه ماتیږي او که نه ؟ د ښځی خاوند دواړو روژه ماتیږي او کـه یـواخی دخاونـد یی ، کـه روژه یی ماته شي نو یواخی قضاء وربانـدی لازمیږي او که کفاره هم وربانـدی لازمه ده ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د هر چا چی انزال وشي د همغه روژه ماتیږي او که د دواړو انزال وشي نو د دواړو روژه ماتیږي ، په دی سره صرف قضا لازمیږي نه کفاره

په مراقی الفلاح کی دي :

"(او) انزل من قبلة او لمسٍ لاكفارة عليه لما ذكرنا" په طحطاوی کی دي : "(قوله لما ذكرنا) ای من قصور الجناية وعليه القضاء بوجود معنی الجماع ولو قبلت زوجها فامنت فسد الصوم وان امذی لایفسد کما فی الظهيرية والتجنيس كذا فی الشرح" مراقی الفلاح وطحطاوی ص ۳۶۹ ، ۳۷۰ باب ما یفسد الصوم ویوجب القضاء .

په ما لا بد منه کی دي :

یازن رابوسه کرد یا مس به شهوت کرد اگر انزال شد روزه فاسد شود والا فاسد نه شود (ما لا بد منه ص ۹۷) فقط والله اعلم بالصواب .

که د روژی په حالت کی دښځی حیض راشي نو څه حکم یی دی ؟

(۳۲۵ سوال) که د روژی په حالت کی د ښځی حیض راشي نو هغی ته څه کول پکار دي ؟ که د کتاب حواله ورکړئ نو ښه به وي .

ځواب که چیرته د روژی په حالت کی د ښځی حیض راشي نـو د هغـی روژه پخپلـه ماتیږي خکه چی حیض او نفاس د روژی منافي دی ، او شی له خپل منافي سره باقي نشي پاتی کیدلی لکه چی غیر معذور شخص په لمونځ کی بی اودسه شـي نـو لمـونځ

یی پخپله ماتیږي په دی کی له روژه دارو سره تشبه خو نـه لازمیـږي ، البتـه د روژی د احترام په خاطر باید له سکاره خوراک څښاک نه ډډه وکړي ، او که حائضه ښځـه پاکـه شوه نو هغی ته پکار دي چی پاتی ورځ د روژه دارانو پشان تیر کړي .
په الجواهره النيره کی دي :
"(واذا حاضت المرأة افطرت وقضت) وكذا اذا نفست وهى تاكل سراً او جهراً ولايجب عليها التشبه واذا قدم المسافر او طهرت الحائض فى بعض النهار امسكا بقية يومهما واما الحائض اذا طهرت قبل الزوال والاكل ونوت لم يكـن صـوما لافرضا ولا تطوعاً لوجود المنافى اول النهار والصوم لايتجزى وقوله امسكا اى على الا يجاب هو الصحيح قضاء لحق الوقت لانه وقت معظم وانمـا لم تشـبه الحائض فى حالة لتحقق المانع من التشبه" الجوهرة النيرة ص ١٤٨ ج ١ كتـاب الصوم ، فقط والله اعلم بالصواب .

استمنا بالید (موټک) سره روژه ماتیږي او که نه ؟

(٣٢٦ سوال) د روژی په میاشت کی می یوه ورځ د موټ وهلو گناه وکـړه نـو د دی څه حکم دی ؟ روژه می ماتیږي او که نه ؟ که ماتیږي نـو یـواځی قضا راباندی لازم دی او که کفاره هم راباندی واجبه ده ؟ بینوا توجروا .
خواب : د روژی په ورځو کی موټک وهل تحریمي مکروه او لویه گناه ده کـه پـه دی کار سره انزال نه وي شوی نو روژه نه ده ماته شـوی او کـه انـزال دی شـوی وي نـو روژه دی فاسده شوی ده . قضا درباندی لازم ده نه کفاره ، په درمختار کی دي :
"(وكذا الاستمناء بالكف) اى فى كونه لايفسد لكن هذا اذا لم ينـزل امـا اذا انزل فعليه القضاء كما سيصرح به وهو المختار كما يأتى الخ" درمختار وشـامى ص ١٣٦ ص ١٣٧ ج ٢ ، باب ما يفسد الصوم وما لايفسده ، فقط والله اعلم بالصواب .

د روژی په حالت کی په حلق کی دلوګي دننه کيدل :

(۳۲۷ سوال ، د روژی په میاشت کی د ورځی په وخت د اګربتی ، لوبان او دعود د لرګیو لوګی کول څنګه دي ؟ زمونږ په مسجد کی خصوصاً د جمعی په ورځ د دی اهتمام کیږي . که چیرته د ده لوګی د روژه دار له حلق نه تیر شي نو څه حکم یی دی ؟
ځواب : د روژی په مبارک میاشت کی د خوشبوی لپاره په مسجد یا کور کی لوبان اګربتي او د دی پشان د نورو شیانو لوګی کول منع نه دي . که چیرته لـه څـه قصد او ارادی نـه بغیر دهغه لوګی حلق ته لاړ شي نو روژه نه خرابیږي خو که قصداً لوګی تیر کړي نو په دی سره روژه خرابیږي .
په مراقی الفلاح کی دي :

"(او دخل انفه دخان) بلا صنعه لعدم قدرته علی الامتناع . الی قوله . وفیما ذکرنا اشارة الی انه من ادخل بصنعه دخانا بای صورة کان الادخال فسد صومه ، سواء کان دخان عنبر او عود او غیرهما حتی من تبخر ببخور فاواه الی نفسه واشم دخانه ذاکرا صومه افطر لامکان التحرز عن ادخال المفطر جوفه ودماغه وهذا مما یغفل عنه کثیر من الناس" مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص ۳۶۱، ۲۶۲ باب فی بیان ما یفسد الصوم ، درمختار مع الشام ج ۱ ص ۱۳۳ . فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته د جماع په تصور کی یا د چا د عکس په لیدلو سره انزال وشي نو د دی څه حکم دی ؟

(۳۲۸ سوال ، که چیرته د یو سړي د روژی په میاشت کی د جماع په تصور کولو سرد انزال یی وشي ، یا د کومی ښځی د تصویر (عکس) په لیدلو سره شهوت یی راشي او انزال یی وشي ، نو په دی صورت کی یواځی قضا لازمیږي او که کفاره هم ورباندی لازمیږي ؟ بینوا توجروا .
ځواب : په دی صورت کی روژه نه فاسدیږي لهذا نه قضاء ورباندی لازم ده او نه کفاره . که څه هم دا کار پخپل ځای حرام او ناجائز دی ، خصوصاً د روژی په حالت کی . په مراقی الفلاح کی دي :

"(او انزال بنظرٍ) الی فرج امرأته لم یفسد او فکر وان ادام النظر والفکر) حتی انزل لانه لم یوجد منه صورة الجماع ولامعناه وهو الانزال عن مباشرة لایلزم من الحرمة الافطار" .

په طحطاوی علی مراقی الفلاح کی دي :

"(قوله انزال بنظر) قيد بالنظر لان الانزال بالمس ولو بحائل توجد معه الحرارة مفسد ولو استمنى بكفه فعامة المشائخ افتوا بفساد الصوم وهو المختار كما في القهستانى وفى الخلاصة لاكفارة عليه" مراقى الفلاح وطحطاوى ص ٣٦١ ، باب في بيان ما لا يفسد الصوم .

په درمختار کی دي :

"(او قبل) ولم ينزل (او احتلم او انزل بنظر) ولو الى فرجها مراراً (او بفكر) وان طال" درمختار ص ١٣٤ ج ٢ باب ما يفسد الصوم وما لايفسد ، فقط والله اعلم بالصواب .

په روژه کی د ستنی لګولو حکم :

(۳۲۹) سوال : د روژی په حالت کی د ستنی لګولو څه حکم دی ؟ که په رګ کی ستنه ولګول شي نو روژه وربانـدی خرابیږي او که نه ؟ دروژی په حالت کی د تیکی (واکسین) لګولو څه حکم دی ؟

ځواب : حامداً ومصلياً ومسلماً ! د انجکشن په ذريعه بدن ته دوا رسول روژه نه ماتوي ، د روژی د فساد لپاره ګیده او دماغ ته رسیدل ضروري دي ، او د ستنی له لاری دوا بدن ته رسولو سره نه ګیدی ته رسیږي او نه هم دماغ ته ، "ان العبرة الوصول الى الجوف والدماغ" (عالمگیری ج ١ ص ٢٠٤ الباب الرابع فيما يفسد وما لايفسد) .

وګورئ چی د ذکر په سوري کی د دوا اچولو سره روژه نه ماتیږي که څه هم دوا بدن ته دننه تللی ده لیکن له مثانی نه وړاندی معدی ته نه رسیږي ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۳ رمضان المبارک ۱۳۷۴

باب مایوجب القضاء والکفارة

په کوم څیز سره قضا او کفاره واجبیږي

تقویم (جنتري) باندی د اعتماد په وجه د لمر پری وتلو نه مخکی د روژی ماتولو حکم :

(۳۳۰ سوال) زمونږ په علاقه کی د روژی په میاشت کی دوه ورځی وریځی وی او لمر نه معلومیده لهذا مونږ په تقویم باندی د اعتماد په وجه روژه ماته کړه، لیکن دریم ورځ آسمان صفا وو او د لمر پریوتل مونږ ولیده چی له مخکینو دوه ورځو سره شپږ دقیقی "منټ" فرق درلود، مونږ ته دا شک وشو چی مونږ دوه ورځی د لمر پری وتو نه مخکی روژه ماته کړی ده، ایا د دغو دوه ورځو روژو قضا پر مونږ لازم ده او که نه؟ بینوا توجروا.

ځواب: یواځی تقویم باندی اعتماد کول او په هغه کی د لیکل شویو دقیقو په مطابق عمل کول صحیح نه دی، خصوصاً د باران په ورځو کی د زیات احتیاط ضرورت دی او څلور پنځه دقیقی انتظار کول پکار دي، کله چی له قرائنو نه معلوم شي او زړه ګواهي ورکړي چی لمر پری وتلی دی نو هله دی روژه ماته کړی شي که په مذکوره صورت کی غالب ګمان وشي چی واقعی مونږ له وخت نه مخکی روژه ماته کړی ده، نو قضا ضروري ده، فقط والله اعلم بالصواب.

که د اختر میاشت دلمر پری وتلو نه مخکی ښکاره شي نو د هغه څه حکم دی؟

(۳۳۱ سوال) څه وایي د دین علماء په دی مسئله کی چی د اختر میاشت له لمر پری وتلو نه مخکی ښکاره شي نو روژه ماته کړو او که نه؟ په دی باره کی فتاوی رحیمیه او مولانا ثناء الله امرتسري د فتوو تر منځ تعارض دی، د فتاوی رحیمیه دفتوی نه داسی معلومیږي چی روژه ماته نکړي او د مولانا ثناء الله امرتسري له فتوی نه معلومیږي چی روژه ماته کړي، له دغو دواړو څخه کوم یو صحیح ده؟

ځواب: د فتاوی رحیمیه فتوه صحیح ده، که چیرته د لمر پری وتلو نه وړاندی سپوږمی ښکاره شي نو افطار "روژه ماتول" صحیح نه دي ځکه چی دا سپوږمی

درمضان المبارک دی ، او سپوږمی د راتلونکي شپې لپاره شمارل کيږي ، حضرت عمر رضی الله عنه ، حضرت علي رضی الله عنه ، حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ، حضرت ابن عمر رضی الله عنه ، حضرت انس رضی الله عنه چې کله سپوږمی د لمر پرې وتلو نه وړاندې ښکاره شوه نو هغه به يې د راتلونکې شپې سپوږمی حسابوه نه د دغې شپې

"واذا رأى هلال رمضان او شوال نهاراً قبل الزوال او بعده لليلة الاتية وقال ابويوسف كذلك ان كان بعد الزوال وان كان قبل فللماضية يروى ذاك عن عمرو عائشة رضى الله عنهما والاول يروى عن على وابن مسعود وابن عمر وانس وعن عمر رضى الله عنهم ايضاً. الاختيار ج ۱ ص ۱۳۰ .

لهذا له غروب، نه مخکی روژه ماتول صحيح نه دي ، په قرآن کريم کی دي : ثم اتموا الصيام الى اليل بيا روژه تر شپې راتلو پورې پوره کړئ (بقره) لهذا که د لمر پرې وتلو نه مخکی روژه ماته کړي نو روژه يې فاسديږي ، او قضا وربانـدی لازم دی ، په بعضو صورتونو کې وربانـدی کفاره هم لازميږي ، تاسی چې د امر تسری کومه فتوه نقل کړې ده هغه صحيح نه ده او نه هم وربانـدی عمل جائز دی، په حائضه باندی قياس کولو سره روژه نه شو ماتولی ، ځکه چې د حيض راتلو سره سم روژه پخپله ماتيږي او بيا وربانـدی قضاء لازم دی ، د حيض په حالت کې روژه نيول حرام دي ، که چيرته د سپوږمی په ليدلو سره افطار کول جائز وي نو بيا د ماښام لمونځ بايد هم جائز شي ، حال دا چې دا هيڅوک نه مني ، په مجالس الابرار کې دي :

"ومن رأى هلال الفطر وقت العصر فظن انقضاء مدة الصوم وافطر ، قال فى المحيط اختلفوا فى وجوب الكفارة والاكثر على الوجوب" .

چا چې د اختر سپوږمی د لمر پرې وتلو نه مخکې وليد او په دې گمان سره يې روژه ماته کړه چې د روژې وخت پوره شوی دی نو دهغه په متعلق محيط کې دي چې د کفارې په وجوب کې اختلاف دی ، اکثر علماء کرام د کفارې د وجوب قائل دي ، (قضا بالاتفاق واجب دی) مجالس الابرار ص ۱۷۳ مجلس نمبر ۲۵

مفتي اعظم حضرت مولانا کفایت الله صاحب فتوی :

پس کله چې د روژې دیرشم تاریخ نه وروسته له زوال نه بعد سپوږمۍ ولیدله نو تر ماښامه پورې د روژې پوره کول واجب دي ، که ماته یې کړي نو قضا او کفاره دواړه ورباندې واجب دي (کفایت المفتي ج ۳ ص ۲۰۱) .

د نوموړي دویمه فتوه :

که چیرته د لمر پرې وتلو نه مخکې سپوږمۍ ولیدل شي نو دا د راتلونکې شپې سپوږمۍ ده نه د تیرې شپې ، د لمر پرې وتلو نه مخکې لیدونکي لپاره جائز نه دي چې روژه ماته کړي پکار دي چې دقاعدې مطابق تر لمر پرې وتو پورې خپل روژه وساتي او مات یې نه کړي ، که چیرته مخکې ماته کړه نو دا روژه ماته شوې ده او بیرته نیول ورباندې لازمي او ضروري دي . محمد کفایت الله (کفایت المفتي ج ۴ ص ۲۰۸) .

د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فتوی :

کله چې زوال (غرمې) نه وروسته د دیرشو ورځو سپوږمۍ ولیدل شي . دا بالاجماع د راتلونکې شپې سپوږمۍ ده ، د هیچا په نزد دا ورځ لومړۍ شوال (د اختر ورځ) نه دی ، نو دا نه د کوم عالِم مذهب دی ، او نه هم حدیث د "صوموا لرؤیته وافطروا لرویته" دا معنی ده ، پس دا کار نه د کوم حدیث په طرف مستند شو او نه هم د چا فتوی په طرف ، نو دی لپاره داسې کوم شرعي دلیل ونه موندل شو چې دهغه په معتبره شبه پیدا شي ، لهذا پر هغه خلکو قضا او کفاره دواړه لازم دي ، الخ (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۱۱۸) فقط والله اعلم بالصواب .

د یوې روژې قضاء :

(۳۳۲ سوال) زمونږ علاقه لکهنو او بمبئ ته د رویت هلال خبر د رادیو په ذریعه ورسید . لیکن د جامع دهلي امام اعلان وکړ چې د مطلع شین او صفا کیدو باوجود سپوږمۍ نه ده لیدل شوې او په کلیو کې هم چا سپوږمۍ نه ده لیدلې ، لهذا په کوم خبر باندې عمل وکړی شي . د رادیو په خبر او که زمونږ د امام صاحب په خبره باندې ؟

خواب په مسئوله صورت کی تاسی درادیو خبر ته اعتبار نه دی ورکړی او د خپل امام په تحقیق مو عمل کړی دی ، همدغه صحیح دی ، څکه چې ډهلي . کاتهیا ، واړو او په نورو ځایونو کی سپوږمۍ نه ده ښکاره شوی ، د دیرشمی تاریخ په حساب سره د پنجشنبی په ورځ لومړی روژه شوی ده ، اوس چی ۲۹مه سپوږمی لیدل شوی ده نو د یوی ورځی روژی قضا راوړل ضروري دي ، د تراویح لمونځ قضا نشته .

"ولو صام اهل بلدة ثلاثين يوماً للروية واهل بلدة اخرى تسعة وعشرين يوما للرؤية فعلم من صام تسعة وعشرين يوما فعليهم قضاء يوم" (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية ج ۱ ص ۱۹۸ الفصل الاول فى روية الهلال الخ) واذا فاتت التراويح لاتقضى بجماعة ولا بغير ها هو الصحيح" فتاوى عالمگيرى ج ۱ ص ۱۱۷ فصل فى التراويح .

مونږه د ۲۹مې سپوږمی لیدلی ده څکه زمونږ روژه د چارشنبی ورځی شوی ده ، فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته یو سړي د روژو په کفاره کی د روژو نیولو طاقت لرلو باوجود مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۳۳۶ سوال) که یو سړی د روژی په کفاره کی د روژو نیولو طاقت لري مګر د دی باوجود شپیته مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي نو په دی سره کفاره ادا کیږي او که نه ؟

خواب : که د روژو نیولو قدرت لري نو د روژو نیول وربانـدی ضروري دي ، شپیته مسکینانو ته ډوډۍ ورکول کفایت نه کوي ، خو که ناروغ وي یا هم ډیر بوډا وي او د روژو نیولو قدرت نه لري نو بیا په ډوډۍ سره کفاره ادا کولی شي .

په شامي کی دي :

"(قوله ككفارة المظاهر) مرتبط بقوله وكفر اى مثلها فى الترتيب فيعتق اولا فان لم يجد صام شهرين متتابعين فان لم يستطع اطعم ستين مسكيناً لحديث الاعـرابى المعروف فى الكتب الستة الخ" شامى ج ۲ ص ۱۵۰ مطلب فى كفارة الصوم .

په مراقی الفلاح کی دي :

"(فان عجز منه) ای التحریر بعدم ملکها وملك ثمنها (صام شهرین متتابعین لیس فیها یوم عیدولا) بعض (ایام التشریق فان لم یستطع الصوم) لمرض او کبر (اطعم ستین مسکیناً) او فقیراً الخ" مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۳٦٦ باب ما یفسد الصوم تجت به الکفارة .

په عمدة الفقه کی دي چې د روژی او د ظهار کفاره یوشانتی ده ، یعنی د روژی د ماتولو کفاره د ظهار د کفاری په شان ده یعنی په ترتیب کی د دی پثان لومړی غلام آزادول واجب دي ، که غلام نه وي نو دوه میاشتی پرله پسی روژې ونیسي او که د دی طاقت هم نه لري نو شپیته مسکینانو ته دی طعام ورکړي ، ځکه چې د اعرابي په حدیث کی همداسی روایت شوی دی چې په صحاح سته کی موجود دی .
عمدة الفقه ج ۳ ص ۲۸٦ فقط والله اعلم بالصواب

د مسافر په اړه معلومات

ایا دسفر په حالت کی محمد صلی الله علیه وسلم نیولی روژه ماته کړی وه ؟

(۳۳۳ سوال) په یو اردو اخبار کی داسی لیکل شوی دي چی محمد صلی الله علیه وسلم به سفر کی خپل نیولی روژه ماته کړی وه ، او خپلو اصحابو ته هم ویلی وو چی خپلی خپلی روژی ماتی کړئ ، ایا دا مستنده خبره ده ؟ د دی وضاحت وکړئ ، دا ډیر ضروري خبره ده ، ماهنامه گجرات پیغام (کاوي) کی د دی ځواب ضرور ولیکئ .

ځواب : هو دا صحیح خبره ده چی د سفر په حالت کی محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه صلی الله علیه وسلم اصحابو کرامو رضی الله عنهم روژه ماته کړی وه ، د حضرت ابن عباس رضی الله عنه بیان دی چی محمد صلی الله علیه وسلم د روژی په میاشت کی له مدینی نه مکی ته روان و نو د عسفان نومی ځای کی اوبه راوغوښتلی او اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته یی وفرمایل چی روژی ماتی کړئ پخپله هم روژه ماته کړه بیا مکی مکرمی پوری تر رسیدو پوری روژه ونه نیوله ، لدینه وروسته حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل چی محمد صلی الله علیه وسلم د سفر په حالت کی روژه نیولی هم ده او ماته کړی هم ده ، دا له خپل رضا سره تعلق لري که څوک غواړي نو روژه دی ونیسي او که غواړي نو ماته دی کړي .

"عن ابن عباس رضی الله عنه قال سافر رسول الله صلی الله علیه وسلم فی رمضان حتی بلغ عسفان ثم دعا باناء فیه شراب فشربه نهاراً لیراه الناس ثم افطر حتی دخل مکة قال ابن عباس رضی الله عنه فصام رسول الله صلی الله علیه وسلم وافطر ، من شاء صام ومن شاء افطر" مسلم شریف ج ۱ ص ۳۵۶ باب جواز الصوم والفطر فی شهر رمضان للمسافر الخ .

په نورو روایتونو کی دا هم تصریح دی چی د روژی په وجه د اصحابو کرامو رضی الله عنهم حالت خراب و نو ځکه هغه صلی الله علیه وسلم داسی وکړ . "ان الناس قد شق علیهم الصیام" مسلم شریف ج ۱ ص ۳۵۶ باب جواز الصوم الخ .

حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي : "فقيل له بعد ذلك ان بعض الناس قد صام فقال اولئك العصاة اولئك العصاة"

ځینو اصحابو رضی الله عنهم روژه نه وه ماته کړی . د هغوی رضی الله عنهم په باره کی محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی دا نافرمان دي . مسلم شریف ج ۱ ص ۳۵٦ ایضاً .

ځکه چی محمد صلی الله علیه وسلم په رخصت باندی عمل وکړ ، او هغه صلی الله علیه وسلم و چی ټول په رخصت باندی عمل وکړي ، خصوصاً دی لپاره هم چی محمد صلی الله علیه وسلم د فتح مکې لپاره تشریف وړلو ، دا سفر جهاد لپاره و ، په هر حال ځو اصحابو رضی الله عنهم په دی عمل ونکړ نو محمد صلی الله علیه وسلم خفه شو .

په یو روایت کی دي : "عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم فى سفر فراى رجلاً قد اجتمع الناس عليه وقد ظلل عليه فقام ماله قالوا رجل صائم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ليس البر ان تصوموا فى السفر"

یعنی په سفر کی دیو اصحابي حالت ډیر خراب شو ، ټول اصحاب د هغوی په خدمت کی لګیا شول ، پر هغه یی سوری جوړه کړه ، د دغه حالت په لیدلو سره محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په سفر کی په ځان ظلم کول او روژه نیول څه نیکی نه دی (مسلم ج ۱ ص ۳۵٦ باب جواز الصوم الفطر الخ) .

له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی چی حضرت حمزه ابن عمر اسلمي چی زیاتی روژی به یی نیولی له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چی زه د روژو د نیولو طاقت لرم ایا زه په سفر کی روژی نیولی شم ؟ محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل که د خوښه وي روژی ونیسه او که د خوښه وي ماته یی کړه (باب جواز الصوم الفطر الخ ص ۳۷۵) .

له حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چی مونږ اصحاب له محمد صلی الله علیه وسلم سره د روژی په شپاړلسم ورځ د جهاد لپاره ووتلو ، له مونږ نه ځینو روژی نیولی وی او ځینو ماتی کړی وی ، روژه دارو په غیر روژه دارو باندی او غیر

روژه دارو په روژه دارو باندی هیڅ قسم اعتراض او ملامتي ونکړ ، څکه چی روژه دارو په عزیمت باندی عمل کاو او غیر روژه دارو په رخصت باندی عمل کاو (باب جواز الصوم)
دا او د دی پشان د نورو احادیثو په رڼا کی فقهای کرام فرمایي چی د سفر په حالت کی روژه نیول ضروري او واجب نه دي ، که چا ونیولی نو په عزیمت باندی عمل وکړ او که یی ونه نیولی نو په رخصت باندی عمل یی وکړ ، که د روژو په نیولو سره د طبیعت د خرابیدو او تکلیف رسیدو څه ویره نه وي نو د روژو نیول بهتر دي .
که چیرته ده ته یا د هغه د سفر ملګرو ته د نقصان رسیدو ویره وي نو بیا بهتره دا ده چی روژی ونه نیسي ، درمختار شامي کی دي :
"(ویندب لمسافر الصوم) لاية وان تصوموا خيرلكم والخير بمعنى البرلا افعل تفضيل (ان لم يضره) فان شق عليه او على رفيقة فالفطر افضل لموافقة الجماعة الخ" درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۱۶۰ فصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم . فقط والله اعلم بالصواب .

که په سفر کی اطمنان وي نو روژه نیول بهتر دي :

(۳۳۵ سوال) د سفر په حالت کی د روژو نیول افضل دي او که نه نیول یی افضل دي ؟
خواب د سفر په حالت کی د روژو نیول او نه نیول دواړه جائز دي . که چیرته د روژو په نیولو کی د تکلیف او ضعف ویره وي ، یا ملګرو ته تکلیف او پریشاني وي نو دروژو نه نیول افضل دي ، بیا وروسته دی قضائي راوړي ، خو که چیرته د کمزوری او تکلیف ویره نه وي نو د روژو نیول افضل دي .
"ثم الصوم في السفر افضل من الافطار عندنا اذا لم يجهده الصوم ولم يضعفه وقال الشافعي الافطار افضل بناءً على ان الصوم فى السفر عندنا عزيمة والافطار رخصة الخ" (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۹۶ فصل حكم فساد الصوم). ولكن الصوم افضل ان لم يضره كما سيأتى (شامى ج ۲ ص ۱۵۸ فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم) فقط والله اعلم بالصواب .

باب ما يتعلق بما يبيح الافطار

د روژو نه نیولو لپاره کوم کوم عذرونه دي ؟

(۳۲۶ سوال) د روژی په میاشت کی د کومو کومو وجوهاتو له کبله دروژو نه نیول جواز او گنجائش موجود دی . وضاحت یی وکړئ .

ځواب : پنځه عذرونه داسی دي چی دهغوی په وجه د روژو ماتولو اجازه ده .

(۱) مرض : چی د روژو د نیولو طاقت او قوت نه لري یا د روژو په وجه د مرض د زیاتیدو ویره وي ، دعذر له ختمیدو نه وروسته قضاء لازم دی [۱]

(۲) حامله : مرضعه (تی ورکونکی) چی د روژو د نیولو په وجه خپل ځان یا دهغی ماشوم ته دنقصان او تکلیف رسیدو ویره وي ، خو د عذر له رفع کیدو نه وروسته قضاء وراندی ضروري دی [۲]

(۳) شرعي مسافر : کله چی کور ته راشي نو قضاء وراندی ضروري دی [۳]

(۴) داسی بوډا ، بوډی چی عمر یی زیات وي او روژه نشي نیولی ، نو هغه دی پاوکم دوه سیره غنم یا دهغه قیمت په فدیه کی ورکړي ، لیکن که الله تعالی دروژو نیولو قوت ورته ورکړی و نو قضاء وراندی لازم دی [۴]

(۵) حائضه او نفساء ښځی د روژو له نیولو نه معذور دي که ویی نیسي نو روژه یی نه کیږي له پاکیدو نه وروسته دی قضایي راوړي [۵]

د میلمه په خاطر د میزبان نفلي روژی دماتولو حکم :

(۳۳۷ سوال) که میزبان ته د میلمه په خاطر دخپلی نفلي روژی دماتولو اجازه وي ایا میلمه ته هم د میزبان په خاطر د خپلی نفلي روژی دماتولو جواز شته او که نه ؟ بینوا توجروا .

---

[۱] ومنها المريض : المريض اذا خاف على نفسه التلف او ذهاب عضو يفطر بالاجماع (فتاوى عالمگيرى الاعذار التي يبيح الافطار ص ۲۰۷)

[۲] الحامل والمرضع اذا خافتا على انفسهما او ولدهما افطرتا وقضتا ايضاً .

[۳] منها السفر الذى يبيح الافطار ص ۲۰۶ ايضاً .

[۴] فالشيخ الفانى الذى لايقدر على الصيام يفطر ص ۲۰۷ ايضاً .

[۵] اذا حاضت المرأة او نفست افطرت ايضاً .

جواب: مسئله دا هم جائز دي چې د میزبان (کوربه) په خاطر خپلې نفلي روژه ماته کړي، مګر قضاء وربانډې لازم دی

"وضیافت هم عذر است افطار کند وقضا لازم شود" (ما لا بد منه ص ١٠٠) فقط والله اعلم بالصواب.

د روژې او د لمونځ فديه

د ګنو روژو فديه يو مسکين ته ورکول :

(۳۳۸ سوال) ايا د يوې روژې فديه دوه مسکينانو ته او د ګنو روژو فديه يو مسکين ته ورکول صحيح دي او که نه ؟ بينوا توجروا .

جواب : ديوې ورځې روژې فديه لږ لږ څو مسکينانو ته ورکول صحيح دي همدغه راز دهغې قيمت هم ورکول صحيح دي . همدغه راز د ګنو روژو فديه يو مسکين ته ورکول هم جائز دي . په شامي کې دي : چې په ګنو مسکينانو باندې ديوې فديې د تقسيمولو په متعلق له امام ابويوسف نه د جواز قول منقول دی . لدينه معلوميږي چې دفديې حکم د کفارې په څير نه دی بلکې د صدقه الفطر په څير دی .

لهذا د ګنو روژو فديه يومسکين ته ورکول صحيح دي او په دې کې له مشقت نه حفاظت او سهولت دی .

"ويفدى وجوباً ولو فى اول الشهر وبلا تعدد فقير" درمختار (قوله وبلا تعدد فقير) اى بخلاف نحو كفارة اليمين للنص فيها على التعدد فلو اعطى هنا مسكيناً صاعاً عن يومين جاز الخ" شامى ج ۲ ص ۱٦٣ ، ١٦٤ فصل فى العوارض المبيحة للصوم ،فقط والله اعلم بالصواب .

د روژې فديه کله ورکولی شي ؟

(۳۳۹ سوال) د روژې فديه دې څوک ورکړي ؟ بينوا توجروا .

جواب : څوک چې د روژو نيولو طاقت نه لري نه اوس او نه هم وروسته نو هغه دې فديه ورکړي[1] . فقط والله اعلم بالصواب .

د روژې فديه :

(۳۴۰ سوال) د روژې فديه کله ورکولی شوو ؟ بينوا توجروا .

---

[1] ـ فالشيخ الفانى الذى لايقدر على الصيام يفطر ويطعم لكل مسكين كما يطعم فى الكفارة . فتاوى عالمگيرى الاعذار التى يبيح الافطار ج ۱ ص ۲۰۷

ځواب ځوک چې دومره بوډا شوی وي چې د روژو نیولو طاقت نه لري او دا امید هم نه لري چې به مستقبل کې د روژو قضاء راوړی شي یا داسې ناروغ وي چې د روژو نیولو طاقت نه لري او د ښه کیدو امید هم نه لري ، نو په داسې حالت کې دی د روژو فدیه ورکړي ، یعنې د هرې روژې په بدل کې دی پاوکم دوه کیلو غنم یا دهغه قیمت یا دقیمت په اندازه کپړې (رخت) دیني کتابونه مستحق ته ورکړي ، که د فدیې له ورکولو نه وروسته او له مرګ نه مخکې د روژو نیولو طاقت یې پیدا کړ نو د روژو قضایي ورباندې ضروري دي .

په ما لا بد منه کې دي :

" شیخ فاني که از روزه عاجز باشد افطار کند وعوض هر روزه بقدر صدقه فطر اطعام کند ، پستر اگر قدرت روزه بهم رسید قضا بروي واجب شود " ما لا بد منه ص ۹۴ ، فقط والله اعلم بالصواب .

د مړي د لمونځونو او روژو فدیه دهغه اصول او فروع ته یا اینګور ته ورکول

(۳۴۱ سوال) ایا د کوم مړ شوي شخص د لمونځونو او روژو فدیه د هغه خاندان ته ورکولی شو او که نه ؟ که چیرته د هغه اینګور غریبه وي نو هغې ته ورکولی شوو او که نه ؟ ایا د فدیې مصرف دزکات د مصرف په څیر دی ؟

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! د فدیه مصرف دزکات مصرف دی ، لهذا اصول او فروع ته نشي ورکولی ، دهغه اینګور که حقداره وي نو هغې ته ورکولی شي ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۸ شوال ۱۳۸۷ھ .

صیام تطوع

نفلي روژې

ایا په موجوده زمانه کی یواځی د عاشوری روژی نیول کافي ده او که نه ؟

۳۴۲ سوال ، څه فرمایي د دین علماء او د شرع مفتیان په دی مسئله کی چی د عاشوری د روژو په باره کی فقهای کرامو حدیث شریف ، له یهودو سره د مشابهت په سبب د یوی روژی پر ځای دوه روژی مسنون کړی دي او یواځی دعاشوری روژه یی مکروه ګرځولی ده ، حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله قدس سره خپل له دی قول نه رجوع کړی و چی هغه لوسړی دعاشوری روژه کافي او غیر مکروه ګڼله په امداد الفتاوی جلد دوم کی د هغه رجوع نقل شوی دی .

یو مقتدر عالم حدیث تشبه بالیهود لاندی خپله رای داسی بیان کړیده :

زه عاجز عرض کوم چی څرنګه زمونږ په زمانه کی یهود او نصاری او نور دعاشورا په ورځ روژه نه نیسي بلکی د هغوی یوکار هم د قمري میاشتی په حساب نه کیږي نو ځکه اوس د کوم اشتراک او مشابهت له سره سوال نه پیدا کیږي ، لهذا زمونږ په زمانه کی د تشابه د رفع کولو لپاره په نهم یایولسم تاریخ د روژو نیولو ضرورت نشته ، د مولانا صاحب د دغی رای په باره کی دمفتي صاحبانو څه رای ده ؟ بینوا توجروا .

ځواب د محرم د میاشتی په لسم تاریخ یعنی د عاشورا د روژی سنتیت له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي . او له یهودانو سره د مشابهت نه د بچ کیدو لپاره په نهم تاریخ روژه نیول هم ثابت دي ، په یهودانو کی دعاشورا په ورځ دروژی نیولو رواج نشته ، دا ثابتول شکل دي ، له هغوی نه ځینی پخواني خلک چی پخپل ګمان د خپل مذهب پابند دي کیدای شي روژه به نیسي نوځکه د مشابهت علت قائم دی ، او لدینه هم انکار نه دی چی د ځوارلس سوه کلونو راهسی په دی باندی دامت عمل جاری دی .

له تراویح نه وروسته اجتماعي دعا منقوله نه ده ، لیکن د امت او اکابرو عمل د دلیل په توګه پیش کولی او دعا کولی شي ، همدغه راز د عید الاضحی لمونځ نه وروسته تکبیرات ثابت نه دي . فقهاو ۲۳ لمونځونه شمیر کړی دي چی له هغه نه وروسته تکبیرات تشریق ویلی شي او دا څلور ویشتم لمونځ کیږي مګر د توارث په بنا باندی د تکبیرونو ویل منل شوی دي ،ځینو څو ورته واجب هم ویلی دي .

((ولابأس به عقب العيد لان المسلمين توارثوه فوجب ابتـاعهم وعليـه البلخيـون))

(درمختار مع الشامى ج۱ص ۷۸۶ مطلب فى تكبيرالتشريق).

لهذا عاشورا(يعني دلسم محرم) روژو سره دنهم تاريخ دروژې نيـول هـم پكـار دي ، كـه چېرتـه نهمه روژه ونه نيولې شي نوله لسم سره دى يوه لسمه روژه هم ونيسـي . هذا ماظهر لي . فقط والله اعلم بالصواب.

نوټ: اوس اوس له انګلستان نه يو سړى راغلـى دى ، هغـه وايـي چـې مونږپـه انګلستان كـې داسې يهودان ليدلي دي چې دعاشورې په ورځ روژه ونيسي . خوداقسم پخواني خلك ډير لږ دي چې روژه نيسي.

ايا درجب ۲۷ مه روژه له زرو روژو سره برابره ده ؟

۳۴۳_ سوال : زياتره خلك ۲۷م رجب روژې ته زيـات اهميـت وركـوي اودا دزرو ورځـو دروژو ثواب ګڼي . اوپه همدې عقيده روژه نيسي، په دې باره كې دشريعت څه حكم دى ؟

ځواب: د۲۷ مې رجب په باره كې چې كوم روايتونه راغلي دي هغه موضوعي او ضعيف وي ، صحيح او قابل اعتماد نه دي ،لهذا درجب په ۲۷مه ورځ روژه دعاشورى په څير سنت ګڼل اوپه دې مقصد نيول چې داد زرروژو هومره ثواب لري ممنوع دى ، حضرت عمر فـاروق رضـى‌الله عنه به درجب له ۲۷مې تاريخ له روژونيولو نه منع كاو.

حديث. فى رجب يوم وليلة من صام ذلك اليوم وقام تلك الليلة كان له الاجر كمن صام مائة سنة وهى لثلث بقين وفيه بعث الله محمد ارواه الديلمى عن سليمان فيه خالد بن هياج . وابن هياج متروك له احاديث مناكير كثيرة (ماثبت بالسنة ص۱۷۵)(فتـاوى دار العلوم مدلل ومكمل۶/ ۴۹۱) عن خرشة ابن الحرقال رأيت عمر بـن الخطـاب رضى‌الله عنه يضرب اكف الرجال فى صوم رجب حتى يضعوها فى الطعام ويقول رجب ومارجب انما رجب شهر تعظمه الجاهلية فلما جاء الاسلام ترك رواه ابـن ابى شـيبة والطبراني فى الاوسط (ماثبت بالسنة ص ۱۷۳).

البته كه څوك دا نه سنت ګڼي اونه هم دزرو روژو هومره ثواب ګڼي نو هسې دنفـل پـه توګـه نيولې شي، څه ممانعت ورته نشته فقط والله اعلم بالصواب.

اعتکاف

دموکده سنت اعتکاف په ماتولو سره قضا لازمیږي او که نه ؟

۳۴۴ سوال دروژې دمیاشتې دآخري لسو ورځو اعتکاف ماتولوسره قضالازمیږي اوکه نه ؟ که چېرته له رمضان نه وروسته ددغو لسو ورځو اعتکاف قضاء راوړي نو په دی کی څه حرج شته ؟

ځواب. په کوم ورځ چی اعتکاف یی مات کړی دی فقط دهمغی ورځې اعتکاف قضاء له روژې سره ضروري ده ، دنورو ورځو قضا ضروري نه ده که چیرته له رمضان نه وروسته دېوره لسو ورځو قضا له روژو سره یوځای راوړي نو دابهتر دی .[1] فقط والله اعلم بالصواب.

په کوم مسجد کی چی په جمعې سره پنځه لمونځونه کیږي هلته داعتکاف څه حکم دی ؟

۳۴۵_ سوال : زمونږ دکلي په مسجد کی پنځه وخته په جمع لمونځ نه کیږي . ایا په هغه کی اعتکاف کولې شم او که نه ؟

ځواب: که چېرته په نورو ورځو کی په جمع لمونځ نه کیږي ، لیکن داعتکاف په ورځو کی په جمع لمونځ کیږي نو همدا کافي دی ، اعتکاف پکې صحیح کیږي تاسې پکې اعتکاف کولې شئ .[2]

ایا معتکف دغسل لپاره کمپاونډ ته تللی شي او که نه؟

۳۴۶_ سوال :ایا معتکف دغسل په خاطر له مسجد نه باهردمسجد کمپاونډ ته داوبودګرمولو لپاره تللي شي او که نه ؟ ځکه چی یخې اوبه ورته نقصان رسوي .

ځواب: معتکف دغسل په خاطر له مسجد نه وتلې شي ، دجنابت یادجمعې لمونځ لپاره دغسل نه علاوه دبل غسل جواز ورته نشته ، که چېرته بل څوک هغه ته ګرمې اوبه نه

[1] منقضی الیوم الذی افسده لاستقلال کل یوم بنفسه (شامی باب الاعتکاف ج۲ص۱۸۰).

[2] فی مسجد جماعة هو ماله امام ومؤذن ادیت فیه الخمس اولا درمختار مـــع الشـــامی حوالــه ج۲ص۱۷٦

راوړي نو بخپله دمسجد په کمپاوند (احاطی) کی اوبه ګرمولې شي خکه چی دا شرعي ضرورت دی لهذا په اعتکاف کی څه نقصان نه راځي[1]

فقط والله اعلم بالصواب.

ایا دمسنون اعتکاف قضاء شته او که نه ؟

۳۲۷ سوال درمضان المبارک آخري عشره کی اعتکاف سنت موکده علی الکفایه ده، دعذر په وجه یې ماته کړه اویاهم سهوا ترینه مات شو، دهغه قضاشته او که نه ؟

ځواب: په مسئوله صورت کی چی دکومې ورځې اعتکاف مات شوی دهغې ورځې داعتکاف قضاء له روژې سره یو ځای لازم ده . لیکن که احتیاطاً له اختلاف نه دبچ کیدو په خاطر دروژې له میاشت نه وروسته لس ورځې له روژو سره یو ځای قضایې راوړي نو دابهتر دی فقط والله اعلم بالصواب .ددی حواله لږ مخکې تیره شوی ده .

دآخري عشره په اعتکاف کی دروژې حکم

۳۲۸_ سوال : غوارم چی په آخري عشره کی اعتکاف وکړم ، لیکن دروژو نیولو طاقت نه لرم . نو له روژو نه بغیر اعتکاف صحیح دی او که نه ؟

ځواب: مسنون اعتکاف لپاره روژه شرط ده .لهذا له روژې نه بغیر اعتکاف نفلي دی نه مسنون اعتکاف فقط والله اعلم بالصواب.

ښځه په کور کی مسنون اعتکاف کولې شي او که نه ؟

۳۲۹_ سوال ایا ښځه کولې شي چی په خپل کور کې مسنون اعتکاف ته کیني ؟

ځواب: ښځه چی په کوم کور کې پنځه وخته لمونځ اداکوي همغلته دی اعتکاف هم وکړي او که .په کور کې دلمونځ لوستلو ځای مقرر نه وي نو اعتکاف جائز نه دی. دکور په کوم ځای کی چی دلمونځ لوستلو لپاره کوم ځای مقرر کړي همغلته دی اعتکاف هم وکړي که ځای یې نه وي مقرر کړی نو اعتکاف نشي کولې.

---

[1] وحرم علیه الخروج الا لحاجة الانسان طبعیة کبول وغایط وغسل لـواحتلم ولا یمکنـــه الا غسال فی المسجد کذا فی النهر . درمختار مع الشامي باب الاعتکاف ص ۱۸۰.

امرأة فی مسجد بیتها) ویکره فی المسجد . ولا یصح فی غیر موضع صلاتها (شامی ص۱۷٦ ج۲ باب الاعتکاف ج۲ ص۱۸۰) فقط والله اعلم بالصواب .

داعتکاف په حالت کی دجمعې دورځې لپاره غسل

۳۵۰_ سوال دروژې دآخري عشری په اعتکاف کی دجمعې مسنون غسل لپاره له مسجد نه وتل څنګه دي ؟ بینوا توجروا.

ځواب: له فرض غسل نه علاوه دجمعې او نورو غسلو لپاره نشي وتلي.

وغسل لو احتلم (درمختار مع الشامي ج۲ص ۱۸۰) فقط والله اعلم بالصواب.

دجنازې په لمونځ کی ګډون (شرکت) کول اعتکاف فاسدوي او که نه ؟

۳۵۱_ سوال . معتکف ته معلوم شو چی جنازه راروانه ده ، هغه له مسجد نه باهر شو او دجنازې لمونځ يې ولوست، ایا په دی کار سره اعتکاف مات شوی او که نه ؟ که مات شوی وي نو دهغه دوباره قضاء لازم ده او که نه ؟ او که لازم ده نو دڅو ورځو ؟ ایادجنازې لمونځ لپاره تلل شرعي حاجت نه دی؟

ځواب: که چیرته دجنازې لمونځ له مسجد نه دباندی وي نو له مسجد نه وتل اعتکاف ماتوي او لږ ترلږه دیوې ورځې قضاءورباندی لازمه ده ، خوکه همت لري نو بیا دی پوره لس ورځې قضا راوړي داغوره او اخوط دی . دجنازې لمونځ لپاره له مسجد نه وتل په شرعي حاجت کی داخل نه دي .

په مراقي الفلاح کی دي : فان خرج ساعة بلاعذر معتبر (فسد الواجب) ولا اثم علیه (قوله بلا عذر مغتبر) ای فی عدم الفساد فلو خرج لجنازة محرمه او زوجته فسد لانه وان کان عذراً الا انه لم یعتبر فی عدم الفساد (طحطاوي علی مراقي الفلاح ص۴۰۹ باب الاعتکاف) په رسائل الارکان کی دي: (او تعین لصلوة

الجنازة ففی هذه الصورة یفسدالاعتکاف) (ص۲۲۹ خاتمه فی الاعتکاف) فقط والله اعلم بالصواب.

دسر کلولو او مستحب غسل لپاره له مسجد نه دباندی وتل؟

۳۵۲_ سوال : دمعتکف شخص لپاره داسې کارونه چې له نظافت سره تعلق لري. مثلاً سر کلول او مستحب غسل کولو لپاره له مسجد نه دباندی وتل جائز دی او که نه ؟
ځواب : معتکف لپاره دسر کلولو اویامستحب غسل په خاطر له مجسد نه دباندی وتل صحیح نه دی او اعتکاف ماتوي. که سرکلول ضروري وي نو داعتکاف په ځای کی کلولې شي خو پوره احتیاط دی وکړي چې ویښتان په مسجد کی ونه غورځیږي په مراقي الفلاح کې دي : ولایخرج منه الا لحاجة شرعیة او طبعیة کالبول والغائط وازالة نجاسة او اغتسال من جنابةباحتلام لانه علیه السلام کان لایخرج من معتکفه الالحاجة الانسان . الخ ص۴۰۷ باب الاعتکاف) او مستحب غسل داپه حاجت شرعیه وطبعیه کی داخل نه دی . په عالمګیري کی دي : (سئل ابو حنیفه عن المعکف اذا احتاج الی الفصد والحجامة هل یخرج فقال لا (عالمګیري کتاب الخطر والاباحة الباب الخامس ج۶ ص۲۱۵) فقط والله اعلم بالصواب.

دچلم څکلو او مستحب اودس لپاره له مسجدنه وتل.

۳۵۳_ سوال : معتکف په اوداسه کی دی او په دی اودس کی عبادت يې هم کړی دی مګر تازه اودس کول غواړي نو ایا دی لپاره له مسجد نه د باندی وتلی شي او که نه ؟
(۲) معتکف بی اودسه دی او په اودس کی ویده کیدل غواړي ، نو اودس لپاره له مسجد نه باهر وتلی شي او که نه ؟ زید وایي چې نشي وتلی .
(۳) معتکف د سګرټ او چلم څکلو عادي دی ، په یوه شپه کی لس دولس کرته سګریټ او چلم څکي ایا دا په طبعي ضرورت کی داخل دي او که نه ؟ ایا دی لپاره له مسجد نه وتل جائز دي او که نه ؟ که اجازه وي نو دچلم، سګریټ څکلو نه وروسته صرف په خوله کی اوبه اچول کافي دي او که اودس کول ضروري دي ؟ بینوا توجروا .
(له احمد آباد څخه)

خواب: کله چې معتکف په اودس کې دی نو د تازه اودس لپاره د وتلو اجازه نشته .
(۲) که اودس نه لري او په اودس کې ویده کیدل غواړي او معتکف لپاره هر وخت په اودس کې پاتې کیدل او په اودس کې ویده کیدل مناسب هم دي نو داسې کولی شي ، چې کله اودس وکړي نو لږ تر لږه تحیت الوضوء دی وکړي او بیا دی ویده شي ، دا د جمعې او مستحب غسل باندې قیاس صحیح نه دی ، ځکه چې له غسل نه پرته د جمعې لمونځ صحیح کیږي . فقط .
(۳) له اعتکاف نه وړاندې دی د چلم سګرټ څکلو عادت پریږدي او که نشي پریښودلی نو کله چې استنجاء او طهارت لپاره اوځي نو په همغه وخت دی چلم او سګرټ هم وڅکي . یواځې د سګرټ او یا چلم څکلو لپاره دی له مسجد نه اوځي ، لیکن کله چې طبیعت یې خرابیږي نو بیا ورته د وتلو اجازه ده ځکه چې په داسې حالت کې سګرټ یا چلم په طبعي ضروریاتو کې شمارل کیږي . او دا اعتکاف نه فاسدوي ، په فتاوی رشیدیه کې دي :
خواب: معتکف لپاره جائز دي چې د ماښام لمونځ نه وروسته د مسجد نه باهر چلم یا سګرټ وڅکي او بیا دی په خوله کې اوبه غرغره کړي او د تمباکو بوی زائل کړي (فتاوی رشیدیه ج ۳ ص ۵۷) هذا ما ظهرلی الان . فقط والله اعلم بالصواب .

د اعتکاف په حالت کې ماشومانو ته سبق ښودل څنګه دي ؟

(۳۵۴ سوال) د مسجد امام په مکتب کې استاذ دی او د دی معاش آخلي هغه د رمضان المبارک په آخري عشره کې د مکتب ماشومانو ته سبق ښودلی شي او که نه ؟ بینوا توجروا .
خواب: د اعتکاف لپاره دی له مدرسې نه رخصت واخلي ، که رخصت ورته ورنکړي نو مجبوراً په مسجد کې سبق ښودلی شي .
"ولو جلس المعلم فی المسجد والوراق یکتب فان کان المعلم یعلم للحسبة والوراق یکتب لنفسه فلا بأس به لانه قربة وان کان بالاجرة یکره الا ان یقع لهما الضرورة کذا فی المحیط السرخسی" فتاوی عالمگیری ج ٦ ص ۲۱۵ کتاب الکراهیة الباب الخامس فی آداب المسجد الخ . فقط والله اعلم بالصواب .

له معتکف سره د غیر معتکف سړي روژه ماتی کول :

(۳۵۵ سوال) د مسجد امام معتکف دی له هغه سره د تراویح امام چی معتکف نه دی له هغه سره په مسجد کی افطار کولی شي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : غوره دا ده چی حافظ صاحب یا د تراویح امام پخپل کوټه کی روژه ماته کړي که چیرته په مسجد کی د داخلیدو په وخت دنفلي اعتکاف نیت وکړي نو له معتکف سره افطار کولی شي ، کله چی په مسجد کی داخلیږي نو اللهم افتح لی ابواب رحمتك له الفاظو سره دی نویت الاعتکاف ما دمت فی المسجد هم ووایي ، په عالمګیري کې دي : "ویکره النوم والاکل فیه لغیر المعتکف واذا اراد ان یفعل ذلك ینبغي ان ینوی الاعتکاف فیدخل فیه ویذکر الله تعالی بقدر ما نوی او یصلی ثم یفعل ما شاء . کذا فی السراجیة" فتاوی عالمګیری ج ٦ ص ۲۱۵ کتاب الکراهیة الباب الخامس ، فقط والله اعلم بالصواب .

(۱) د مسجد په څادر سره د اعتکاف لپاره خیمه جوړول :

(۲) د معتکف لپاره مسنون کارونه :

(۳۵٦ سوال) د رمضان المبارک په آخري لسو ورځو کی خلک اعتکاف کوي او په مسجد کی ویده کیدو په ځای باندی له څادر نه ورکوټی غوندی خیمه جوړوي خو دا څادرونه د مسجد وي او په هره خیمه کی یو یو بلب لګیدلی وي ، نو داسی خیمه جوړول او د مسجد څادرونه استعمالول څنګه دي ؟ اعتکاف کوونکي د ورځی په وخت کی ویده کیږي او د شپی په وخت پخپلو کی ګپ شپ لګوي ، داسی کول څنګه دي؟ بینوا توجروا .

خواب اعتکاف لپاره خیمه جوړول مستحب دي که چیرته دغه کار لپاره ځا په مسجد کی څادرونه ایښی وي نو په دی کی څه بدي نشته او که دمسجد په پیسو اخستل شوی وي نو بیا د خیمی لپاره دهغوی استعمال صحیح نه دی ، خپل څادر دی استعمال کړي ، تر کوم وخت پوری چی د مسجد برق (بجلي) لګیدلی وي نو دهغه استعمال جائز دی . مګر له مقرر او ټاکلي وخت نه زیات استعمالول صحیح نه دي . که چیرته لدینه زیات برق مصرفوي نو معتکفین د هغه بل پخپله ورکړي د مسجد حق دی پخپل

خان نه پرېږدي ، معتکف صرف ضروري خبرې کولی شي غیر ضروري دنیاوی خبرې کـه
څه هم د ګناه نه وي په مسجد کی جائز نه دي
په حدیث کی دي کوم سړی چی په مسجد کی دنیاوي خبرې کوي نو ملائکـی وایـي
اسکت یاولی الله ای د الله ولي چپ شه . که لدینه وروسته بیا هم په دنیاوي خبرو کی
بوخت وي نو ورته وایي اسکت لعنة الله علیك پر تا دی د الله لعنت وي چـپ واوسـه
کتاب المدخل ج ۳ ص ۵۵) معتکفین په دی خاطر ناست دي چی خپل مولی خوشاله
او ثواب ترلاسه کړي که چیرته په دنیاوي خبرو ک مشغول شـي نـو د اجـر او ثـواب پـر
ځای د ملائکو لعنت او بددعا اخلي . لهذا معتکفینو ته پکار دي چی بلا ضـرورت پـه یـو
ځای کی جمع نشي ، پخپلو خیمو کی دی تلاوت ، دعا ، نوافـل ، ذکـر او درود ووایـي
او د ضرورت په اندازه دی ویده شي . کوم دنیاوي کارونه او خبری چی له مسجد نـه د
باندی صحیح نه دي هغه په مسجد کی د معتکفینو لپاره څنګه صحیح کیدای شي ؟ لکه
ی په مجالس الابرار کـی دي : "ویلازم قرأة القرآن والحدیث وعلم الدین وسـیر
النبی صلی الله علیه وسلم وقصص الانبیاء وحکایات الصالحین وکتابة امور الدین
واما التکلم بما لیس بخیر فانه مکروه لغیر المعتکف فما ظنك للمعتکف فی المسجد"

د قرآن په تلاوت ، حدیث ، دیني علوم ، نبوي صلی الله علیه وسلم سـیرت ، د صـالحینو
حکایتونه او دیني کارونو کی دی مشغول واوسي . که دغیر معتکف لپاره د فضولو خبـرو
کول مکروه دي نو په مسجد کی دننه د معتکف لپاره څنګه صحیح کیدلی شي ؟
مجالس الابرار ص ۲۰۵ مجلس نمبر ۳۱) فقط والله اعلم بالصواب ، ۱٦ رمضان المبـارک
۱۳۹۷ھ .

د اعتکاف لپاره له څادر او نورو څیزونو څخه د خیمی جوړولو ثبوت

(۳۵۷ سوال) څه فرمایي د دین علماء او متین دین مفتیان پـه دی مسئله کـی چـی د
اعتکاف لپاره د مسجد په یوه ګوښه کی د پردی اهتمام کول څنګه دي ؟ یعنی دا سـنت

دي او که بدعت ؟ مهرباني وکړئ د کتابونو په حوالو سره مفصل خـواب ولیکـئ . **بینـوا توجروا**

خواب معتکف لپاره د مسجد په یوه ګوښه کې له څادر او نـورو څیزونـو څخـه حجـره جوړول مستحب دي ، ځکه چې په دی کې ستر دی . لدینه علاوه نـور مصلحتونه هـم شته . د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره لـه پوزیـو نـه حجـره جـوړول ثابـت دي ، بدعت نه دي ، البته معتکف دی د دی خیال وساتي چې له ضرورت نه زیات ځای ونـه نیسي . د لمونځ ګذارانو لپاره دی د تکلیف سبب نه ګرځـي او د صفونو د جوړولـو پـه وړاندی دی خنډ نه جوړیږي .

په مرقات شرح مشکواة کی دي .

"عن عائشة رضی الله عنها قالت کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا اراد ان یعتکف صلی الفجر ثم دخل فی معتکفه رواه ابوداؤد و ابن ماجه (قولـه صـلی الفجر ثم دخل فی معتکفه بصیغة المفعول ای مکان ا عتکافه . الی قوله . وتـاولوا الحدیث بانه صلی الله علیه وسلم دخل المعتکف وانقطع وتخلی بنفسه فانه کان فی المسجد یتخلی عن الناس فی موضع یستتر به عن اعین الناس کما ورد انه اتخذ فی المسجد حجرةً من حصیر اه)" (مرقاة شـرح مشـکواة ج ٤ ص ۳۲۹ بـاب الاعتکاف الفصل الثانی) (هکذا فی التعلیق الصبیح شرح مشکواة المصابیح ج ۲ ص ٤١٥) .

په مظاهر حق کې دي : کله به چې د سهار لمونځ وکړ نو په هغه خیمـه کـی بـه ننوت چې له پوزیو نه ورته جوړ شوی و ، تر څو له خلکو جدا واوسي (مظـاهر حـق ج ۲ ص ۱۲۰ . په مجالس الابرار کـی دي : "واصله ما فی الصحیحین انـه علیـه السـلام اعتکف العشر الاول من رمضان ثم اعتکف العشر الاوسط فی قبة ترکیة ثم اطلع رأسه اه"

محمد صلی الله علیه وسـلم د روژی د میاشـتی پـه لومړی لسیز کـی اعتکـاف وکـړ بیـا درمیاني عشره کی د ترکی په خیمه کی اعتکاف وکړ ، بیـا یې سـر بـاهر وویسـت او وېی فرمایل اه (مجالس الابرار ص ۲۰۳ مجلس نمبر ۳۱) .

لدینه معلوم شو چې له څادرونو او نورو څیزونو څخه خیمه جوړول له محمد صلی الله علیه وسلم نه ثابت دي لهذا دیته بدعت نشو ویلی ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۲۷ رمضان المبارک ۱۳۹۷ ه .

د نابالغ هلک اعتکاف :

(۳۵۸ سوال) ایا یو نابالغ هلک د روژې په آخري لسیز کې اعتکاف کولی شي او که نه؟ دلته یو نابالغ هلک اعتکاف کړی دی ، که جائز نه وي نو هغه دی له اعتکاف نه پاڅول شي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که نابالغ هلک هوښیار وي ، لمونځ یې یاد وي او په صحیح ډول ادا کولی شي نو معتکف کیدلی شي ، خو اعتکاف به یې نفلي وي نه مسنون ، که ناپوه او جاهل وي نو اعتکاف ته نشي کیناستلی د مسجد د بې ادبې ویره ده[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

که د موکده سنت اعتکاف مات شي نود څو ورځو قضا دی وکړي ؟

(۳۵۹ سوال) که چیرته موکده سنت اعتکاف فاسد شي نو د هغه قضاء واجب دی او که نه ؟ که واجب دی نو څومره ورځې ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د رمضان المبارک د اعتکاف لپاره روژې شرط دي ، له روژې نه بغیر اعتکاف نه کیږي ، کله چې دا اعتکاف فاسد شي نو په دې باره کې د امام ابوحنیفه رحمه الله تحقیق دا دی چې د اعتکاف کوم ورځ فاسده شوې ده د همغه ورځې قضاء ورباندې واجب دی څکه چې د هغه په نزد د اعتکاف هره ورځ جلا جلا ده ، او امام ابو یوسف رحمه الله په نزد د پوره لسو ورځو یالږ تر لږه د پاتې ورځو قضا واجب ده ، د امام ابویوسف رحمه الله په قول باندې عمل کولو کې احتیاط دی .

"اما النفل فله الخروج لانه منه لامبطل کمامر (درمختار) (قوله اما النفل) ای الشامل للسنة المؤکدة قلت ما قدمنا یفید اشتراط الصوم فیها بناء علی انها مقدرة

---

[1] _ اما البلوغ فلیس بشرط لصحة الاعتکاف فیصح من الصبی العاقل الخ فتاوی عالمگیری باب الاعتکاف ص ۲۱۱ .

بالعشر الاخير ومفاد التقدير ايضا ا للزوم بالشروع تأمل ثم رأيت المحقق ابن الهمام قال ومقتضى النظر لو شرع في نفل ثم افسده ، ان يجب قضاء تخريجاً على قول ابى يوسف في الشروع في نفل الصلواة ناوياً اربعاً لا على قولهما اه اى يلزمه قضاء العشر كله او افسد بعضه كما يلزمه قضاء اربع لو شرع في نفل ثم افسد الشفع الاول عند ابي يوسف رحمه الله لكن صحح في الخلاصة انه لايقضى الاربعين كقولهما .الى قوله. وعلى كل فيظهر من بحث ابن الهمام لزوم الاعتكاف المسنون بالشروع وان لزوم قضاء جميعه او باقية مخرج على قول ابي يوسف رحمه الله اما على قول غيره فيقضى اليوم الذى افسده لاستقلال كل يوم بنفسه . الى قوله . والحاصل ان الوجه يقتضى لزوم كل يوم شرع فيه عندهما بناء على لزوم صومه بخلاف الباقى لان كل يوم بمنزلة شف من النافلة الرباعية وان كان المسنون هو اعتكاف العشر بتمامه تامل" درمختار و شامي ج ٢ ص ١٨٠ باب الاعتكاف ، فقط والله اعلم بالصواب .

ايا معتكف په مسجدکی دننه کټ کی ويده کيدلی شي او که نه ؟

(٣٦٠ سوال) ايا په مسجد کی ناست معتکف انسان پخپل خيمه کی په کټ کی ويده کيدای شي او که نه ؟ بينوا توجروا .

خواب : معتكف په مسجد کی چارپايي باندی ويده کيدلی شي ، "كما فى سفر السعادة وابن ماجه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان اذا اعتكف طرح له فراشه اويوضع له سريره ، وراء سطوانة التوبة" مجموعه فتاوي ج ٢ ص ١٨ فقط والله اعلم بالصواب .

معتکف د ضرورت په خاطر چهل قدمي کولی شي او که نه ؟

(۳٦۱ سوال) ایا په مسجد کی دننه معتکف لپاره د ضرورت په وجه چهل قدمي کول جائز دي او که نه ؟ په معتکف او غیر معتکف کی فرق شته او که نه دواړو یو حکم دی ؟
ځواب : په مسجد کی داسی عمل کول چی هغه په مسجد کی مناسب نه وي جائز نه دی ، چهل قدمي کول هم همداسی دي ، لهذا دا جائز نه دي (تتمه رابعه امداد الفتاوی ص ۱۷) مګر معتکف لپاره د ضرورت په خاطر چهل قدمي کول جائز دي هله چی د هغه د چهل قدمي طریقه د مسجد د احترام نه خلاف نه وي ، فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته معتکف د مجبوریت په وجه مړي ته د غسل ورکولو لپاره ووځي نو د هغه څه حکم دی ؟

(۳٦۲ سوال) که معتکف له مسجد نه د ضرورت په خاطر ووځي ، مثلاً مړي ته غسل ورکولو لپاره څوک نه وي ، همدغه راز د جنازی لمونځ د ادا کولو لپاره هم څوک نه وي ، نو دی لپاره له مسجد نه باهر ووځي نو ایا په دی سره اعتکاف ماتیږي او که نه ؟ بینوا توجروا
ځواب : له طبعي او شرعي حاجت نه بغیر دنورو ضروریاتو لپاره له مسجد نه باهر کیدل اعتکاف ماتوي ، مثلاً په مسئوله صورت کی مړي ته غسل ورکول ، د هغه د جنازی لمونځ امامت ، یا ګواهي ورکول ، هله چی هغه ګواهي ورنکړي نو د حقدار سړي حق ضائع کیږي ، همدغه راز د یو غرق شوي سړي د خلاصولو یا په اور کی د سوځیدونکي انسان د خلاصولو په نیت ووځي نو بیا هم اعتکاف یی ماتیږي خو ګنهګار کیږي نه بلکی په داسی حالاتو کی وتل ضروري ګرځي .
"(فان خرج ساعة بلاعذر) معتبر (فسد الواجب) ولا اثم علیه به (مراقی الفلاح) (قوله بلا عذر معتبر) ای فی عدم الفساد فلو خرج لجنازة محرمة او زوجته فسد لانه وان كان عذراً الا انه لم يعتبر فی عدم الفساد (قوله ولا اثم علیه) ای بالعذر واما بغیر العذر فیأثم لقوله تعالی ولاتبطلوا اعمالکم" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۴۰۸ ، ۴۰۹ باب الاعتکاف) او تعین لصلواة الجنازة ففی هذه

الصور يفسد الاعتكاف وان لم يأثم بالخروج والافساد (رسائل الاركان ص ۲۲۹) فقط والله اعلم بالصواب .

د معتکف لپاره د تحية الوضوء او تحية المسجد حکم :

(۳٦۳ سوال) معتکف چی کله اودس وکړي نو تحيت المسجد او تحيت الوضوء دی وکړي او که نه ؟ بينوا توجروا .

خواب تحيت الوضوء دی ادا کړي ، تحيت المسجد په ورځ کی یوځل کافي دی ، "وتستحب التحية لداخله فان كان ممن يتكرر دخوله كفته ركعتان كل يوم (الاشباه) وفى الحموى . وفى السراج الوهاج فان قيل هل تسن تحية المسجد كلما دخله ام لاقيل فيه خلاف قال بعضهم نعم لانه معتبر بتحية الانسان فانه يحييه كما لقيه وقال بعضهم مرةً واحدةً وهذا اذا كان ناثياً (اى بعيداً) اما اذا كان جاز المسجد لا يصليها كما لايحسن لاهل مكة طواف القدوم" الاشتباه والنظائر مع حاشيه حموي ص ۵۵۹ احكام المسجد الفن الثالث . فقط والله اعلم بالصواب .

که مسجد نه وي او په داسی کور کی اعتکاف وکړي چی هلته پنځه وخته په جمع لمونځ کيږي ؟

(۳٦۴ سوال) په یو کلي کی مسجد نشته ، ليکن دلته په یو کور کی پنځه وخته په جمع لمونځ کيږي نو په داسی کور کی اعتکاف صحيح دی او که نه ؟ بينوا توجروا .

خواب : کله چی په کلي کی مسجد نه وي نو په داسی یوکور کی چی هلته پنځه وخته لمونځ باجماعت ادا کيږي نو که په دی کی اعتکاف وکړی شي نو اميد دی چی د سوکده سنت اعتکاف ثواب به ورته ورکړی شي ، که چيرته اعتکاف پکی ونکړي نو دکلي په خلکو گناه ده چی څومره کيدای شي نو اعتکاف دی پکی وکړي ، قبلول د الله کار دی .

"وقالوا لما سقط عن المرأة فی صلوتها المسجد الجامع کذلك سقط فی اعتکافها المسجد الجامع" باب الاعتکاف (رسائل الارکان ص ۲۲۹) فقط والله اعلم بالصواب .

نوټ :

په کوم کور کی چی په جمع سره پنځه وخته لمونځ ادا کوي هلته د جمعی ثواب خو ورته رسیږي ایکن د مسجد له ثواب نه محروم پاتی کیږي ، نو ځکه پکار دي چی د مسجد جوړولو کوښښ دی جاري وساتي ، رمضان المبارک ۱۳۹۹ه .

مسجد مو شهید کړی دی ، اعتکاف چیرته وکړو ؟

(۳٦۵ سوال) زمونږ په کلي کی مسجد و لیکن هغه مو شهید کړی دی ، په یوه مدرسه کی په جمع لمونځ ادا کوو ، ایا په دی مدرسه کی اعتکاف کولی شو ، او په دی سره سنت موکده ادا کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا (کلهوټ ضلع سورت) .

خواب : که چیرته په شهید شوي مسجد کی اعتکاف ممکن نه وي او په کلي کی بل مسجد وي نو همغلته دی اعتکاف وکړی شي ، په مدرسه کی اعتکاف صحیح نه دی ، خو که مسجد نه وي نو بیا صحیح دی ، انشاء الله ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۷ رمضان المبارک ۱۳۹۹ه .

د سرکاري وظیفی اخستلو لپاره له مسجد نه وتل :

(۳٦٦ سوال) دلته په انګلستان کی اوسیدونکي ډیر کم اعتکاف کوي ، زیاتره معتکفین هغه خلک دي چی په کارخانو کی کار نه کوي ، لاکن داسی خلکو ته په هفته کی یوځل په سرکاري دفتر کی پیسی ورکول کیږي او همغوی هلته دستخطونه کوي ، که دفتر ته لاړ نشي نو دا وظیفه (پیسی) ورته نه ورکول کیږي نو معتکف کولی شي چی دفتر ته لاړ شي او هلته له دستخط کولو نه وروسته پیسی اخستلی شي او که نه ؟ بینوا توجروا (له لندن نه) .

خواب : که چیرته لدینه بغیر د هغه ګوذاره نه کیده نو بیا تللی شي اوهلته له دستخط کولو او پیسو اخستلو نه فوراً بعد بیرته مسجد ته راتلل پکار دي بیا له اختر نه وروسته احتیاطاً د یوی ورځی قضاء دی هم راوړي ، اوکه لدینه بغیر یی ګوزاره کیده نو دفتر ته

دتللو اجازت نشته او که لاړ شي نـو اعتکـاف یی ماتیـږي او د اعتکـاف د باطلیـدو ګناه وربانډی هم ده ، فقط والله اعلم بالصواب ، ۱۹ شوال المکرم ۱۳۹۹ھ .

په نفلي اعتکاف کی د جمعی غسل لپاره له مسجد نه د باندی وتل

(۳٦٧ سوال) یو شـخص د روژی پـه مبارک میاشـت کـی اعتکاف کـړی دی ، هغـه د اعتکاف د شروع کولو په وخت دا نیت کړیو چی زه به د جمعی غسـل لپاره د مسجد نه د باندی اوځم ، د مسجد په احاطه کي غسل خانه ده ، پـه دی صـورت کـی هغـه د جمعی دغسل لپاره وتلی شي او که نه ؟ که نیت یی نه وي کړی نو لـه مسجد نـه وتلـی شي اوکه نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د روژی د میاشتی په آخري عشره کی اعتکـاف کفایي موکـد سنت دی ، پـه دی او نذر اعتکاف کي له واجب غسل نه علاوه جمعه او نور غسـل لپـاره لـه مسـجد نـه وتل جائز نه دي ، که د لومړی او دویمی عشری اعتکاف پخپل ځان نـذر ګرځـولی نـه وي نو دا نفل دی ، په دی کي د جمعی ورځـی د غسل یا د جنازی لمـونځ او د مـریض عیادت لپاره د وتلو نیت یی له مخکی نه کړی وي یـا نـه وي نـو اعتکـاف یی ماتیږي ، دیته فاسد نه ویل کیږي ، کله چي بیرته مسجد ته راځي له همغه وخت نـه بیـا اعتکـاف شروع کیږي .

"والقسم الثالث (مستحب فیما سواه) ای فی وقت شاء سوی العشر لاخـیر ولم یکن منذوراً" (مراقی الفلاح ص ٤٠٨ بـــاب الاعتکـــاف) د خـو کربنـو نـه پـس "(وانتهی به) ای بالخروج (غیره) ای غیر الواجب وهو النفل اذ لیس لـــه حـــد" مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ٤٠٩ ،فقط والله اعلم بالصواب .

د مقدمی لپاره له اعتکاف نه وتل :

(۳٦٨ سوال) یو سړی په مسجد کی معتکف دی او د آخری عشری پـه آخـره کـی پـه عدالت کی د هغه مقدمه ده ، په دی ورځ دهغـه حاضـریدل ضـروري دي ، پـه مسئوله صورت کی معتکف ته دمجبوریت له کبله په عدالت کی حاضریدل جائز دي او که نـه ؟ بینوا توجروا

ځواب : که دمقدمی لپاره عدالت ته لاړ شي نو اعتکاف یې ماتیږي او که د مجبوریت د وجه هلته ورځي نو بیا ګناهګار نه دی ، خو د صاحبینو د مسلک په مطابق که له نیمې ورځې نه زیات باهر پاتې نشي نو اعتکاف یې نه فاسدیږي ، د داسې مجبوریت په حالت کې په دغه مسلک باندې عمل کیدای شي ، وقالا ان خرج اکثر الیوم فسدوا الا فلا" مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۴۰۹ ، فقط والله اعلم بالصواب .

د کوم سړي له بدن نه چې بدبوی ځي دهغه اعتکاف کول او په جمع کې شریکیدل

(۳۶۹ سوال) (۱) د یو سړي له پیدائش نه د یوزی ناروغي ده چې دهغه په وجه ترینه بدبوی راځي ، علاج ورته هیڅ فائده نه ورکوي ، دداسې شخص لپاره په اعتکاف کې کیناستل څنګه دي ؟

(۲) داسې سړی د جمعې په لمونځونو کې شریکیدلی شي او که نه ؟ که لمونځ ګذاران ترینه تنګیږي نو بیا هم د مسجد د احترام په خاطر شریکیدل جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په حدیث شریف کې دي چې هر څوک له دی بدبوی داری ونی نه څه خیز وخوري نو هغه دی زمونږ مسجد ته نه نژدی کیږي ځکه چې ملائکو ته تکلیف رسیږي (بخاري شریف وغیره) انسان او ملائکو ته د ایذا د رسیدو له کبله دا حدیث معلل دی ، لهذا دکومو خلکو له بدن نه چې بدبوی ځي هغوی دی مسجد ته نه راځي او نه دی هم اعتکاف ته کیني .

په وسیله احمدیه شرح طریقه محمودیه کې دي :

"فقال الفقهاء وکل من وجد فیه رائحة کریهة یتأذّی به الانسان یلزم اخراجه" .

فقهای کرام لیکي چې دکوم سړي له بدن نه داسې بدبوی محسوس کړی شي چې دهغه په وجه اذیت وي نو هغه دی له مسجد نه وویستل شي .

(اسلام کا نظام مساجد ص ۲۱۹) فقط والله اعلم بالصواب .

(۲) که چیرته بدبوی آخري حد ته رسیدلی وي مګر بیا هم مسلمانان هغه زغمې یا ورسره عادي شوی وي نو بیا هم هغه ته پکار دي چې مسجد ته له راتلو نه اجتناب وکړي ځکه چې مسجد د ملائکو د حاضریدو ځای دی هغوی او ملائکو ته اذیت

رسیږي ، البته که بدبوي خفیف او قابل زغم وي نو عطر یا نوره خوشبوی دی ولګوي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د هوا د خارجولو لپاره له مسجد نه د باندی وتل :

(۳۷۰ سوال) ایا په اعتکاف کی ناست سړی د هوا خارجولو په خاطر له مسجد نه د باندی تللی شي او که نه ؟ ایا هغه لپاره په مسجد کی دهوا د خارجولو اجازه شته او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : معتکف باید د هوا د خارجولو لپاره له مسجد نه د باندی لاړ شي ، "قوله واخراج الریح فیه من الدبر ای یکره الی قوله ، بل یخرج اذا احتاج الیه وهو الاصح انتهی والعلة فی ذلك ان الملائکة تتاذی بما یتأذی به بنو آدم کما ورد فی الحدیث" حموی شرح اشباه ص ۵٦۰ احکام المسجد ، فقط والله اعلم بالصواب.

که معتکف سړی خپله ښځه ښکل ، یاځانته رانژدی کړي نو ؟

(۳۷۱ سوال) یو سړی په اعتکاف کی ناست دی ، د هغه ښځه له خپل خاوند سره د لیدو لپاره راغله ، معتکف هغه ښکل کړه او ځانته یی له مینی نه نژدی کړه ایا په دی سره اعتکاف ته نقصان رسیږي او که نه ؟

ځواب : معتکف لپاره د ښځی ښکلول او مینی سره سینی ته نژدی کول جائز نه دي خو په دی سره اعتکاف نه فاسدیږي ، خو که انزال یی وشو نو بیا اعتکاف یی فاسدیږی.

په ما لا بد منه کی دي :

" معتکف راوطی ودواعي وطی حرام است واز وطی اګرچه بشب یا بفراموشی باشد اعتکاف فاسد شود واز مس وقبل اګر انزال کند اعتکاف فاسد شود والا نه " ص ۹۷ .

ویبطل الاعتکاف بالوطی مطلقاً وبالدواعی ان انزل والا فلا (مجالس الابرار مجلس ۳۱ ، ص ۲۱۸) فقط والله اعلم بالصواب .

د معتکف سړي له خپلې ښځې سره خبرې اترې کول څنګه دي ؟

(۳۷۲ سوال) یو سړی په اعتکاف کې ناست دی هغه له خپلې ښځې سره د ضروري خبرو اترو مثلاً د خوراک څښاک او نورو څیزونو په باره کې خبرې اترې کولی شي او که نه ؟

همدغه راز که معتکف له خپلې ښځې سره د مینې خبرو کولو یا د استنجاء لپاره باهر لاړ ، بیا وروسته نیت یې خراب شو او له ښځې سره یې جماع وکړه نو په دې سره اعتکاف فاسدیږي او که نه ؟ زمونږ د علاقې خلک وایي چې دهری ښځې دمخ په کتلو سره هم اعتکاف فاسدیږي ، مهرباني وکړئ په دې باره کې معلومات راکړئ .

ځواب : د اعتکاف په حالت کې له ښځې سره ضروري خبرې اترې جائزې دي ، مګر له هغې سره مینه او محبت کول او خپلې سینې ته جوختول او ښکلول مکروه دي ، مګر په جماع کولو سره اعتکاف فاسدیږي .

"ویکره تحریماً صمت وتکلم الا بخیر وهو ما لا اثم فیه ومنه المباح عند الحاجة الیه لا عند عدمها وبطل بوطء فی فرج ولو لیلا او ناسیا وبانزال بقبلة او لمس او تفخیذ ولم لم ینزل لم یبطل وان حرم الکل ای کل ما ذاکر من دواعی الوطء اذا لا یلزم من عدم البطلان بها حلها العذم الحرج " شامی ج ۲ ص ۱۸۶ باب الاعتکاف ، فقط والله اعلم بالصواب .

ایا ښځه د روژې د میاشتې په آخري لسو ورځو کې اعتکاف کولی شي او که نه ؟ که چیرته په اعتکاف کې ښځې ته جامې راشي نو دهغه څه حکم دی ؟

(۳۷۳ سوال) ایا ښځه د روژې په آخري لسو ورځو کې اعتکاف کولی شي او که نه ؟ که اعتکاف کولی شي نو چیرته اعتکاف ته کیني ، که د اعتکاف په وخت کې حائضه شي نو څه دی وکړي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د روژې مبارکې میاشتې آخري لس ورځې اعتکاف سنت موکده علی الکفایه دی ، ښځه هم دا مسنون اعتکاف کولی شي ، ښځه په کور کې دننه په هغه ځای کې

اعتکاف ته کیښناستیدلی شي چیرته چې لمونځ لپاره خاص کړی وه او که نه وي خاص کړی نو همدا اوس دی خاص کړي ، د اعتکاف لپاره ضروري ده چې ښځه د حیض او نفاس نه پاکه شوی وي ، او که د اعتکاف په حالت کی حیض یې راشي نو اعتکاف دی پریږدي د حیض په حالت کی اعتکاف صحیح نه دی ، او له پاکیدو نه وروسته دی لږ تر لږه د یوی ورځی په کوم ورځ چې حیض یې راغلی دی له روژی سره یوځای قضا راوړي او که همت لري نو پوره لس ورځی یا د پاتی ورځو له روژی سره د اعتکاف قضاء راوړي .

په بدائع الصنائع کی دي :

"ولو حاضت المرأة فی حال الاعتکاف فسد اعتکافها لان الحیض ینافی اهلیة الاعتکاف لمنا فاتها الصوم ولهذا منعت من العقاد الاعتکاف فتمنع من البقاء"

بدائع ص ۱۱٦ ج ۲ کتاب الاعتکاف ، فقط والله اعلم بالصواب .

د معتکف سړي له خلکو سره خبری اتری کول :

(۳۷۴ سوال) معتکف د کومو عوراضو په وجه له مسجد نه د باندی وتلی شي مثلاً له مسجد نه باهر په صحن کی کوم خپلوان د ملاقات لپاره راشي نو له هغه سره ملاقات لپاره تللی شي او که نه ؟ همدغه راز د لاړو او یا بلغم د توکولو یا دنفلي لمونځ لپاره د اودس کولو په خاطر له مسجد نه د باندی تللی شي او که نه ؟ د اوبو څکلو منګی یې له مسجد نه د باندی اینبی دی ایا داوبو څکلو لپاره باهر تللی شي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : معتکف لپاره له څه شرعي عذر نه بغیر (لکه د جمعی لمونځ) او طبعي ضرورت (لکه استنجاء وغیره) لپاره د باندی وتل صحیح او جائز دي ، له خپلوانو سره ملاقات کول نه شرعي عذر دی او نه هم طبعي ضرورت لهذا له هغوی سره د ملاقات لپاره له مسجد نه باهر وتل جائز نه دي ، که له مسجد نه بیرون ووت نو اعتکاف یې ماتیږي ، همدغه راز د لاړو توکولو لپاره دی هم باهر نه اوځي ، البته د اودس لپاره وتلی شي د اوبو منګی دی له خپل ځان سره کیږدي ، که اوبه ورسره نه وي یا څوک ورته نه راوړي نو د مجبوریت په وجه د اوبو څکلو لپاره باهر تللی شي .

وحرم عليه اى على المعتكف الخروج الا لحاجة طبيعية كبول وغائط وغسل لو احتلم او شرعية كعيد والجمعة (درمختار ملخصاً) قال الشامى وعن هذا اعتراض بعض الشراح تفسير الكنزلها بالبول والغائط بان الاولى تفسيرها بالطهارة ومقدماتها ليدخل الاستنجاء والوضوء والغسل لمشاركتها لهما فى الاحتياج وعدم الجواز فى المسجد" شامى ج ۲ ص ۱۸۰ باب الاعتكاف ، فقط والله تعالى اعلم بالصواب .

د جمعي په وخت د صفونو تر منځ د تړل شويو څادرونو خلاصول :

(۳۷۵ سوال) معتکف حضرات د صفونو په منځ کی څادرونه تړي او د جمعي لمونځ په وخت لمونځ ګذاران هلته نشي ودریدلی او د دی شاته صفونو کی خلک ودریږي نو ایا په دی صورت کی د معتکفینو څادرونه پرانستل جائز دي او که نه ؟

ځواب : که چیرته ضرورت وي نو دڅادرونو خلاصول او لمونځ ګذارانو لپاره ځای پريښودل ضروري دي ، که خلاص يې نه کړي نو ګنهکاريږي ، فقط والله اعلم بالصواب.

د چلم او سګريټ عادي معتکف ته د مسجد نه د باندی وتل:

(۳۷٦ سوال) کوم اعتكاف كوونكى چى د چلم سګريټ عادي وي هغوی له مسجد نه د باندي تللی شي او که نه ؟

ځواب : د چلم ، سګريټ عادي کسان دی حتى الوسع کوشش وکړي چې دا عادت پريږدي ، که نشي پريښودلی نو لږ دی کړي ، که ډير مجبور وي نو له مسجد نه باهر وتلی شي ، ښه خبره دا ده چی کله د طبعي ضرورت لپاره ځي نو په همغه وخت کی دی چلم او سګريټ وڅکي[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1] په دی مسئله کی د دوه خبرو خيال ساتل ضروري دي ، لومړی دا چی د چلم او سګريټ له څکلو نه وروسته دی خوله پاکه کړي ، په ګنده خوله دی مسجد ته نه راځي ، (۲) دا ګنجائش صرف د شديد مجبوريت په صورت کی دی ، محض د شوق د پوره کولو لپاره دی نه اوځي ، کله چی د طبعي ضرورت لپاره اوځي نو په همغه وخت